


# هرات، پښتانه او ستره لوبه

عبدالباري جهاني

هرات، پښتانه او ستره لوبه
عبدالباري جهاني

# هرات، پښتانه او ستره لوبه

ليکونکی عبدالباري جهاني

*Published by*

Sahaf Book Publishing Institution

*Quetta*

*2001*

د چاپ حقوق له ليکوال سره خوندي دي.

## د کتاب پېژندنه:


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | :: | هرات، پښتانه او ستره لوبه |
| ليکوال | :: | عبدالباري جهاني |
| خپرندوی | :: | ليکوال |
| دويم چاپ | :: | ۱۳۸۰ل/۲۰۰۱م کال |
| د چاپ شمېر | :: | (۱۰۰۰) ټوکه |
| د چاپ ځای | :: | يونايټېډ پرېس - کوټه |
| کمپوزر | :: | نجيب الله وصال |
| چاپچارې | :: | صحاف نشراتي مؤسسه |
| بيه | :: | (۱۰۰) کلداري |

بسم الله الرحمن الرحيم

## اهداء:

هغو پښتنو ته چي د خپلو پلرونو د تورو د
ميدانونو، عقل او تدبير او د خاوري سره د لېونۍ
ميني د کيسو اوريدلو ته تږي دي.

# مننه

د محترم محمد حليم سليمي څخه د زړه له کومې مننه کوم، چې د کتاب د ليکلو د پاره يې د ماخذونو په پيدا کولو کې ډېره زياته مرسته راسره کړې ده. زما ګران ملګرى انجنير ډاکتر محمد صديق ظهير د کتاب د متن په ترتيبولو کې ګټورې مشورې راکړې دي. اجمل جهاني د انګريزي کتابونو ببليوګرافي ترتيب کړې ده. د ټولو د زيار او زحمت څخه او د ټولو هغو دوستانو څخه چې د دې کتاب د ليکلو په وخت کې يې څه نا څه معنوي مرسته راسره کړې او تشويق کړى يې يم، مننه کوم.

په درنښت

عبدالباري جهاني

# د لیکوال یادښت

ځرنګه چې ددې کتاب د لومړي چاپ په متن کې د صافي د کتاب چاپولو موسسې کارکوونکو د لیکوال له اجازې پرته په خپل سر لاسوهني کړي وې او حتی ځیني لندۍ او عبارات یې پر خپل سر اضافه کړي وو، په تېره بیا د غزنویانو د فصل آخري دوې پاڼې یې قصداً اړوني چاپ کړي وې، همدا راز (نادر شاه د کندهار پر لور) سرلیک کې څه له پاسه ۱۴ لیکې پرېښودل سوې وې، نو ځکه موږ لازمه وبلله چې دا کتاب د دوهم ځل لپاره له سره کمپوز، تصحیح او چاپ کړو.

(جهاني)

| شمېره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۲۳. | **کرتان:** | ۵۱ |
| ۲۴. | ملك شمس الدين مهين | ۵۲ |
| ۲۵. | شمس الدين مهين او پښتانه | ۵۲ |
| ۲۶. | پښتانه ملکان | ۵۳ |
| ۲۷. | پښتون ملك المار | ۵۴ |
| ۲۸. | کرتان د هيڅ راز اصولو پابند نه وو | ۵۶ |
| ۲۹. | د مغولي واکدارانو خودسري او مطلقيت | ۵۷ |
| ۳۰. | د کرتانو او مغولو جنګونه او د هرات محاصرې | ۵۷ |
| ۳۱. | مآخذونه | ۶۰ |
| ۳۲. | **تيمور او تيموريان:** | ۶۱ |
| ۳۳. | تيمور په زندان کې | ۶۲ |
| ۳۴. | تيمور په هرات کې | ۶۳ |
| ۳۵. | هرات د تيمور تر لاس لاندې | ۶۴ |
| ۳۶. | د هرات قتل عام | ۶۴ |
| ۳۷. | د تيمور شخصيت | ۶۵ |
| ۳۸. | ښارونه او ملکونه د تيمور د توري تر سيوري لاندې | ۶۷ |
| ۳۹. | د تيمور مذهبي جذبه | ۷۰ |
| ۴۰. | ليونی ميرانشاه | ۷۳ |
| ۴۱. | د تيمور ميراث خواره | ۷۴ |
| ۴۲. | شاهرخ | ۷۵ |
| ۴۳. | اجتماعي وضع | ۷۶ |
| ۴۴. | شاهرخ او پښتانه | ۷۷ |
| ۴۵. | د تيموريانو قلمرو تر شاهرخ وروسته | ۷۸ |
| ۴۶. | الغ بيك او عبداللطيف | ۸۱ |
| ۴۷. | هرات | ۸۲ |
| ۴۸. | سلطان ابو سعيد ميرزا | ۸۳ |

| مخ | عنوان | شمېره |
|---|---|---|


| مخ | عنوان | شمېره |
|---|---|---|
| ۸۴ | سلطان حسین بایقرا او د هرات د عظمت کلونه | ۴۹. |
| ۸۷ | د سلطان حسین بایقرا وروستي کلونه او د هرات انحطاط | ۵۰. |
| ۸۸ | شیباني خان د هرات د قدرت پر تخت | ۵۱. |
| ۸۸ | صفوي شاه اسماعیل او شیباني خان | ۵۲. |
| ۹۰ | مآخذونه | ۵۳. |
| ۹۳ | **هرات د اوزبکانو او صفویانو په لاسونو کې :** | ۵۴. |
| ۹۴ | په هرات کې پرله پسې قحطي | ۵۵. |
| ۹۵ | پر هرات باندې د اوزبکانو حملې او پرله پسې بدمرغی | ۵۶. |
| ۹۶ | د هرات دپاره د اوزبکو او شاه طهماسب جنګونه | ۵۷. |
| ۹۸ | په هرات کې د پوځي قواوو د قوماندان ظلمونه او د کندهار پر لور د هغه حرکت | ۵۸. |
| ۹۹ | د هرات پر خلکو باندې د مشهد د حاکم صوفیان خلیفه ظلمونه | ۵۹. |
| ۱۰۰ | په کندهار کې د ایراني شهزاده سام میرزا ماته | ۶۰. |
| ۱۰۱ | هرات د شاه طهماسب په لاس کې | ۶۱. |
| ۱۰۲ | مآخذونه | ۶۲. |
| ۱۰۳ | **صفویان** | ۶۳. |
| ۱۰۵ | د صفویانو په وخت کې د خراسان او ایران اجتماعي او سیاسي اوضاع | ۶۴. |
| ۱۰۶ | د شاه عباس استبداد | ۶۵. |
| ۱۰۷ | د صفوي پاچاهانو اخلاقي انحطاط | ۶۶. |
| ۱۱۰ | مآخذونه | ۶۷. |
| ۱۱۲ | **هوتکیان :** | ۶۸. |
| ۱۱۳ | میرویس خان او د کندهار پاڅون | ۶۹. |
| ۱۱۵ | کندهار د صفوي لښکرو په مقابل کې | ۷۰. |
| ۱۱۶ | د اصفهان د لښکر تباهي | ۷۱. |

شمېره عنوان مخ


۷۲. د اصفهان دويم پوځ او ميرويس خان ........ ۱۱۷
۷۳. کندهار د ميرويس خان تر وفات وروسته ........ ۱۱۹
۷۴. شاه محمود هوتک ........ ۱۲۰
۷۵. د ابداليانو او شاه محمود جګړه ........ ۱۲۱
۷۶. شاه محمود د ايران په لور ........ ۱۲۲
۷۷. د شاه محمود او اصفهان جنګونه ........ ۱۲۳
۷۸. د اصفهان محاصره ........ ۱۲۵
۷۹. شاه اشرف د اصفهان پر تخت ........ ۱۲۶
۸۰. مآخذونه ........ ۱۲۸

۸۱. **ابداليان په هرات کي :** ........ ۱۳۰
۸۲. عبدالله خان او اسدالله خان ........ ۱۳۲
۸۳. د ايران د دربار مشکلات او اداري فساد ........ ۱۳۳
۸۴. اسدالله خان او شاه محمود ........ ۱۳۴
۸۵. د هرات د ابداليانو داخلي جنګونه ........ ۱۳۴
۸۶. نادر افشار او پښتانه ........ ۱۴۲
۸۷. د هرات محاصره او مقاومت ........ ۱۴۳
۸۸. نادر شاه د کندهار پر لور ........ ۱۴۷
۸۹. مآخذونه ........ ۱۴۹

۹۰. **احمدشاه بابا او تيمور شاه:** ........ ۱۵۲
۹۱. احمدشاه بابا د هرات پر لور ........ ۱۵۴
۹۲. د خراسان حوادث ........ ۱۵۵
۹۳. احمدشاه بابا په خراسان کي ........ ۱۵۶
۹۴. احمدشاه بابا يو ځل بيا د نيشاپور په لور ........ ۱۵۸
۹۵. تيمور شاه ........ ۱۶۰
۹۶. د ايران داخلي جنګونه ........ ۱۶۲
۹۷. کريم خان زند او د هغه کورني ........ ۱۶۳

| شمېره | عنوان | مخ |
|---|---|---|


۹۸. د کریم خان زند کورنی او آغا محمد خان قاجار ........ ۱۶۵
۹۹. د آغا محمد خان قاجار شخصیت ........ ۱۶۶
۱۰۰. مآخذونه ........ ۱۶۹

۱۰۱. **یوه تاریخي افسانه ، یوه تاریخي غلطي :** ........ ۱۷۲
۱۰۲. مآخذونه ........ ۱۷۸

۱۰۳. **شاه زمان او شاه شجاع :** ........ ۱۷۹
۱۰۴. د شهزاده همایون او شهزاده شاه محمود نیوربنونه ........ ۱۸۲
۱۰۵. د شاه زمان د پاچاهی نا کرار کلونه ........ ۱۸۳
۱۰۶. شاه زمان ، ایران او شاه محمود ........ ۱۸۴
۱۰۷. د شاه زمان وروستی لویه اشتباه ........ ۱۸۶
۱۰۸. فتح خان د جنګ او سیاست په میدان کي ........ ۱۸۷
۱۰۹. شاه محمود او وزیر فتح خان ........ ۱۸۸
۱۱۰. شاه شجاع ........ ۱۸۹
۱۱۱. برتانیه د سیمي په سیاسي میدان کي ........ ۱۹۰
۱۱۲. برتانوي هند او ایران ........ ۱۹۲
۱۱۳. د شاه زمان د قدرت په باره کي د سرجان کي نظر ........ ۱۹۵
۱۱۴. د شاه زمان پر ضد د برتانیي دسیسي ........ ۱۹۷
۱۱۵. برتانوي هند د افغانستان پر ضد ........ ۱۹۸
۱۱۶. مآخذونه ........ ۲۰۱

۱۱۷. **شاه محمود او وزیر فتح خان** ........ ۲۰۳
۱۱۸. حاجي فیروزالدین او ایران ........ ۲۰۴
۱۱۹. ایرانیان د هرات په سیمه کي ........ ۲۰۶
۱۲۰. وزیر فتح خان او د هغه ورونه په هرات کي ........ ۲۰۷
۱۲۱. شهزاده کامران د وزیر فتح خان په مقابل کي ........ ۲۰۸
۱۲۲. وزیر فتح خان د ایران د لښکرو په مقابل کي ........ ۲۰۹
۱۲۳. د وزیر فتح خان رندېدل او د محمدزیو عمومي نیوربنونه ........ ۲۱۱

| شمېره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱۲۴ . | د وزیر فتح خان شخصت ............ | ۲۱۳ |
| ۱۲۵ . | د شاه محمود او کامران قاطع شکست ........ | ۲۱۵ |
| ۱۲۶ . | په هرات باندي د ایران حمله او د هرات داخلي جنګونه ...... | ۲۱۶ |
| ۱۲۷ . | مآخذونه ............ | ۲۱۹ |
| ۱۲۸ . | **یار محمدخان** : ............ | ۲۲۱ |
| ۱۲۹ . | یارمحمد خان او ایران ............ | ۲۲۲ |
| ۱۳۰ . | د شهزاده کامران او یار محمد خان شخصیتونه ........ | ۲۲۴ |
| ۱۳۱ . | د یارمحمد خان په باره کي د فیریر نظر او د فیریر د تاریخ نیمګړتیاوي ............ | ۲۲۵ |
| ۱۳۲ . | فیریر په هرات کي ............ | ۲۲۷ |
| ۱۳۳ . | یارمحمد خان او د هرات خلک ............ | ۲۲۸ |
| ۱۳۴ . | د یارمحمد خان د خپلي خولي نکل ............ | ۲۳۰ |
| ۱۳۵ . | بیا هم د یارمحمدخان د شخصیت او هدفونو په باره کي ...... | ۲۳۱ |
| ۱۳۶ . | یارمحمد خان او انګریزان ............ | ۲۳۲ |
| ۱۳۷ . | میجر ټاډ او یارمحمد خان ............ | ۲۳۴ |
| ۱۳۸ . | مآخذونه ............ | ۲۳۸ |
| ۱۳۹ . | **ایران** : ............ | ۲۳۹ |
| ۱۴۰ . | د روسیې له خوا د ایران د خاوري نیول او د فرانسې ډیپلوماتیک فعالیت ............ | ۲۴۰ |
| ۱۴۱ . | د فرانسې د هیات ناکامي ............ | ۲۴۲ |
| ۱۴۲ . | انګریزان د ایران د سیاست په میدان کي ............ | ۲۴۳ |
| ۱۴۳ . | انګریزان د ایران سره د قرارداد رعایت نه کوي ........ | ۲۴۵ |
| ۱۴۴ . | انګریزان بیرته د ایران سره دوستي کوي ............ | ۲۴۷ |
| ۱۴۵ . | مآخذونه ............ | ۲۵۱ |
| ۱۴۶ . | **ستره لوبه** : ............ | ۲۵۳ |
| ۱۴۷ . | شاه شجاع د ستري لوبي په پیل کي ............ | ۲۵۵ |

| مخ | عنوان | شمیره |
|---|---|---|


۱۴۸. دوست محمد خان او انګریزان ........ ۲۵۷
۱۴۹. د هرات او سیمې په برخه کې د برتانیې پالیسي ........ ۲۵۷
۱۵۰. ایران او د سیمې د ملکونو وضع ........ ۲۵۹
۱۵۱. برتانیه د ایران په مقابل کې ........ ۲۶۰
۱۵۲. د کندهار سرداران او ایران ........ ۲۶۱
۱۵۳. ایرانیان د هرات په لور ........ ۲۶۳
۱۵۴. هرات د ایران د قواوو په مقابل کې ........ ۲۶۵
۱۵۵. د هرات محاصره ........ ۲۶۷
۱۵۶. شهزاده کامران او یارمحمدخان د محاصرې په وخت کې ........ ۲۶۸
۱۵۷. د هرات شا وخوا خلکو سره دایراني قواوو او د پاچاسلوك ........ ۲۷۲
۱۵۸. روسان او انګریزان د ایران د پاچا په کمپ کې ........ ۲۷۳
۱۵۹. د محاصرې په جریان کې د روسیې موقف ........ ۲۷۷
۱۶۰. د انګریزانو، روسانو او افغانانو دریځونه ........ ۲۷۸
۱۶۱. پر هرات باندې حمله ........ ۲۸۰
۱۶۲. د هرات جنګ چا وګاټه؟ ........ ۲۸۱
۱۶۳. دانګریزانو له خوا دایران دخاورې تیول او دایران تهدید ........ ۲۸۳
۱۶۴. د هرات د محاصرې په وخت کې د ایران د پوځ وضع ........ ۲۸۴
۱۶۵. د هرات د محاصرې ماتېدل او د ایران بشپړه ناکامي ........ ۲۸۶
۱۶۶. په کابل کې د ستري لویې بله صحنه ........ ۲۸۷
۱۶۷. ماخذونه ........ ۲۹۳

۱۶۸. **هرات د ایرانیانو له ماتې څخه وروسته:** ........ ۲۹۵
۱۶۹. د یارمحمد خان او دوست محمد خان اړیکې ........ ۲۹۶
۱۷۰. سعیدمحمد خان او د کندهار سرداران ........ ۲۹۸
۱۷۱. د هرات په برخه کې د برتانیې او ایران دریځونه ........ ۲۹۹
۱۷۲. ایران یو ځل بیا د هرات له دروازو سره ........ ۳۰۰
۱۷۳. انګریزان د ایران په خاوره کې ........ ۳۰۱
۱۷۴. د پاریس تړون ........ ۳۰۳

| شمیره | عنوان | مخ |
|---|---|---|


| | | |
|---|---|---|
| ۱۷۵ـ | د هرات د پیښو په باب د ایراني مطبوعاتو نظر | ۳۰۵ |
| ۱۷۶ـ | دهرات د مسئلې په باب د محمود محمودنور جعلي اسنادونه | ۳۰۷ |
| ۱۷۷ـ | د روسیې او برتانیې دیپلوماتیکي هلې ځلې | ۳۱۰ |
| ۱۷۸ـ | هرات د تل لپاره د کابل سره تښلول | ۳۱۱ |
| ۱۷۹ـ | د هرات فتح | ۳۱۲ |
| ۱۸۰ـ | مآخذونه | ۳۱۳ |
| ۱۸۱ـ | **هرات او ستره لوبه د امیر دوست محمدخان له وفات نه وروسته** | ۳۱۵ |
| ۱۸۲ـ | بشپړ اغتشاش | ۳۱۶ |
| ۱۸۳ـ | امیر محمد افضل خان د کابل پر تخت | ۳۱۷ |
| ۱۸۴ـ | د سردارانو اړیکي د ایران سره | ۳۱۸ |
| ۱۸۵ـ | د پیښو په ارتباط د ایراني مؤرخینو جعلي لیکني | ۳۱۹ |
| ۱۸۶ـ | د محمد افضل خان وفات او د شیرعلي خان عروج | ۳۲۲ |
| ۱۸۷ـ | سرداران په ایران کي | ۳۲۳ |
| ۱۸۸ـ | امیر شیرعلي خان دوهم ځل د کابل پر تخت | ۳۲۴ |
| ۱۸۹ـ | شیرعلي خان د ګاونډیانو په منځ کي | ۳۲۵ |
| ۱۹۰ـ | مرکزي آسیا د ستري لوبي د مهم ستیج په حیث | ۳۲۶ |
| ۱۹۱ـ | امیر شیرعلي خان او یعقوب خان | ۳۲۸ |
| ۱۹۲ـ | سردار محمد یعقوب په هرات کي | ۳۳۰ |
| ۱۹۳ـ | سردار محمد ایوب خان | ۳۳۲ |
| ۱۹۴ـ | په مرکزي آسیا کي د ستري لوبي دوام | ۳۳۳ |
| ۱۹۵ـ | روسان او امیر شیرعلي خان | ۳۳۵ |
| ۱۹۶ـ | امیر محمد یعقوب خان د قدرت پر کرسي | ۳۳۶ |
| ۱۹۷ـ | کیوناري او د کابل قیام | ۳۳۷ |
| ۱۹۸ـ | امیر عبدالرحمن خان | ۳۴۰ |
| ۱۹۹ـ | ایوب خان | ۳۴۱ |

| شمېره | عنوان | مخ |
|---|---|---|


۲۰۰. سردار محمد ایوب خان او امیر عبدالرحمن خان ........................ ۳۴۴
۲۰۱. د سردار محمد ایوب خان وروستي شپې او ورځې ........................ ۳۴۸
۲۰۲. مآخذونه ........................ ۳۴۹
۲۰۳. **وروستي خبري او نتیجه** ........................ ۳۵۳
۲۰۴. مآخذونه ........................ ۳۶۹
۲۰۵. **لومړی ضمیمه**
د برتانیې د استازي او د ایران د صدر اعظم حاجي ابراهیم
تر منځ تړون ........................ ۳۷۰
۲۰۶. **دویمه ضمیمه**:
د هغه تړون متن چې د ایران پاچا محمد شاه قاجار د کندهار
مشر کهندل خان او د کندهار د نورو سردارانو سره لاسلیک
کړی دی ........................ ۳۷۲
۲۰۷. **دریمه ضمیمه**:
د هرات په برخه کې د کندهار د سردار کهندل خان او د ایران د
پاچا محمدشاه قاجار تر منځ د تړون متن ........................ ۳۷۵
۲۰۸. **څلورمه ضمیمه**:
د مهردل خان او کهندل خان له خوا د ایران پاچا محمدشاه قاجار
ته لیک ........................ ۳۷۷
۲۰۹. **پنځمه ضمیمه**:
د شهزاده ګورچاکوف یاداشت ........................ ۳۷۸
۲۱۰. **د هغو مآخذونو نومونه چې د کتاب په لیکلو کې**
**استفاده ورځخه سوې ده** ........................ ۳۸۳
۲۱۱. *BIBLOGRAPHY* ........................ ۳۸۶

# مقدمه

د ۱۹۹۵ کال د سپتامبر په میاشت کې طالبانو یو ناڅاپه هرات ونیوی او د سیمې اوسیدونکي ، په تېره بیا افغانان یې د خبر په اورېدلو سره هک پک سول. د هرات والي اسماعیل خان، چې د ۱۹۷۸ م کال نه بیا تر دغه وخته پورې یې د خلقیانو، روسانو او پرچمیانو د قواوو په مقابل کې د یوه نه ماتېدونکي قهرمان بڼه غوره کړې وه، د ګرشک د اولسوالۍ نه نیولي بیا تر اسلام قلا پورې ، د شینډنډ د لویې او ستراتیژیکي هوایي اډې او د هرات د مستحکم ښار په شمول، پراخه سیمه په دریو ورځو کې له لاسه ورکړه او د طالبانو د تقریباً غیر منظم لښکر په مقابل کې یې داسې ماته وکړه، چې هیڅ چا یې انتظار نه درلود. د ایران خاورې ته د اسماعیل خان او د هغه د مرستیال علاالدین خان تښتېدلو او له هغه ځایه پر هرات باندې حملو ته د ځان تیارولو او دې خبرونو چې ویل یې پاکستان د طالبانو شاته ولاړ دی او هغوې د پاکستان په مرسته د شینډنډ هوایي اډه او د هرات ښار ونیوی، د خلکو سره اندېښنه پیدا کړه، چې هرات لکه چې بیا د پخوانیو کلونو په څېر د افغانستان د شرقي او غربي ګاونډیانو ترمنځ د ټکرونو میدان سو.

د دې کتاب د لیکلو انګیزه دغه پېښې وې، خو په کتاب کې نه یوازې دا چې د دې پېښو په باره کې څه لیکل سوي نه دي، بلکې وروستیو پېښو ته د نیږدې تاریخي حوادثو په باره کې بحث هم نه دی په کې سوی او باید ووایم، چې وروستۍ پېښې صرف د کتاب د لیکل کېدلو انګېزه ده، نه د کتاب د بحثونو موضوع.

افغانانو د حوادثو او تو‌پانونو په ډک تاریخ کې د بل هیڅ ښار د ساتلو او خپلولو د پاره دومره مبارزې نه دي کړي، لکه د دغه ښار د ساتلو دپاره چې یې کړې دي. هرات د خپل تاریخ په اوږدو کې د بېګانه ګانو، په تېره بیا د ایرانیانو په مقابل کې دونه مقاومت کړی،

دونه محاصرې یې لیدلي او خلکو یې د دې محاصرو د لاسه دونه لوږې او رنځونه ګاللي او ځوانانو یې د دې ښار څخه د دفاع د پاره دونه سرونه بازلي دي چې د افغانستان، منځنۍ اسیا او حتی منځني ختیځ په تاریخ کې یې چنداني ساری نه دی لیده سوی. د ایران ټولو شاهنشاهانو، سیاستمدارانو او قهرمانانو د هرات خاوره د ایران یوه نه جلاکېدونکې برخه بلله او د محمود محمود، سعید نفیسي او سید مهدي فرخ په شان معاصر تاریخ پوهان، لیکوالان او سیاستمداران یې ټول په دغه عقیده دي او د قدرت پرګدی ناست کسان یې لا ښایي اوس هم د ایران سره د هرات د بېرته یو ځای کېدلو خوبونه ویني.

که د لیکوالانو او پوهانو مضامین او کتابونه او په عمومي صورت مطبوعات، د یوه هېواد د خلکو د احساساتو او دولتونو د ارادي ښکارندوی فرض کړو او وروستي حوادث د تېرو پېښو سره په ارتباط کې وڅېړو، نو داسې ویلای سو چې هرات اوس هم خپل پخواني تاریخي، ملي او ستراتیژیک اهمیت په خپل هغه پخواني قوت ساتلی دی او که چېرې ایرانیانو په دې څه کم یوه نیمه پېړۍ کې پر هرات باندې حمله نه ده کړې، نو د دې مانا دا نه ده، چې ایران د هرات په برخه کې خپل نیت بدل کړی او پر دغه ښار باندې له دعوې څخه تېر سوي دي، بلکې مانا یې دا ده، چې د زمان شرایطو ایران ته پر هرات باندې د مستقیمې لښکرکښۍ اجازه نه ده ورکړې.

موږ به د کتاب په پاڼو کې د محمودمحمود لیکنو او ادعاوته اشاره کوو، مګر دا باید زیاته کړو، چې زموږ هدف یوازې د دغه راز لیکوالانو د ادعاو ردول نه دي، ځکه چې دا رنګه دعوې، تاریخ، قوم او قومي قوت د جنګ په میدانونو او د سولې په مجلسونو کې فیصله کړي دي. موږ که چېرې د کتاب په پاڼو کې د دغه راز لیکوالو د لیکنو او ادعاو یادونه کوو، مطلب مو دا دی، چې خپل افغان لوستونکي د هرات د ښار او د هرات د مسلې ملي او تاریخي

اهمیت او له هغه سره د ګاونډۍ هېواد ایران د تاریخ پوهانو او لیکوالانو علاقې ته متوجه کړو.

زه ځکه په مشخصه توګه د هرات په باب لیکنه کوم، چې یو خو د افغانستان بل هیڅ ښار د هرات سره د تمدن، علم او فرهنګ په تاریخ کې سیالي نه سي کولای او کله چې یو ښار د یوه هېواد له تولو ښارونو نه د تمدن او فرهنګ دونه ځلانده او ځانګړی تاریخ ولري ، نو هغه ښار په جلا یادولو ارزي.

بله خبره دا ده، چې د مرکزي اسیا بل هیڅ ښار د هرات په شان دومره زیات تباه سوی او له خاورو او ایرو څخه بېرته راپورته سوی نه دی. نه بل ښار دونه محاصرې لیدلي او نه بل ښار دونه مقاومتونه کړي دي.

درېمه خبره دا ده، چې د افغانستان په تاریخ کې، په تېره بیا په نولسمه پېړۍ کې، بل هیڅ ښارد هرات په شان دونه زیات ستراتیژیک اهمیت نه دی درلودلی او د ګاونډیانو توجه یې ځانته نه ده اړولې. ایران کله پخپله او کله د روسانو په تحریک، چې غوښتل یې ځان د افغانستان له لارې د هند سمندر ته ورسوي، پر هرات پر له پسې حملې کوي. برتانیه، چې هرات د هند دروازه بولي، په لومړي سر کې پر هند باندې د شاه زمان د حملو د مخنیوي د پاره ایران بیا افغانستان او په لومړي قدم کې پر هرات باندې حملې ته تشویقوي او په وروسته کې کله چې د شاه زمان د حملې خطر رفع سو، د روس او ایران د یو ځای کېدلو د هرات د نیول کېدلو او په نتیجه کې په هند کې د روسیې د قواو د جدي خطر سره د مخامخ کېدلو له ویرې د هرات ساتلو ته ملاتړي او ایرانیان نه پرېږدي چې د افغانستان خاورې ته ننوزي، په دې توګه د برتانیې او روسیې د امپراطوریو ترمنځ ستره تاریخي لوبه پیل کیږي او هرات چې د دې سترې لوبې د شطرنج یو عمده مرکز دی له هر چال او حرکت څخه جلا جلا متاثر کیږي. برتانیه د شهزاده کامران او یار محمد خان په شان، هغو افغاني سردارانو او مشرانو ته

چې د ایران د قـواوو د پرمختګ سره مقاومت کـوي، پیسې ، وسلې او پوځي مشورې ورکـوي. په مقابل کې روسیه، ایـران پر هـرات بـاندې حملې تـه تشـویقوي، پـوځي مشاورین ورکـوي او د پیسـو او وسـلو وعـده ورکـوي او پـه نتیجـه کې پـه دغـه شـرایطو او حـالاتو کـې د برتانیـې ستراتیژیکي ګټې، په دغــه سیمه کـې د افغانـانو د ملـي ګټو سره سمون خـوري.

د هرات د حکمران وزیـر یـار محمـد خـان پـه خېر هوښیـار سـرداران او مشـران د هــرات پــه ســتراتیژیک اهمیــت او د ســترې لوبــې پــه حساسیت پـوره پوهېدل. هغـه هـم د انګرېزانـو څخـه پېسـې او وسـلې اخیسـتلې، هـم یـې د ایـران د دربـار څخـه د ظـهیر الدولـه لقب ترلاسـه کـاوه او هـم یـې د ضـرورت پـه وخـت کــې ځان د مـرګ خولـې تــه ورکـاوه.

د کندهار سـرداران لـه یـوې خـوا پـر کندهـار بـاندې د انګریزانـو او شاه شجاع د حملې څخه پـه وهـم کې وه؛ لـه بلـې خـوا پـه کـابل کـې د خپـل ورور امیر دوســت محمــد خــان د قــدرت د زیــاتېدلو او پــر کندهار بــاندې د هغــه د رادمخـه کېدلـو څخـه وېرېدل او د بلـې خـوا د هـرات د وزیـر یـارمحمد خـان د پرلـه پسـې قـوي کېدلــو او د دوی پـر قلمـرو بـاندې د یرغـل کولـو څخـه ډارېدل. د کندهـار ســردارانو بیلــه دې چې یـا دې ځانونـه د سترې لوبـې پـه چـالونو پـوه کـړي او یـا دې د عـامو ملـي منـافعو غـم ورسـره وي، پـر لـه پسـې د ایـران دربـار تـه د دوسـتي لاسـونه اوږدول او پــر هــرات بــاندې یــې لښکــر کــښی تــه تشویقاوه او پوځي مرسـتې یـې ورسـره کولـې.

امیر دوست محمد خان کــه څه هـم چې پـه کـابل کـې ناسـت او د سـترې لوبـې د مرکـز ( هـرات) څخـه یـو څه لـیرې و، خـو څرنـګه چـې انګریزانو دا پتیبلـې وه ، چې پـه افغانسـتان کـې د روسـانو او ایرانیـانو د ګډو قواو د مداخلـې د مخنیـوي لپـاره بـاید پـه دغـه هېواد کـې پخپلـه مستقیماً حاضر وي نـو دوسـت محمـد خـان پـه دې تـوګه جـبرا د سـترې لوبې میدان ته راکش سـو. هغـه د موضـوع پـه حساسیت پوهـېدی او تـر

روسانو او ايرانيانو يې د انګريزانو سره دوستي غوره ګڼله، خو انګرېزانو د افغانستان د اشغالولو او په کابل کې د شاه شجاع د پاچا کولو فيصله کړې وه او دوست محمد خان د هغوې فيصلې ته تغير نه سو ورکولای.

انګرېزانو غوښتل چې هرات د شهزاده کامران او وزير يار محمد خان په لاس کې د مستقل سلطنت په حيث پاته سي او شاه شجاع او يا د دوی کوم بل لاس پوخي پاچا له کندهاره د آمو تر سينده د چارواکي په لاس کې ولري. مګر د افغانستان خلکو د خپل سرنوشت فېصله بل راز کړې وه او بالاخره يې هرات د افغانستان د يوې نه بېلېدونکې برخې په توګه د کابل له سلطنت سره متحد کړ.

د کتاب لومړی برخه د هرات يو څه نسبتاً پخوانی تاريخ دی او د دوهمې برخې د بحث زياتره موضوع په نولسمې پېړۍ کې د هرات په ارتباط پېښې تشکيلوي، ځکه چې د معاصر افغانستان په تاريخ کې دغه ښار هېڅکله په دغه اندازه د دومره حسابي او پر له پسې خطر سره نه وو مخامخ سوی او د افغانستان هيڅ ښار ته د ګاونډيانو دسيسې په دومره زور او جديت نه وې متوجه سوې او له بلې خوا د ورستيو حوادثو څخه داسې ښکاري چې د هرات د ښار په برخه کې لا د ګاونډيانو په نيتونو کې چندانې تغيير نه دی راغلی او دا ښار لا اوس هم خپل پخوانی ستراتيژيک اهميت لري. د کتاب په ليکلو کې مې تر وسه وسه کوښښ کړی دی، چې د لومړي لاس تاريخي ماخذونو څخه استفاده وکړم، خو لوستونکو ته معلومه ده ، چې د مهاجرت په شرايطو کې د دغه راز ماخذونو ترلاسه کول ډېر آسانه خبره هم نه ده، نو ښايي په دې لړ کې د ځينو داسې کتابونو څخه استفاده نه وې سوې چې بايد حتماً استفاده ورڅخه سوې وای. خو لږ تر لږه په داسې آثارو باندې له تکيه کولو څخه مې ځان ژغورلی دی، چې هغه پخپله د تاريخ ليکلو د ميتود سره برابر نه دی، معتبر ماخذونه نه لري او قضاوتونه يې زياتره احساساتي او يو اړخيز دي او بايد استفاده ورڅخه ونه سي. د کتاب په لومړي برخه کې چې زياتره نسبتاً پخواني تاريخي حوادث احتوا کوي، پر صفاريانو، غزنويانو، غوريانو او تېموريانو باندې يو څه مفصل

بحث سوی دی . په لومړي سر کې داسې بريښي چې دا بحثونه بنايي د کتاب د موضوع سره چې باید يوازې د هرات او سترې لوبې په باب وای، چنداني اړخ نه لګوي. مګر څرنګه چې د دغو ټولو کورنيو د سلطنتونو په زمانه کې هرات هم د هغوې د حکومتي سيستمونو او امپراطوريو يوه مهمه برخه وه، نو ځکه د هغوې په باره کې نسبتاً په تفصيل خبرې کول ضروري دي. د کتاب په پاڼو کې مې دغه راز د ځينو مستبدينو او په تېره بيا د ايران د مستبدينو او د هغو د شخصيتونو په باب بحث د دې لپاره کړی دی، چې د کتاب پښتانه لوستونکي د استبداد او مستبدينو په برخه کې د مقايسې له مخې عادلانه او منصفانه قضاوت وکړای سي. نور نو خپل لوستونکي د کتاب لوستلو او د هغه په باب قضاوت کولو ته پرېږدم.

7

# د هرات ستراتیژیک او جغرافیایي موقعیت

هرات د افغانستان شمال لویدیځ کې پر څلور دېرش درجو او شلو ثانیو شمالي عرض البلد او ٦٢ درجو او ١٢ ثانیو شرقي طول البلد باندې پروت دی.

د ټول ولایت مساحت شپاړس زره یو سل اوه مربع میله دی او د بحر له سطحې څخه یې لوړ والی ٢٦٠٠ فوټه اټکل سوی دی. د هرات ولایت د هریرود، مرغاب، فراه رود او ادرسکن د رودونو څخه اوبه اخلي او ډېرې پراخې سیمې یې د دغو سیندونو په واسطه خړوبیږي.

د لویدیځ افغانستان د تجارت، زراعت او صنعت یو عمده مرکز دی او د نفوس او پراخوالي له لحاظه د افغانستان دریم لوی ښار بلل کیږي.

هرات که له یوې خوا په مدني لحاظ یو له هغو اسلامي ښارونو څخه دی، چې مورخینو، سیاستمدارانو ، فاتحانو او جنرالانو د ډېرې پخوا زمانې راهیسې ډېره جدي توجه ورته کړې ده، نو له

بلې خوا جغرافيايي او ستراتيژيک موقعيت داسې اهميت ور په برخه کړی دی، چې په منطقه کې د مختلفو امپراتوريو او قوتونو ترمنځ د ډېرو سختو ډغرو سبب او ميدان ګرځېدلی دی.

که څه هم چې د خراسان سيمې ته په اوه لسمه پېړۍ کې هم ځينې اروپايي سيلانيان ورغلي وه او د دغې سيمې د سياسي انکشافاتو او تحولاتو په باب يې ليکنې کړي او خپل ورځني ياداشتونه يې خپاره کړي دي، خو د نولسمې پېړۍ په لومړيو کلونو کې ، چې برتانيې د خپل قلمرود پراخولو او په سيمه کې د نورو مځکو لاندې کولو ته بدې ووهلې، نو د دې سيمې اهميت نور هم زيات سو او ځينې اروپاييان په خپله خوښه او د خپلې علاقې له مخې دغې سيمې ته ولاړل او ځينې د برتانيې د دولت په امر دې ته وګومارل سول، چې دا سيمه له نيژدې وګوري او د هغې په باره کې خپل اطلاعات د برتانيې دولت ته وسپاري.

په دې سلسله کې انګرېز ليکوال جيمز بې فريزر په ۱۸۲۱ او ۱۸۲۲ کلونو کې هرات، ايران او ماورالنهر ته سفر وکړ او د خپلو سفرونو او سترګو ليدلو حالاتو په باب خپاره کړي کتاب کې يې د هرات د ښار ستراتيژيک او تجارتي اهميت ته خلک متوجه کړل.
فريز وايي د هرات له ښار سره په ايران کې پرته له اصفهان څخه بل هيڅ ښار په لوی والي او نفوس کې سيالي نه سي کولای او سره له دومره انقلابونو او تحولاتو ، چې دغه ښار ليدلي دي، بيا هم سمسور او له خلکو او مالونو ډک دی. د فريزر په عقيده د هرات د سمسورتيا او نېکمرغۍ لوی علت دا دی، چې دا ښار د اسيا د ختيځ او لويديځ ترمنځ د ارتباط يوازينی مرکز دی. د کابل ، کشمير او هندي مالونه له يوې خوا او د بخارا، ايران ، عربستان ، ترکې او حتی اروپا مالونه له بلې خوا بايد په دغه ښار کې تېرسي او په نتيجه کې د دغو ټولو هېوادونو او ښارونو بهترين مالونه د دغه ښار په بازارونو کې تبادله کيږي . (۱)

واټسن ليکي چې په وروستيو سلو کالو کې په نړۍ کې ښايي هيڅ ښار، د هرات په شان د دومره پر له پسې محاصرو له لاسه نه وي کړېدلی . (۲) او بيا وروسته ليکي " د نولسمي پېړۍ په لومړيو کلونو کې په دې ښار کې سل زره افغانان، مغول، هندوان او يهوديان اوسېدل دا ښار د هندوستان ، کشمير ، کابل ، کندهار، بخارا، مرو، خراسان، يزد او کرمان ترمنځ د تجارت اصلي مرکز و. مګر د دې ښار اصلي اهميت د هغه موقعيت له کبله دی، چې د افغانستان کيلي يې بللای سو . (۳)

همدغه د هرات حساس، ستراتيژيک او جغرافيايي موقعيت دی، چې په نولسمه پېړۍ کې يې هغه ته د هند د دروازې حيثيت ور وباخښه او په حقيقت کې همدغه ستراتيژيک حيثيت د دې ښار د راتلونکو بدمرغيو او بدبختيو لوی علت سو.

ناپليون بنا پارټ ، چې د۱۷۹۹ څخه تر ۱۸۱۴ ميلادي پورې د فرانسې مطلق العنان واکمن او امپراطور و، ان د ځوانۍ د ډېرو لومړيو کلونو څخه د هند د فتح کولو خوبونه ليدل.

ناپليون قدرت ته د رسېدلو څخه لږ وروسته روسيې ته پېشنهاد وکړ، چې پنځه ډېرش زره روسي او پنځه ديرش زره فرانسوي عسکر دې پر هند باندې د هرات او کندهار له لارې حمله وکړي..(۴)

البته دا پلان ځکه ناکام سو، چې د روسيې امپراطور، لومړی الکزاندر ( ۱۸۰۱-۱۸۲۵ ) هغه ونه مانه او دا ځکه چې اليکزاندر ته دا معلومه وه، چې د ناپليون دوستي په اعتبار نه ده او نن وي که سبا وي د هغه سره به حتماً د روسيې اختلاف پېدا کيږي او بيا به نو روسيه مجبوره وي، چې په دوو جبهو کې له دوو قوي دښمنانو سره وجنګيږي ، ځکه يې نو د فرانسې پر ځای د انګرېزانو سره دوستي غوره وګڼله .(۵)

لږه موده وروسته د فرانسې او روسيې ترمنځ د جګړې په نتيجه کې ناپليون ډېره سخته ماته وخوړه او پر هرات باندې د روسيې او فرانسې د ګډو قواوو د حملې خطر له منځه ولاړ ، خو هرات بيا هم

د مرکزي اسیا د یوه مهم ښار په حیث د لویو او کوچنیو قوتونو ترمنځ د رقابت میدان او د سترې لوبې د یوه عمده مرکز په څېر پاته سو.

معاصر ایراني لیکوال او تاریخ پوه، محمود محمود په نولسمه پېړۍ کې د برتانوي هند ګورنر جنرال او وایسرا لارډ کرزن (۱۸۹۸-۱۹۰۵) له قوله لیکي ، چي تقریباً پنځوس کاله کیږي، چې د انګلیس لیکوالان، په چیغو ، چیغو خپل حکومت دې حقیقت ته متوجه کوي، چې هرات وساتي که هرات د روسیې د قواوو لاسته لویږي نو دا د انګلستان شرقي سیاست ته یو مرګانی ګوزار دی. زه یقین لرم چې یو وخت به دا مرګانی ګوزار وسي او د سترې برتانیې توره به له تیکې راونه وزي او بیا نو وروسته محمود محمود پخپله لیکي چې اوس نو د هرات اهمیت ښه درک کولای سو . دلته باید د هرات د موقعیت په باره کې صحبت سوی وای. ایرانیان باید په دې پوه سي چې د انګلستان او روسیې مشرانو هرات ته څومره اهمیت ورکاوه، ایرانیان باید دا خبره په یاد ولري، چې د انګلیسانو دولت پنځوس کاله کوښښ وکړ، چې هرات د ایران له ملکیته وباسي اوس باید د ایران ملت دې ته متوجه وي چې سبا کردستان، خوزستان د فارس خلیج او د بلوچستان او سیستان باقي پاته خاوره هم د ایران له لاسه ونه وزي. (٦)

په ایران کې د برتانیې سفیر مک نایل د وخت خارجه وزیر ویس کونټ پالمرسټن ته لیکي ، چې د شمال په لور د ټول افغانستان کیلي هرات دی، دې د هرات د خپلواک ساتلو پر موضوع باندې تاکید کوي او وایې چې د هند او ایران په سرحد کې دغه سیمه تر هغه چې مایې تصور کاوه ډېره غني ده. زه په دې کې هیڅ شک نه لرم، چې که له جورجیا څخه د کندهار په لور او یا د هند په لور کوم لوی پوځ حرکت وکړي نو په دغه سیمه کې چې څه موادو ته ضرورت ولري هغه به ورته رسیږي او د ایران د شاه لښکرې، چې د اوومیاشتو راهیسې یې هرات محاصره کړی دی، د هرات او غوریان د شاوخوا سیمو په موادو ګوزاره کوي او لا یې د سبزوار او فراه موادو ته لاس هم نه دی وروړی. خلاصه دا چې زه د خپلې

شخصي مشاهدې په اساس دا درته ویلای سم ، چې د هرات پر لور د عسکري مارش په مقابل کې هیڅ مانع نسته او له هغو ټولو اطلاعاتو څخه چې ما ترلاسه کړي دي زه ویلای سم چې د هرات او کندهار ترمنځ نه دا چې هیڅ مشکل نسته،بلکې یرغلګرو پوځونو ته ښه مواد او ذخایر هم لاسته ورځي. نو زه ویلای سم چې که څوک چیرې هرات ونیسي او بیا پر هند باندې د حملې خیال ولري د هند د پاره هیڅ ډول مصؤنیت نسته په دغه راز شرایطو کې به دا ډېره خطرناکه وي، چې که ایران ته اجازه ورکړه شي، چې د روسیې په اندېوالي عملیات وکړي او د افغانستان اساسي دفاعي کرښه ماته کړي او په هغه هېواد کې موږ ته مشکلات پېښ کړي. زه په دې توګه د لارډ اکلینډ څخه غواړم، چې قاطع عمل وکړي او هرات ته نجات ورکړي. (۷)

سرجان کې، چې په نولسمه پېړۍ کې یې د برټانیې او افغانستان د جنګ په باب د برټانیې تر تقریباً ټولو لیکوالو، تاریخ پوهانو او سیاستمدارانو نسبتاً جامع او له تعصبه خالي کتاب خپور کړ، د هرات د اهمیت په باب لیکي :" د دې ښار ساختمان او موقعیت داسې راغلی و، چې د پوځیانو توجه یې ځانته جلبوله دا ښار د غرونو د یوې لویې سلسلې په داسې ځای کې پروت دی، چې یوازې له دغې لارې په درنو توپونو بار لښکر تېرېدلای سي نو دا بې مناسبته خبره نه ده چې هرات د هند دروازه بللې سوې ده. ټولې هغه لارې چې هند ته رسېږئ د هرات د ښار په حدودو کې تېرې سوي دي. د هرات څخه تر کابل پورې پر نورو لارو باندې یوازې هغه لښکرې چې توپونه ورسره نه وي او یا یوازې سپکه توپخانه ورسره وي او د هندوکش په جګو او سختو غرونو کې د مقاومت سره مخامخ نه سي، نو هند ته رسېدلای سي، خو یوازې د هرات له لارې یو قوي او په ښو وسلو سمبال پوځ کولای سي ، چې د شمال او لوېدیځ له لورې د هند سرحد ته ځان ورسوي. د دې سیمې طبیعت او منابع د یوه یرغلګر د بریالي توب د پاره زمینه برابروي . د هرات په ګاونډ کې د یوه لوی پوځ د تنظیمولو او هغه ته د ګودامونو او ډیپوګانو د برابرولو د پاره هر څه موجود دي. که د دغه ښارفوق العاده حاصل خېزو ځمکو ته یو نظر واچول سي، نو بیځایه نه ده، چې د مرکزي آسیا د کندو په نوم یا دسوی دی. یو یرغلګر پوځ هر وخت کولای سي ، چې د دې ښار څخه زړه ور او فرمانبرداره عسکر استخدام کړي د چا چې دغه راز یوه سیمه په لاس کې

وې نو هغه هم پر هند باندې د يرغل کولو توان لري او هم له هند څخه د دفاع توان لري. (۸)

انګرېز سياستمدار او ليکوال انګوس هميلټن اټکل کوي، چې د هري رود وادي د تقريباً ۱۵۰ زرو اشغالګرو پوځيانو د پاره تسهيلات او مواد برابرولای سي، دې وايي د دې حقيقت ترځنګ دا خبره هم ده، چې د کسپين، مرو، مشهد، بخارا او له هند څخه د کندهار په منځ کې ټولې لويې لارې په دغه وادي کې تېرېږي او د هرات د ښار دغه اهميت هغه ته د هند د کيلي نوم ورکړی دی. (۹)

مليسن، چې د افغانانو په تېره بيا پښتنو، په باب ټولې ليکنې يې بايد په احتياط سره وکتل سي. د هرات د اهميت په باره کې ليکي، چې د هريرود او مرغاب د واديو درلودل د طلا د کان حيثيت لري او په څو کالو کې به هرات شمالي هند ته دلنګې غوا په څېر اهميت ولري. (۱۰)

مليسن د خپل وخت د ټولو برتانوي سياستمدارانو او ستراتيژيستانو سره په دې عقيده کې شريک دی، چې که روسيې هرات اشغال کړ نو بيا هند ته څرګند تهديد متوجه دی او دا به د برتانيې د پاره ګرانه او حتی غير ممکنه وي، چې په هغه صورت کې د روسيې او يا د روسيې او ايران د ګډو پوځي قواوو په مقابل کې د هند څخه دفاع وکړي.

په دې کې شک نسته ، چې هرات په نولسمه پېړۍ کې د مرکزي آسيا تر ټولو مهم ستراتيژيک ښار و او د سترې لوبې عمده مرکز او د روسيې څخه نيولې تر ايران، فرانسې او برتانيې پورې يې د ټولو قوتونو توجه ځانته اړولې وه، خو مليسن د هغه د تاريخي او ستراتيژيک اهميت په برخه کې تر حد زياته مبالغه کوي او يا ښايي خپل استدلال ته د قوت وربخښلو د پاره قصدا تاريخي حقايق تحريفوي او وايي ، چې که روسيې هرات ونيوي نو بيا به بې داسې سيمه لاسته ورغلې وي، چې له يوه سرې پرته نورو ټولو فاتحينو د هغه د اشغال څخه وروسته پر هند باندې يرغل کړی دی. مليسن وروسته ليکي:

" سکندر کبير د هرات څخه پر اباسين باندې يرغل پيل کړ. محمود غزنوي او محمد غوري پر هند باندې د حملې کولو په وخت کې هرات په لاس کې درلود . چنګيز خان او ګوډ تيمور له همدغې لارې د هند خوا ته توجه واړوله. په دې لړ کې د مغولي امپراطورۍ موسس بابر يوازينی استثنی و. ده خپل فتوحات له کابل څخه پيل کړل، مګر کله چې ده پر

هند باندې يرغل کاوه، البته خراسان د داسې فاتحينو او جنګيالو ترمنځ د جنګ ميدان و ، چې د خپل منځي جنګونو د لاسه يې د هند د فتح کولو پلان ته توجه نه سوه کولای . د ده اولادونه ځکه په هند کې د مشکلاتو سره مخامخ سول، چې هرات يې په لاس کې نه درلود . نادر شاه د کندهار د محاصره کولو څخه مخکې لومړی هرات فتح کړ او بيا يې نو د هند پر لور پوځونه ور رهي کړل او کله چې دی مړ سو ، احمد شاه دراني هرات ونيوی او ډېر ژر وروسته يې پر هندوستان باندې حمله وکړه. (١١)

حتی مليسن بالاخره وايي، چې د روسيې له خوا د هرات اشغال د انګلينډ د پاره د هند د لاسه ورکولو مانا لري.

البته مليسن دا استدلال د دې د پاره کوي او د هرات پر ستراتيژيک اهميت باندې د دې د پاره ټينګار کوي، چې انګرېزان د دغه ښار اشغال ته راوبولي او وايي چې که انګرېزان هغه اشغال کړي نو نه يوازې د دغه ښار تجارت او اقتصاد به بېرته خپل پخواني رونق او اهميت پېدا کړي،بلکې د دغې سيمې خلک به د اوسنيو مستبدو حکمرانانو ( افغانانو) له ظلمه وژغورل سي. مليسن وروسته وايي، چې د هرات خلکو بالاخره د افغانانو په مقابل کې قيام وکړ او اوس يې د برتانيې حکومت ته سترګې نيولي دي، چې ګوندې د دوی ښار به اشغال کړي او دوی ته به نجات ورکړي. (١٢)

په داسې حال کې، چې د هرات د خلکو او افغانانو جلا کول او يا د هراتي او افغان کلمه استعمالول د مغرضو بېګانه ګانو اختراع ده. د هرات خلکو که کوم وخت وسلې ته لاس اچولی او قيام يې کړی دی، هغه يې د ايران د پرله پسې حملو او محاصرو په مقابل کې کړي دي او د خپلو مستبدو واکدارانو او حکمرانانو استبداد يې په ګډه ليدلی او زغملی دی او يا يې په ګډه عکس العمل څرګند کړی دی. د هرات په ټول تاريخ کې د افغان حکمران په مقابل کې د هراتيانو او يا د هرات د خلکو په نوم د وسله وال قيام نمونه نسته او د بلې خوا د مليسن د ادعا په خلاف، د انګرېزانو د عادلانه (!) حکومت واک هيڅ وخت د هرات سرحداتو ته نه دی رسېدلی، چې خلکو يې مزه څکلې او د نجات د پاره يې د اميد سترګې ورته نيولې وای.

چې بېرته خپلې خبرې ته وګرځو؛ البته د هرات په ستراتيژيک، پوځي او اقتصادي اهميت کې هيڅ شک نسته. خو د هند د دروازې نوم برتانوي

سیاستمدارانو او جنرالانو په نولسمه پېړۍ کې ورکړ او دا ځکه، چې د دغې پېړۍ په دربمه لسیزه کې ایران د روسیې په مرسته او تشویق پر دغه ښار باندې یرغلونه وکړل. ایران د فرانسې او روسیې سره مفاهمې وکړې او د هرات د اشغال په صورت کې یې د دغو دواړو قوتونو سره د اتحاد په کولو سره هند ته خطر نه متوجه کاوه.

خو دا چې ملیسن وایي سکندر او چنګیز خان هرات اشغال کړ او بیا یې د هند پر لور د عملیاتو توان پیدا کړ، دا خبره یو څه د تامل وړ ده، ځکه چې سکندر او چنګیز خان هرات په بشپړه توګه د خاورو سره برابر کړ او د هند پر لور یې د حرکت د پاره د هرات د مالي، پوځي او بشري قوی څخه هیڅ کار وانه خیست او ستراتیژیک موقعیت یې د دوی په عملیاتو کې هیڅ مرسته نه ده کړې.

د چنګیز خان لمسي هلاکو د هرات بشپړ کنترول په لاس کې درلود او د کرتانو کورنۍ، چې پر هرات، کندهار، غزنې او بلخ باندې یې سلطنت کاوه، د هغه واکدارۍ ته تسلیم وه، مګر نه ده او نه د کرتانو مقتدرې کورنۍ د هرات په مرسته هیڅ وخت هند فتح نه کړ. ګوډ تیمور هرات فتح کړ، مګر د ډهلي او هند د خاورې په فتح کولو کې د هغه سره د هرات فتحې مرسته نه ده کړې، بلکه د تیمور له خوا د هند د فتح کېدلو او د ډهلي د سلطنت د سقوط اساسي عامل په ډهلي کې د تغلق د کورنۍ د دربار خپله کمزوري، د واکدارانو فساد، او د جاګیردارانو، جنرالانو او شهزاده ګانو ترمنځ داخلي جنګونه وه. دغه راز د تیمور د اولادې ( د هرات د تیموریانو) د مقتدرو سلطانانو، شاه رخ میزا او سلطان حسین بایقرا د سلطنتونو په زمانه کې په هند کې څه کم اتیا کاله د لودي پښتنو د امپراطورې په وخت کې نه یوازې د هندوستان خاوره د هرات تر تسلط لاندې نه وه، بلکې تیموري سلطانانو پر هند باندې د یرغل کولو تکل هم ونه کړ.

بابر ته ملیسن پخپله په استثنی قایل دی او وایي، چې هغه هرات فتح نه کړ او ډهلي یې ونیوی، مګر اولادونو یې ځکه روغه ورځ ونه لیده، چې هرات یې په لاس کې نه و، په داسې حال کې چې د بابر د زوی همایون څخه وروسته مغولي سلطانانو، جلال الدین اکبر، جهانګیر، شاه جهان او اورنګ زیب څه باندې یوه نیمه پېړۍ په هند کې په بشپړ شان او شوکت سلطنتونه وکړل او د هرات د نه درلودلو له کبله یې چنداني تکلیف ونه

ليدى او په مقابل كې چې د ايران مقتدر صفوي دولت په خپل ټول عظمت د هرات كنټرول په لاس كې درلود د هند پر لوري حتى يو ځل په زړه كې د لښكر كښي كولو خيال هم ور ونه ګرځېد.

كه چېرې مليسن په هند كې د همايون مشكلات او د سوري پښتنو په مقابل كې د هغه د ماتې علت دا بولي، چې همايون د هرات كنترول په لاس كې نه درلود، نو دا چنداني د منلو وړ تحليل نه دى. همايون له زيات و كم شلو كالو سرګردانۍ څخه وروسته بېرته د هند سلطنت ونيوى، مګر دا ځل يې هم هرات په لاس كې نه و. خو د صفويانو قوې دولت په داسې حال كې چې هم يې هرات په لاس كې او هم په دغه زمانه كې په هند كې اغتشاشونه روان وه، ونه سو كړاى چې ډهلي ونيسي او د اكبر په زمانه كې يې حتى كندهار او هلمند هم له لاسه وركړل.

دغه راز نادر شاه افشار او احمد شاه دراني په داسې حال كې هند فتح كړ چې د هر فاتح لښكرو كولاى سواى هغه ونيسي، ځكه چې په هند كې په دغه وخت كې د هند د مغولي امپراطورۍ صرف سيورۍ او كيسې پاته وې او د هيڅ چا په مقابل كې يې د ځان څخه د دفاع كولو توان نه درلود او بله خبره خو لا دا چې احمد شاه په كندهار كې د پاچا كېدلو څخه وروسته بېله دې چې يو ځل دى د هرات خوا ته توجه واړوي لومړى يې د هند پر لور حركت پيل كړ او په هغه سيمه كې له برياليو عملياتو څخه وروسته د هرات خوا ته متوجه سو.

په هر صورت د دې ټولو خبرو مانا دا نه ده چې هرات ډېر مهم او حتى حياتي ستراتيژيک او جغرافيايي اهميت نه لري، بلكې خبره دا ده چې د هرات د ملكيت او هندوستان د فتح كولو ترمنځ دومره حتمي او ستراتيژيک ارتباط قايمول چنداني منطقي اساس نه لري. هرات ته د هند د دروازې نوم برتانوي جنرالانو او سياستمدارانو د دې د پاره وركړى دى، چې د لزوم په صورت كې پر ايران باندې د حملې كولو پلمه ترلاسه كړي او ايران ته وښيي، چې د برتانيې پر ضد يې د فرانسې او روسيې سره اتحاد كول چنداني په ګټه نه دي او بايد چې پښې له خپلې كمبلې څخه اوږدې نه كړي.

د برتانيې حكومت ته دا معلومه وه، چې ايران د روسيې په تحريک پر هرات باندې حمله كړې ده. كه څه هم چې په لومړي سر كې روسيه پر دې حقيقت منكره وه، خو وروسته هم د ايران د پاچا محمد شاه قاجار

صدراعظم د برتانيې حکومت ته وويل چې د روسيې حکومت د ايران پاچا د هرات نيولو ته تشويق کړ او هم په ايران کې د روسيې سفير کونټ سيمونيچ د برتانيې سفير مک نايل ته اعتراف وکړ، چې دا کار يې کړی دی، خو البته د خپل حکومت د هدايتونو په خلاف يې عمل کړی دی، ځکه چې خپل حکومت يې ورته ويلي وه، چې د ايران شاه پر هرات باندې حملې کولو ته تشويق نه کړي.

وروسته داسې معلومه سوه، چې د روسيې حکومت د ايران د شاه حکومت ته پنځوس زره تومنه پر هرات باندې د لښکر کشيو د لګښتونو د پوره کولو د پاره ورکړي دي. دغه راز په تهران کې د روسيې سفير د ايران حکومت ته وعده ورکړې وه چې که ايران د هرات په نيولو کې بريالی سي ، نو روسيه به يې ټول پورونه ورمعاف کړي او دا پيسې دې پر هرات باندې د ايران د لښکر کښۍ په لګښتونو کې د روسيې ونډه وګڼله سي. البته د روسيې حکومت د ټولو ځرګندو شواهدو او اسنادو د موجوديت سره سره د هرات په جنګونو او د ايران د شاه پر لمسولو باندې منکر و او ويل يې ، چې که چېرې د روسيې له خوا د ايران شاه پر هرات باندې حملې کولو ته تشويق سوی وي او په دې برخه کې اسناد موجود وي نو دا کارونه په ايران کې د روسيې سفير په خپل سر کړي دي او د روسيې حکومت هغه ته هدايت ورکړی دی، چې د ايران او افغانستان په چارو کې به هيڅ مداخله نه کوي.

برتانيه په دې وخت کې په خپل زور دونه مغروره وه، چې هم يې د ايران په بندر عباس کې عسکر پياده کړل او ايران يې په جنګ تهديد کړ او هم يې د روسيې حکومت ته وويل، چې دا په مطلقه توګه په روسيه اړه لري، چې د خپلو ملي منافعو د پاره په خپله خوښه عمل وکړي، خو برتانيا هم دا توان لري، چې د نړۍ په هره ګوښه کې د هر چا په مقابل کې د خپلو منافعو دفاع وکړي. (۱۳)

## اخځليک

۱. Fraeser p 31

۲. Watson History of Persia p 178

۳. همدا کتاب ص ۱۷۹

۴. Russia and Asia p 100
۵. هغه کتاب ص ۱۰۳
٦. محمود محمود ص ۱۵۰۳- ۱۵۰۴
۷. Correspondence p 186- 187
۸. Kaye p 203- 204
۹. Hamilton History of Persia p 156
۱۰. Mailson Heart Granery of Asia p 14
۱۱. هغه کتاب ۱۹
۱۲. هغه کتاب ص ۱۰۵- ۱۰٦
۱۳. Correspondence p 250- 255

## هرات له لومړيو کلونو د غوريانو تر زمانې پورې

هرات د افغانستان او په مجموع کې د خراسان او مرکزي اسيا يو لرغونی ښار دی چې لومړی ځل د زردشتيانو په مقدس کتاب اويستا کې د (هريوا) په نوم ښودل سوی دی. هرات د ايران د هخامنشيانو (٦۷۵- ۳۳۰ ق م) په زمانه کې د کوروش او د اريوش او وروسته د سکندر د فتوحاتو په لار کې پروت و. خو داسې ښکاري چې دا ښار لومړی د سکندر د فتوحاتو په مقابل کې د مقاومت کولو له کبله تباه سوی او بيا نو د حوادثو په ډک تاريخ کې په اوږدو او لنډو فاصلو کې سوځول سوی، نړول سوی، قتل عام سوی او د اوږدو او لنډو محاصرو د لاسه کړېدلی دی.

د هرات ښار دونه قديم دی چې د هغه د اساس اېښودلو په برخه کې هيڅ ډول اتفاق نه سي کېدلای او دې سوال ته چې د دې ښار اساس به چا ايښی وي يوازې په افسانو او داستانونو کې جواب پېدا کېدلای سي.

*لهر اسپ نهادست شهری بنياد*
*گشتاسپ در اوبنای ديگر بنهاد*
*بهمن پس ازو عمارت ديگر کرد*
*اسکندر روميش همه داد به باد*

البته دونه ويلای سو، چې د اسيا او بيا وروسته د هند پر لور د يوناني سکندر د فتوحاتو په وخت کې دا لوی ښار د هغه په لاره کې پروت و او دومره عظيمو لښکر کښيو په مقابل کې د هغه له مقاومت څخه سرې

قضاوت کولای سي چې هرات د خپل وخت یو له ډېرو مستحکمو ښارونو څخه و. په هرات کې د هخامنشیانو والي ساتي بارزانس په لومړي سر کې د سکندر د چپاوونو په مقابل کې هغه ته تسلیم سو او کله چې د سکندر لښکرو د بلخ پر لور حرکت وکړ ده لږ وخت وروسته په ۳۳۰ ق م کې د یوناني لښکرو په مقابل کې بغاوت وکړ. په هرات کې یې د یوناني سکندر له خوا موظف سوی سړی اناکسیپ او د هغه ورسره یوناني عسکر ووژل او د سکندر سره یې د جنګ دپاره تیاری پیل کړ. خو د سکندر عسکر د ساتي بارزانس د انتظار په خلاف ډېر ژر هرات ته ورسېدل. ساتي بارزانس په ښار کې د مقاومت توان نه درلود، د خپلو ورسزه ملګرو سره هرات ته نږدې یوه ځنګله ته ننوت او سکندر د خپلو ټولو ملګرو سره په دغه ځنګله کې محاصره کړ. ځنګله ته یې اور واچاوه او ساتي بارزانس یې د خپلو ټولو عسکرو سره په دغه ځنګله کې وسوځاوه او په دې توګه د هرات د مقاومت لومړی داستان په ډېر تراژیک شکل پای ته ورسېدی. (۱)

سکندر په هماغه کال د سکندریې په نوم یو نظامي ښار اباد کړ، چې احتمال لري همدغه د هرات اوسنی ښاربه وي.

سکندر په ۳۲۳ ق م کې مړسو او د هغه امپراطوري د خپلو سردارانو ترمنځ ووېشله سوه. هرات هم په دې سلسله کې، د سیمې د لویو ښارونو او ولایتونو سره یو ځای، د سکندر د مشهور سردار سیلو کیوس لاسته ورغی. د ۲۳۹ ق م په شاوخوا کې یوناني جنرال دیودوتوس Diodotus بلخ، سغدیانه، هرات، سیستان او شاوخوا سیمې ونیولې او هرات د یونان باختري یا Bactrian–Greco د امپراطوري یوه برخه سوه. هرات وروسته څه د پاسه څلور سوه کاله (۲۲۴- ۶۵۱م) د ساساني امپراطوری یو لوی ښار او نظامي مرکز و. په ۶۳۶ م کې د فرات د سیند په غاړه د عربو او ایرانیانو ترمنځ د قادسیې په جنګ کې د ساسانیانو د لوی جنرال رستم فرخ زاد د وژل کېدلو او ساساني لښکر د سختې ماتې څخه وروسته د ساساني امپراطوري ستوری ولوېدی او د ساسانیانو وروستی امپراطور، درېم یزد ګرد د ماورالنهر سیمې ته وتښتېدی. لایزد ګرد په هماغه سیمه کې د عربو په مقابل کې د قواوو د راغونډولو او کومکونو د جلبولو په کوښښونو لګیا و، چې د عربو سردار احنف بن قیس، چې د یزدګرد د تعقیبولو وظیفه ورکړه سوې وه، په ۱۸ یا ۲۰ هجري کې د طبسین د لارې خراسان ته ورسېدی او هرات یې په جنګ ونیوی، صحارعبدی ته یې د

هغه ښار حکومت وسپاره او وروسته یې مرو رود، بلخ او د نیشاپور څخه تر تخارستان پورې د اوسني افغانستان ټولې سیمې ونیولې.

هرات او د هغه شاوخوا سیمې افغانستان ته د اسلام د راتګ څخه وروسته د اموي او عباسي خلیفه ګانو د حکمرانانو او والیانو له خوا اداره کېدلې. البته د خلافت د پراخ قلمرو د بلې هرې سیمې په څېر په هرات کې هم کله کله ښورښونه کېدل، خو دا ښورښونه او جنګونه دونه مهم نه وه، چې د دې تاریخي ښار پر سرنوشت باندې قاطع اغېزه ولري. د عباسیانو د تر ټولو مشهور خلیفه هارون الرشید له وفات (۸۱۲ م) نه وروسته کله چې د هغه دوه زامن امین او مامون، د بغداد د تخت او تاج د تصاحب کولو د پاره د جنګ مېدان ته ووتل، مامون الرشید د خپلو ټولو لښکرو عمومي قوماندانې طاهر فوشنجي ته وسپارله. طاهر فوشنجي په کال ۸۱۴ م د امین لښکرو ته ماته ورکړه؛ د هغه لوی سپه سالار علي بن عیسي ماهان یې وواژه او د امین الرشید سر یې د هغه ورور مامون الرشید ته واستاوه. مامون د دې خدمت په بدل کې طاهر فوشنجي ته د ذوالیمینین (د دوو ښي لاسونو خاوند) لقب ورکړ او لږ وخت وروسته یې د خراسان حاکم کړ. د طاهر ذوالیمینین د دې مقرري سره د خراسان حوادثو بل رنګ واخیستی او دا سیمه بیا هیڅ وخت د پخوا په څېر د عباسي خلافت تر مستقیمې ادارې لاندې رانغله. طاهر ذوالیمینین اته کاله پر کرمان، سیستان، هرات، نیشا پور، مرو، جوزجان، بلخ او تخارستان باندې حکومت وکړ او په کال ۸۲۲ م کې یې یوه ورځ د جمعې د لمانځه په خطبه کې د عباسي خلیفه مامون الرشید نوم ذکر نه کړ او ګواکې خپل استقلال یې اعلان کړ. خو ده پخپله همدغه یوه یا نیمه ورځ د خراسان د یوه مستقل حکمران په حیث ژوند وکړ او په هماغه شپه وفات سو. ویل کیږي چې مامون خپله یوه وینځه دده سره لېږلې وه او هغې ته یې وظیفه ورکړې وه، چې هر کله طاهر احیانا د استقلال اعلان وکړ په هماغه شپه به یې په هغه زهرو چې دې به تل په انګشتری کې ګرځول مړ کړي. د طاهر کورنۍ څه کم شپېته کاله په خراسان کې حکومت وکړ او هرات د خراسان د یوه مهم ښار په حیث په دغه موده کې د زمان د بدمرغه حوادثو څخه یو څه په امان کې پاته سو.

په کال ۸٦۷ میلادي کې یعقوب لیث صفاري پر هرات حمله وکړه هرات یې تر لږ مقاومت وروسته ونیوې او له دې وروسته دا تاریخي ښار د صفاریانو د لنډې او نسبتا پراخې امپراطوري یوه برخه سو.

# صفاریان

د دې سلسلې موسس یعقوب بن لیث دی، چې د مسګري کسب له پلاره په میراث ورته پاته و او له همدې کبله د ده د تحریک او امپراطوري نوم د ده او پلار د کسب په نوم یادیږي. مخکې له هغه چې یعقوب لیث په سیستان کې د خپلواکۍ بیرغ پورته کړي، د خراسان او سیستان ښارونه د حمزه بن ازرق سیستاني ښورښونو لړزولي وه.

حمزه سیستانی لومړی ځل په کال ۷۹۸ میلادي کې د هارون الرشید د اقتدار د اوج په زمانه کې د خراسان د حاکم عیسیٰ بن علي په مقابل کې منظم پوځونه د جنګ میدان ته وایستل او په جنګ کې د عباسي د لښکرو له ماتې څخه وروسته څرګنده سوه، چې حمزه سیستانی یا د هغه وخت په اصطلاح د خوارجو تحریک داسې وړه ستونزه نه ده، چې د یوه عادي پوځ په لیږلو دی حل سي. حمزه سیستاني تقریبا پنځه دیرش کاله په سیستان او خراسان کې لښکر کشۍ وکړې او په لس ګونو میدانونو کې یې د عباسیانو د مشهور سپه سالار علي بن عیسی په شان جنګیالیو ته ماتې ورکړې. د حمزه سیستاني دوامدار تحریک او نظامي قوت د عباسي امپراتوري، په تیره بیا د خراسان، خزانه تشه کړه او حکمرانان یې دونه کمزوري کړل چې نور یې نه سو کولای، چې هري سیمې ته د ستونزو د حلولو د پاره لښکرې ولیږي. حمزه سیستاني په کال ۸۲۸ میلادي کې وفات سو او نوم یې د تل د پاره د فارسي د ولسي ادب ملګری سو او په شلمه پېړۍ کې یې د جنګونو او قهرمانیو داستان، چې له سره ترپایه پورې د دیوانو او پیریانو افسانو رنګین کړې و د پښتنو حجرو او د ژمي اوږدو شپو ته لاره پیدا کړه. البته پښتانه، چې د حمزه داستانونه اوري نو هغه ته د حمزه سیستاني په سترګه نه ګوري، بلکې د بدر د غزا د قهرمان، حضرت محمد ﷺ د کاکا حمزه بن عبدالمطلب په سترګه ورته ګوري.

د حمزه سیستاني د مرګ څخه وروسته په سیستان کې ګډوډي او د حکمرانانو خود سرۍ ختمې نه سوې، بلکې لا یې زور واخیست دغه وخت

د واکدارانو د ظلمونو او تېريو څخه د سيستان او په عام ډول د ټولې سيمې د اولسونو او مظلومو خلکو د ژغورلو د پاره د عيارانو ډلې را پيدا سوې.

## د يعقوب ليث د قدرت شپې او ورځې

يعقوب بن ليث او د هغه درې ورونه د ځوانۍ د ډېرو لومړيو کلونو څخه د عيارانو په ډلو کې شامل سول او ډېر ژر يې د عيارانو مشران صالح بن نصر او درهم بن نصر له منځه يوړل او يعقوب پخپله په کال ٨٦١ م کې د سيستان کنټرول تر لاسه کړ. څرنګه چې نه کمزورو طاهري حکمرانانو او واليانو او نه د عباسي خليفه ګانو حکومتي اداري د سيستان او شاوخوا سيمو ته توجه کولای سوه، نو يعقوب بن ليث، چې په لومړي سر کې يې عباسي خليفه ګان د تحريک خطر او عظمت ته متوجه نه وه، ډېر ژر زمينداور او رخج (کندهار) لاندې کړل. وروسته يې غزني، کابل، ګرديز او باميان ونيول. په کال ٨٧٠ کې يې هرات ونيوی؛ د هغې سيمې خوارج يې، چې د عباسيانو او عيارانو دواړو سره جنګېدل ارام کړل، په کال ٨٧٣ کې يې د نيشاپور د نيولو سره د خراسان فتح بشپړه کړه او عباسي خليفه، چې د خراسان طاهري حکمرانانو د هغه په فرمان پر خراسان باندې حکومت کاوه، د يعقوب بن ليث وروستي فتوحات محکوم کړل. يعقوب د هغه پروا ونه کړه حتى پخپله د خلافت د مرکز بغداد پر لور يې لښکر کښي وکړه. يعقوب په کال ٨٧٦ کې د بغداد د خليفه په مقابل کې ډېره سخته ماته وخوړه، خو درې کاله وروسته يې بيا هم د بغداد پر لور مارش وکړ. بغداد ته د رسېدلو څخه مخکې په لاره کې ناروغ او په کال ٨٧٩ م کې د جون په مياشت کې په نيشاپور کې د قلنج د لاسه وفات او هلته ښخ سو.

## عمرو ليث

د يعقوب بن ليث د وفات څخه وروسته قدرت د هغه ورور عمرو بن ليث ته ورسېدی عمرو په لومړي سر کې د عباسي خلافت سره زياتره دروغې جوړې لاره واخيستله او څو څو ځله يې د عباسي دربار څخه د خپل امارت په رسميت پېژندل کېدلو غوښتنه وکړه، خو څرنګه چې عمرو بن

لیث هم د خپل ورور یعقوب په شان د یوه مستقل حکومت د جوړولو او تر ممکنه حده پورې د خپل قلمرو د پراخولو په لټه کې و، نو ډیر ژر یې د عباسي خلیفه سره اختلاف پیدا سو. عباسي دربار د دې د پاره، چې د عمرو او د ماوراالنهر د واکمنی، ساماني کورنی، ترمنځ، چې تازه یې د امو د سیند پر پورې غاړه ډیرې سمسورې سیمې لاندې کړې وې، اختلاف پیدا کړی او د دې دواړو دښمنانو ترمنځ د اختلاف څخه په خپله ګټه استفاده وکړي. عمرو بن لیث ته د خراسان او ماوراالنهر د امارت فرمان ورکړ، کله چې عمرو د خلافت د دغه فرمان په اساس د ماوراالنهر پر لنور لښکر کښي وکړه، نو د سامانیانو د لایق او زړه ور واکدار اسماعیل بن احمد د لښکرو په لاس بندي او بغداد ته واستول سو. د عباسیانو خلیفه المعتضد، چې د عمرو د لاسه یې ډیرې ناکرارې شپې تیرې کړې وې او د هغه د خپلو او نیولو د پاره یې ډیرې خزانې تشې کړې وې، هغه د بغداد په بازارونو وګرځاوه او وروسته یې زندان ته دننه کړ. عمرو بن لیث یو کال وروسته په زندان کې یا د لوږې او رنځ څخه مړ او یا د خلیفه المعتضد په اشاره ووژل سو.

په دې توګه د صفاریانو ټول قلمرو کرار کرار په طبیعي توګه څکه د سامانیانو لاسته ورغی، چې خلیفه هغه له بغداد څخه نه سو اداره کولای او تش په نوم دربار له دې نه وروسته د خراسان او سیستان او ماوراالنهر سیمې د سامانیانو د حکمرانانو د قلمرو په حیث وپیژندلې. هرات د مرکزي اسیا او خراسان د نورو ښارونو په څېر د سامانیانو تر مستقیمي او غیر مستقیمي اداري لاندې راغی.

# سامانیان

د سامانیانو د قدرت، سلطې او اصلاحاتو په باره کې که څېرې خبرې کېږي نو زیاتره د ماوراُلنهر په سیمه کې، چې د دوی د مستقیمې ادارې ساحه او د قدرت د پاره د مبارزې سیمه ده، د هغوې یادونه کېږي.
سامانیانو د اقتدار د لومړیو ورځو څخه په لومړي سر کې د صفاریانو د کمزورو پاچاهانو سره ډېر بد سلوک ونه کړ؛ مګر په وروسته کې چې د صفاریانو د لویو پاچاهانو، یعقوب بن لیث او عمرو لیث جانشینانو حتی سیستان هم نه سو اداره کولای، نو د خراسان سیمه یې خپل یوه حاکم ابوالحسن سیمجور ته وسپارله. هغه په دغه سیمه کې تقریباً مستقله حکمراني کوله او د خراسان د ملاماتونکو مالیاتو یوه برخه یې د سامانیانو دربار ته لېږله او دغه راز یې د معمول سره سم د جنګونو د پېښېدلو او ستونزو د حلولو د پاره د سامانیانو لښکر ته عسکر لېږل د دوهم نوح په زمانه کې (۳٦٦- ۳۸۷ هـ ق) هرات تقریباً په مستقله توګه ابوعلي سیمجور ته وسپارل سو ابو علي سیمجور څه وخت وروسته د سامانیانو دربار ته د مالیاتو د ورکولو څخه ډډه وکړه او ښکاره بغاوت ته یې لاس واچاوه. غزنوي سبکتګین په ۹۹۳ میلادي ۳۸۱ هـ ق کې هغه ته ماته ورکړه او هرات له دغه وخت څخه وروسته د غزنویانو تر ادارې لاندې راغی.
څه مورخینو او جغرافیه لیکونکو، چې د سامانیانو په باره کې لیکنې کړي دي، نو هغوې یې زیاتره په ښه نامه یاد کړي دي؛ د هغوی په وخت کې یې د امنیت او پریماني په باب خبرې کړي دي او د هغوی د عدالت او ښې ادارې ستاینه یې کړې ده. اصطخري، چې خپل کتاب یې د سامانیانو په زمانه کې لیکلی دی او په دغه زمانه کې پخپله ماوراالنهر ته ورغلی او د هغې سیمې وضع یې په سترګو لیدلی ده وایي، چې په نورو ښارونو کې خلک خپل مال په خپلو نیژدې کسانو مصرفوي او یا یې په فسق او فساد لګوي؛ خو د ماوراالنهر خلک ټولې پیسې د خیر په کارونو او د پلونو او رباطونو په جوړولو لګوي. په ماوراالنهر کې هیڅ داسې ښار نشته، چې رباط او د استوګنې ځای دی نه وي په کې جوړ سوی. دې وایي ما اوریدلي دي، چې په ماوراالنهر کې تر لسو زرو رباطونو زیات جوړ سوي

دي او په دې رباطونو کې خلکو او حیواناتو ته ډوډۍ او خوراکه رسېږي. (۲)

دې وايي د مسلمانانو تر کنټرول لاندې په هیڅ ځای کې د دغو ترکانو په شان پاچاهان نسته، ځکه چې دوی ته پاچاهي په میراث رسېدلې ده. (۳)

بوسورث د ابن حوقل له خولې، چې د منصور بن نوح ساماني (۹۶۱- ۹۷۶ م) په وخت کې ماوراالنهر ته تللی دی لیکي چې په ټولو شرقي سیمو کې داسې ملک نه سته چې سرحدونه یې داسې ساتلي او ټینګ وي یا دې دونه زیات نفوس ولري، یا دې دونه زیات نعمتونه او شته مني ولري، یا دې داخلي چارې تر دغه ښې اداره کړای سي. په دغه سیمه کې خوراکي مواد ډېر په اسانه او په زیاته پیمانه تر لاسه کیږي او مامورینو ته په منظمه توګه تنخوا ورکوله کیږي. په داسې حال کې چې له خلکو څخه پر عایداتو باندې ډېر سپک مالیات اخیستل کیږي، ګمرکي محصول یې ډېر کم دی او په خزانو کې هم ډېرې پیسې نه ساتي. (۴)

د سامانیانو په زمانه کې هرات دونه ښایسته او پرمخ تللی ښار سو، چې یو ځل خو د دې سلسلې مشهور پاچا امیر نصربن احمد ساماني څلور کاله خپل اصلي پایتخت پرې ایښی و او د هرات په ښار کې یې استوګنه غوره کړې وه. د هرات د ښار مامورین او مستوفیان د سلطان دې پرله پسې استوګنې په تنګ کړل او د مشهور شاعر رودکي څخه یې وغوښتل چې، سلطان تشویق کړي، چې بخارا ته ولاړ سي. رودکي د فارسي ژبې مشهوره قصیده :

*بوی جوی مولیان آید همی*
*یاد یار مهربان آید همی*

د پاچا په مخکې ولوستله او د پاچا دومره بخارا ویادېدله، چې سمدستي په آس سپور سو او حتی یوه څپلۍ ورڅخه پاته سوه.

په هر صورت د سامانیانو نهو پاچاهانو پر ماوراءالنهر او تر یوې اندازې پورې د خراسان پر لویو ښارونو باندې، د ۸۹۰ میلادي د شاوخوا څخه نیولې بیا تر تقریباً ۱۰۰۰ میلادي پورې سلطنت وکړ او د سامانیانو د شپږم پاچا منصور بن نوح په زمانه کې د سامانیانو ترکي غلام الپتګین، چې پخپله یې ۲۷۰۰ خاصه غلامان درلودل. د ساماني ټولواک په مقابل کې بغاوت ته مجبور سو او د غزني او زابلستان سیمې یې لاندې کړې. الپتګین

دوه کاله وروسته وفات سو او پر ځای باندې يې زوی اسحق قدرت ته ورسېدی. درې کاله وروسته اسحق هم وفات سو او د الپتګين يو غلام بلکا تګين، چې د خپل بادار په شان لايق منصبدار او پرهېزګار سړی و، قدرت ته ورسېدی. بلکا تګين لس کاله وروسته په ګرديز کې وفات سو. د هغه پرځای د الپتګين يو بل غلام پيري تګين، چې سخت مستبد او عياش سړی و، قدرت ته ورسېدی د پيري تګين او د هغه د منصبدارانو او غلامانو په مقابل کې يو کال وروسته د غزني او شاوخوا سيمو خلک راپاڅېدل او نيژدې و، چې د غزني او کابل پخواني واکدارې کورنی، لويکانو ته بېرته قدرت ورسيږي، چې د الپتګين يوه بل غلام سبکتګين، چې د غزنوي امپراطوری او غزنوي سلسلې موسس دی، د قدرت په سر مبارزې ته ودانګل او په کال ۹۷۶ ميلادي کې يې په ډېر لږ وخت کې خپل ټول رقيبان له منځه يووړل او د غزني او شاوخوا علاقو د قدرت واګې يې واخيستلې.

# غزنويان

د غزنويانو د سلسلې موسس سبکتګين، چې په تاريخ کې د ناصر الدين سبکتګين په نوم ياديږي، تر ۹۷۸ ميلادي پورې، بست د سامانيانو د غلامانو او افسرانو څخه لاندې کړ او د غزني په قلمرو کې يې شامل کړ. امير سبکتګين د هندوانو راجه جيپال ته چې د اوسني افغانستان ټولې شرقي سيمې يې د کابل تر حدودو پورې په لاس کې وې، ماته ورکړه او تر پېښور پورې ټولې ځمکې يې د غزني په قلمرو کې شاملې کړې. يو ځل حتی د سامانيانو د پاچا دوهم نوح بن منصور مرستې ته ورغی او په ۹۹۴ کال کې يې د طوس په جنګ کې د سامانيانو مخالفينو ته ډېره سخته ماته ورکړه. د دې جنګ څخه داسې څرګنديږي، چې سبکتګين، که څه هم چې يو مستقل حکمران و، تر مرګه پورې د سامانيانو سره خپل زاړه روابط ساتل او په بده ورځ کې يې مرستې ته وردانګل؛ البته دا وخت سامانيانو ته خپل پخوانی زور نه و پاته او کورنيو جنګونو او د ماوراءالنهر د وړو او لويو حکمرانانو سره پرله پسې جنګونو يې ملا ماته کړې وه.

امير سبکتګين د ۲۱ کالو پاچهي څخه وروسته د ۵٦ کالو په عمر وفات سو او د غزني، شرقي افغانستان، هند او خراسان قلمرو يې، چې د تورې

په زور يې لاندې کړې و، خپلو زامنو ته په ميراث پرېښود. قاضي منهاج سراج ليکي، چې امير سبکتگين هوښيار، عادل زړه ور او پر قول او عهد ټينګ ولاړ او صادق سړی و. د خلکو مال ته يې طمع نه کوله او پر خپل رعيت باندې مهربان و. هر څه چې د يوه ښه پاچا سره ښايي او هر څه صفتونه چې يو ښه پاچا درلودلای سي، حق تعالی د هغه په برخه کړي وه. (۵)

د سبکتگين د شخصيت او پرهيزګارۍ په برخه کې د مورخينو اتفاق موجود دی او چې چا يې نوم اخيستی دی، نو د هغه د عدالت او لياقت صفت يې کړی دی. د سبکتگين له وفات څخه وروسته د هغه زوی اسماعيل د پاچاهۍ اعلان وکړ. دا وخت محمود په نيشاپور کې د خراسان حکمران و او له هغه ځايه يې د تخت د لاندې کولو د پاره حرکت پيل کړ. اسماعيل چې په دغه وخت کې په بلخ کې و له هغه ځايه جنګ ته تيار سو. د محمود د روغې جوړې پېشنهادونو نتيجه ورنه کړه او د ورونو ترمنځ د يوه سخت جنګ څخه وروسته فتح د محمود په نصيب سوه. اسماعيل يې لومړی وباخښه او وروسته يې بندي کړی او هغه تر مرګه په بنديخانه کې پاته سو.

# سلطان محمود د قدرت پر تخت

سلطان محمود شپږ دېرش کاله پاچاهي وکړه. د هغه د ژوند او قدرت زياتره برخه په فتوحاتو کې تېره سوه. د پلار څخه ورته پاته سوی قلمرو يې نور هم پراخ کړ او زياتره توجه يې د هند د نيولو خوا ته واړوله. دوولس ځله يې پر هند باندې حملې وکړې، بت خانې يې ورانې کړې، راجګان يې ابل کړل او د بت شکن لقب يې وګاټه. اسلامي مورخين هغه يو قوي شخصيت، ښه عسکر او عادل پاچا ګڼي. په داسې حال کې چې د سبکتگين څخه وروسته د غزنويانو امپراطورۍ او په تېره بيا د محمود او مسعود دوره بايد د افغانستان په تاريخ کې له برمه ډکه او مستبدو دورو څخه وګڼله سي. محمود د هند په فتوحاتو کې په زر هاو ښارونه او کلي ورانول، په زرهاو ځوانان په جنګونو کې وژل کېدل، د هند د معبدونو او ښارونو خزانې غزني ته راوړل کېدلې او هغه بالاخره د سلطان په عيش او نوش، شاعرانو، مداحانو او غلامانو ته په بېځايه انعامونو، د پاچا د قصرونو او باغونو په جوړولو لګېدلې؛ په داسې حال کې چې د خراسان د

سمسورو مځکو خلک د سلطان د ملاماتونکو مالياتو او خراجونو د لاسه د لوږې مړه کيدل او نېستمنو خلکو د يوې ګولې ډوډۍ د اخيستلو توان نه درلود.

محمود ته په کال ۱۰۰۸ ميلادي کې د نګرکوټ د قلا د فتح کولو او د معبدونو د ورانولو څخه اويا ميليونه درهمه نغدې پيسې، اويا زره منه طلا، سپين زر او قيمتي کالي د سپينو زرو يو کور، چې د ضرورت په وخت کې قاتيدې او د يوه ځايه بل ځای ته نقلېدی او دغه راز يو تخت په لاس ورغی، چې ټول په قيمتي ډبرو ښايسته سوی و. محمود يو کال وروسته پر سومنات باندې حمله وکړه او د هغه ځايه يې د شلو ميليونو دينارو په ارزښت غنيمت ترلاسه کړ او کله چې يې د هغه ځای راجا ونيوی نو د پنځوسوو زرو دينارو په ارزښت جواهرات، دوه سوه شپېته زره ديناره نغدي پيسې، د دېرشو زرو دينارو په ارزښت طلا او سپين زر، پينځه زره دري سوه شاهي جامې چې شل زره ديناره ارزښت يې درلود او د معتزله عقايدو او شيعه مذهب له کتابونو څخه پرته، چې ټول يې وسوځول، پنځوس باره کتابونه ترلاسه کړل.(٦)

محمود له هند څخه په راوړو خزانو د ځان د پاره عالي قصرونه جوړول او د هغوې ساتنه او پالنه ټوله د خلکو پر غاړه وه او د ساتنې لګښتونه يې ټول پر خلکو حواله وه. د سلطان د قصر د لګښتونو اټکل د هغه د قصر د شخصي غلامانو د شمېر څخه کولای سو. سلطان په خپل قصر کې تل څلور زره هندي او څلور زره ترکي غلامان ساتل او سلطان به هر وخت ترکان په هنديانو او هنديان په ترکانو بېرول او د هغوي ترمنځ يې د هر ډول اتفاق او دسيسو جوړولو امکان له منځه وړی و. (٧)

# له خراسان څخه د غزنوي سلطانانو تحفې او ولجې

د غزني سلطانانو د خپلې پراخې امپراطورۍ په بېلو بېلو سيمو کې خپلو حکمرانانو او جنرالانو ته بشپړ واک ورکړی و. د هغوې چې څه زړه غوښتل هغه يې کول خو د پاچا دربار ته يې، چې هيڅ وخت يې په خزانو، مال او غلامانو سترګې نه مړېدلې؛ بايد ماليات راوړي وای او د سلطان او

د هغه د نيږدې نازولو غلامانو زړونه يې خوشاله ساتلې واى. ابوالفضل سوري، چې د محمود او مسعود په وخت کې د خراسان مستوفي و، يو وخت مسعود ته د خراسان څخه ، چې مشهور او مهم ښارونه يې هرات اونيشاپور و پنځه سوه باره تحفې راوړې. په دې کې ظريف چيني لوښي، قالينې، راز راز زرين او پشمي لباسونه، مرواريد، مشک او عنبر ، غلام او کنيز شامل وه. دا تحفې دومره قيمتي وې، چې امير او درباريان ټول ورته حيران سول او مسعود بې اختياره ږغ کړل، چې څه عجب چاکر دى دا سوري، که موږ دوه درې دغه راز نور چاکران درلودلاى نو عجيبه مزه به يې کړې واى. په حاضرينو کې هيڅ چا د دې خبرې د کولو جرات نه درلود، چې ته ورسه د خراسان له خلکو څخه پوښتنه وکړه، چې د هغوې غريبانو به څه حال وي او دا دومره مال به په څه زور او ظلم ورڅخه اخيستل سوى وي.(۸)


غزنوي سلطانانو د ابلو ايالتونو څخه د ملکي مامورينو او د ياغي ايالتونو څخه د نظاميانو په واسطه ماليات اخيستل. نظاميانو د مالياتو د ټولولو په وخت کې هر راز ظلمونه کول او په هيڅ شي يې صرفه نه کوله. کله کله چې به سلطان د خپلو دښمنانو چورولو ته زړه سو نو هغوې ته به يې يوه پلمه جوړه کړه او پوځيان به يې ورپسې ولېږل. مسعود په کال ۱۰۳۵ ميلادي کې د ګرګان خلک په دغه طريقه ولوټل او بيا يې نو څلور کاله وروسته هرات او د هغه شاوخوا سيمو، بادغيس او ګنج رستاق ته په دې دليل نظاميان واستول چې ګواکې د هرات حکمران د مسعود په مقابل کې د ترکمنانو سره همکاري کړې ده.

اسفرايني لس کاله د سلطان محمود وزير و او چې د خلکو څخه يې د مالياتو د ټولولو د پاره څه ظلمونه کولاى سول، هغه يې وکړل او د بدبختو خلکو څخه يې بې اندازې زياتې پيسې او مالونه په زور ظلم واخيستل او د سلطان خزانو او جيبونو ته يې ورسول. مګر د سلطان حرص د سړېدلو نه و او کله چې د هرات له خلکو سره نور هيڅ پاته نه سول او اسفرايني د هغوې څخه نورې پيسې په زور نه سواى اخيستلاى او خپل باقيات يې د خپلو شخصي پېسو څخه نه پوره کول، نو سلطان خپل دغه وزير ونيوى او په شکنجو کې يې وواژه. (۹)

سلطان د غزني خزانه، چې د پراخې امپراطورۍ د اوسيدونکو د وينو او خولو په بيه ډکېدله، د خپل ځان شخصي مال باله او چې چا به د



سلطان محمود غزنوي



په غزني ښار کي د سلطان محمود غزنوي مقبره

سلطان زړه خوشاله کړ هغه ته به دونه انعام ورکول کېدی، چې د حاضرينو او غايبينو له تصور نه به لوړ و. مانک علي ميمون يو سړی و، چې سلطان محمود ته به يې ډېر ښه اجار جوړول. کله چې محمود وفات سو او مسعود پر تخت کښېناست ، نو بيا هم دغه سړي مسعود ته اجار راوړل او د مسعود د هغه اجار ډېر خوښ سول. مسعود امر وکړ، چې زما د پلار خاص پسونه، چې موږ هر وخت د هرات څخه راوړل، هغه دې دغه سړي ته ورکړل سي، چې ويې ساتي او ګټه ورڅخه واخلي. البته په شمېر کې دی مراعت ورسره وسي. يو کال وروسته هغه سړي له دغه درکه پنځوس زره ديناره (پنځه ميليونه درهمه) او شپاړس زره پسونه باقي سو. مسعود ته يې د اجارو د اقسامو د راوړلو سره يوځای د خپلو باقياتو په باره کې عريضه هم ولېږله. مسعود وخندل او ټولې پېسې او پسونه يې يو ځای وروبخښل. (۱۰)

سلطان محمود خپل د مالي وزير بو سعيد بو سهل ته، چې د ده د پلار محمود په زمانه کې هم د مالي وزير و، شپاړس ميليونه درهمه باقيات وبخښل. بو سعيد پخپله باور نه سو کولای، په سجده پرېووت او له خوشالۍ څخه يې په ساندو بنا وکړه. په داسې حال کې چې نور وزيران، واليان، مستوفيان او مامورين به د باقي کېدلو په صورت کې په شلاقو وهل کېدل، لاسونه او پښې به يې غوڅېدلې او په شکنجو کې به وژل کېدل. (۱۱)

# د سلطان محمود او سلطان مسعود د عيش او نوش محفلونه او اخلاقي انحرافات

غزنوي سلطانانو د هرات ، بست ، زمينداور، کابل او نيشاپور په شان ابادو ښارونو څخه ظالمانه ماليات ټولول، د هند خزانې يې لوټلې او لاسته راغلي پېسې او مالونه يې په عيش او نوش او اخلاقي انحرافاتو لګولې. ځينې مورخين په دې عقيده دي، چې سلطان محمود خپل وزير ابوالعباس فضل بن احمد الاسفرايني، چې د ده د پلار سبکتګين د زمانې څخه يې د دوی خدمت کړی و او لس کاله د ده د مالي وزير و، د يوه ښايسته پې مخي غلام پر سر وواژه. اسفرايني د ښايستو او پې مخو غلامانو ډېر سخت شوقي و او نورو ملکرو يې طبعا د ده لاره تعقيبوله. په دې لړ کې وزير اسفرايني ته يو وخت احوال ورسېدی، چې په ترکستان کې يو غلام،

چې د پرې په شان ښایسته دی، اوسیږي. وزیر سمدستي خپل یو معتمد هغې سیمې ته واستاوه، غلام یې رانیوی او د ښځو په جامو کې یې غزنې ته ورساوه. سلطان څه وخت وروسته له دې کیسې څخه خبر سو او د اسفرایني څخه یې د دغه پی مخي غلام په باره کې پوښتنه وکړه. وزیر منکر سو. یوه ورځ سلطان ناڅاپه د اسفرایني کور ته ورغی او هلته یې دغه پی مخی غلام، چې د مشتري د ستوري په شان ځلېدی، ولیدی او پر اسفرایني یې خوله راخلاصه کړه هغه یې په خیانت او غبن کولو تورن کړ او سمدستي یې زندان ته واستاوه او په شکنجو کې یې وواژه. (۱۲)

مسعود د خپل پلار سلطان محمود په وخت کې د هرات حاکم و. د پلار په پټه یې شراب څښل او په خپل قصر کې یې د ټولو له نظره پټ یو اتاق جوړ کړی و، چې دیوالونه او چت یې ټول د ښځو او نارینه و په لوڅو تصویرونو رنګین سوي و او ښځې او نارینه یې د جماع په مختلفو حالاتو کې ښودل. دلته به هغه شراب څښل او د ده غلامانو به د پټو لارو ده ته نارینه او ښځې مطربانې ور وستلې. سلطان محمود په دې کیسه خبر سو او خپل یو معتمد غلام ته یې وظیفه ورکړه، چې ښېله دې چې هیڅ څوک دې وربانډې خبر سي راساً به هرات ته ځی ، ایستلي توره به د مسعود باغ او قصر ته ننوزی او د هغه د دغې خونې په باره کې به بشپړ اطلاعات ترلاسه کوې او چې هر څوک یې مخې ته ودریږي سربه یې د سلطان په حکم په توره پرې کوې. البته مخکې له هغه چې د سلطان محمود دغه معتمد غلام هرات ته ورسیږي، مسعود ته خبر رسېدلی و او هغه سمدستي حکم وکړ، چې د ده د دغې مخصوصې خونې دیوالونه داسې ګچ کړئ، چې د هیڅ تصویر اثر پاته نه سي.

موظف غلام ته خونه وروښودله سوه او هغه سلطان محمود ته اطلاع ورکړه، چې د هغې خونې دیوالونه ټول سپین وه او د هیڅ تصویر نښه نه وربانډې لیده کېده. سلطان حاضرینو ته مخ واړاوه او ویل یې زما پر دغه زوی باندې ډېر زیات تهمت ویل کیږي. (۱۳)

خاتون ارسلان له ترکستان څخه هر کال محمود ته یو ښایسته غلام او یوه ښایسته مینځه رالېږله. یو کال یې د طغرل په نوم یو غلام ورته راواستاوه، چې په قد، رنګ ، ظرافت او لیاقت کې یې په دوو زرو غلامانو کې جوړه نه وه. سلطان هغه په خپلو خاصو اوو، اتو ساقیانو کې مقرر کړ. یوه ورځ محمود په باغ فیروزي کې شراب څښل او طغرل، چې سرې

جامې يې په ځان کې وې، د نورو پې مخو غلامانو سره يو ځای شراب وښل د محمود ورور امير يوسف پر دغه غلام دومره مين سو، چې سترګې يې بل خوا ته نه سوای ورځخه اړولای. هر ګړی به يې غلام ځانته باله او سر پر سر يې شراب چښل. محمود د سترګو تر کونجو ورته کتل او امير يوسف ته يې په قهر وويل، چې که دې په اينده کې زما غلامانو ته په بد نظر کتلي و سخته سزا به درکړم. دا ځل مې معاف کړې او غلام مې هم تاته وباخښه. (۱۴)

سلطان محمود ته قدر خان د نوشتکين په نوم يو ښايسته غلام وروباخښه. بيهقي وايې هغه دونه ښايسته و، چې چا په دنيا کې دونه ښايست نه و لېدلی. محمود هغه په خاصو غلامانو کې شامل کړ؛ ځکه چې هغه په دغه وخت کې هلک و او محمود غوښتل چې هغه تربيه سي او د ده د پاره به د اياز ځای ونيسي. کله چې محمود وفات سو د هغه زوی محمد هغه ته ساقي ګري ورکړه. له محمد ځخه وروسته مسعود هغه خپل ساقي مقرر کړ. يوه ورځ د مسعود يوه لوی سپه سالار بو نعيم د مسعود سره شراب چښل او نوشتکين ته يې پټ پټ کتل. کله چې نوشتکين يو ځل هغه ته د شرابو جام وړاندې کړ، بو نعيم د هغه لاس کښې کېښ. نوشتکين ورته وويل: ته نه شرميږې چې د سلطان د غلامانو سره بې ادبي کوې؟ مسعود بو نعيم بندي کړ او هغه ټوله شمتني يې نوشتکين ته وبخښله. څه موده وروسته يې بو نعيم بېرته خوشې کړ او يوه ورځ يې د شرابو په مجلس کې په ټوکو ورته وويل چې بيا نوشتکين ته ګورې کنه. بو نعيم وويل هغه يو ځل کتل مې بس دي. او کله چې د نوشتکين پر سرو باړخوګانو د خط غبار راغی، نو مسعود هغه د لښکرو سالار مقرر کړ. (۱۵)

کله چې سړی د غزنويانو تاريخ ته ګوري، نو ويني چې هغوې بېله جنګونو، چې هغه يې هم صرف د حاکميت ترلاسه کولو او خزانو د چورولو په نيت کول، بل کار نه درلود، هغوې چې به جنګ نه کاوه نو بيا به يې شراب چښل او د نڅاوو ننداره به يې کوله او د شاعرانو قصيدو ته به يې ، چې د دوی د درباورنو د عظمت او د دوی د پې مخو ساقيانو په ستاينه کې به يې ويلې، غوږ نيولی و.

سلطان مسعود د عرفې په ورځ روژه نيولی وه او هيڅ چا د عيش او عشرت جرات نه کاوه. د اختر په ورځ يې ډېر زيات تکليف کړی و ، ځکه چې يو څه وخت يې شراب نه و چښلي. د لمانځه او قرباني ځخه وروسته

پر دستر خوان کښېناست، غټان او مامورين پر دستر خوان حاضر سول. شاعرانو شعرونه ويل، مطربانو ساز کاوه او سندرې يې ويلې شراب روان سول، شاعرانو او مطربانو ته يې پيسې ورکړې او بيا يې نو يوه هفته پر له پسې شراب وچښل او نديمانو او مطربانو ته يې پنځوس زره درهمه وبخښل او وې ويل چې خراسان ته به ځو او داسې شراب به چښو چې دښمنانو ته زموږ د مستۍ د زوره خوب ورنه سي. (١٦)

سلطان مسعود ته په بست کې خبر ورسېدی چې داود ترکمان د څلورو زرو سپرو سره د غور او سياه کوه د لارې غزني ته روان دی. مسعود سخت وارخطا سو او د هرات د مدافعې د پاره يې لښکر تعين کړ او پخپله يې د غزني نيت وکړ. وروسته معلومه سوه، چې دا خبره دروغ ده. سلطان ډېر سخت خوشاله سو او دښکار په نيت روان سو. ډېر ښکار يې وکړ سخت شراب يې وچښل او د هيلمند په رود کې يې کښتياني رواني کړې، ساقيان او غلامان ورسره سپاره وه، چې ناڅاپه د سلطان کښتۍ سورۍ سوه او نيژدې و، چې غرق سوي وای. د سلطان لښکرو هغه ته نجات ورکړ او په سبا يې امر وکړ، چې درې ميليونه درهمه صدقه ورکړې.

سلطان مسعود په شرابو کې دومره افراط کاوه، چې د ده په وخت کې د ده په ټول قلمرو کې د هغه سره چا سيالي نه سوای کولای. يوه ورځ امير مسعود باغ فيروزي ته ولاړ او هلته يې ډېره قيمتي مبلمستيا ترتيب کړې وه. په هغه ورځ د ده د زوی مودود او د مسعود د نيژدي کسانو او خادمانو غلامان د خپلو فاخروجامو سره د مسعود مخې ته تېر سول او مسعود ټولو ته انعامونه ورکړل. کله چې دوی ټول رخصت سول امير مسعود عبدالرزاق ته مخ واړاوه وې ويل، خرنګه چې يو څو پيلپا شراب وچښو. هغه ورته وويل چې داسې د خوښۍ ورځ به بيا کله راځي چې نن يې نه چښو نو کله. ډېر زيات شراب يې راوړل، په ميدان کې يې صراحې ګانې او خمونه کېښودل؛ شراب پيل سول او مطربانو نغمې سرې کړې، بوالحسن پينځه نيم منې جامونه وچښل. پرشپرم نشه سو او پر اوم باندې يې عقل زايل سو او پر اتم باندې نوکرانو تر اوږو نيولی له ميدان وايست. بوالعلا طبيب پر پينځم باندې له حاله ووت. خليل داود لس جامه وچښل. بو نعيم دوولس جامه وچښل او وتښتېدی د او د ميمندي، مطربان او د دربار مسخره ټول نشه سول او وتښتېدل. خواجه عبدالرزاق اته لس جامونه تش کړل او نور يې امير ته مخ واړاوه، ويل يې که بل وچښم بې ادبي

راځخه کيږي. امير وخندل او رخصت يې کړ. پخپله امير اوه ويشت نيم منې جامونه وڅښل، وروسته يې اودس تازه کړ، لمونځ يې وکړ او داسې ښکاريدی چې تا به ويل يو جام يې نه دی څښلی. امير وروسته پر فيل کښيناست او خپل قصر ته ولاړ. زه چې ابو الفضل يم دا ټوله ماجرا زما مخې ته تيره سوې ده. (۱۷)

غزنويان د افغانستان اصلي اوسيدونکي نه وه، بلکې د دي سلسلې موسسين البتگين او د هغه زوم سبکتگين پخپله ترکي غلامان وه او اولادونو يې څه باندې دوی پيړۍ د ترکي، هندي، ايراني ، تاجيکي او کردي غلامانو او دغه راز د محل د داوطلبو او ايله جارې عسکرو په زور، چې د هند د خزانو د چورولو او د پراخې امپراطورۍ د خلکو د لوټلو څخه په لاس ته راغلو پيسو يې استخداماول، ځانونه پر قدرت ساتلی او دوی پيړۍ يې ببله عيش او نوش څخه بل هيڅ کار نه دی کړی، د دوی د امپراتورۍ په اوږده دوره کې فارسي شعر او ادب ځکه زيات انکشاف وکړ، چې شاعرانو به د دوی د فتوحاتو ، درباړونو، ښايستو ساقيانو او عيش او نوش د محفلونو د ستايلو د پاره قصيدې ويلې او دوی به د سرو او سپينو زرو باران ورباندې جوړ کړ.

سلطان مسعود په يوه شپه د علوي زينبي په نوم يوه شاعر ته، چې ده ته يې ډيرې ښايستي قصيدې ويلې، يو ميليون درهمه وبخښل او پيسې يې د پيل پر شا د هغه کور ته يوړې. زردیناره، پينځه سوه ديناره او لس زره درهمه خو به يې هر وخت شاعرانو ته بخښل او نوکرانو، نديمانو او کاتبانو، چې به يې هر وخت کوم ښه کار وکړ او ده ته به ښه وايسيدې، پيسې به يې ترلاسه کولې. (۱۸)

د غزني او د افغانستان د باقي پاته خاورې سره د سلطان مسعود بيگانگي هغه وخت ښه ثابته سوه، چې د شمال په جبهه کې يې د سلجوقيانو او ترکمنانو سره په جنگونو کې څو پر له پسې ماتې وخوړې او په تيره بيا هغه وخت چې د دندانقان په جبهه کې يې سخته ماته وکړه، نو د خپلو ټولو جنرالانو او افسرانو پر مشورو يې، چې ده ته يې د زړه داډ ورکاوه او په غزني کې يې د پاته کيدلو توصيه ورته کوله، غوږ ونه نيوی او د وارخطايي څخه يې د هند پر لور حرکت وکړ. د سلطان څخه په دي وخت کې په اصطلاح دونه پټاکې ورکې وې، چې خپل زوی مودود ته يې، چې دا وخت يې د بلخ جبهې ته ليږلی و، انتظار نه سو ايستلای. خپله

خزانه او قیمتي مالونه یې پر زرهاو اوښانو، آسونواو پیلانو بار کړل او د یوه بېګانه جنرال په څېر یې د غزني سره، چې ده او پلار یې څه باندې نیمه پېړۍ عیش او عشرت په کې کړی و، خدای په اماني وکړه. په لاره کې یې غلامانو د حسن ابدال په سیمه کې کودتا ورته وکړه، دې یې بندي کړ او د ده ورور محمد یې، چې ده پخپله د مندیش د بندیخاني څخه را ایستلی او ورسره ملګری کړی و، پاچا کړ. د محمد زوی احمد هغه یوه میاشت وروسته وواژه او په دې توګه محمودي او مسعودي دوران پای ته ورسېدی. د مسعود زوی مودود چې دا وخت په بلخ کې و، د خپل پلار د غچ اخیستلو او غزني د نیولو د پاره را روان سو. خپل اکا او د هغه زامن یې په ننګرهار کې د یوه سخت جنګ څخه وروسته ونیول او د هغوې د طرفدارانو سره یو ځای یې ووژل.

د مسعود د سقوط څخه وروسته، په هرات کې د غزنوي سلطنت نفوذ او سلطه کمه، او بالاخره له منځه ولاړه. هرات څه باندي یوه پېړۍ د سلجوقیانو، خوارزمشاهانو او محلي حکمرانانو او سپه سالارانو ترمنځ لاس پر لاس کېدی. ترڅو چې بالاخره په کال ۵۴۵ هـ ق کې علاؤالدین حسین بن حسین غوري، تګین آباد ته نیژدې د غزنویانو سلطان د دریم مسعود زوی بهرامشاه ته ماته ورکړه او په دې توګه په غزني کې د غزنویانو اقتدار پای ته ورسېدی.

# هرات د لومړیو کلونو څخه تر غوریانو پورې

۱. د افغانستان پخوانی تاریخ ص ۴۵۲
۲. اصطخری ص ۲۲۸
۳. هغه کتاب ص ۲۳۰
۴. Bosworth p 28
۵. طبقات ناصری جلد اول ص ۲۲۸
٦. Bosworth p 78
۷. قابوسنامه ص ۲۳۳
۸. بیهقی ص ۵۰۰
۹. Bosworth p 71
۱۰. بیهقی ص ۱۴۰-۱۴۲
۱۱. هغه کتاب ۱۴۳
۱۲. حبیب السیر جلد دوم ص ۳۸٦
۱۳. بیهقی ص ۱۳۰
۱۴. هغه کتاب ص ۲۹۹
۱۵. هغه کتاب ص ۲۹۸
۱٦. هغه کتاب ص ٦۷٦
۱۷. هغه کتاب ص ۸۰۰
۱۸. هغه کتاب ص ۱۴۴

# غوریان

## غوریــان څوک وو:

غوریـان د غزنویـانو پـه خـلاف، چـې د ترکـي غلامـانو دنسله وه او لــه بـهر څخـه افغانسـتان تـه راغلـې وه، د افغانسـتان اصلـي اوســېدونکې وه. د طبقـات ناصري لیکــوال قـاضي منهاج سـراج ، چـې د غـور د سلاطینو پـه کورنـۍ کـې لوی سوې او لـه هغـوې سـره لـه نیژدې پـېژنـي او د هغـوې د قـدرت او سـلطې عصر تـه پـه ډېرو نـېژدې کلونـو کـې یـې ژونـد کـړی دی. غوریــان د ضحــاک اولاده بـولي او وایـي، چـې د هغـو نیکونـه د فریـدون لــه حملـو څخــه فـرار سوي، د غــور پـه غرونـو کـې مېشـته سـوي او پـېړۍ پـېړۍ یـې دلتـه ژوند کـړی دی. (۱)

البته پــه دي بـاره کـې د قـاضي منـهاج سـراج خـبرې افسـانوي رنـګ لـري، خو د غوریانو په بـاره کـې چـې هـر څه لیکنـي سـوي دي، پـه ټولـو کـې دا یـوه خـبره مشترکه ده، چـې غوریـان د دغـې سیمې اصلـي اوسـېدونکي دي او کــه له بلــه ځایـه ورتـه راکـوچـېدلي دي نـو دونـه پخـوا راغلـي دي، چـې پـه هیڅ تـاریخي اثـر کـې یـې ذکـر نـه دی راغلــي او پـه دې بـاره کــې مورخینــو او څېړونکـو یـوازې د نظـر پـه ورکولـو او ګومـان اکتفـا کـړې ده. زیـاتره پخوانــي مورخـین او جغرافیـه لیکونکـي د غوریـانو د خصوصیـاتو پـه بــاره کــې مشــترک نظر لري او وایي، چــې ډېـر سـخت جنګي او قـوي خلـک دي، پـه جګو غرونـو او قلاګانـو کـې اوسېږي او زیـاتره مسـلمانان دي. (۲)

غوریـانو د غزنـوي سـلطانانو سـره ډېـره زړه دښمنـي درلـوده او پـه تـېره بیـا د سـلطان محمـود او سـلطان مسـعود پـه وختونـو کـې یـې ډېرې سـختې جګړې سـره کـړي او ډېرې زیــاتې وینــي یــې ســره بــهولې وې. لومــړی ځل ســلطان محمود غزنـوي پـه کـال څلـور سـوه پېنځه هجـري قمري کـې لـه بسـت څخـه پرخوابـین بـاندې، چـې د غوریـانو یـوه ناحیـه ده او د بسـت او زمینــداور ســره نېژدې پرتــه ده، حملـه وکـړه. پـه دې سیمه کـې د بیـهقي پـه قـول کـافران ډېر پلیـد او ډېر قـوي وه او سـختې قلاګانـې یـې درلـودې. مسعود پـه دغــه جنــګ کـې ډېره مړانـه وکـړه او کلـه چـې د جنګ څخـه فـارغ سـو ، نـو خپـل پــلار

خیمې ته وباله او وې نازاوه. البته سلطان محمود د غور په فتح کولو بریالی نه سو او په کال څلور سوه لس کې چې سلطان مسعود د هرات والي و، له هغه ځایه څخه یې پر غور باندې د حملې نیت وکړ، له هرات څخه یې د ډېر لوی لښکر او پنځو سو پیلانو سره د غور پر لور حرکت وکړ. غوریان خپلو قلاګانو ته ولاړل، خو د غوریانو یولوی مشر ابولحسن خلف د دریو زرو لښکرو سره سلطان مسعود ته تسلیم سو. امیر هغه ونازاوه او له هغه نه وروسته د غوریانو یو بل مشر شیروان، چې د غور او ګوزګانان (جوزجان) پر سرحد باندې اوسېدی، د امیر مسعود حضور ته ورغی. سلطان مسعود د غوریانو پریوه ټینګه قلا باندې حمله وکړه او غوریانو ته یې سخت تلفات واړول .(۳)

ابو الفضل په تاریخ بیهقي کې په دغه جنګ کې څو څو ځله غوریانو ته د ملعونانو خطاب کوي او وایي ، چې د هغوې څخه یې په دغه جنګ کې ډېر زیات غنیمت او غلامان ترلاسه کړل .(۴) بیهقي ښایي ځکه دا خبره کوي او هغوې ته د ملعونانو خطاب کوي، چې هغوې د اسلام د یوه پاچا سره جنګېدل او په اصطلاح باغیان بلل کېدل او یا ښایي سلطان محمود او سلطان مسعود د غوریانو د هغو خلکو سره زیاتره جنګونه کړي وي، چې تر دغه وخته پورې لا مسلمانان سوي نه وه او د دې خبرې یو دلیل دا دی، چې حمدالله مستوفي هغوې ته د کافرانو خطاب کوي او وایي، چې د غوریانو مشر سوري نومېدی؛ هغه او د هغه زوی په دغه جنګ کې ګرفتار سول، خو سوري غزني ته په لاره کې زهر وخوړل او جهنم ته ولاړ .(۵) بیهقي لیکي؛ چې سلطان له دغې قلا څخه د غوریانو د جروس سیمې ته ، چې پخوا د هغوې د پاچاهۍ مرکز و او د هغوې مشر ورمېش بت په کې ناست و حرکت وکړ. ورمېش بت سلطان مسعود ته پېغام واستاوه، چې هر کله چې هغه هرات ته ورسېږي دی به هم هلته خدمت ته حاضر سي. مګر سلطان مسعود د هغه پر مرکز باندې د حملې امر ورکړ. دا په غور کې یو مستحکم ځای و او خلک یې هم له نورو غوریانو نه قوي او جنګي وه او د هر والي چې دغه سیمه په لاس کې وه نو ټولو غوریانو یې اطاعت کاوه. سلطان مسعود د دغو غوریانو سره مذاکرات پیل کړل او د غوره دوه تنه مشران ابولحسن خلف او شېروان، یې د خپل استازي سره د ترجمانانو په حیث واستول. (٦)

# د غزني د امپراتورۍ سقوط او د غوريانو عروج

له دې حوادثو څخه څه کم يوه نيمه پېړۍ وروسته د غزني امپراتوري د داخلي اداري فساد او خارجي يرغلونو په اثر ډېره سخته کمزورې سوه. په بلخ، هرات او د غور په سرحداتو کې پر له پسې شورشونه کېدل او د شاوخوا سيمو لويو او کوچنيو محلي حکمرانانو د آمو د سيند پر غاړه باندې د غزانو له قبايلو څخه اجير عسکر استخدامول او د يوه بل په ضد يې جنګول. (۷)

د غور سلطان سيف الدين سوري دغه اوضاع په دقت سره څارله او د سلجوقي دولت او غزنوي امپراتوري کمزوري يې ليدله او بالاخره يې پر غزني باندې د لښکرکښۍ فيصله وکړه. د غزني سلطان بهرامشاه د هغه په مقابل کې مقاومت ونه سوکړای او د هند پر لور وتښتېدی. سيف الدين سوري په بشپړ اطمينان په غزني کې پاچاهي ته دوام ورکړ، خو د ژمي په موسم کې چې له غور څخه د قواو راغوښتل ډېر ګران، حتی غير ممکن کار و، بهرام شاه بېرته پر غزني باندې حمله وکړه. سيف الدين سوري يې ګرفتار کړ، ويې واژه او د هغه سر يې سلطان سنجر سلجوقي ته ، چې هغه هم د سيف الدين دښمن و ، واستاوه. (۸)

بهاالدين سام غوري، چې د سيف الدين پر ځای په غور کې پر قدرت ناست و، د سيف الدين سوري د انتقام اخيستلو په منظور د غزني پر لور لښکرکښي وکړه، مګر په لاره کې وفات سو.

# علاؤ الدين جهانسوز

بالاخره علاؤ الدين حسين بن حسين غوري په کال ۱۱۴۸ ميلادي کې پر غزني باندې د حملې کولو او د سيف الدين سوري د انتقام اخيستلو فيصله وکړه. د بهرام شاه او د هغه لښکري په زمينداور کې سره مخامخ سوې. د بهرامشاه لښکرو له يوه سخت جنګ څخه وروسته ماته وکړه. (۹)

بهرامشاه بل ځل د تکیناباد سره نیژدې په ګرماب کې بیا مقاومت وکړ. مګر د سلطان علاو الدین سوري د لښکرو څخه یې ماته وخوړه او هغه د غزنې تر ښار پورې تعقیب کړ. بهرامشاه دریم ځل په غزني کې هم ماته وخوړه او سلطان علاوالدین د غزني ښار د تورې په زور فتح کړ. (۱۰) علاوالدین غوري غزني فتح کړ او دغه ښار یې اوه شپې او ورځې وسوځاوه. له دغې نېټې څخه وروسته په تاریخ کې هغه د جهانسوز لقب وګاڼه. په ښار کې د لوګي د لاسه ورځ لکه شپه داسې وه او د شپې به د اورونو د لمبو د لاسه شپه لکه ورځ داسې وه. علاوالدین غوري د غزني ښار اوه ورځې قتل عام کړ، چې څه نارینه یې لاسته ورتلل هغه یې وژل او چې څه ښځې او ماشومان یې لاسته ورتلل هغه یې بندیانول. بالاخره علاوالدین غوري امر وکړ، چې پرته له سلطان محمود، سلطان مسعود او سلطان ابراهیم څخه د ټولو غزنوي سلطانانو مړي راوباسئ او ویې سوځوئ. (۱۱) په داسې حال کې، چې د غزني د ښایستو قصرونو څخه لمبې پورته کېدلې، د ځوانانو سرونه رغړېدل او د بې دفاع ښځو او ماشومانو چیغې اسمانونو اورېدلې. علاوالدین یوه هفته پرله پسې د دې لمبو او چیغو سیلونه وکړل. یوه هفته پرله پسې یې شراب وڅښل او په اتمه ورځ یې یو شعر ولیکی او مطربانو ته یې امر وکړ، چې د ده په مخکې یې د چنګ او چغانې سره ورته ووایې:

جهان داند که سلطان جهانم
چراغ دوده عباسیانم
علاوالدین حسین بن حسینم
که باقی باد ملک جاودانم
چو برګلګونه دولت نشینم
یکی باشد زمین و اسمانم
بران بودم که او با شان غزنین
چو رود نیل جوی خون برانم
ولیکن ګنده پیرانند و طفلان
شفاعت میکند بخت جوانم
ببخشیدم بدیشان جان ایشان
که بادا جان شان پیوند جانم

علاوالدين غوري د غزني يو زيات شمېر سيدان او شيخان له ځان سره ژوندي بوتلل، په غور کې يې هغوئ ټول قتل کړل، د هغوئ له سرونو يې په خپل پايتخت فيروز کوه کې کله منارونه جوړ کړل، په وينو يې ختې خيشتې کړې او له ختو يې يو څو منارونه ودرول. سلطان علاوالدين غوري دغه راز د بست ښار چې د غزنوي امپراتورۍ په دوران کې د خپل ښايست عظمت ته رسېدلی و، هم داسې خراب کړ چې بيا د تل د پاره نه غزني او نه بست د سيمې د لويو ښارونو په کتار کې ذکر سول. (۱۲)

د غزني د امپراطورۍ د کمزورۍ کېدلو سره سم د غور سلطانان او پاچاهان ټول د سلجوقيانو او په تېره بيا په وروسته کې په بشپړه توګه د سلطان سنجر سلجوقي تر لاس لاندې سوي وه. د همدغه سلطان په زمانه کې علاوالدين حسين بن حسين غوري د سلطان له اطاعت څخه سر کښي وکړه او د هرات د غرونو په حدودو کې يې ،چې سکوشه ناب نوميږي ، د سلطان سنجر سره جګړه وکړه. د غور لښکرو ډېره سخته ماته وکړه. سلطان علاوالدين ګرفتار سو ، څو ورځې وروسته بېرته خوشې سو او د سلطان سنجر مجلسي سو. کله چې سلطان سنجر ته غزان ياغي سول او هغه د غزانو په جنګ د وتلو نيت وکړ په دغو ورځو کې يوه ورځ علاوالدين د سلطان سنجر په مجلس کې شراب څښل. سنجر په تخت ناست و، پښه يې لاندې ځړولې وه، علاوالدين سلطان ته يو شعر وواية او په هغه شعر کې يې د سلطان د پښې خال وستايه او د هغه د مچولو غوښتنه يې وکړه. سلطان اجازه ورکړه او کله چې علاوالدين د هغه د پښې خال مچاوه، سلطان يې پر وېښتانو پښه کېښودله او چې علاوالدين سرپورته کړو يو څه وېښتان يې وختل او پر مځکه پاته سول. په مجلس کې ناستو کسانو وخندل. علاوالدين خړ سو، رنګ يې تغيير وکړ او چې سلطان يې رنګ ته وکتل نو په لوړ اواز يې وويل: علاوالدينه دې ټوکې خړ کړې، نو په بدل کې دې د غور پاچاهي بېرته مبارک سه. خپل تخت او پاچاهي ته دې ولاړ سه، ته زما ورور يې نن سبا مو ر ته د غزانو د بغاوت مشکل را پېښ دی، زما ټولې شخصي رمې ، آسونه او اوښان درسره بوزه، که فتح زموږ په نصيب سوه او غزان مو دفع کړل، نو دا رمې او ګلې بېرته راواستوه او که چېرې موږ ماته وکړه نو تر دې چې نمک حرامان يې وړي ستا سره دې پاته وي. سلطان علاوالدين بېرته غور ته ولاړ او د سنجر له کرمه بيرته قدرت ته ورسېدی.

(۱۳)

کله چې سلطان علاوالدین غوري د سلطان سنجر له نظر بندۍ څخه خلاص سو دخزانو او مالونو سره بېرته غور ته ورسېدی او لومړی ځل یې خپل د کاکا زوی ، ملک ناصرالدین حسین بن محمد مادیني، چې د غور مشرانو د علاوالدین په غیاب کې د هغه پر تخت کښېنولی و ، له منځه یووړ او بیا یې نو بامیان، تخارستان، ګرمسیر، زمینداور، بست او هرات یو په بل پسې ونیول او شپږ کاله وروسته په غور کې وفات سو.

## غور له جهانسوز څخه وروسته

د سلطان علاوالدین له مرګ څخه وروسته د هغه زوی سلطان سیف الدین محمد په کال ۵۵۱ هـ ق کې د غور پر تخت کښېناست. داسې ښکاري چې علاوالدین جهانسوز د خپل ټول استبداد سره سره د خپلو مذهبي مخالفینو سره ډېر نرم سلوک کاوه او په خپل قلمرو کې یې قرمطیانو ته د اوسېدلو او تبلیغ اجازه ورکړې وه. مګر کله چې د هغه زوی سلطان سیف الدین محمد قدرت ته ورسېدی، د هغه لومړی کار دا و چې ټول هغه خلک یې چې د ده پلار ظلم ورباندې کړې و خپل حضور ته وبلل او چې څه یې د وسه کېدل هغومره ښه یې ورسره وکړه او ټول یې له ځان څخه خوشاله کړل. دوهم کار یې دا و، چې د ملاحده یا قرمطیانو ټول استازي یې وروبلل او ټول یې له تېغه تېر کړل. بیا یې نو امر وکړ، چې د ده تر قدرت او سلطې لاندې په ټولو ځایونو کې ملحدین له منځه یوسئ او په دې توګه یې د غور قلمرو له ملحدینو څخه پاک کړ. (۱۴)

سلطان سیف الدین محمد خپل دوه د کاکا زامن غیاث الدین محمد سام او معزالدین محمد سام د وجیرستان له قلا څخه، چې د ده پلار په کې بندیان کړي وه راوایستل او ازاد یې کړل. البته د ده سلطنت صرف یو کال دوام وکړ. سلطان د غزانو سره د جنګ په میدان کې خپل یوه سپه سالار ابوالعباس بن شیث، د خپل ورور درمېش بن شیث په بدل کې، چې سلطان پخپله وژلی و په نېزه وواهه له آسه یې لاندې راوغورځاوه او د غوریانو لښکر ماته وکړه. (۱۵)


## سلطان غیاث الدین غوري

د سلطان سیف الدین د وژل کېدلو په وخت کې غیاث الدین غوري د هغه سره د جنګ په میدان کې حاضر و او ورور یې شهاب الدین، چې بیا


وروسته معزالدين محمد سام سو، د خپل اکا فخرالدين مسعود سره، چې د باميان حاکم و اوسېدی. غياث الدين غوري د خپل کاکا زوی د وژل کېدلو سره سمدستي د غور پايتخت فيروز کوه ته ولاړ او هلته يې پاچاهي اعلان کړه ابوالعباس شيث، چې د جنګ په ميدان کې يې د غوريانو پاچا وژلی و، سمدستي سلطان غياث الدين ته تسليم سو او د ده سره يو ځای اکثرو هغو جنرالانو، چې په دغه وخت کې په فيروز کوه کې حاضر وه له نوي سلطان سره بيعت وکړ. د باميان حاکم فخر الدين مسعود غوښتل چې معزالدين محمد سام د خپل ورور غياث الدين په مقابل کې ولمسوي او هغه ته يې وويل چې بايد د فيروز کوه تخت له خپل ورور څخه واخلي، ځکه چې ته په هيڅ توګه له هغه څخه کم نه يې چې د هغه تر لاس لاندې ژوند وکړې. معزالدين فيروز کوه ته حرکت وکړ، خو د دې پر ځای چې د خپل کاکا پر لمسونکو خبرو غوږ ونيسي، د خپل ورور سره يو ځای سو. لږ وخت وروسته يې خپل رقيب ابوالعباس شيث، چې هم يې د دوی د کاکا زوی وژلی او هم يې دوی دواړو ته په دربار کې توطيې جوړولې، په دربار کې د يوه حرفه يې قاتل په لاس وواژه او فيروز کوه يې له مخالفينو څخه تصفيه کړه. (١٦)

د سلطان غياث الدين او معزالدين اکا فخرالدين مسعود په دغه وخت کې د بلخ د حاکم علاوالدين قماج او په هرات کې د سلجوقيانو د حاکم تاج الدين يلدوز سره لاس يو کړ او پر فيروز کوه يې له هرې خوا يرغل وکړ. د جنګ په ميدان کې روزل سويو ورونو غياث الدين او معزالدين، د دريو قواو سره په يوه ځل جنګ پيل کړ. معز الدين د هرات لښکرو ته د راغ زر په سيمه کې په يوه ناڅاپي حمله کې ماته ورکړه او تاج الدين يلدوز د جنګ په ميدان کې ووژل سو. معزالدين سمدستي د خپلولښکرو مخ د غرجستان خوا ته واړاوه او هلته يې د علاوالدين قماج لښکرو ته ماته ورکړه. علاوالدين قماج يې وواژه او سر يې خپل اکا فخر الدين مسعود ته واستاوه. سلطان غياث الدين د دوهم بري څخه وروسته يوه لحظه وخت ضايع نه کړ او د خپل اکا لښکر يې محاصره کړ. خو سلطان غياث الدين خپل اکا ته هيڅ ونه ويل او په ډېر احترام يې باميان ته واستاوه او د هغه ځای حکومت يې ورو سپاره. (١٧)

د هرات د حاکم تاج الدين يلدوز د وژل کېدلو څخه وروسته د سلجوقي سلطان سنجر يوه بل غلام بهاءالدين طغرل د هرات حکومت په



په غور کي د جام منار، د غوري شاهانو
له پاتي سويو اثارو څخه



د هرات جامع مسجد چي سلطان غياث الدين غوري ودان کړی دی

لاس کې واخیست. طغرل دونه ظالم سړی و چې د هرات خلکو ډېر ژر سلطان غیاث الدین غوري ته بلنه ورکړه او هغه هم د خلکو د غوښتنې سره سم د هرات پر لور لښکرې وررهي کړې. طغرل د سلطان د قوې او مجهزو لښکرو سره د جنګ تیاری نه درلود او بېله جنګه وتښتېدی. په دې توګه په کال ۱۱٦۹ م کې هرات بېله وینو توېدلو تسلم سو او په کال ۱۱۷۱ کې فوشنج هم د غور سره یو ځای سو. سلطان غیاث الدین وروسته د مرو پر لور حرکت وکړ. هغه سیمه یې ونیوله او حکومت یې نصیر الدین خرنګ ته وسپاره وروسته یې د خراسان واړه او لوی ښارونه یو په بل پسې لاندې کړل او نیشاپور یې هم د غور د سلطنت د مرکز فیروز کوه سره وتاړه. د سلطان غیاث الدین او خوارزمشاهیانو ترمنځ خو ځله وړې او لویې جګړې وسوې ، خو د سلطان غیاث الدین پوځي او سیاسي قدرت ته یې کوم خطر متوجه نه کړ. سلطان غیاث الدین له څه باندې ۴۳ کاله سلطنت څخه وروسته په ۱۲۰۲ میلادي کې په هرات کې وفات سو او د هرات په مسجد جامع کې، چې پخپله ده جوړ کړې وه خاورو ته وسپارل سو .(۱۸)

سلطان غیاث الدین د خپل وخت او زمان په مقایسه، عادل، زړه سواندی، علم دوست او مدنیت پرور سلطان و. دربار یې د علماوو او فضلاو څخه ډک و او د هر مذهب پیشوایانو او مشرانو په ازاده توګه په غور کې ژوند او تبلیغ کاوه. (۱۹) داسې ښکاري چې سلطان غیاث الدین او د هغه ورور، معزالدین محمد سام د اسلام په دین کې دننه له مذهبي تعصب څخه ډېر لیري وه. دوی دواړه په لومړي سر کې د خپلو نیکونو په څېر پر کرامي مذهب وه. سلطان غیاث الدین د یوه خوب د لیدلو څخه وروسته شافعي مذهب قبول کړ او ورور یې سلطان معزالدین د غزني پرحکومت باندې د کښېنستلو څخه وروسته د هغه ځای د خلکو حنفي مذهب قبول کړ او تر مرګه پورې پر دغه مذهب باندې پاته سو. (۲۰) سلطان غیاث الدین د سیمې د قدرت غوښتنې د عنعنې په خلاف د خپلې لویې کورنۍ غړي ونه وژل، بلکې هر یوه ته یې ولایتونه او حکومتونه وسپارل. خپل اکا فخرالدین مسعود یې سره له هغه چې د ده په مقابل کې یې دسیسې وکړې او د ده پر ضد یې د بېګانه ګانو سره لاس یو کړ له قطعې ماتې څخه وروسته ونه واژه، بلکې بېرته یې د بامیان حکومت ورکړ. د ده خپل ورور معزالدین ورڅخه خوابدی سو؛ یو کال یې د ملک شمس الدین سیستاني په دربار کې تېر کړ، مګر یو کال وروسته یې بېرته پخلا کړ، دربار ته یې

راووست او داستیه او کجوران حکومت یې وروسپاره. کله چې یې څه موده وروسته غزنې د غزانو د اشغالګرو قواو څخه پاک کړ، نو د هغه ځای حکومت او د هند د ټولو فتوحاتو او غنایمو واک یې هغه ته ورکړ. البته معزالدین محمد سام هم تر خپل مشر ورور په ځوانمردي او وفاداري کې کم نه و. تر مرګه د خپل ورور او د هغه د کورنۍ صادق ملګری و او د خپل ورور له مرګه وروسته یې د هرات او فیروز کوه حکومتونه، چې د غوري خاندان د قدرت او سلطې ښکارندوی و، پر خپلو وریرونو وویشل او پخپله د غزني او په هند کې د لاندې کړو سیمو په سمبالولو بوخت سو.

# سلطان معز الدین ( شهاب الدین) غوري

د سلطان معزالدین د مستقیم قدرت زمانه له ۱۱۷۳ میلادي څخه وروسته، هغه وخت پیل کیږي، چې سلطان غیاث الدین د غزني ښار له غزانو څخه لاندې کړ او هغوې یې د شمال پر لور تېښتېدلو ته مجبور کړل او غزني یې خپل ورور، معزالدین محمد سام ته د سلطان د لقب سره یو ځای ورتسلیم کړ او پخپله خپل پایتخت فیروز کوه ته ولاړ. (۲۰)

معزالدین محمد سام یو کال وروسته ګردېز ونیوی. په بل کال یې اوچ، بټې او ملتان لاندې کړل، په کال ۱۱۷۸ م کې یې د ملتان د لارې ګجرات ته حرکت وکړ، مګر د ګجرات د راجابیم ډیو د لښکرو په مقابل کې یې، چې ډېر زیات پیلان او سپاره لښکر یې درلودل، ماته وکړه. په ۱۱۷۹ م کال کې یې پېښور ونیوی. پر لاهور یې یوه بریالۍ حمله وکړه. د غزنویانو وروستی سلطان خسرو ملک، چې په لاهور کې یې حکومت کاوه د باج په ورکولو مجبور کړ او بالاخره یې په ۱۱۸٦ م کال کې د لاهور د بشپړې فتحې څخه وروسته، غزنوي سلطان خسرو ملک ګرفتار کړ. خپل ورور غیاث الدین ته یې ور واستاوه، هغه د غرجستان په قلا کې بندي کړ او هلته وفات سو په دې توګه د غزنویانو د کورنۍ وروستی او حتی تش په نوم سلطان له منځه ولاړ.

سلطان معزالدین د خپل قدرت تقریبا ټول کلونه د آس پر شا او د جنګ په میدانونو کې تېر کړل. په کال ۵۸۹ هجري قمر کې یې بالاخره

ډهلي ونيوه. دا ښار يې د پايتخت په حيث غوره کړ او له دغه تاريخ څخه ډهلي د سلطانانو پايتخت سو. (۲۱)

سلطان معزالدين د طوس او سرخس پر سرحد باندې د خپل ورور غياث الدين له مرګه څخه خبر سو. سمدستي يې د غوري سلطنت د پايتخت فيروز کوه پر لور حرکت وکړ. د خپل ورور سلطنت يې د هغه د زامنو او خپلوانو ترمنځ تقسيم کړ او پخپله غزني ته ولاړ.

سلطان معزالدين د فيروز کوه او غورتخت خپل د اکا زوی او د سلطان غياث الدين زوم ملک زين الدين ته ورکړ. بست، فراه او اسفزار يې د سلطان غياث الدين زوی سلطان غياث الدين محمود ته ورکړل، او د هرات او د هغه د شاوخوا سيمو کنټرول يې د سلطان غياث الدين د خور زوی نصيرالدين الپ غازي ته وسپارل. سلطان معزالدين خو د ده په فکر ډېر عدالت وکړ او د غوريانو پاچاهي يې د يوه مراث او جايداد په توګه د خپلو خپلوانو ترمنځ ووېشله، مګر د ده همدغه وېش د غوريانو قوي امپراتوري ټوټه ټوټه کړه او د دغه سلطنت د ابدي زوال مقدمه يې برابره کړه. البته سړی دا نه سي ويلای، چې که غوري سلطان شهاب الدين خپله امپراتوري وېشلې نه وای، نو هغې به د خوارزمشاه او په وروسته کې د مغولو د توپان په مقابل کې، چې پخپله خوارزمشاه يې د يوه خس په شکل ورسره واخيست، مقاومت کړی وای کنه خو که په باميان، غزني او هرات کې د مغولو د سېلاو په مقابل کې د خلکو او سپه سالارانو مقاومت ته يو نظر واچوو نو دونه ويلای سو، چې که د غوريانو يوه متحد سلطنت د چنګيزيانو د افت په مقابل کې مقاومت نه وای کړی نو لږ تر لږه د هغه توپان شدت او سرعت به يې کم کړی وای او چنګيز او چنګيزيان به مجبور سوي وای، چې که نور هيڅ نه وي نو، د خپلو تلفاتو د مخنيوي د پاره د غوريانو د يوه متحد قدرت سره مذاکرات وکړي او يو څه امتيازات ورسره ومني.


په هر صورت سر نوشت، چې هرڅه غوښتل هغسې وسوه. معزالدين پخپله د غزني پر لور حرکت وکړ او تقريبا يو کال په دغه ښار کې پاته سو او له هغه ځايه په هند کې د ښورښونو د کرارولو په نيت لاهور ته وخوځېد.

د ده په غياب کې سلطان محمد خوارزمشاه پر مرو باندې حمله وکړه او د ده له خوا مقرر سوی حاکم محمد خرنګ يې محاصره کړ کله چې محمد خرنګ محمد خوارزمشاه ته تسليم سو نو هغه د خپل قول او عهد په خلاف

وواژه. محمد خوارزمشاه په دغه وخت کې پر هرات باندې حمله وکړه: هرات یې اته میاشتې محاصره کړ. د هرات والي الپ غازي د دغه ښار څخه د دفاع د پاره کافي وسایل نه درلودل او بالاخره د محمد خوارزمشاه سره روغې جوړې او د باج منلو ته حاضر سو. خوارزمشاه تر دې فتحې وروسته د مرو خوا ته حرکت وکړ، البته الپ غازي د محمد خوارزمشاه له حرکت څخه څو ورځې وروسته ناروغ او وفات سو. (۲۲)

معز الدین غوري د سلطان خوارزمشاه له خوا د هرات د فتح کېدلو او په مرو کې د خپل زړه ور سپه سالار د وژل کېدلو د خبرونو د اورېدلو سره سم د لاهور څخه د غزني پر لور حرکت وکړ. د غزني څخه د لښکرو سره د مرو خوا ته روان سو. خوارزمشاه د مرو څخه خپل پایتخت ګورګنج ته ولاړ. معزالدین غوري ګورګنج محاصره کړ، مګر ډېر لږ وروسته خوارزمشاه ته امدادي پوځونه راورسېدل او د عسکرو شمېر یې اویا زرو ته ورسېدی. معزالدین غوري لا د سختې حملې د پاره سم تیاری نه و کړی، چې خوارزمشاه ته د قره ختایانو د سپه سالار طاینکو طراز او د سمر قند د سلطان پوځونه د مرستې د پاره راورسېدل. معز الدین غوري د دومره زیاتو پوځیانو سره د مقابلې توان او تیاری نه درلود او ځکه یې مناسبه ونه بلله. هغه خپلو قواو ته د عقب نشینۍ امر ورکړ، د خوارزمشاه لښکرو په دغه وخت کې ډېرې سختې حملې وربانديې وکړې او د غوریانو د پوځ بې اندازې مال او غنیمت یې تر لاسه کړ البته خوارزمشاه تر دغې حملې وروسته بېرته خپل مرکز ته ستون سو. مګر د قره ختاییانو سپه سالار او د سمر قند د سلطان پوځیانو پر غوریانو باندې حملو ته دوام ورکړ او په یوه ورځ یې د غور د لښکرو پنځوس زره تنه ورڅخه ووژل. (۲۳)

بالاخره معزالدین غوري په اندخوی کې د سلو تنو سره محاصره سو قره ختاییانو غوښتل، چې د قلا دیوال سوری کړي او سلطان یا ژوندی ونیسي او یا یې مړ کړي ، چې په دغه وخت کې د سمر قند سلطان د هغه مرستې ته راورسېدی د سمرقند سلطان معزالدین غوري ته پېغام واستاوه او ورته یې وویل، چې که خپله خزانه او ټول هست او نیست ماته تسلیم کړې نو د قره ختاییانو څخه به دې خلاص کړم سلطان معز الدین د سمر قند د سلطان د غوښتنې سره سم هرڅه پرېښودل او مخ پر غزني روان سو. (۲۴)



سلطان شهاب الدين غوري



سلطان غیاث الدین غوري

4702

# د معزالدين وروستی لښکر کښي

سلطان معزالدين غوري د غزني څخه د هند پر لوري حرکت وکړ، په ډهلي کې يې د خپل نايب السلطنه، قطب الدين ايبک، په مرسته د کوکهار د قبيلې ياغيانو ته ډېره سخته ماته ورکړه. د لاهور، ملتان او ډهلي خزانې او مالونه يې ورسره واخيستل او د قره ختاييانو څخه د انتقام اخيستلو په نيت روان سو. سلطان لا غزني ته نه و رسېدلی، چې په لاره کې د جهلم د رود پر غاړه باندې د اسماعيليه فرقې فداييانو او يا د کوکهار د قبيلې هندوانو په کال ۱۲۰٦ ميلادي کې د مارچ په مياشت کې پخپله خيمه کې وواژه.

سلطان شهاب الدين غوري د غوري خاندان وروستی قوي سلطان وُ. د هغه د وژل کېدلو سره د غور قدرت عملاً ختم سو او د هغوی د پراخې امپراتورۍ هره برخه جلا جلا يوه سپه سالار او يا د غوري خاندان يوه شهزاده واخيستله. البته دې وېش ډېر دوام ونه کړ او په ډېر لنډ وخت کې د دې امپراتورۍ اساس او بنسټ له بېخه وايستل سو. په دې سلسله کې د هرات والي عزالدين حسين خرميل د خپل ځان او قدرت د ساتلو په منظور علاءالدين خوارزمشاه ته تسليم سو. د خوارزمشاه څخه يې وغوښتل، چې هرات ته لښکرې واستوي او دې د مخالفينو په مقابل کې حمايه کړي. کله چې د خوارزمشاه لښکرې هرات ته ورسېدې، حسين خرميل يې مخې ته ورووت او ښار يې ورتسليم کړ. سلطان محمد خوارزمشاه د خپلو فتوحاتو په لړ کې يو کال وروسته د خراسان د فتح کولو په لاره کې هرات ته وخوځېدی او کله چې هرات ته ورسېدی نو د دغه ښار والي او پوځيانو

يې هركلى وكړ او هغه هم د ښار واكداري د پخوا په شان حسين خرميل ته وسپارله. خو پر هرات باندې يې د كال ۲۵۰ زره ديناره ماليه حواله كړه دا ماليه دونه درنه وه، چې هم يې د هرات خلك زيانمن كول او هم يې د عز الدين حسين خرميل قدرت ته صدمه ورسوله.

په دې وخت كې داسې اوازه خپره سوه، چې محمد خوارزمشاه د قره ختاييانو په جنګ كې وژل سوى دى. عزالدين حسين خرميل سمدستي د سلطان غياث الدين محمود غوري سره، چې د هرات سره نيژدې يې د بست، فراه او اسفزار سيمې په لاس كې وې، د خوارزمشاه د قلمرو د لاندې كولو د پاره خبري پيل كړې. خو كله چې خبر سو، چې خوارزمشاه ژوندى دى نو بېرته پښيمانه سو او خوارزمشاه ته يې پيغام واستاوه او د خپلې بشپړې وفادارۍ لوړه يې ورسره وكړه. غياث الدين محمود غوري د خرميل دې بد عهدۍ په قار كړ او پر هرات باندې يې لښكر كښي وكړه. خرميل د خوارزمشاه د واليانو څخه مرسته وغوښتله او د هغوې په مرسته يې غياث الدين محمود غوري ته ماته وركړه، مګر د خوارزمشاه مامورينو د هغه په اشاره ځو ورځې وروسته خرميل وواژه او هرات يې د خرميل ملګري سعدالدين ته وسپاره. خو سعدالدين ډېر ژر د هرات استقلال اعلان كړ او خوارزمشاه پخپله د هغه په جنګ راووت. البته د هرات ښار دونه قوي پوځ او وسايل نه درلودل، چې د علاءالدين خوارزمشاه په شان يوه قوي سلطان د پوځ د محاصرې طاقت دى راوړي خوارزمشاه ډېر ژر هرات فتح كړ او سعدالدين يې اعدام كړ. (۲۵)

هرات د ډېرې لنډې مودې د پاره د خوارزمشاه لاس ته ورغى، ځكه چې په دغه وخت كې د مغولستان په صحرا كې د چنګيز توپان پيل سوى و او په ډېر لنډ وخت كې يې د ماوراءالنهر په سيمه كې د خوارزمشاهانو د مغرور سلطان پايتخت او ښايسته ښارونه يو په بل پسې فتح او له خاورو سره برابر كړل. چنګيز سمدستي د خراسان پر لور لښكرې رهي كړې او لږه موده وروسته هرات هم د منځني اسيا د نورو ښارونو په څېر داسې خراب او قتل عام سو، چې له پېژندلو ووت خراسان، ماوراءالنهر او ايران ټول د مغولو لاسته ورغلل او د دې نويو واكمنانو سره د هنر، معماري، شعر، او شاعرۍ، تصوف او د ادب او فرهنګ هرې سيمې جلا جلا تغير وكړ او په هره سيمه كې يو نوى باب پرانيستل سو. هرات يو له هغو ښارونو څخه و،

چې ډېر ژر د مغولو له مستقیم تسلط څخه خلاص سو او د خپلو محلي واکمنانو کرتانو لاسته ورغی.

# غوریان

۱. طبقات ناصری جلد دوم ص ۱۷
۲. مسالک و ممالک
۳. بیهقی ۱۲۲-۱۲۳
۴. هغه کتاب ص ۱۲۳
۵. تاریخ گزیده ص ۳۹۳
۶. تاریخ بیهقی ص ۱۲۴
۷. هغه کتاب ص ۱۲۵
۸. تاریخ سیاسی و نظامی دودمان غوری ص ۴۷
۹. طبقات ناصری ص ۳۴۳
۱۰. هغه کتاب ص ۳۴۳
۱۱. هغه کتاب ص ۳۴۴
۱۲. هغه کتاب ص ۲۴۵
۱۳. هغه کتاب ص ۳۴۷-۳۴۸
۱۴. هغه کتاب ص ۳۵۱
۱۵. هغه کتاب ص ۳۵۱-۳۵۲
۱۶. هغه کتاب ص ۳۵۴-۳۵۵

١٧. هغه کتاب ص ٣٥٦-٣٥٧

١٨. هغه کتاب ص ٣٦١

١٩. هغه کتاب ص ٣٦١

٢٠. هغه کتاب ص ٣٦٢


٢١. تاریخ مبارکشاهی ص ٥

٢٢. Tabqat I Akbari vol 1 p 40

٢٣. جهانکشای جوینی جلد دوم ص ٥٧

٢٤. هغه کتاب ص ٥٧

٢٥. روضة الصفا ص ٢١٨

دغوري شاهانو مقبرې

# کرتان

د کرتانو د کورنۍ مؤسس ملک شمس الدین کرت، د غور د حکمران رکن الدین مرغني د لور زوی دی. رکن الدین مرغني د تاج الدین عثمان مرغني زوی او هغه پخپله د غوري سلطان غیاث الدین د اکا له زامنو څخه ؤ. د غوریانو د سلطنت د سقوط څخه وروسته د غور سیمه د رکن الدین مرغني په لاس کې پاته سوه او کله، چې د ماوراءالنهر او خراسان پر ښارونو او ټوله سیمه باندې د چنګیز او چنګیزیانو سیلاو راغی، نو هغه د یوه هوښیار او موقع شناس حکمران په حیث د چنګیز خان لښکر ته ورغی او د خپلې بشپړې وفادارۍ اظهار یې وکړ. چنګیز خان هغه د غور او شاوخوا سیمو د حکمران په حیث وپېژانده او کله چې به دې د چنګیز خان حضور ته ورتلی، نو همیشه به د لور زوی شمس الدین کرت هم ورسره و. شمس الدین کرت د ځوانۍ په ډېرو لومړیو کلونو کې د عقل او زور په میدان کې ښه امتحان ورکړی و او دغه علت و، چې د خپل نیکه له مرګه وروسته چا د هغه د مشر تابه سره هیڅ اختلاف ښکاره نه کړ او له دغه ځایه څخه د کرتانو سلسله پیل سوه.

ملک شمس الدین د چنګیز د لمسي منکو قاآن د سلطنت په زمانه کې ترکستان ته ولاړ او هلته یې د منکوقاآن د مخالفینو سره په یوه جنګ کې داسې توره وکړه، چې منکوقاآن سمدستي د هرات، غور، غرجستان، اسفزار، فراه او سیستان امارت ورکړ. لدغه ځایه څخه ملک شمس الدین کرت او د هغه کورنۍ د خراسان او سیستان د نیم مستقلو امیرانو په حیث حکمراني پیل کړه او دا چې د منکو قاآن د ورور هلاکو خان د سېلاو په وخت کې هرات له بلا څخه په امان سو. یو علت یې دا و چې دا تاریخي ښار د ملک شمس الدین تر واکدارۍ لاندې و او هغه د مغولو کورنۍ ته خپله بشپړه وفاداري ، هوښیاري او زړه ور توب ټول په اثبات رسولی وه.

# ملک شمس الدین مهین

ملک شمس الدین کرت د هلاکو خان د مرګ څخه وروسته د هغه د زوی اباقا خان لښکر ته ورغی او د برکا خان مغول سره د اباقاخان په جنګونو کې یې داسې توره وکړه ، چې اباقا خان نغاره او بیرغ ورکړ، خلعتونه او انعامونه یې ورکړل او بېرته یې د خپل حکومت سیمې ته رخصت کړ. البته کله چې براق خان د اباقاخان د قلمرو د لاندې کولو د پاره د امو له سیند څخه را تیر سو، نو شمس الدین کرت په لومړي سر کې د هغه لښکر ته ورغی او هغه ډېر ونازاوه، خو وروسته یې بېرته د هرات د ښار دروازې ورته وتړلې او د براق خان پوځیانو ته یې دغه ښار ته د ننوتلو اجازه ورنه کړه. براق خان بالاخره د اباقا خان په مقابل کې ماته وکړه او شمس الدین کرت بېرته اباقا خان ته د وفادارۍ اظهار وکړ. خو د مغولو په سیستم کې د خطا او خیانت بخښل کېدلو رواج نه درلود، ځکه نو اباقا خان، شمس الدین کرت خپل حضور ته وباله او لږ وخت وروسته یې په کال ٦٧٦ هـ ق کې په تبریز کې په زهرو مړ کړ. (١)

# شمس الدین مهین او پښتانه

د کرتانو د قدرت په زمانه کې، چې زیات و کم ١٤٠ کاله یې دوام وکړ له ټولو نه زیات د شمس الدین کرت په زمانه کې د پښتنو پر سیمو باندې یرغلونه وسول. ملک شمس الدین لومړی ځل په کال ٦٤٩ هـ ق کې د پښتنو د سیمو د اېلولو د پاره د هرات څخه لښکرې راوایستلې. په لاره کې یې د فراه، سیستان او نیمروز څخه هم پوځیان ورسره ملګري کړل او د تکیناباد ( اوسني کندهار په شاوخوا کې) په علاقه کې یې، چې د مغول قونقوردای نویان د قدرت سیمه وه، خیمې ووهلې. شمس الدین کرت په دغه سیمه کې شل ورځې تیرې کړې. یوه ورځ ناڅاپه د قونقوردای نویان زلمی زوی اباجي دې سیمې ته په سیل راوتلی و او د شمس الدین کرت

پر خېمو يې سترګې ولګېدې. د خپلو د وو ملګرو سره په ډېر غرور د پوځيانو خوا ته په تاخت ور رهي سو او کله چې د شمس الدين کرت خيمې ته نيژدی سو، نو يوه عسکر ته يې ورږغ کړل چې ای تاژيکانو! دا لښکرې د چا دي! او ستاسې د پاچا نوم څه دی؟ او دلته د څه د پاره راغلي ياست؟ شمس الدين کرت پر خپلو عسکرو ږغ وکړ، چې دا بې ادبه هلک ونيسئ او دلته يې زما حضور ته راولئ. کله چې عسکرو هغه هلک د شمس الدين خېمې ته راووست او پوښتنه يې ورڅخه وکړه، چې ته څوک يې او دلته په کوم جرأت راغلی يې؟ هغه وويل زما نوم اباجي دی، د قونقورداى نويان زوی يم. د پلار سره دغې سيمې ته په ښکار راوتلی وم هغوې راڅخه ورک سول. زه دوې شپې او دوې ورځې دلته سرګردان ګرځېدم او کله چې مې ستاسې خېمې او عسکر وليدل نو ما چې ويل دا د افغانانو لښکر دی. ملک شمس الدين حکم وکړ، چې هغه هلک اته لس لرګيه ووهئ او پر هغه لار چې راغلی و خوشي يې کړئ. اباجي خپل پلار قونقورداى نويان ته په ژړا ورغی او ورته وی ويل چې زه ملک شمس الدين د څو زرو تاژيکو په مخ کې په لرګيو ووهلم. مګر قونقواردای نويان د يوه هوښيار حاکم په حيث شمس الدين ته هيڅ ونه ويل، بلکې هغه ته يې سوغاتونه واستول. (۲)

# پښتانه ملکان

شمس الدين کرت په ۶۵۰هـ ق کې د مغولو د لويو جنرالانو په بدرګه، د افغانستان پر لور حرکت وکړ او کله چې مستونګ ته ورسېد نو ملک شهنشاه، ملک بهرامشاه او ملک ميرانشاه ته يې شل کسيز هيأت واستاوه؛ هغوې ته يې پيغام وکړ، چې زموږ پلرونو او نيکونو پر دغه سيمه تر هند پورې حکومت کړی دی، اوس بايد چې تاسې زموږ اطاعت ومنئ. ملک شهنشاه د خپلو نورو قومي مشرانو سره تر دريو ورځو جرګو او سلا مشورو وروسته د ملک شمس الدين هيأت ته وويل چې ملک شمس الحق والدين دلته د کفارو په حکم راغلي دي او موږ چې تر دغه ګړيه پورې چنګيز خانيانو ته خراج نه دی ورکړی اوس به هم دا خبره د دينداری او شريعت څخه ليرې وي، چې د کفارو تابع سو. البته شمس الدين يو مسلمان دی،

موږ حاضر یو، چې هغه ته کال په کال مالیه ورکړو، مګر که دې خوا ته لښکر راواستوی نو دا به یې په تاوان وي او هیڅ ګټه به ورته ونه کړي.
ملک شهنشاه د ملک شمس الدین هیأت ته وویل چې افغانان ډېر زړه ور او بیباکه خلک دي او خصوصاً زما تر کنټرول لاندې کردان هر یو له سلو رستمانو نه بهتر دی.

ملک شهنشاه د ملک شمس الدین هیأت ته تحفې او ډېرش غلامان ورکړل او کله چې د هیأت مشر جاهو، ملک شمس الدین ته ورغی د ملک شهنشاه جواب او پیغام یې ور ورساوه او هغه په سیمه کې د مغولو د لوی مشر حلقتو نویان په سلا د افغانستان پر لور لښکر رهي کړ. (۳)

ملک شمس الدین په مستونګ کې د ملک شهنشاه او ملک بهرامشاه د خاسک په نوم قلا تر څلورو میاشتو محاصرې او سختو جنګونو وروسته ونیوله. څلور سوه مشران یې ووژل. شهنشاه او بهرامشاه یې د نیوي خپلوانو سره قتل کړل او د هغوې سرونه یې د افغانستان بېلو - بېلو سیمو ته واستول. (۴)

# پښتون ملک المار

ملک شمس الدین کرت په کال ٦٥۳ هـ .ق کې د تیرې د قلا پر لور لښکرکښي وکړه، دا قلا د المار په نوم یوه افغان په لاس کې وه، چې ډېر زړه ور سړی و او دوه زره زړه ور جنګیالي یې درلودل. کله چې ملک شمس الدین کرت د افغانستان والیانو او ملکانو ته لیکونه واستول او هغوې یې خپل خدمت ته راوبلل، نو ملک المار په جواب کې ورته ولیکل، چې ټول خپلوان او قبایل مې ستا خدمت ته حاضر سي، زه چې المار یم، تر هغو چې ژوندی یم تاته به تسلیم نه سم. زما پلرونو او نیکونو د دې څخه مخکې د هیڅ سلطان په وخت کې د مغولو خدمت نه دی کړی او کافر ته یې مالیات نه دي ورکړي. دې سیمې ته مخکې د مغولو طاهر بهادر قرانویان او سالي نویان د بې شمېره پوځیانو سره راغلي او شکستونه یې په نصیب سوي دي. سره له هغه هم که ملک شمس الدین په کال کې په شلو غلامانو او یو څه مال راضي کیږي، سمه خبره ده او کنه نو موږ جنګ ته حاضر یو.

ملک شمس الدین د مستونګ څخه حرکت وکړ او په پښځه ورځې کې د تیرې قلا ته ورسېدی ملک المار د ملک شمس الدین د بې شمیره لښکر په مقابل کې زرتنه جنګیالي د قلا څخه راوایستل، چې هر یو یې د زمري په شان توند او د فیل په شان مست و او کله چې ملک شمس الدین د افغانانو تهور او زړه ور توب ولیدی، نو پر خپلو عسکرو یې ږغ وکړ، چې نن د مردی او مردانګی ورځ ده او د هغه لښکرو هم په سختو متقابلو حملو لاس پورې کړ، د دواړو خواوو څخه جنګیالي وژل کېدل او وینې بهېدلې او دې جنګ په دغه توګه نه پینځوس ورځې دوام وکړ. بالاخره ملک شمس الدین د تیرې قلا فتح کړه. المار یې پر منځ دوه ځایه کړ، د هغه د نیژدې کسانو څخه یې پنځوس تنه په سترګو ړانده کړل، د پنځوسو تنو لاسونه او پښې یې پرې کړې، د پنځوسو تنو غوږونه او پزې یې پرې کړې، درې سوه تنه یې په لرګیو ووهل او باقي پاته یې حسام الدین جاول ته وبخښل. (۵) له دې څخه وروسته ملک شمس الدین د شعیب افغان څخه د کهیر قلا په زور ونیوله او بې اندازې مال یې غنیمت کړ. وروسته یې د شعیب افغان د کاکا د زوی سندان پر لور چې د دوکی په قلا کې اوسېدی یر غل ور ووړ، لومړی یې ملک تاج الدین کرد د روغې جوړې د پاره سندان ته واستاوه او کله چې سندان د ملک تاج الدین کرد په وعدو او تهدیدونو تسلیمېدلو ته حاضر نه سو، نو شمس الدین کرت د دوکی پر قلا باندې د حملې امر ورکړ شلمه ورځ سندان د خپلو دوو سوو سپرو سره د ملک شمس الدین پر لښکرو باندې مخامخ حمله وکړه او د خپلو ټولو یارانو سره د جنګ په میدان کې ووژل سو. ملک شمس الدین کرت د دوکی په قلا کې ځینې کسان قتل کړل او ځینې یې وبخښل.

ملک شمس الدین شپږ کاله د پښتنو سره په جګړو کې تېر کړل او بالاخره یې د هرات پر لور حرکت وکړ. هغه تر کال ۶۷۶ هـ ق پورې، چې اباقاخان په زهرو وواژه، درې دېرش کاله د خراسان څخه تر سنده پورې د یوه نیم مستقل حکمران په حیث حکومت وکړ او د خپلې واکدارۍ په وخت کې یې په هرات او د هغه په شاو خوا سیمو کې دونه امنیت قایم کړی و، چې د ده له مرګه وروسته د اباقاخان دربار ته د خراسان او په تېره بیا هرات د ورانۍ او بې امنیتۍ رپوټونه ورسېدل او اباقاخان له خپلو نیژدې درباریانو سره تر سلا مشورو وروسته د شمس الدین کرت زوی رکن الدین، چې دا وخت د اباقاخان په دربار کې حاضر و، د پلار پر ځای

هرات تـه واستاوه. اباقاخـان فرمـان صـادر کړ، چـې رکـن الديـن دې د خپـل پلار پـه نامـه وبلـل سـي او هغـه وروسـته لـه دې د شـمس الديـن کـهين پـه نـوم وبلـل سـو. د هغـه پـلار، چـې اباقاخـان وواژه پـه تـاريخ کـې پـه شـمس الديـن مـهين مشـهور دی. (٦)

# کرتان د هيڅ راز اصولو پابند نه وو

د کرتـانو ټولـو پـاچاهـانو پـه تـبرېز کـې د مغـولي شـاهانو لـه اطـاعت څخـه چندانـې سـرکښي نـه کولـه ماليـات يـې پـوره او پـر وخـت رسـول، د ياغيـانو پـه ځپلـو کـې يـې بشـپړه ونـډه اخيسـته او ياغيـان يـې پـه سـخته سـزا رسـول. کلـه چې د اباقا خـان زوی هنـد نويـان ارغـون خـان تـه يـاغی سـو او د ملـک شـمس الدين کهين دربار تـه يـې پنـاه يـوړه، نـو شـمس الديـن کـهين د مېلمـه پـالنې د ټولـو اصولـو پـه خـلاف هغـه د ارغـون خـان دربـار تـه لاس تـړلی واستاوه. امير نـوروز، ملـک فخرالديـن د هغـه د پـلار ملـک شـمس الديـن کـهين لـه زندانـه خلاص کړ او بيا يې د مغولـو د پـاچـا غـازان خـان پـه دربـار کـې د هغـه شـفاعت وکـړ؛ د غـازان خـان څخـه يـې د هـرات د واکـداری فرمـان ورتـه واخيسـت او خپله ورېره يې ورته نکاح کړه، مـګر کلـه چـې امير نـوروز غـازان خـان تـه يـاغی سو او په جنګ کي يې لـه مـاتي خوړلـو وروسـته ملـک فخرالديـن تـه پنـاه يـوړه، هغه د امير نـوروز ټول ملګري پـه هـرات کـې قتـل کـړل او خپـل خسـراو مېلمـه امير نوروز يې د لسو تنـو سره د مغولـو د سـپه سـالار قتلقشـاه پـوځ تـه واسـتاوه او هغـه ټول ځای پـر ځای ووژل.(٧)

دغـه راز کلـه چـې د مغـولي دربـار لـه خـوا د خراسـان او شـاو خـوا سـيمو عمومي حکمران امير چوپان د مغولـو د پـاچـا سـلطان ابـو سـعيد بـهادر خـان پـه مقابل کې ياغي سـو او د ملـک فخرالديـن زوی ملـک غيـاث الديـن تـه يـې پنـاه يوړه، نو ملک په لومړي سـر کـې د هغـه سـره ډېر ښه سـلوک وکـړ، خـو کلـه چـې هغـه تـه د سـلطان ابـو سـعيد بـهادر خـان پيغـام ورسـېده او ورتـه ليکلـي يـې وه چې که امير چوپـان مـړ کـړي نـو د هغـه ښايسـته مېرمـن، خـانزاده ګردون چـين او د هغه ټولـه شـتمني بـه وروسـپاري، ملـک غيـاث الديـن دې پيغـام پـه دوو زړو کې کـړ هغـه امـير چـوپـان تـه د سـلطان ابـو سـعيد بـهادر خـان لـه پيغامـه خـبر ورکړ، مګر کله چې امـير چـوپـان د ملـک سـره د مخـامخ ملاقـات غوښتنـه وکـړه، هغه جـلاد ورواسـتاه. امير چـوپـان يـې وواژه او د هغـه يـوه ګوتـه يـې د نښانـې

په توګه سلطان ابو سعید بهادر خان ته واستوله، ځکه چې امیر چوپان هغه ته وصیت کړی و، چې که دی مړ کړی نو لږ تر لږه د ده سر دی نه پرې کوي او سلطان ابو سعید ته دې نه لیږي. (۸)

## د مغلي واکدارانو خود سري او مطلقیت

ویل کیږي چې سلطان ابو سعید بهادر خان د امیر چوپان پر لور "بغداد خاتون" باندې، چې ملک حسن ته یې واده کړې وه، عاشق سو. سلطان د امیر چوپان څخه وغوښتل چې د مغولو د قانون سره سم باید خپله لور په زوم طلاقه کړي او ده ته یې ور کړي، مګر امیر چوپان ونه منله او په دې توګه دهغه او سلطان ترمنځ د اختلاف اور ولګېدی، ترڅو چې خپله ټوله هستي یې په دغه اور کې وسوځوله. البته سلطان ابو سعید بالاخره په خپل مراد ورسېدی او د امیر چوپان د وژول کېدلو او د چوپانیانو د تباه کېدو څخه وروسته یې د امیر چوپان زوم مجبور کړ، چې بغداد خاتون طلاقه کړي او ده په نکاح کړه. (۹)

د مغولي پاچاهانو دا عادت و، چې ښایستې نجونې او ښځې یې خپل حرم ته بللې، یوه یا دوې میاشتې یې ساتلې او بیا یې بېرته په خپلو امیرانو وېشلې البته په دې کې د پېغلې، مېرمنې او کونډې توپیر نه کېده د امپراطورۍ هره ښځه د پاچا مال ګڼل کېده.

د کرمان حکمران قطب الدین محمد سلطان ابن ختمیز تانیکو خپله یوه ښایسته لور پادشاه خاتون، د مغولو د سلطان له وېرې د نارینه په جامه کې را ایستله او نوم یې سلطان حسن شاه وربانډې ایښی و، کله چې اباقا خان په خبر سو، د هغه دغه لور یې خپل دربار ته وغوښتله، هغې څو شپې د اباقاخان په دربار کې تېرې کړې، وروسته یې د خپلې مور اور دو ته ولېږله څو کاله یې هلته تېر کړل او کله چې اباقاخان مړ سو نو دغه نجلۍ د هغه د ورور ګیخاتو حرم ته ولاړه. (۱۰)

## د کرتانو او مغلو جنګونه او د هرات محاصرې

که څه هم چې کرتانو هیڅ وخت د بشپړ استقلال اعلان نه کاوه، او د دوی د کورنۍ موسس شمس الدین کرت د اباقاخان د غوښتنې سره سم د

هغه په دربار کې حاضر سو او هلته ووژل سو مګر د وخت د سیستم ماهیت داایجابوله چې کله کله د هرات د دربار او د پایتخت تبریز ترمنځ اختلاف منځته راسي په دې سلسله کې یو ځل د غازان خان او په تېره بیا د هغه ورور اولجایتو سلطان خدابنده او د هرات د حکمران ملک فخرالدین ترمنځ په کال ٦٩٨ هـ ق کې اختلاف پېدا سو. غازان خان خپل ورور اولجایتو د هرات د ښار د مهم دپاره واستاوه او امرئې ورته وکړ، چې یاغي نکودریان د هرات له ښاره وباسي او یا ملک فخرالدین دې ته مجبور کړي، چې هغوې ته سزا ورکړي. ملک فخرالدین په دواړو کې یوه هم ونه منله او اولجایتو ته یې هم اجازه ورنه کړه، چې ښار ته ننوزي. د اولجایتو سره ډېر بې شمېره پوځ ملګری و او ښار یې قلابند کړ. ملک فخرالدین د هرات د ښار د محاصرې په پنځمه ورځ د ښار د باندي ووت، د اولجایتو پر لښکرو یې حمله وکړه او ځانته یې لاره پېدا کړه او غور ته یې ځان ورساوه. د اولجایتو د سلطان او د ښار د مدافعینو ترمنځ اوه لس ورځې جنګ وسو او د دواړو خواوو څخه لس زره تنه ووژل سول. بالاخره شیخ الاسلام خواجه شهاب الدین د اولجایتو خېمې ته ورغی او ورته وې ویل، چې په دې ښار کې تر پنځوس زره زیات جنګي مېړونه دي او تر څو چې ټول نه وي مړه سوي ښار نه تسلیموي په پای کې اولجایتو ښار ته احوال ورکړ، چې که سل زره دیناره جریمه راکړئ، نو د ښار محاصره پرېږدم. خلکو دېرش زره دیناره ورواستول او ویل یې باقي دې قرض وي. اولجایتو د ښار محاصره خوشې کړه او ملک فخرالدین بېرته هرات ته راغی په ښار کې چې هر چا مقاومت کړی و هغوې ټولو ته یې انعامونه ورکړل د ښار برجونه او دیوالونه یې څلور ګزه نور هم لوړ کړل او د ښار استحکامات یې قوي کړل او دغه راز یې ډېر سخت اسلامي قوانین جاري کړل.

پینځه کاله وروسته غازان خان وفات سو او د هغه د وصیت سره سم د هغه ورور اولجایتو سلطان یا سلطان محمد خدابنده د هغه پر ځای پر تخت کښېناست. ملک فخرالدین کرت د معمول په خلاف د هغه مبارکي ته ورنه غی. د دې حرکت مانا بغاوت کېدای سوای او اولجایتو سلطان خپل سپه سالار دانشمند بهادر د لسو زرو پوځیانو سره د هرات د مهم د پاره واستاوه. دانشمند بهادر هرات محاصره کړ. په ښار کې ډېر ژر قحطي راغله او ملک فخرالدین دوولس ورځې وروسته روغی ته حاضر سو. هغه د دې روغې په اساس د ښار څخه د باندې د امان کوه قلا ته ولاړ. ښار یې

دانشمند بهادر ته پرېښود. دانشمند بهادر هرات ته ننووت، خو سمدستي د ملک فخرالدین جنرال، جمال الدین محمد سام، هغه په چل وواژه او ورسره سرې یې ټول قتل عام کړل. د ښار ځخه د باندې قواوو د هرات محاصره بېرته پیل کړه اولجایتو سلطان د دانشمند بهادر زوی بوجای ته د هرات د نیولو او د خپل پلار د وینو د انتقام اخیستلو وظیفه ورکړه. بوجای په کال ۷۰۶ هـ ق کې د دېرشو زرو عسکرو سره د هرات پر لور حرکت وکړ او د ښار محاصره یې سخته کړه. د محاصرې په جریان کې ملک فخرالدین وفات سو او د جنګ او د ښار ځخه د دفاع کارونه جمال الدین محمد سام پر غاړه واخیستل. دا ځل د هرات محاصره دونه سخته وه، چې په یوه میاشت کې د ښار تقریباً سل زره اوسېدونکي د لوږې مړه سول د ښار په لارو کوڅو کې مړي پراته وه او چا د خپلو عزیزانو او ښاریانو د غسل او کفن توان نه درلود.


بالاخره د ښار خلکو جمال الدین محمد سام ته زارۍ وکړې، چې د بوجاي سره مذاکرات وکړي او محاصره ماته کړي. روغه وسوه، بوجاي د خپل پلار د قتل له غچ اخیستلو ځخه تېر سو. هغه په کال ۷۰۶ هـ ق کې ښار ته ننوت، قلاوې او برجونه یې وران کړل او د ښار خلکو ته یې امان ورکړ. البته جمال الدین محمد سام څو ورځې وروسته د اولجایتو له خوا د هرات او خراسان د نوې مقرر سوي حکمران امیر پساول، په امر ووژل سو. څه کم یو کال وروسته، اولجایتو سلطان د هرات د چارووا کي د ملک فخرالدین ورور ملک غیاث الدین ته، چې د خپل ورور ځخه خپه سوی او د اولجایتو دربار ته ورغلی و وسپارلې. (۱۱)

ملک غیاث الدین تر کال ۷۲۹ هـ ق پورې د هرات او د هغه پر مربوطاتو باندې حکومت وکړ او د هغه له مرګ ځخه وروسته د هغه دوه زامن ملک شمس الدین او ملک حافظ د ډېرې لږې مودې د پاره قدرت ته ورسېدل او بیا د هغه زوی ملک معز الدین حسین د هرات واکدار سو. د هغه د واکدارۍ په زمانه کې په کال ۷۳۶ هـ ق کې په ایران او عراق کې د هلاکو د کورنۍ ستوری ولوېدی. د دې کورنۍ وروستی حکمران سلطان ابو سعید بهادر خان د مغول او رنګ شاه په جنګ ووت او په لاره کې ناجوړ او مړ سو. د هغه پر ځای باندې ارپاخان، چې د تولي خان له نسله و، قدرت ته ورسېدی، خو د هغه واکدارۍ ایله یو کال دوام وکړ او په ایران او عراق کې د مغولي خاندان داخلي جنګونه د هغوی د واکمنۍ


کمبله ورټوله کړه. ملک معزالدین حسین په هرات کې په خپل نامه خطبه وویله او ګواکې په ۷۷۱ هـ ق کال کې یې د خپل وفات تر ورځې پورې د مستقل واکدار په حیث حکومت وکړ. د ملک معزالدین په زمانه کې امیر قرغن برلاس د ماوراءالنهر څخه پر هرات باندې لښکر کښي وکړه. ښار یې محاصره کړ؛ محاصرې څلوېښت ورځې دوام وکړ او امیر قرغن وروسته له دې چې پوه سو، چې د دې ټینګ ښار فتح کول یې له توانه وتلي دي بېرته خپلې سیمې ته ولاړ. د ملک معزالدین څخه وروسته د هغه زوی ملک غیاث الدین پیر علي قدرت ته ورسېدی؛ دولس کاله ئی پر هرات باندې حکومت وکړ. په کال ۷۸۴ هـ ق کې تیمور بندي کړ او یو کال وروسته یې وواژه او په دې توګه د کرتانو د قدرت زمانه پای ته ورسېده.

# کرتان


۱. حبیب السیر جلد چهارم ص ۳٦۸- ۳۷۰
۲. تاریخ نامهء هرات ص ۱۹۲ – ۱۹۴
۳. هغه کتاب ص ۱۹۸- ۱۹۹
۴. هغه کتاب ص ۲۰۴- ۲۰۵
۵. هغه کتاب ص ۲۰۵- ۲۰٦
٦. روضتة الصفا ۱۰۱۹-۱۰۲۰
۷. حبیب السیر جلد سوم ص ۳۷۰
۸. روضة الصفا ص ۱۰۱۹
۹. هغه کتاب ص ۱۰۵۷
۱۰. هغه کتاب ص ۸۳۳
۱۱. حبیب السیر جلد سوم ۳۷۲- ۳۷٦



په هرات کي د اختيار الدين کلا استحکامات



د هرات پخواني استحکامات

# تیمور او تیموریان

په ایران کې د سلطان ابو سعید بهادر خان له مرګ سره د ایلخانیانو اقتدار عملاً سقوط وکړ. د ایلخانیانو د قلمرو په بېلو بېلو برخو کې د قدرت جلا جلا مرکزونه منځته راغلل او کوم مرکزونه چې مخکې موجود وه، هغوې بشپړ استقلال اعلان کړ. په دې لړ کې په فارس کې د آل اینجو، په اصفهان او کرمان کې آل مظفر، په اذربایجان او شاوخوا سیمو کې آل چوپان، په عراق عرب کې آل جلایر، په هرات او د هغه په مربوطاتو کې کرتان، په خراسان کې سربداران ، په ګرګان او استر اباد کې طغاتیموریه، په مازندران کې مرعشیان، په ګیلان کې آل کیا او دغه راز په یزد او لرستان کې بېلو بیلو اتابکانو مستقل حکومتونه جوړ کړل . د ایلخانیانو په ټول قلمرو کې ګډ وډي منځته راغله او په دې ضمن کې د سربدارانو تحریک، چې د سلطان ابو سعید د مرګ سره سم تشکیل سوی و، د خراسان د نورو سیمو ترڅنګ هرات ته خطر متوجه کړی و. سربدارانو په ډېره لږه موده کې دونه شهرت تر لاسه کړ، چې خلکو هغه ته د یوه نه ماتېدونکي قدرت په سترګه کتل کله به ئې په ډېرو لږو قواو دونه سترې فتحې ترلاسه کولې، چې نه به یې چا مخکې انتظار درلود او نه به یې فکر کولای سو. د سربدارانو یوه مشر ، امیر وجیه الدین وروسته له هغه چې په خو جنګونو کې یې بری ترلاسه کړ، بالاخره د طغاتیمور خان او د هغه د لوی سپه سالار امیر ارغون شاه ، د ۷۵ زرو لښکرو په مقابل کې درې زره سربداران د جنګ مېدان ته وایستل او د طغاتیمور قواو ډېره سخته ماته وخوړه. سربدارانو د دې لویې فتحې څخه وروسته پر هرات باندې حمله وکړه، مګر د کرتانو د واکدار معزالدین حسین د لښکرو په مقابل کې یې ماته وکړه. (۱)

سربدارانو د دي څخه وروسته هم د کرتانو او د سیمې د نورو واکدارانو پر قلمرو باندې بریالی او ناکامې حملې وکړې. تر څو چې بالاخره د خراسان، سیستان، فارس او عراق د قدرت لوی او کوچني مرکزونه د ګوډ تیمور له توپان سره ، چې د ماوراءالنهر څخه راپورته سوی و، مخامخ سول او تقریبا ټول یو په بل پسې له منځه ولاړل.

د امیر ترغای زوی تیمور، چې په قساوت او تمدن سوځولو کې تر چنګیز او هلاکو کم نه و ، په کال ۱۳۳٦میلادي کې په مرکزي آسیا کې سمر قند ته نیږدې په شهر سبز کې دنیا ته راغی. د تیمور د ځوانی لمړي کلونه، کله په خوښې او نیکمرغی او کله په ډېر بد حالت کې تېر سول. د تیمور جسماني قوت، بې اندازې زړه ور توب، د جنګ په میدان کې د هغه هوښیاری او طبیعي جاه طلبی هر وړوکي او سیال امیر د هغه دښمن کړی و او هر یوه د خپل ځان د ساتلو او د هغه د آینده شر څخه د ځان ژغورلو په منظور، د هغه د له منځه وړلو فکر کاوه. خو په دغسې حالاتو کې د یوه ماجرا غوښتونکي او لوی فاتح د زېږېدلو او بریالي کېدلو د یوه لازم شرط په حیث، د سیمې او شاوخوا علاقو واړه او لوی امیران په خپلو کې دونه سره مخالف وه، دومره د یوه بل د قلمرو لاندې کولو ته غله وه او دومره وینې یې سره توې کړې وې، چې د تیمور خواته نه چا توجه کولای سوه، او نه یې د هغه پر ضد د یو کېدلو فکر وکړ. تیمور د خوارلسمې پېړی د شپېتو تر لسیزې پورې د ماوراءالنهر زیاتره سیمه لاندې کړه او د هرات او فارس د لاندې کولو تکل یې وکړ.

# تیمور په زندان کې

تیمور د خپل ژوند د لوړو او ژورو په سلسله کې، د ځوانی په لومړیو کلونو کې د سیمې د یوه امیر علي بیګ جاني قرباني، لاسته ورغی او تقریبا دوې میاشتې یې، د خپلې مېرمنې او یوه نوکر سره دغو او اوغویو په غوجل کې بندي کړی و. په دې موده کې یې دونه خواري وربانده تېری کړې، چې تیمور له ځان سره قول وکړ، چې که چېرې یو وخت قدرت په لاس ورغی، هېڅ وخت به بېله تحقیقاتو او ګناه د معلومولو چاته د بند سزا نه ورکوي. (۲)

د علي بیګ جاني قرباني ورور، محمد بیګ جاني قرباني، چې دا وخت د طوس حکمران و، د خپل ورور څخه وغوښتل، چې تیمور سمدستي خوشې کړي او چې چېرته یې زړه غواړي د تللو اجازه دې ورکړي ویل کیږي چې د هرات واکدار معزالدین حسین کرت، هم د هغه په خوشې کېدلو کې برخه درلوده. ښایي دغه علت وي، چې تیمور د علي بیګ جاني قرباني له بند څخه د خوشې کېدلو سره سم د هرات پر لور حرکت وکړ.

# تیمور په هرات کې

معزالدین حسین کرت دا وخت نیشاپور ته د تللو اراده کړې وه، په هرات کې یې د تیمور ډېر تود هرکلی وکړ، خپل خاصه آس یې وروباخښه، لس زره دیناره یې ورکړل او د دوو سوو خروا روغلې حواله یې ورکړه. (۳)

معزالدین حسین ښایي غوښتل په دې توګه د ماوراءالنهر یو باتور امیر زاده د ځان څخه خوشحاله وساتي؛ څو یا د ضرورت په وخت کې کار ورڅخه واخلي او یا یې په سختو حالاتو کې لږ ترلږه د ازار څخه بېغمه وي. هغه ښایي هیڅ وخت دا حساب نه و کړی، چې دا په ظاهره بې ازاره مېلمه به چې څو ورځې مخکې یوه کوچنۍ او کمزوري حاکم بېله کومې ګناه دوې میاشتې بندي کړې، او د غویو په غوجل کې یې اچولی و، یوه ورځ دومره خطرناک اژدهار سي، چې د ده د پلرونو او نیکونو په پایتخت هرات کې به د وینو ویالې رواني کړي او د ده د مېلمه پالنې او احسان په بدل کې به د ده ټوله کورنۍ له تېغه تېره کړي.

تیمور د معزالدین حسین د تحفو او پېسو سره د هرات له ښاره رخصت سو او څه باندې لس کاله وروسته یې بېرته په داسې حال کې د هرات خواته توجه وکړه، چې ماوراءالنهر او خوارزم یې تقریباً ټول ترلاس لاندې کړي او واړه او کوچني واکداران او امیران یې یا له منځه وړي او یا د توري په زور د ځان تابع کړي وه. دا وخت معزالدین حسین یوولس کاله مخکې وفات سوی و او د هغه پر ځای یې زوی، غیاث الدین پیر علي، د هرات مستقل حکمران و. تیمور لومړی ځل خپل یو نیږدې افسر غیاث الدین پیر علي ته واستاوه او هغه یې ماوراالنهر ته وباله. غیاث الدین پیر علي ماوراالنهر ته د تللو د پاره عذر وړاندې کړ او کله چې یو کال وروسته

د تيمور استازي امير حاجي سيف الدين هرات ته ورغى نو وې ليدل. چې غياث الدين پير علي په ښار كې د موادو په ذخيره كولو او د ښار په استحكاماتو مصروف دى او يوې اوږدې محاصرې او جنګ ته ځان تياروي.

# هرات د تيمور تر لاس لاندې

تيمور د خراسان د ځينو سيمو او بيا وروسته هرات ته نږدې د بادغيس او فوشنج د لاندې كولو، چورولو او قتل عام كولو څخه وروسته په كال ۱۳۸۱ م كې هرات محاصره كړ. غياث الدين پير علي د ښار څخه په ډېره مېړانه دفاع وكړه، مګر ښار د تيمور په شان د يوه لوى فاتح په مقابل كې جنګ ته تيار نه و او دوې درې ورځې وروسته هرات تسليم سو. غياث الدين پير علي د تيمور دربار ته، چې په باغ زاغان كې يې خېمې وهلې وې، ورغى او تيمور بېرته د ښار پر لورى رخصت كړ. تيمور د هرات د فتح كولو څخه وروسته د هغه ښار مستحكمې قلاوې ټولې ونړولې او د خاورو سره يې برابرې كړې. (۴)

تيمور يو كال وروسته ملك غياث الدين پير علي د هغه زوى پير محمد او ټوله كورنۍ سمر قند ته واستوله. د غور حكومت يې د غياث الدين د اكا زوى ملك محمد ته وسپاره او پخپله يې د ماوراءالنهر پر لور حركت وكړ. ملك محمد او د هغه ورور يو كال وروسته ياغيان سول او د غوريانو په مرسته يې هرات اشغال كړ. په هرات كې يې د تيمور له خوا مقرر سوي مامورين او عسكر ټول ووژل او د جنګ د پاره يې تيارى پيل كړ.

# د هرات قتل عام

دا وخت د تيمور درېم زوى ميرانشاه، چې د هغه په ټوله كورنۍ كې په ظلم او قساوت او ليونتوب مشهور و، په پنجده كې و او د دې رپوټونو د اورېدلو سره سم يې د هرات پر لور حركت وكړ. د هرات قواو او غوريانو د ښار څخه ډېره ټينګه دفاع وكړه، مګر د ميرانشاه د قواو په مقابل كې يې د

زیات مقاومت توان نه درلود او عسکر د ښار په لارو کوڅو ننوتل او په کورونو کې پټ سول. د میرانشاه قواوو ښار قتل عام کړ او د خلکو د عبرت دپاره یې د سرونو څخه څو منارونه جوړ کړل. تیمور د دې خبرونو د اورېدلو سره ډېر سخت په غضب سو او ملک غیاث الدین پیر علي او د هغه زوی ملک محمد یې، چې په سمرقند کې ورسره ؤ، د ټولې کورنۍ سره ووژل. (۵)

تیمور په کال ۹۹۹ هـ ق کي خپل زوی شاهرخ میرزا د خراسان حاکم مقرر کړ. شاهرخ په همدغه کال هرات ته ولاړ او خپله ټوله توجه یې د ښار او شاوخوا سیمو ابادولو او د علم او ادب د روزلو خوا ته واړوله او ګواکې په دي ډول د هرات د تباهۍ، محاصرو او قتل عامونو ورځې یو ځل بیا پای ته ورسېدې.

تیمور بالآخره په کال ۱۴۰۵ میلادي کې د ژمي په موسم کې پر چین باندې د حملې په نیت روان سو او د ځان سره یې دوه سوه زره قوه واخیستله. په داسي حال کې چې هم په عمر بوډا او سن یې له اویا کالو نه تېر و او هم یې ستړګې دونه کمزورې سوې وې، چې تقریباً په ړندو کې حسابېدی او هم یې صحت د نورو فتوحاتو اجازه نه ورکوله. مګر تیمور ته چا دا ویلای سوه، چې ستا د دغې فېصلې په برخه کې یو څه غور ته ضرورت دی. تیمور حرکت وکړ او د همدغه سفر په لاره کې د هماغه کال د فبروري په اته لسمه د سختې تبې د لاسه مړ سو او د چین د فتح کولو ارمان یې ګور ته یووړ.

# د تیمور شخصیت

تیمور د ماوراءالنهر څخه راپورته سو او چې هر ځای ته ولاړ هلته یې اور او تباهي ورسره یووړه، خو د غرب ځینې تاریخ پوهان او لیکوالان هغه ستر انسان او لوی سپه سالار بولي. انګریز تاریخ لیکونکی سر پرسي سایکس ، لیکي" تیمور صاحب قران د آسیا په تاریخ کې تر ټولو ستر فاتح و، هغه د یوه واړه قبیلوي مشر زوی و ؛ نه یوازې تر هر چا زړه ور ؤ ،بلکې ډېر پرهېزګار، سخي، تجربه کار او جدي ؤ . دې صفاتو له هغه څخه یو داسې مشر جوړ کړ، چې هیڅ چا سیالي نه سوه ورسره کولای. سرجان مالکم، چې د تیمور په باره کې خبرې کوي نو د هغه د ډهلي قتل عام ته

نيسي، مګر وايي په داسې حال کې چې په دې کې شک نشته، چې د ډهلي قتل عام به ډېر وحشيانه و، خو هغه د وخت د پوځي شرايطو تقاضا وه. ايا ناپليون د اته لسمې پېړۍ په ورستي کال کې همدغه راز يو کار ونه کړ. هغه اصول چې تيمور وضع کړي وه، په هغو کې راغلي وه، چې د نيول سويو عسکرو سره بايد ښه سلوک وسي او احترام يې وساتل سي او که د هغه وخت د نورو فاتحينو اصول او مقررات ګورو نو بيا به وينو، چې د ده قوانين او اصول ډېر بشر دوستانه دي.

مالکم زياتوي، چې د تيمور هدف عظمت و او لکه د اوسنيو او پخوانيو فاتحينو په څېر د ده د فتوحاتو په سلسله کې هم ډېرې زياتي وينې تويې سوې. ده به کله کله د غچ اخيستلو يا د پاليسۍ په اساس د قتل عامونو حکمونه صادرول، مګر ده صرف د وحشت او بربريت په اساس چندانې قتل عام نه دی کړی. تردې چې راتېر سو، تيمور يو سوچه مسلمان و. ده فکر کاوه، چې د خپل عظمت او لوی والي د پاره د اسلامي عقايدو څخه کار اخلي. هغه د پوهانو ډېر زيات قدر کاوه، جوماتونه او ښوونځي يې جوړول، ليکوال و او د سطرنج د لوبې ډېر شوقي و. هغه د هيچا په خوله نه کول او په ټولو مهمو مسايلو کې يې پخپله تصميم نيوی او د مطلقه سلطنت د پاره دا ډېر مهم اصل دی.

مالکم وايي کله چې د ده کارنامو ته وګورو نو هغه يو فوق العاده انسان بللای سو. هغه د خپل اوږد عمر په دوران کې هرې خوا ته لښکر کشي وکړې او په هيڅ ميدان کې تر شا نه سو او کله چې مړ سو نو د ګيبون Gibbon په قول له ايرتيش څخه نيولې تر وولګا او د فارس تر خليج پورې، له ګنګا څخه تر دمشق او مجمع الجزاير پورې اسيا د تيمور په لاس کې وه. (٦)

سر پرسي سايکس حتی دا د خپل ژوند د افتخاراتو څخه بولي، چې په سمرقند کې د تيمور قبر ته ورغلی او د دومره ستر انسان زيارت يې کړی دی. سايکس، ګيبون او نور غربي ليکوالان که د تيمور صفت کوي علت يې دا دی، چې يو خو هغه د اروپايانو د لمنې څخه ډېر ليرې اوربل کړی و؛ د اسيايانو کله منارونه يې جوړ کړل د اسيا تمدنونه يې وسوځول او غرب ته يې تاوان نه دی رسولی او بله خبره دا ده چې هغه د اروپا تر ټولو ستر او خطرناک دښمن عثماني سلطان بايزيد ته ماته ورکړې او ژوندی يې نيولی و او په دې توګه يې لږ تر لږه د يو څه وخت د پاره د اروپايانو

غوړونه په کراره پرې ایښي وه او دا چې یو ځوک راولاړیږي په اسیا کې خلک قتل عام کوي، نو دا په سایکس او ګیبون او نورو غربي تاریخ پوهانو ځکه چنداني اړه نه لري، چې اروپا ته تاوان نه رسوي.

دلچسپه خبره دا ده ، چې سایکس وایي تیمور به کله کله د انتقام اخیستلو او کله کله د پالیسي په اساس د قتل عامونو حکمونه کړي وي او تش د وحشت او بربریت په اساس یې چنداني د قتل عام حکم نه دی صادر کړی، سړی نه پوهیږي، چې دا په کوم کتاب کې د انتقام اخیستلو او یا د وخت او یا یوه ټاکلي سړي او یا نظام د پالیسي په اساس قتل عام روا دی، چې سړی یې مرتکب ته ستر انسان لا هم ووایې، د دې خبرې ځخه مطلب دا دی، چې کله کله ژبني، قومي، مذهبي، نژادي، مادي او معنوي ګټې د تاریخ پوهانو او لیکوالانو په قضاوتونو کې خومره اغېزه لري. موږ به د تیمور د اعمالو او قتل عامونو یو څو مثالونه راوړو او خپلو لوستونکو ته به قضاوت پرېږدو، چې ریښتیا هم تیمور، د سر پرسي سایکس په قول سخي، ځوانمرد، بشر دوست او سوچه مسلمان و او کنه؟.

## ښارونه او ملکونه د تیمور د توري تر سیوري لاندې

په کال ۱۳۹۸ م کې کله چې تیمور د ډهلي د ښار د نیولو په لاره کې ډېر لوی او واړه ښارونه لاندې کړل او ډېر کوچني او لوی مقاومتونه یې وځپل او د هر ښار او سیمې ځخه یې بندیان او غلامان ورسره واخیستل؛ ډهلي ته نېژدې امیر جهان شاه او نورو امیرانو امیر تیمور ته وویل چې له هغه وخته راهیسې چې موږ د سیند له دریاب ځخه تېر سوي یو، تر اوسه پورې سل زره هندو بندیان راسره جمع سوي دي او موږ دغه ګبران او بت پرستان په خپل نظامي کمپ کې راسره ساتو، نه ویل کیږي، چې په ډهلي کې د جنګ په وخت کې دا کسان د دښمنانو سره یو ځای نه سي. تیمور د دوی دا اندیښنه په ځای وبلله او امر یې وکړ، چې ټول جنګي بندیان دې قتل سي، هر چا چې د دغه امر ځخه سر وغړاوه هغه به ځای په ځای اعدامیږي او مېرمنې، ماشومان او مال به یې هغه چا ته ورکول کیږي، چې د پوځ قوماندان ته یې اطلاع ورکړي وي. د دې امر سره سم توري را وایستلې سوې او سل زره هندوان ووژل سول. مولنا نصیرالدین،

چې یو پرهېزګار انسان و او په ژوند کې یې د یوه پسه د حلالولو زړه نه سو کولای، مجبور سو چې خپل پښځه لس تنه هندو بندیان مړه کړي. (۷)

امیر تیمور د سبزوار پر اوسېدونکو باندې، په دې پلمه، چې ویل یې د هرات د خلکو سره یې د هغوې د مقاومت په وخت کې همکاري کړې ده ډېر درانه مالیات وضع کړل. د تیمور لښکر وروسته ښار محاصره کړ او د ښار د نیولو څخه وروسته یې د ښار دوه زره تنه اوسیدونکي یو پر بل پرې ایستل او په خښتو او خټو کې یې ونیول او د ژوندیو د عبرت د پاره یې دغه منار پرېښود. په هرات او سبزوار کې یې خلک په وهلو او شکنجو کې ووژل او په ښارونو کې دومره مړي پراته وه، چې ژوندیو یې د کفن کولو او ښخولو توان نه درلود او ډېر زیات مسلمانان د خپلو کورونو او وطنونو پرې ښودلو ته مجبور سول. تیمور وروسته د سیستان پر لور حرکت وکړ. د سیستان خلکو او دیرشو زرو عسکرو د هغه سره سخت مقاومت وکړ او په دغو جنګونو کې د تیمور پښه هم زخمي سوه، کله چې د سیستان قواو ماته وکړه، نو د تیمور عسکرو د ښار قلا او د خلکو کورونه تباه کړل او د دېرشو زرو عسکرو له جملې څخه یې یو هم ژوندی پرې نه ښود. (۸)

مولنا شرف الدین یزدي، چې د تیمور د هر عمل ستاینه کوي، په خپل کتاب ظفرنامه کې لیکي:"د۱۳۹۸م کال د ډسامبر په پېنځه ویشتمه د تیمور عسکرو د ډهلي د ښار په دروازه کې د خلکو په ازارولو پیل وکړ. تیمور خپلو امیرانو ته وویل، چې عسکر د دې کار څخه منع کړي، مګر د خدای داسې خوښه وه، چې دغه ښار تباه سي او اوسیدونکي یې سزا ووینې او دا سزا یې په دغه طریقه ورکړه. د تیمور مېرمن جهان ملک اغا او نورې مېرمنې د هزارستون د قصر د کتلو د پاره، چې ملک جونا په جهان پناه کې جوړ کړی و، د باندې ووتلې په دغه وخت کې د خزانې مامورین هم ښار ته د دې د پاره تللي وه، چې د خلکو څخه ولجه ټوله کړي. څو زرو عسکرو د غلې دانې او بورې پېدا کولو د پاره ښار ته تللي وه. په دغه وخت کې صاحب منصبانو ته امر سوې و، چې هغه اشراف ګرفتار کړي، چې د تیمور په مقابل کې په جنګونو کې برخه اخیستې وه او اوس د ډهلي ښار ته تښتېدلي دي. صاحب منصبان هم د تیمور د دغه حکم د عملي کولو د پاره ښار ته تللي وه کله چې د عسکرو ټولې په ښار کې ګرځېدلې نو د ډهلي، سرای، جهان پناه او زاړه ډهلي هندوانو او ګبرانو، چې د تیمور د عسکرو سخت سلوک ولیدی، نو حمله یې ورباندې وکړه.



د هرات مصلي منار او د ګوهرشاد ګنبده



گوهٔ تیمور

ډېرو کفارو خپل مالونه، قیمتي شیان، مېرمنې او اولادونه اور ته واچول او ایستلې توري يې پر عسکرو باندې را ؤخغستل. په دې وخت کې عسکرو هم چور او تباهي ته لاس واچوه. صاحب منصبانو د هندوانو د زړه ورتيا سره سره د ښار دروازې وتړلې او نورو عسکرو ته يې څکه ښار ته د ننوتلو اجازه نه ورکوله، چې د ښار د چورېدلو خطره بېرېدل، مګر هغه پينځه لس زره عسکر چې د ښار د کرارولو د پاره مخکې لا دغه ښار ته ورغلي وه، د جمعې په ماښام تر سهاره پورې د ښار په چورولو او سوځولو لګيا وه، چې سهارسو هغه عسکر چې د ښار له دروازو څخه د باندې پراته وه، په زور ښار ته ننوتل او وضع ډېره ګډه وډه سوه.

د يکشنبې په ورځ ټول ښار چور سو اوپه سراى او جهان پناه کې ډېر قصرونه تباه سول. د دوشنبې په ورځ چور او تالان همداسې دوام درلود. هر عسکر تر شلو زيات غلامان ترلاسه کړل او چاته خو پنځوس ختى سل نارينه، ښځې او ماشومان غلامان لاسته ورغلل. د غنيمت د مالونو اندازه نه وه، ياقوت، الماس او راز راز قيمتي ډبرې، سره زر، سپين زر او ډول ډول ګاڼې عسکرو غنيمت کړې. ډيرې ښځې چې عسکرو ته د بنديانو په توګه لاسته ورغلې وې، د سرو زرو او سپينو زرو ګاڼې يې په غاړه، په پښو او په لاسو وې.

د سه شنبې په ورځ تيمور ته خبر ورسېدى، چې ډېر زيات هندوان د ډهلي په لوى جومات ننوتلي دي او هلته يې پناه اخيستې ده، تيمور علي شاه ملک او علي سلطان تاوا چې له پنځو سوو عسکرو سره ورواستول، توري يې ورباندې را وايستلې او ټول يې دوزخ ته واستول. د هندوانو له سرونو څخه يې جګ جګ کله منارونه جوړ کړل او بدنونه يې د لېوانو او مرغانو خوراک سو. په همدغه ورځ زوړ ډهلي چور سو او څوک چې له نورو ځايونو او جنګونو څخه دغه ښار ته تښتېدلي وه، هغوې بنديان سول.

تيمور د دي ښار څخه په زر هاو کسب ګر او صنعتکاران راوايستل او پر خپلو اميرانو او شهزاده ګانو يې وويشل او څه يې هغو اميرانو ته وساتل، چې د دغه جنګ په وخت کې د تيمور سره ملګري نه و ه او د امپراطورى په نورو برخو کې د نظم د ساتلو د پاره پاته سوي وه. تيمور د ډهلي د مسجد جامع په شکل يو مسجد په سمرقند کې په نظر کې ونيوى او امر يې وکړ، چې د ډېرو ټول معماران دې د دغه مقدس کار د پاره سمر قند ته بوتلل سي. (۹)

# د تیمور مذهبي جذبه

70

دلچسپه خبره خو دا ده ، چې تیمور د دې ټولو ظلمونو او انسان وژنو او تباهیو سره سره ، چې یوازې یې د هندوانو په ملک کې نه بلکې د مسلمانانو په ملکونو کې هم کولې ځانته یو معتقد او مومن مسلمان لا هم وایه او د روحانیونو او مذهبي عالمانو ډېر زیات قدر یې کاوه او خلکو ته یې داسي ښودله چې دی دغه جنګونه او فتوحات د هغوې په اشاره او کرامت کوي.

میرخوند په خپل کتاب روضة الصفا کې لیکي" تیمور د خراسان پر لور د لښکر کښیو د پیل کولو څخه مخکې د هغه اعتقاد له مخې چې اولیاو ته یې درلود، یو ځل د بابا شکر الله لیدلو ته، چې د خپل وخت د ابدالو او اوتادو د جملې څخه و، ورغی. هغه د سپلې جذبې او جنون په اساس د پسه د سینې د غوښو یوه ټوټه تیمور ته وروغورځوله. تیمور دا په نیک فالي ونیوله او خپلو ملګرو ته یې وویل، چې خدای تعالي ماته خراسان، چې مخکې د سینې حیثیت لري را وباخښه او مور به د خراسان پر لور په خپلو لښکر کښیو کې بریالي سو. (۱۰)

کله چې تیمور تیا-اد ته ورسېدی، هلته یې واورېدل، چې په دغه ښار کې د مولنا زین الدین په نوم یو شیخ اوسیږي. هغه ته یې خپل یو ملازم واستاوه او ورته ویې ویل، چې تیمور راغلی دی غواړي ستا سره ووینې، نو ته باید ورسې. هغه ملازم ته وویل، چې زما له تیمور سره هیڅ کار نسته ، نو امیر تیمور پخپله د هغه حضور ته ورغی. امیر تیمور د مولنا زین الدین څخه وپوښتل، چې ولې خپل ملک (د هرات ملک) ته نصیحت نه کوې، چې شراب خوري او بد بد عملونه کوي. مولنا زین الدین ورته وویل هغه ته مې نصیحت وکړ، هغه وانه ورېدی، حق تعالی، چې جبار او منتقم دی، ته ورته راواستولې او که چیرې تا هم پر نصیحت غوږ ونه نیوی نو بیا به ستا د پاره یو بل څوک راولیږي. تیمور وژړل او په سرو سترګو د مولنا زین الدین له خلوته راووت. (۱۱)

د اصفهان خلکو د تیمور د ظالمو مامورینو په مقابل کې، چې د خلکو شته منې یې ضبطول او هر راز ظلمونه یې ورباندي کول، ښورښ وکړ او د تیمور ټول درې زره عسکر یې، چې په دغه ښار کې اوسېدل ، ووژل. تیمور

ډیر ژر اصفهان تـه ستون سـو. لومړی یـې د مذهبـي عالمـانو او جومـاتونو د ساتلو د پاره قـوه وټاکلـه ( ځکـه چـې دې ډېر ټینګ مسلمان و!) او بیا یـې نـو خپلـو او یـا زرو عسکرو تـه وظیفـه ورکـړه، چـې د اصفـهان د خلکـو اویـا زره سرونه ورتـه راوړي. پـه ښار کـې قتل عـام پیـل سـو، مګر حتـی د تیمـور عسکرو هـم زړه نـه سـو کـولای، چـې بېګنـاه او بـې دفـاع خلک لـه تیغه تېر کـړي او ډېرو عسکرو د هغـو کسانو څخـه چـې چنداني یـې د چا پـه وژلـو کـې زړی نـه واهه سـرونه رانیـول. عسکرو تـه ډېر زیات مـال او پیسې پـه لاس ورغلـې وې او پـه لومړي سر کـې یې د یوه سـړي سر پـه یـوه طـلا رانیـوی وروسـته سرونه زیات سـول او قیمت نیمـې طـلا تـه ولـوېدی او پـه پـای کـې د سرونو عرضه دونـه زیاته سوه، چې چا بیخـي نـه رانیـول. تیمـور تـه اویـا زره سـرونه تقدیم سـول او هغه کله منارونـه ورڅخـه جـوړ کـړل. (۱۲)

داسې ښکـاري چـې تیمـور د بـل هـر راز تعمیر تـر ابـادولو د کلـه منـار لـه جوړولو سره ډېره زیاتـه علاقـه درلـوده، ځکـه پـر هـر ښار او سیمه چـې د تیمـور افـت نـازل سـوی دی، ډېر لـږ داسـې پـېښه سوې ده ، چـې کلـه منـار دې نـه وي پـه کـې جـوړ سـوی او د سـر پرسـي سـایکس پـه قـول، د تیمـور د خوانمـردۍ او بشردوستـۍ مـزه یـې نـه وې څکلـې. تیمـور خپلـو جنګونـو تـه مذهبـي رنـګ ورکـاوه او هغـه یـې د اسلام دیـن او شریعت تـه د خدمت پـه لاره کـې جـهاد او مقدس جنګونـه بلـل . پـه داسـې حـال کـې چـې د ده اکـثریت جنګونـه پـه ماوراءالنهر ، خراسـان، فـارس، عربـي ملکونـو او ډهلـي او ملتان کې د مسلمانانو سـره وه او تـر هـر چـا یـې د مسلمانانو زیـات کلـه منارونـه جوړ کـړل.

پـه کـال ۱۴۰۳ م کـې کلـه چـې تیمـور د عثمـاني ترکـانو د سلطان بـایزید سره د وروسـتي جنـګ د پـاره تیـاری کـاوه، د بغـداد خلکـو د تیمـور پـر مـخ د ښار دروازې وتړلـې او تیمـور د هغـوې دې عمـل سخت پـه قـار کـړ.ښار یـې تـر لنډې محـاصرې وروسـته اشغال کـړ او د خلیفـه ګـانو پخوانـی ښار د قتـل عـام صحنـه سـو. تیمـور امـر وکـړ ، چـې د ۹۰ زرو سـرونو څخـه دې ۱۲۰ کلـه منارونـه جـوړ سـي پـه ټول ښار کـې بـاید بېلـه جوماتونو، ښونځیو او روغتونونـو څخـه هیـڅ کـور او ودانـي بـې خرابولـو پرې نـه ښودلـه سـي. پـه داسـې حـال کـې چـې دغـه قتـل عـام روان و، تیمـور هـنر منـدان، شـاعران او عالمـان وروغوښتـل، هغوی ته یـې اسـونه ورکـړل او ورتـه وې ویـل چـې خپـل ځانونـه نـورو ښارونـو ته ورسـوي.(۱۳)

د شلمې پېړۍ په لومړیو لسیزو کې د غرب مشهور مورخ H.G Wells په دو دریو لنډو جملو کې د تیمور شخصیت ډیر ښه معرفي کوي. دې وایي تیمور یو وحشي کوچی و او د شمالي هند څخه تر سوریې پورې یې یوه د تباهۍ او بربادۍ امپراطوري جوړه کړه. د ده آرزو دا وه، چې د چنګیز خان امپراطوري جوړه کړي،مګر په دې تکل کې ناکام سو. ده هرې خوا ته تباهي خپره کړه او په کال ۱۴۰۵ م کې د ده د مرګ په وخت کې داسې شی پاته نه وه ، چې د ده د قدرت شاهد وي،بلکې صرف ډار او وحشت او تباه سوي ښارونه پاته وه. (۱۴)

د افغانستان په معاصرو لیکوالو کې یوازې میر غلام محمد غبارد تیمور د بربریت او وحشت یو څه مثبته، البته ډېره دلچسپه ارزیابي کوي او وایي که څه هم چې په افغانستان کې د امیر تیمور هجوم او حملې په لومړي سر کې د هېواد د نویو سمسورو سویو ښارونو د خرابي سبب سوی، د فوشنج، هرات، طوس، بلخ او جلال اباد ښارونه او د هېواد په غرب کې تر ټولو معموره او سمسوره سیمه یعنې د هلمند حوزه ( د سیستان او بست او نور ولایتونه) تخریب سول. دغه راز په پوشنج، طوس او هرات کې ډېر انسانان قتل سول او کله منارونه جوړ سول؛ خو سره له دې په افغانستان کې د تیمور تسلط ملک الطوایفي او محلي امیران، چې جلا او مستقل حکومتونه یې جوړ کړي او د افغانستان سیاسي وحدت یې له منځه وړی و له میدانه پسې واخیستل او پس له یوې نیمې پېړۍ یې افغانستان په یوې اداري او مرکزي دولت پورې وتاړه. که څه هم چې دا مرکز په سمر قند کې او له افغانستان څخه د باندې و او دا دولت د افغانستان خاص دولت نه بلکې د ټولې مرکزي اسیا دولت و. (۱۵)

د مرحوم غبار دغه ارزیابي ځکه د جدي تامل وړ ده، چې تیمور د یوه بېګانه مغول په حیث اصلاً دا حق نه درلود چې په فارس، سوریه، خراسان او هند کې حاکمان له منځه یوسي او ټوله سیمه د ښاغلي غبار په اصطلاح د سمرقند د مرکزي اداري تابع کړي او هغه هم د لکونو انسانانو د قتل عام کېدلو، د میلیونو ښځو د بې عفته کېدلو، له تصور او حساب نه وتلو شته منیو د لوټېدلو او سل هاو ښایستو ښارونو او کلیو د تباه کېدلو او سوځېدلو په قیمت، تیمور د دې تباهیو په بدل کې فتح کړیو سیمو ته هیڅ ورنه کړل، بلکې د یوه جاه طلب او عظیم داړه مار په څېر یې ، چې سرې یې د عادي انسانانو په مقایسه لیونی بلاې سي، د خپلې پراخې امپراتورۍ مالونه او کمالونه په سمر قند او بخارا کې ذخیره کول، شانداره قصرونه یې ابادول او بیله دې چې په یوه قصر کې دې پر له پسې یوه هفته تېره کړي، بېرته د نورو مالونو د لوټلو په تلاش روانېدی.

# لېونی میرانشاه

تیمور په خپل ژوند کې خپل قلمرو د خپلو زامنو او لمسیانو تر منځ ویشلې او په دې توګه یې هغه په اصطلاح مرکزیت عملًا له منځه وړی و، چې د ده په حسناتو کې شمېرل کیږي. هغه په دې سلسله کې خپل یو ماجرا غوښتونکي، لیونی زوی میرانشاه د فارس او آذربایجان حاکم مقرر کړ او کله چي یې د ماموریت پر لور رخصتاوه نو توصیه یې ورته وکړه، چې ته باید خپل نوم په تاریخ کې پرېږدې او هیڅ وخت د آینده څخه ونه بېرېږې. میرانشاه د خپل پلار وصیت په غوږ کې ټینګ نیولی و او کله چې د آذربایجان مرکز تبریز ته ورسېدی او د دې ښار عظمت او ښایست ته یې وکتل نو د خلکو څخه یې د دې ښار او د هغه د قصرونو د تاریخ په باره کې پوښتنې وکړې. ځان یې د ایلخانانو د پایتخت په تاریخ خبر کړ او وروسته یې له ځان سره وویل، په دې کې شک نشته چې زه د دنیا د تر ټولو ستر سړي زوی یم، مګر زه باید د خپل نوم د ژوندي ساتلو د پاره په دې ښارونو کې څه وکړم؟ په دې وخت کې د نویو قصرونو د ابادولو فکر ورته پیدا سو، وروسته یې بېرته فکر وکړ، چې ښایي داسې قصرونه او ابادی جوړې نه کړای سي، چې د تبریز تر موجوده قصرونو بهتر وي، خو باید بالاخره داسې څه وکړي چې خاطره یې د تل د پاره د خلکو سره ژوندی پاته سي. یو ناڅاپه یې امر وکړ، چې جوماتونه، قصرونه او حکومتي ودانۍ ټولې ونړوئ په داسې حال کې چې د مستۍ څخه یې غرغرې وهلې ویلې یې اوس مې نو څوک نه سي هېرولای. خلک به وایي، چې میرانشاه د تبریز تر ابادو قصرونو بهتر نه سو جوړولای، نو دونه زور خو یې درلود، چې د نړۍ تر ټولو ښایسته قصرونه یې د خاورو سره برابر کړل. په داسې حال کې چې د قصرونو تباه کېدلو دوام درلود ، میرانشاه د خپلې بنګلې په کړکۍ کې ولاړ و او پر لاندې خلکو باندې یې طلاوې پاشلې. میرانشاه په تبریز او سلطانیه کې د تیمور ذخیره کړې خزانې په خپلو مداحانو وویشلې او په لږ وخت کې یې خزانې تشې کړې. (١٦)

# د تیمور میراث خواره

تیمور خپل شپږ دیرش زامن او لمسیان د خپل قلمرو په بیلو بیلو سیمو کې مقرر کړي وه او کله چې د ده سترګې پټې سوې، سمدستي د انتظار سره سم ښورښونه او د تاج و تخت او ټول قلمرو د ترلاسه کولو د پاره جنګونه پیل سول.

کله چې هرات ته خبر ورسېدی، چې تیمور وفات سوی دی، نو د تیمور د زوی شاهرخ امیرانو، چې په هرات کې له هغه سره اوسېدل، سمدستي له ده سره بیعت وکړ، خو د تیمور لمسی د میرانشاه زوی، خلیل سلطان تر هر چا دمخه ځان سمرقند ته ورساوه او پاچاهي يې اعلان کړه. شاهرخ سمدستي د هرات څخه د سمرقند پر لور حرکت وکړ او امیر جلال الدین فیروز شاه ته یې امر وکړ، چې هرات به وروسته له دې د ده پایتخت وي او باید چې سمدستي د هغه په آبادولو بنا وسي. (۱۷)

تیمور د خپل مشر او ګران زوی جهانګیر میرزا، چې د ده په ژوند کې وفات سوی و، زوی پیر محمد میرزا په خپل ژوند کې ولیعهد مقرر کړی و او د مرګ په وخت کې یې د خپلو ټولو حاضرو امیرانو څخه بیعتونه او د وفادارۍ سوګندونه ورته واخیستل، مګر دا یې قواله په چا یې منې؟. خلک یوازې د ژوندي او جبار تیمور څخه بېرېدل او کله چې د هغه مرګ یقیني سو ، نو د هر شهزاده په دربار کې حاضرو امیرانو هغه ته د تخت او پاچاهي مبارکي ورکړه او د وفادارۍ سوګندونه یې ورسره یاد کړل پیر محمد ځان په بلخ کې پاچا اعلان کړ. د میرانشاه نورو زامنو عمر او ابوبکر په فارس او آذربایجان کې ځانونه پاچاهان اعلان کړل، شاه رخ میرزا په هرات کې پاچا سو او د تیمور قلمرو سره تیت سو.

دلته مونږ د تیمور د کورنۍ د شهزاده ګانو ترمنځ د جنګونو او لښکر کښیو په باب مفصل بحث نه کوو او صرف دونه وایو ، چې شاهرخ میرزا په هرات کې د سلطنت د اعلانولو سره سم د بشپړ قدرت د نیولو مبارزې ته داخل سو او د سمرقند پر لور یې حرکت وکړ. شاهرخ میرزا لا د آمو د

سیند څخه نه و پورې وتلې، چې په سمر قند کې خلیل میرزا او په بلخ کې پیرمحمد د ده د واکدارۍ د منلو وعده وکړه. شاهرخ میرزا د هغوي سره نور جنګ کول غوره ونه ګڼل او څه موده وروسته بېرته هرات ته ستون سو. شاهرخ میرزا د مدینت او علم د یوه ریښتوني علاقه مند په حیث خپل زیاتره وخت په هرات کې د مدرسو او د علمي مرکزونو آبادولو او د عالمانو او پوهانو سره مجلسونو ته وقف کړ او چنداني یې په فارس او آذربایجان کې د تیموري شاهزاده ګانو او امیرانو ترمنځ د قدرت په جنګونو کې برخه وانه خیستله.

# شاهرخ

شاهرخ میرزا د خپلو عمراني پروژو په لړ کې د خپلې مستقلې حکمرانۍ په نهم کال، یعني په کال ۱۴۱۳ میلادي کې په هرات کې د حصار اختیارالدین په نوم قلا، چې ملک فخرالدین کرت جوړه کړې او تیمور پر دغه ښار باندې د حملې په وخت کې نړولې وه، د سره آباده کړه. تیمور پر هرات باندې د حملې په وخت کې امر کړی و، چې د دغه ښار شاوخوا دیوالونه دې ونړول سي او بیا یې وروسته حکم وکړ،چې د اختیارالدین د قلا او د ښار د اصلي دیوال ترمنځ دې فاصله پیدا سي، چې د دغې قلا حاکمیت له منځه ولاړ شي. د دې قلا شرقي دیوال یې، چې پنځوس ګزه لوړ و د خاورو سره برابر کړ او په خرابولو کې یې اوو سوو زرو کسانو برخه واخیستله. د دغې قلا دیوالونه مخکې د اومو خښتو څخه جوړ سوي وه، مګر شاهرخ میرزا حکم وکړ، چې دا ځل دې هغه په ډبرو، آهکو، ګچو او پخو خښتو دا سې جوړ سي، چې په دغه ټینګ والي بله قلا چا د مخکې پر مخ نه وي لیدلې (۱۸)

شاهرخ میرزا د خپل څه باندې څلویښتو کالو سلطنت په زمانه کې، د خپلې مېرمنې ګوهر شاد آغا او زوی بایسنقر په مرسته هرات ته دونه کار وکړ، چې د دې ښار په تاریخ کې ښایي هیڅ سلطان نه وي ورته کړی. هرات د شاهرخ میرزا د پایتخت په حیث د علم، صنعت، تجارت او معماري یو لوی مرکز او د مصر، ترکیې او چین سره یې پرله پسې او منظم ډیپلوماتیک روابط ساتلي وه. داسې ښکاري چې د شاهرخ میرزا په زمانه

کې لا په هند کې د سيدانو شاهي کورنۍ چې تيمور قدرت ته رسولې وه، ځانونه د هرات د سلطنت تابع ګڼل او د ډهلي سلطان د جمعې د لمانځه په خطبه کې د شاهرخ نوم لومړی او خپل نوم وروسته ذکراوه. (۱۹)

# اجتماعي وضع

البته ټول هېواد د هرات په څېر سمسور او معمور نه و، د شاهرخ د پراخي امپراتورۍ په نورو سيمو، په تېره بيا کندهار او ګرمسير کې خلکو د حکومت د بدې اداري څخه شکايتونه درلودل او وسله وال قيامونه او ښورښونه يې کول. د دې کار يو علت ښايي دا وي، چې د تيموري سلطانانو زياتره توجه د خپل قدرت او عياشيو مرکزونو هرات، سمرقند، بخارا او ځينو نورو لويو ښارونو ته اوښتې وه او د دې مرکزونو د ښايسته کولو او آبادولو بار د امپراتورۍ د نورو ښارونو پر اوږو لويدې او په عوض کې د نورو ښارونو د خلکو د ژوند سمون ته چندانې توجه نه کېدله. کله چې موږ د تيمور او تيموريانو د تمدن او عظمت په باره کې خبرې کوو، نو معمولا سمدستي د هرات او وروسته د ميرزا الغ بيګ د پايتخت او مرکز سمر قند او بيا نو د بخارا په باب بحث کوو. په داسې حال کې چې په دغه دوره کې د فراه، نيمروز، کندهار، غزني او نورو ښارونو نوم چندانې نه اخيستل کېږي او نه د تيموريانو د تمدن د عظمت آثار په کې ليده کېږي.

د خلکو د شکايت دوهم علت څرګند دی او هغه د مغولو او تيموري خاندانونو د مشرانو او حکمرانانو عياشي او تن پروري ده. مغولي او تيموري پاچاهان له سهاره تر ماښامه يا د جنګ په ميدان کې ولاړ وه او يا د شرابو، رقص او ساز په مجلسونو کې ناست وه او په دې دواړو صورتونو کې د رعيت ژوند او هوسايي ته توجه نه سي کېدلای. مغولي شهزاده ګان زياتره د شرابو په چښلو کې د افراط په اثر مړه کېدل او په دې سلسله کې د شاهرخ ميرزا ګران زوی شهزاده بايسنقر، چې په خپل ژوند کې يې وليعهد ټاکلی و، د شرابو د لاسه مړ سو. بابر په خپلو خاطراتو کې د هرات د تاريخ د تر ټولو ستر پاچا سلطان حسين بايقرا په باره کې ليکي:

" سلطان حسين بايقراء د خپل سلطنت په لومړيو شپږو اوو کالو کې ډېر پرهېزګار سړی و. وروسته يې په خراسان کې د تقريباً څلويښتو کالو پاچاهي

په دوران کې د شرابو څښلو ته مخه کړه. داسې ورځ نه وه، چې ده به د ماپښين له لمانځه وروسته شراب نه څښل البته له هغه څخه مخکې یې نه څښل. د ده زامنو، عسکرو او په ښار کې هر یوه په عیاشۍ کې افراط ته لاس اچولی و." (۲۰)

مغولي شاهانو خپل ټول وخت په میلو او ښکارونو کې تېراوه او طبیعي خبره ده، چې په ولایاتو کې امیرانو، چې اکثر به د شاهي کورنۍ غړي وه. ځانونو ته واړه او لوی دربارونه جوړ کړي وه، هر یوه د پاچا ګردشي او د قدرت د اخیستلو د پاره د دسیسو له بېړې او یا پخپله د دسیسو د عملي کولو د پاره خپلو ځانونو ته واړه او لوی پوځونه ساتل، طبیعي خبره ده، چې د دې پوځونو او جنګونو لګښتونه هغو بېدفاع خلکو پوره کول، چې د قدرت او سلطنت په تغیر کې یې چنداني ګټه نه درلوده ، سر او مال ته به یې زیاتره وخت خطر متوجه و.

# شاهرخ او پښتانه

کله چې شاهرخ میرزا د دوهم ځل د پاره فارس فتح کړ، نو خپل وراره امیر زاده بایقرا یې د هغه د ټولو بدو اعمالو سره سره بیا هم عفو کړ، مهرباني یې ورباندې وکړه او هغه یې کندهار او د سیند خوا ته واستاوه او د هغې سیمې د حکمران امیرزاده قیدو مصاحب یې مقرر کړ. البته د امیرزاده بایقرا او قیدو ترمنځ ډېر ژر اختلافات او کورنۍ دسیسې پیل سوې او په دې ضمن کې سلطان ته خبر ورسېدی، چې د سیفل کندهاري د زوی سلطان بایزید او ملک محمد ترمنځ اختلافات پېښ سوي دي او د دوی د اختلافاتو او جګړو په وجه د سیمې ټول خلک په عذاب دي. کله چې د سلطان له خوا یو لوی امیر د دغه ښورښ د کرارولو د پاره سیمې ته ورسېدی، نو ورته معلومه سوه، چې خبره تر هغه چې دوی ته اطلاع رسیدلې وه ډېره غټه ده. د سلطان تواجي شاه ویس زوی د غزني ښار محاصره کړی و او سلطان بایزید کندهار ته راغلی او دا سیمه یې لاندې کړې وه. دغه راز شاهرخ ته اطلاع ورسېده چې افغانانو د ګرمسېر څخه د سیند تر اوبو پورې ټولې سیمې لاندې کړي دي او په هیڅ ډول نه

کنټرولیږي . افغانانو د خپلو خانانو او ملکانو په مشري ښورښ ته ملا تړلې وه او په سیمه کې د بې امنیتی د لاسه تجارت په ټپه دریدلی و.(۲۱)

شاهرخ مجبور سو، چې پخپله د وضع د کنټلو د پاره د کندهار سیمې ته سفر وکړي او په دغه وخت کې اطلاع ورته ورسیده، چې هزاره ګانو هم ښورښ کړی دی.

شاهرخ هزاره ګانو ته خبرداری ورکړ چې یا حکومت ته تسلیم سي او یا که چېرې لښکر ورباندې ورسي نو بیا به یې هر څه چور او تالان سي. شاهرخ میرزا د کال ۸۲۰ هـ ق د شعبان پر دیروېشتمه کندهار ته ورسیدی او امیر زاده بایسنقر ته یې امر وکړ، چې پر هزاره ګانو حمله وکړي. د همدغې میاشتې په اوه وېشتمه مولنا ابراهیم شاهرخ ته اطلاع ورکړه چې د هزاره ګانو مشران مجد فیروز، خواجه ارام او قدم او نور د شاهرخ میرزا حضور ته راځي، ځکه نو هغه بېرته خپل زوی بایسنقر ته سړې واستول، چې پر هزاره ګانو باندې حمله مه کوه. (۲۲)

البته زبدته التواریخ، چې پخپله د شاهرخ میرزا په ژوند کې د هغه په امر د هغه په دربار کې لیکل سوي دي او د دغه عصر د پېښو په باب تر ټولو موثق او د اعتماد وړ تاریخ دی او نه له هغه څخه وروسته لیکل سویو پخوانیو او معاصرو تاریخونو د سلطان بایزید او د هغه د ملګرو یاغي پښتنو په باب څه لیکلي دي، خو دونه قدر معلومه ده ، چې شاهرخ میرزا د پښتنو او هزاره ګانو د ښورښونو په کرارولو بریالی سوی نه دی او بېرته یې ډېر ژر د هرات پر لور حرکت کړی دی. شاهرخ د هزاره ګانو او افغانانو ښورښ دونه بېرولی دی چې صرف د هغو د تسلیمېدو په وعده او د هزاره ګانو د امرانو او ملکانو څخه صرف د سلو اسونو او څو غوایانو او پسونو په اخیستلو قانع سوی دی. (۲۳) په داسې حال کې چې په هغه زمانه کې چې به کوم قوم ښورښ وکړ، نو د سرونو څخه به یې کله منارونه جوړېدل او یا به د سزا په توګه د میلیونو درهمو تاوان ورڅخه واخیستل سو.

## د تیموریانو قلمرو تر شاهرخ وروسته

میرزا شاهرخ د خپلو ټولو مدنې، علمې او عمرانې کارونو ترڅنګ هیڅ وخت ارام ته پاته نه سو او زیاتره وختونه یې د تیمورې شاهزاده ګانو د ښورښونو په ځپلو او لښکر کښیو تېر سول. بالاخره په داسې حال کې چې

عمر یې ۷۲ کالو ته ورسېدی، د عراق د حکمران میرزا سلطان محمد د بغاوت د ځپلو د پاره رهي سو، دمخه تر هغه چې د شاهرخ او مېرزا سلطان محمد د لښکرو ترمنځ دی جګړه وسي او یا دي سلطان محمد جوړې ته حاضر سي، شاهرخ په لاری کي وفات سو او د تیموري امپراتوری پراخ قلمرو یو ځل بیا د شهزاده ګانو او امیرانو ترمنځ د جنګونو میدان سو.

شاهرخ میرزا د خپلي وروستی لښکر کشی څخه مخکي خپل لمسی میرزا علاؤالدوله، د بایسنقر میرزا زوی په هرات کې پرې ایښی ؤ او ګوهر شاد آغا ، چې د شاهرخ میرزا سره په ورستي سفر کې ملګرې وه تر ټولو دمخه میرزا علاؤالدوله ته خبر ورکړ. هغه سمدستي پر هرات باندي قبضه وکړه او امیرانو ته یې د انعامونو ورکولو د پاره د شاهرخ د خزانو دروازې خلاصې کړې.

د شاهرخ مېرزا دانشمند او عالم زوی میرزا الغ بیګ دا وخت په سمر قند کې ؤ او د تخت او تاج د وارث په حیث یې پر خپل نامه خطبه وویله او سمر قند یې خپل پایتخت وټاکه. د الغ بیګ میرزا زوی میرزا عبداللطیف، چې د خپل نیکه سره په وروستي سفر کې ملګری و، خپل جنرالان او امیران د ځان سره ملګري کړل او خپله انا ګوهر شاد آغا یې بندي کړه، مګر څرنګه چې میرزا عبداللطیف د تیموري خاندان د اکثرو شهزاده ګانو په څېر عیاش او ضمناً د لیونتوب تر سرحده ظالم سړی و، نو سمدستي یې امیرانو بنوربښ وکړ، ګوهر شاد آغا یې له بنده خلاصه کړه او میرزا عبداللطیف یې ونیوی. ګوهر شاد د خپل مېړه شاهرخ میرزا د مړي سره هرات ته ورسېده او هغه یې د ګوهر شاد آغا په مدرسه کې د خپل زوی میرزا بایسنقر تر څنګ خاورو ته وسپاره. میرزا علاؤالدوله، چې خپل ځان یې په هرات کې پاچا اعلان کړی ؤ د خپل اکا میرزا الغ بیګ سره وعده وکړه، چې ډېر ژر به د هرات خزانې سمر قند ته واستوي، مګر څرنګه چې پر خپله وعده یې وفا ونه کړه، نو لږه موده وروسته میرزا الغ بیګ د هرات پر لور لښکر کښي وکړه او علاؤالدوله د ډېرو زیاتو پوځیانو سره د هغه مخې ته وروت. علاؤالدوله ماته وکړه او د خپلې انا ګوهر شاد اغا او نورو جنرالانو او امیرانو سره عراق ته ولاړ او خپل ورور میرزا بابر ته یې، چې د هغه ایالت حکمران و، پناه یوړه. میرزا الغ بیګ د هرات د فتح نه وروسته مشهد ته ولاړ او په دغه وخت کې یو تیموري شهزاده ، سلطان ابوسعید د سلطان محمد زوی او د میرانشاه لمسی، د عمر شیخ پلار او د

بابر نيکه د هرات لـه بنديخانې څخـه وتښتېدی او پـه لـږه مـوده کـې يې دونـه عسکر برابـر کـړل، چـې د خپـل دوسـت مـيرزا يـار علي ترکمان پـه مرسـته يـې هرات محاصره کړ. الـغ بيګ مـيرزا د هغـه د دفع کولـو د پـاره د مشهد څخـه حرکت وکړ. هرات تـه لا نـه و رسېدلی، چـې د سلطان ابـو سعيد لښکرو ماتـه وکړه او الغ بيګ مرزا خپلو لښکـرو تـه امـر وکـړ، چـې د هـرات د شـاو خـوا کلـي ټول چور کـړي، ځکـه چـې د سلطان ابوسعيد او مـيرزا يـار علي ترکمـان سره يـې د هـرات د ښار د محـاصره کولـو پـه وخـت کـې مرسـته کـړې وه، عسـکرو درې ورځې او شـپې کلـي چـور کـړل او کلــه چــې د کليــو او اطرافــو اوسېدونکو تـه هيـڅ پاتـه نـه سـول، نـو د شهريار د رحمـت سـيند پـر جـوش راغی او عسکرو ته يـې امـر وکـړ، چـې نـور د چـور او تـاړاک څخـه لاس واخلـي. لـځو او ژړانـدو خلکـو چـې ټول د يخنـی څخـه لړزېدل، د الـغ بيګ مـيرزا پـه دعا پيل وکـړ.(۲۴)

ميرزا بـابر او مـيرزا علاؤالدولـه د عـراق څخـه د مشهد پـر لـور حرکـت وکـړ، پـه مشهد کـې د الـغ بيـګ زوی عبداللطيـف د هغـوې د حرکـت د خـبر د اورېدلو سره سـم هـرات تـه مخـه کـړه. څرنګه چـې مـيرزا الـغ بيګ خپـل ځان پـه هـرات کـې مصوٌن نـه ليـدی ، نـو ښار يـې خپـل زوی مـيرزا عبداللطيف تـه پرېښود او د پريمـانو خزانـو او عتيقـه آثـارو سره يـې د سمر قنـد پـر لـور حرکـت وکړ. د پـلار مړی يـې د قبر څخـه را وايسـت او تـابوت يـې د سـمر قنـد پـر لـور روان کـړ. مـيرزا بـابر د دې خـبر د اورېدلـو سره سـم د الـغ بيک خـوا تـه يـوه لويه قوه واسـتوله، د مـېرزا بـابر د قـواو قومندانـان امـېر هندوکـه د الـغ بيګ پـر قواو باندې حملـه وکـړه، يـو لـوی جـنرال يـې ژونـدی ورڅخـه ونيـوی او ډېرې زياتې خزانـې يـې ترلاسـه کـړې. الـغ بيګ د آمـو پـر سـيند بـاندې د وړو کښتيـو پـل جـوړ کـړ او کلـه چــې د سـيند څخـه پـورې ووت، نـو اوزبکـانو حملـه وربـاندې وکـړه، ډېره زياتـه خزانـه يـې ورڅخـه لـوټ کـړه او الغ بيګ ايلـه پـه تش لاس پـه زرو خواريـو ځان بخـارا تـه ورسـاوه. د پـلار مړې يـې سـمر قنـد تـه واستاوه او هلته يې د تيمـور څنګ تـه ښخ کـړ.

د مېرزا بـابر قـواوې فوشـنج تـه ورسـېدلې او مـيرزا عبداللطيف چـې خـبر سو نو سمدستي يـې د هـرات څخـه تېښتـه وکـړه. مخکـې لـه هغـه چـې د مـيرزا بـابر عسـکر د هـرات ښار تـه ورسـېږي، د هغـه د قـواو لـوی قومـاندان امـير هندوکه د ښار شته منـي لـوټ کـړه او پخپلـه مـيرزا بـابر پـه کـال ۸۵۲ هـ ق کـې

هرات ته ننوت او د تيموري شاهزاده ګانو او سلطانانو د اصولو سره سم يې په عيش او عشرت او د انعامونو په وېشلو پيل وکړ.

# الغ بيګ او عبداللطيف

د ميرزا الغ بيګ او د هغه د زوی ميرزا عبداللطيف ترمنځ، چې د بلخ حکومت يې په لاس کې و، د کورني اختلاف خبره د ميدان جګړې ته ورسېده. الغ بيګ د بخارا څخه د خپل زوی سره د جنګ د پاره لښکر رهي کړ او په دغه وخت کې چې د ده پوځيان د آمو د سيند پر يوه غاړه او د زوی لښکر يې پر دغه بله غاړه پروت و، سلطان ابو سعيد کورګان، چې د الغ بيګ په کور کې لوی سوی و، د هغه بل زوی ميرزا عبدالعزيز په سمر قند کې محاصره کړ.

الغ بيګ د خپل زوی د خلاصولو د پاره لښکر د سمر قند په لوری رهي کړ، کله چې سمر قند ته نږدې سو، سلطان ابو سعيد د ښار محاصره پرېښودله او د ښار څخه ليرې ولاړ. دا وخت د ميرزا عبداللطيف لښکر په الغ بيګ پسې راورسېدې او څرنګه چې الغ بيګ د جګړې توان نه درلود، نو غوښتل يې چې سمر قند ته ننوزي او له هغه ځايه د خپل زوی سره جګړه وکړي، مګر د سمر قند خلکو د ښار دروازې ورته وتړلې او الغ بيګ د خپل زوی په لاس کې بندي سو. ميرزا عبداللطيف په لومړي سر کې د خپل پلار سره ډېر ښه سلوک وکړو او وروسته يې د حج پر لور روان کړ. په لاره کې يې جلادان ورپسې واستول او مړ يې کړ. عبداللطيف سمر قند ته ننوت او پاچاهي يې اعلان کړه. هغه چې پر هر چا بدګمانه و او فکر يې کاوه، چې د ده په ضد په کومه دسيسه کې برخه لري، هغه يې وواژه او په لږ وخت کې يې ځان د مخالفينو څخه بېغمه کړ، مګر د سلطنت يې ايله شپږ مياشتې پوره سوې وې، چې خپلو باقي پاته مخالفينو کور ته د تګ په لاره کې وواژه او سر يې د الغ بيګ له مدرسې سره وځړاوه. په دې توګه د هغه د

قدرت لنډه زمانه، چې د خپل پلار په وژلو پیل سوې وه پای ته ورسېده او ښورښیانو خپل مشر عبدالله شیرازي په سمر قند کې پاچا کړ.

# هـــرات

مېرزا بابر هم په هرات کې چنداني ښغمه شپې تېرې نه کړې او د پاچاهي ټول کلونه یې د خپلو ورونو، میرزا سلطان محمد او میرزا علاؤالدوله او نورو تیموري شهزاده ګانو سره په لویو او کوچنیو جنګونو تېر سول. خلاصه دا چې د هرات د قلمرو په هره برخه کې جنګ، چور او تالان روان و. د هرې سیمې د زراعت، تجارت او کلیو کورونو لوټېدلو محصول هرات ته راوړل کېدې او دلته ټول محصول په جنګ او لښکر کښېو، عیاشیو او بخششونو لګېدي. میرزا بابر یو ځل د سمر قند پر لور، چې د سلطان ابو سعید په لاس کې و لښکر کښي وکړه او ځلویښت ورځې یې دا ښار محاصره کړ. په پای کې یې د سلطان ابو سعید سره سوله وکړه او د آمو سیند یې د ماوراءالنهر او خراسان د حکومتونو ترمنځ د سرحد په حیث قبول کړ.

مېرزا بابر د اوه کاله پاچاهي څخه وروسته یوه ورځ په مشهد کې د شرابو او عیش او نوش په محفل کې ناڅاپه ناجوړه سو او فکر کیږي، چې چا به په شرابو کې زهر ورته اچولي وه او په هغه شپه وفات سو. د هغه د وفات سره سم یې پېنځه لس کلن زوی شاه محمود په هرات کي پر تخت کښیناست. د تیموریانو د امپراتوري حالات داسې نه وه، چې یو بې تجربې او په حرم کې لوی سوی شهزاده دې د هرات تاج او تخت خوندي کړای سي. پس له دوه دریو میاشتو د میرزا علاؤالدوله زوی میرزا ابراهیم قدرت

ورځخه ترلاسه کړ، میرزا ابراهیم ایله شپږ میاشتې د پاچاهي مزه وڅکله. چې د ماوراءالنهر څخه سلطان ابو سعید لښکر کښې ورباندې وکړه. هغه هرات ډېر ژر فتح کړ او په اوله مرحله کې یې د شاهرخ میرزا مېرمن ګوهر شاد آغا، چې مرکزي اسیا، خراسان او ایران یې د علم، فرهنګ ، معماري، صنعت ، شعر او ادب، نجوم، خطاطي او د تمدن له هره پلوه پورورې وه، په دي تور اعدام کړه، چې د ده پر ضد یې د خپل کړوسي شهزاده ابراهیم سره دسیسې جوړولې.

په اتو میاشتو کې په هرات کې د دریو پاچاهانو قدرت ته رسېدلو ، د ښار او اطرافو خلکو ته د نورو تاوانونو ترڅنګ یو دا تاوان ورساوه، چې د هرات خلکو په یوه کال کې درې ځله مالیات ورکړل. یو ځل شاه محمود ته، دوهم ځل میرزا ابراهیم ته او بیا سلطان ابو سعید ته. (۲۵)

# سلطان ابو سعید میرزا

د سلطان ابو سعید میرزا د سلطنت زمانه دوولس کاله وه او تقریباً ټول وخت یې په لښکر کشیو او جنګونو کې تیر سو. سلطان ابو سعید د یوې خوا د خپلو کورنیو شهزاده ګانو په ځپلو او د بلې خوا د ترکمنانو سره په جګړو بوخت و او د هرات د ښار ابادولو او د علم او فرهنګ د پاره کار کولو ته یې ډېر لږ وخت درلود. سلطان ابو سعید بالاخره د ایران د قره باغ سره نیژدې د ترکمنانو د واکمن حسن بیګ په مقابل کې ماته وکړه، هغه بندي کړ او تیموري شهزاده ګانو ته یې، چې د هرات د نیولو د پاره یې مبارزه کوله، وسپاره. میرزا یادګار محمد هغه د خپل انا ګوهر شاد آغا د قتل په قصاص کې په کال ۱۴۶۸ م کې وواژه او پخپله په هرات کې پاچا سو. میرزا یادګار محمد صرف څو میاشتې د هرات د تخت مزه وڅکله او په هماغه کال د تیموري خاندان تر ټولو قوي شاهزاده، سلطان حسین بایقرا پر هرات باندې حمله وکړه، یادګار محمد یې وواژه او پخپله یې قدرت تر لاسه کړ.

# سلطان حسین بایقرا او د هرات د عظمت کلونه

د سلطان حسین بایقرا د تقریباً څلویښتو کالو سلطنت دوره په تېره بیا لومړنۍ درې لسیزې د هرات د نیکمرغۍ او سمسورتیا زمانه وه. داسې ښکارېدله چې بېرته د شاهرخ میرزا عصر پیل سوی دی تجارت، صنعت، علم او ادب هرڅه په ترقي کې وه. سلطان د خپل عالم وزیر امیر علي شیر نوایي په مرسته هرات ته د هره حیثه خدمت وکړ او د هرات ښار بیا د مرکزي آسیاناوې سوه.

خو د سلطان حسین بایقرا د ادارې یو کمزوری او ښایي تر ټولو کمزوری ټکی دا و چې هغه د هرات په شان یوه مهم ستراتیژیک، تجارتي او هنري مرکز د نیولو څخه وروسته خپلې ټولې هغه خوارۍ هېرې کړې، چې د دغه ښار د نیولو د پاره یې ګاللې وې او پینځه شپږ کاله وروسته یې اداره تقریباً ټوله خپلو وزیرانو او درباریانو ته، چې البته ټول لایق خلک وه، پرېښودله او پخپله په عیش او نوش لګیا سو.

ظهیرالدین بابرلیکي" عجیبه خبره دا ده، چې د سلطان حسین میرزا په شان یوه لوی سلطان، چې د هرات په شان یوه ستر ښار باندې یې حکومت کاوه، د څوارلسو زامنو له جملې څخه صرف درې تنه یې د هغه د قانوني او شرعي کوزدې محصول وه. سلطان، د هغه زامن، خپلوان او درباریان ټول په عیش او فساد کې ډوب وه. (۲٦)

البته د دې خبرو سره سره د هغه د پاچاهۍ تر وروستیو کلونو پورې د هرات وضع ډېره سمه وه. د دې یو علت دا و، چې سلطان حسین د خپلو ټولو عیاشیو سره ډېر تکړه جنرال و او د عمر تر وروستیو لحظو پورې پخپله د جنګ په میدانونو کې حاضرېدی او د پوځ په مخ کې به روان و. یو ځل خو حتی ویل کیږي، چې د خپلو شپېتو ملګرو سره یې د سلطان ابو سعید پر دریو زرو جنګیالیو باندې، چې د هغه د یوه منصبدار محمد علي په رهبرۍ جنګېدل حمله وکړه او ډېره سخته ماته یې ورکړه. (۲۷)

بله خبره چې د ده د سلطنت د دوام او قلمرو د سمسورتیا عامل و. هغه دا و، چې اداره او قدرت یې لایقو خلکو ته سپارلی و. امیر علي شیر نوایي، چې د ده ډېر نیژدې ملګری هم و، پخپله یو فعال سیاستمدار، عالم



امیر علي شیر نوائی



لوی عارف مولانا عبدالرحمن جامي

د استاد بهزاد د انځورګرۍ له مخې کاپي سوی دی

او پوخ شاعر ؤ او خپله تولـه توجـه يې د هـرات د علـم او فرهنګ د انکشـاف خوا ته اړولې وه. بابر وايي امير علـي شير نوايـي په خپلـه زمانـه کې ساری نـه درلود او هيڅ چا په ترکـي ژبـه کې د ده په شان قلـم نـه سو ځغلـولای. هغـه شپږ مثنوي او د غزليـاتو ځلـور ديوانونـه ترتيب کـړل. هغـه پـه فارسـي ژبـه هـم ديوان ترتيب کړ بابر وايـي فارسـي شعرونه يـې ځينې بـد نـه دي، مګر د اکثرو خوند يـې نسته، هغـه پـه موسيقي کې کمپوزونـه وکـړل او بـابر بـالاخره وايـي چې په هيـڅ زمانـه کې بـه چـا د امير علـي شير پـه ډول د پوهـانو او د کمـال د خـاوندانو دومـره خدمـت او ساتنه نـه وي کـړي. د ده لـه برکتـه او د ده د توجـه پـه اثـر د موسيقي، هـنر انکشـاف کـاوه او استادانو کمپوزونـه جـوړول او د ده برکت و چې په هـرات کې د بـهزاد او شـاه مظفر پـه شـان نقاشـانو دومـره ښايستې نقاشـې وکـړې. (۲۸)

د سلطان حسين ميرزا د پـاچاهـۍ پـه سر کې پـه مـالي چـارو کې انتظـام موجـود نـه و او چـې خزانـې تـه څه پيسې راوړل کېدلې د مصـرف او لـګښت درک يې هيـڅ چاتـه معلـوم نـه و. دولتـي خزانـه بـه معمـولاً تشه وه او د عسکرو څخه نيـولې تـر دهقـان، تـاجر او مـامور پـورې هـر چـا شکـايت درلـود. سـلطان حسين بـايقرا د دې نقيصې د رفـع کولـو د پـاره د مـالي چـارو اداره ( ديـوان) مجد الدين محمود ته وسپارله. د هغـه د کـار او فعـاليت لـه برکتـه پـه لـږه مـوده کې خزانـه دونـه ډکـه سـوه، چـې نـه د عسـکر او نـه د دهقـان د شکـايت چيغـه پورته کېدلـه . البتـه څرنګه چـې درباروـنه معمـولاً د دسيسـو ځـالې وي نـو دغـه لايـق ديـوان هـم د دغـو دسيسـو قربـاني سـو او د بنديخـانې شـومه سـو. لـه ده څخه وروسته چې نور کسـان پـه دغـه مقام مقرر سـول، هغـوې يـا اعـدام سـول او يا د ده په شان يو په بـل پسې بنديخـانو تـه واسـتول سـول. (۲۹)

د سـلطان حسين بـايقرا زمانـه د هـرات او خراسـان د رنسـانس دوره وه. پـه دې دوره کې امير علـي شير نوايـي، بـهزاد، جـامي او بنـايي ژونـد کـړی دی او سـړی ويـلای سـي ، چـې داسـې څه نـه وه چـې هـرات او خراسـان نـه درلـوده. د مولنـا عبدالرحمـن جـامي پـه بـاره کـې د بـابر خـبرې ډېرې ښې لګيږي. بابر وايي جـامي پـه خپـل عصر کې پـه ظـاهري او بـاطني معرفـت کې ساری نه درلـود. د هغـه شـعرونه دونـه مشهور دي، چـې د هغـه پـه بـاب خـبرې زما له توانه وتلـي دي. زه صـرف د وظيفـې پـه حيث دلتـه د هغـه نـوم يـادوم او غـواړم، چـې د هغـه د شـان د يـوې ذرې پـه يـادولو سره خپـل عاجزانـه کتـاب سنګين او تـبرک کـړم. (۳۰)

دغه راز په دغه عصر کې شیخ الاسلام صفي الدین احمد، چې په عربي علومو او احادیثو کې استاد و، مولنا شیخ حسین، میر جمال الدین، چې د بابر په قول یې په ټول خراسان کې د احادیثو په علم کې ساری نه درلود، د مولنا جامي شاګرد او مرید میر مسعود، میر عبدالغفور او په سل هاو نورو پوهانو او علماو د سلطان حسین بایقرا د سلطنت په دوره کې په ارامه او پوره زړه خپلو تحقیقاتو ته دوام ورکاوه.

په دې دوره کې د مولنا جامي، امیر علي شېر نوایي، بنایي ، آهي ، هلالي، میر حسین، میر محمد بدخشي ، یوسف بدیع، مولنا شاه حسین کامي او په سل هاو نور شاعران او سېدل، چې د خپل فطري استعداد د اظهار او د شعر او ادب د انکشاف د پاره یې د سلطان حسین بایقرا په شان یوه منور سلطان ته ، چې پخپله یې هم شعر وایه او په موسیقي کې یې هم کمپوزونه کول، ضرورت درلود.

په دغه دوره کې د هرات د آبادیو. باغونو، مدرسو، قصرونو، جوماتونو، زیارتونو ، میله ځایونو او پلونو اټکل د بابر د هغې لنډې یادونې څخه ، چې د خپلو خاطراتو په کتاب کې یې کړې ده، ګولای سو. بابر د سلطان حسین د وفات سره سم هرات ته رسېدلی دی او د سلطان حسین کورنۍ او اولادونو، هغه د کورنۍ د یوه غړي مېلمه په حیث په قصرونو او باغونو ګرځولی دی . دې په دې جمله کې د ګازرګاه، علي شیر باغچه، د کاغذي چار مغزو باغ، تخت آستانه، باغ نظر ګاه، نعمت آباد، تخت سفر، تخت نوایي، تخت برکر، تخت حاجي بیګ، تخت بهاؤالدین عمر، د عبدالرحمن جامي زیارت، حوض ماهیان، د ګوهر شاد آغا مدرسه او زیارت باغ جدید، باغ زبیده، د سلطان ابو سعید میرزا سپین قصر او د غه راز د ډېرو زیاتو قصرونو، باغونو، پلونو او مېله ځایونو یادونه کوي. (۳۱)

د دې نومونو څخه سړی اټکل کولای سي، چې هرات د سلطان حسین بایقرا د قدرت په زمانه کې د سمسورتیا او آبادۍ کوم سرحد ته رسېدلی و.؟



سلطان حسین بایقرا



د سلطان حسین بایقرا قبر په هرات کې

# د سلطان حسين بايقرا وروستي کلونه او د هرات انحطاط

د تيموري خاندان د تاريخ د معمول سره سم، د سلطان حسين بايقرا د سلطنت په وروستيو کلونو کې هم شورشونه پيل سول. په دې سلسله کې حتٰی سلطان د خپل مشر زوی بديع الزمان په جنګ ووت. په داسې حال کې چې سلطان حسين ته په خپل کور کې اوربل و، په ماوراءالنهر کې محمد شيباني، چې د چنګيز خان د زوی جوجي د نسله و، ورځ په ورځ قدرت ترلاسه کاوه او د سلطان حسين بايقرا قلمرو يې تهديداوه. سلطان حسين بايقرا د خپلو کورنيو اختلافاتو د حلولو او خارجي دښمن د دفع کولو د پاره هرې خوا ته لاس واچاوه او بالاخره يې ظهيرالدين محمد بابر ته، چې تازه يې په ماوراءالنهر کې فتوحات کړي او کابل يې لاندې کړی و، هرات ته د ورتللو بلنه ورکړه او پخپله د اويا کالو په عمر د محمد شيباني په جنګ ووت. خو عمر وفا ورسره ونه کړه او د هرات په نيږدې حدودو کې په کال ۱۵۰۷ م ناروغ او وفات سو. بابر ته په لار کې د سلطان حسين د مرګ خبر ورسېدی، خو هغه خپل سفر ته دوام ورکړ او کله چې هرات ته ورسېدی، نو وئې ليدل چې د هرات د درباريانو د سلطان حسين بايقرا سلطنت د هغه د دوو زامنو، بديع الزمان مېرزا او مظفر حسين مېرزا ترمنځ په مساوي شکل وېشلې او دواړه په ګډه پر هرات باندې سلطنت کوي. بابر په دې پوه سو، چې د هرات سلطنت نور د ځان ځخه د دفاع توان نه لري او دې هم نه سي کولای، چې د محمد شيباني خان د قوي لښکرو په مقابل کې ودرېږي، نو په سره ژمي د هرات ځخه د هزاره جات د لارې کابل ته روان سو او په ډېرو خواريو يې ځان تر مزله ورساوه.

لکه څرنګه چې يې بابر اټکل کړی و، چې د سلطان حسين بايقرا زامن به د شيباني خان په مقابل کې مقاومت ونه کړای سي، هغسې پېښه سوه. د سلطان زامنو بديع الزمان ميرزا او مظفر حسين ميرزا د شيباني خان سره د بادغيس سره نيږدې، جنګ کې ډېره سخته ماته وکړه. مظفر حسين ميرزا بدخشان ته ولاړ او هلته وفات سو. بديع الزمان ميرزا آذربايجان ته ولاړ او څه موده وروسته يې ترکيې ته هجرت وکړ او تر مرګه پورې هلته پاته سو.

# شیباني خان د هرات د قدرت پر تخت

شیباني خان د بلخ، اندخوی، مرغاب او بادغیس د نیولو او د روغې شرایطو ته د کندهار د حاضرولو څخه وروسته د هرات ښار محاصره کړ. څرنګه چې د هرات امیران او سرداران د خزانو او پوځونو سره یو ځای مخکې له مخکې وتلي وه، نو ښار د پخوا په شان مقاومت نه سو کولای او شیباني خان ته تسلیم سو. شیباني خان تر هر څه دمخه د سلطان حسین بایقرا د حرم ښځې، یا ځانته په نکاح او یا یې پر خپلو امیرانو ووېشلې او بیا یې نو د هرات د ښار پر اوسېدونکو باندې سل زره مثقاله سره زر، چې هر مثقال یې شپږ دیناره کېدی، حواله ورکړه. د محمد خان شیباني لښکرو په ښار کې د حوالې شویو پیسو د حاصلولو په پلمه کورونه او مالونه چور کړل او دونه زر، جواهرات، ورېښمینې جامې او قیمتي شیان یې ترلاسه کړل، چې معادل یې د هیڅ پاچا په خزانه کې نه لېده کېدی. د شیباني خان عسکرو نه د چا د سر، نه د مال او نه د ناموس مراعت وکړ او چې په ښار کې څه په لاس ورغلل هغه یې ټول چور او تالا کړل.

شیباني خان وروسته خپلو قواو ته امر وکړ، چې په خراسان کې ښار په ښار وګرځئ او هر چېرته چې تیموري شهزاده ګان او امیران پېدا کوئ هغه دې له منځه یوسئ. د شیباني خان قواو په مشهد، نیشاپور، استرآباد او ترشیز کې د تیموري شهزاده ګانو پوځونو ته، چې اوس نو یوازې د پوځ نوم ورته پاته و، ماتې ورکړې. ځینې یې مړه کړل او ځینې یې داسې مات او لوټ کړل چې بیا یې د سر پورته کولو توان پېدا نه کړ. (۳۳)

# صفوي شاه اسماعیل او شیباني خان

په دې کې شک نسته، چې د شیباني خان لښکرو په ماوراءالنهر او خراسان کې په ډېر لږ وخت کې ډېر لوی جنګونه وګټل او چې هر ځای د هر چا سره مخامخ کېدل فتح د دوی په نصیب وه. مګر په دې وخت کې په ایران کې د صفوي سلسلې موسس شاه اسماعیل صفوي د نوي امپراتورۍ اساس ایښی و او لږ تر لږه په خپل قلمرو کې یې د شیباني خان د قواوو د لوټمار او پرمختګ مخه ونیوله. کله چې د شیباني خان قواوو د خراسان د لوټ او تالان په سلسله کې د صفوي شاه اسماعیل قلمرو په تېره

بیا د کرمان ښار لوټ کړ. نو شاه اسماعیل شیباني خان ته یو استازی واستاوه او د خپلو لوټ سویو سیمو تاوان یې ورڅخه وغوښت. شیباني خان ته یې ولیکل، چې که نور هیڅ نه وي په آینده کې د دغه راز حملو مخه ونیسي، شیباني خان، چې خپلو پرله پسې فتوحاتو ډېر سخت مغرور کړی و، هغه ته یو توهینونکی جواب واستاوه او ورته وې لیکل، چې زه په نیژدې آینده کې حج ته ځم او په لاره کې به ستا سره خبرې وکړم. شا اسماعیل صفوي، چې دا وخت د ځلېرویشتو کالو و او د ځوانۍ په نشه کې و. شیباني خان ته متقابل توهینونکی جواب واستاوه او ورته وې لیکل چې زه ډېر ژر د مقدس مشهد زیارت ته ځم او امید دی، چې هلته دې ووینم. شاه اسماعیل شیباني خان ته ولیکل چې تا د خبرو پر ځای جنګ ته ترجیح ورکړې ده، نو زه هم د جنګ میدان ته تیار ناست یم او زما او ستا ترمنځ فیصله به توره کوي. (۳۴)

شاه اسماعیل بې له دې چې د شیباني خان جواب ته منتظر سي، سمدستي د خراسان پر لور حرکت وکړ. په لاره کې یې د شیباني خان تیت او پرک پوځونه یو په بل پسې مات کړل او د وعدې سره سم مشهد ته ورسېدی. په مشهد کې ي د امام رضا د زیارت کولو او خیراتونو د وېشلو څخه وروسته د هرات پر لور رهي سو. شیباني خان په دغه وخت کې خپلو امیرانو او جنرالانو ته تازه رخصت ورکړی و او هغوې د وخته د خپلو قواو او لوټلو مالونو سره د ماورالنهر پر لور رهي سوي وه. شیباني خان په دغه وخت کې په دومره غیر منتظره توګه د شاه اسماعیل سره جنګ ته تیار نه و، خپل یو جنرال جان وفا میرزا یې په هرات کې پرېښود او خپله یې د مرو پر لور حرکت وکړ، خو جان وفا میرزا هم په ځان کې د مقاومت توان نه لېدی او بې له دې چې د هرات د ښار دروازې وتړي او د محاصره سوي ښار د خلاصېدلو د پاره د شیباني خان مرستې ته منتظر سي، خو ورځې وروسته په شیباني خان پسې ماوراءالنهر ته حرکت وکړ. په لار کې د شاه اسماعیل او جان وفا د قواو ترمنځ په یوه سخته جګړه کې د شاه اسماعیل یو لوی جنرال ووژل سو، مګر جان وفا میرزا سره له هغه هم ماته وکړه او شاه اسماعیل هغه د مرو تر دیوالونو پورې تعقیب کړ. شاه اسماعیل د مرو ښار قلا بند کړ، د ښار څخه د باندې د دواړو خواو ترمنځ خو ورځې جګړې روانې وې او په پای کې شاه اسماعیل پوه سو، چې که دلته نور هم پاته سي، نو د یوې خوا په دې سره صحرا کې د خپلو پوځیانو د پاره

خوراکي مواد نه سي برابرولای او لـه بلې خـوا ښايـي پـه نيـژدې آينـده کـې د ماورالنـهر او ترکستان د ګډو قـواو د سـختې حملې سـره مخـامخ سـي. هغـه فيصله وکړه چـې پـه هـر چـل کيـږي شـيباني خـان د جنګ ميـدان تـه تحريک کـړي او د تـل لپـاره ځان ورڅخـه بېغمـه کـړي. شـيباني خـان تـه يــې وليکــل، چـې زه پـر خپلـه وعـده ودرېدم. مشـهد تـه ولاړم او.هلتـه مـې تـه ونـه ليـدې دا دی دلتـه راغلم او تـا د ښار دروازې وتړلـې نـو زه ځم او کـه دې هــر وخــت د مکـې معظمـې زيـارت تـه نيـت و، پـه لاره کـې حـاضر يم چــې درســره ووينــم. شـاه اسـماعيل صفـوي حرکـت وکـړ او چـال يـې کـار وکـړ. شـيباني خـان فکــر وکړ، چې شـاه اسـماعيل عقـب نشـينۍ تـه مجبـور سـوی دی، نـو سمدسـتي يـې د خپلو ټولـو هوښيـارو جـنرالانو او اميرانو د مشـورو پـه خـلاف، پـر هغـه بـاندې د شـا لـه خـوا د حملـې کولـو او لـه هغـه څخـه د ځان د بېغمــه کولــو فيصلـه وکړه. د مـرو څخـه د يـوې ورځـې پـه فاصلـه لـيرې کېدلـو څخـه وروسـته پـه دې پوه سو، چې شــاه اسـماعيل عقـب نشـينې نـه ده کـړې، بلکـې د پـوځي خدعـې څخه يې کـار اخيسـتی دی. شـيباني خـان ډېر ناوختـه خپلـې اشـتباه تـه متوجـه سو او دا وخـت کـار لـه کـاره تېر و، هغـه د خپلـو جـنرالانو څخـه ډېر لـيري و او هيڅ ډول مرسـته نـه سـوای ور رسـېدلای او د خپلـو پنځـه ويشــتو زرو پوځيــانو سـره، چې اکـثر يـې د قبـايلو د خانـانو او لويـو مشـرانو زامـن وه پــه يــوه ورځ ووژل ســو.

# تيمــور او تيموريــان

۱. روضـة الصفــا ص ۱۰۸۲

۲. The Mongol Empire p 424

۳. روضـة الصفـا ص ۱۰۹۷

۴. هغـه کتــاب ص ۱۱۲۷

۵. هغـه کتــاب ص ۱۱۳۰

٦. History of Persia p 134- 135

٧. Eliot vol 3 p 497

٨. روضة الصفا ص ۱۱۳۱- ۳۲

٩. Eliot vol 3 p 502 د ظفرنامې د متن ترجمه

١٠. روضة الصفا ص ۲۱۲۵

١١. هغه کتاب ص ۱۱۲۵

١٢. The mongol Empire p 448

١٣. ibid p 493

١٤. The outline of history p 691

١٥. افغانستان در مسیر تاریخ ص ۲٦۵- ٦٦

١٦. The mongol Empire p 486

١٧. زبدت التواریخ ص ١٦

١٨. هغه کتاب ص ۵۸۰

١٩. هغه کتاب ص ٦۴۱

٢٠. Baburnama p 259

٢١. زبدت التواریخ ص ۲٦٦- ٦٧

٢٢. هغه کتاب ص ٦٦۹

٢٣. هغه کتاب ص ٦٧٠

٢٤. روضة الصفا ص ۱۳۱۸

٢٥. هغه کتاب ص ۱۳۳۸

٢٦. Baburnama p 269

۲۷. ibid p 259

۲۸. ibid p 271-72

۲۹. ibid p 281- 82

۳۰. ibid p 383

۳۱. ibid p 306- 305

۳۲. حبيب السير جلد چهارم ص ۳۷۹

۳۳. a history of India under Babur p 295

۳۴. ibid p 300

# هرات د ازبکانو او صفویانو په لاسونو کې

کله چې یې شاه اسماعیل ته د شیباني خان سر راوړ، هغه وویل تن یې چیرې دی؟ وروسته یې د هغه تن هم ورته راوړ. شاه اسماعیل د هغه مړی درې ځله په نس کې په توره وواهه او وروسته یې پوځیانو ته وویل چې هر څوک چې زما د سر سره مینه لري، زما د دغه دښمن له وجود څخه دې یوه ټوټه غوښه وخوري. د دې امر سره سمدستي عسکرو د شیباني خان پر مړي باندې داسې حمله وکړه، چې یو پر بل یې توري راوایستلې او د سترګو په رپ کې یې د هغه مړی ټول وخوړ. شاه اسماعیل وروسته امر وکړ، چې د شیباني خان د سرکاسه په سرو زرو کې ونیسئ، جواهر په کې کار کړئ او د ده د پاره د شرابو جام ورڅخه جوړ کړئ. له دې وروسته چې به شاه اسماعیل هر وخت شراب چښل، دغه جام به یې ورته حاضراوه. (۱)

د شاه اسماعیل استازی د شیباني خان د وژل کېدو او د هغه د لښکر د بشپړې ماتې څخه وروسته هرات ته روان سول او د ښار خلکو ته یې د شاه اسماعیل د فتحې زیری ورکړ. د هرات د جامع مسجد خطیب د هغې ورځې په سبا منبر ته پورته سو او په ډېر لوړ اواز یې د شاه اسماعیل صفوي په نوم خطبه وویله، کله چې د شاه اسماعیل طرفدارانو، چې د منبر لاندې ولاړوه. هغه ته وویل چې د حضرت شاه ولایت مآب مخالفینو ته بدووایي. (۲) او بل روایت وایي چې حیدر مداح ورڅخه وغوښتل چې حضرت ابوبکر او حضرت عمر ته ښکنځل وکړي ، خو خطیب د دوی دا غوښتنه ونه منله او هغوې سمدستي له ږیري ونیوی لاندې یې راوغورځاوه او ځای پر ځای یې وواژه او مړی یې د ښار په بازار کې وسوځاوه. (۳)

له دې پيښې څخه وروسته هرات د شاه اسماعيل د قواو لاسته ورغى. شاه اسماعيل صفوي د هرات د حوض ماهيان سره نيژدې څو ورځې د شرابو، رقص او ساز مجلسونه جوړ کړل. خپلو جنرالانو او افسرانو ته يې انعامونه ورکړل او د دې جشنونو څخه وروسته يې د ميمنې او فارياب پر لور حرکت وکړ. د ازبکو مشرانو لکه د شيباني خان زوی محمد تيمور سلطان، چې د سمرقند حکمران و، د شيباني خان وراره عبيدالله خان او د بخارا حکمران جاني بيګ او نورو د هغه د مخنيوي د پاره لاسونه سره يو کړل. البته د جنګ د پيل کېدو څخه مخکې يې د شاه اسماعيل استازی، خواجه کمال الدين محمود ته وويل چې که شاه اسماعيل د آمو له سيند څخه راتېر نه سي نو موږ د هغه اطاعت ته تيار يو شاه اسماعيل د هغوې دا غوښتنه ومنله او بلخ، اندخوی، شبرغان، ميمنه، مرغاب او غرجستان يې بيرام بيګ فراماني ته ورکړل او پخپله يې د قم پر لور حرکت وکړ. (۴)

# په هرات کې پرله پسې قحطي

د شيباني خان له وژل کېدلو څخه درې کاله وروسته، په کال ۱۵۱۳ او ۱۴ م کې په هرات کې د دوو کالو پرله پسې قحطيو څخه داسې ښکاري چې صفوي دولت يا هرات ته هيڅ توجه نه کوله او صرف د يوې مستعمرې په سترګه يې ورته کتل او يا د صفويانو مامورين په هرات کې په سخت اداري فساد اخته وه او چا د خلکو شکايت او چيغو ته غوږ نه نيوی. د دې اداري فساد او قحطيو په نتيجه کې خلک دونه غريب سوي وه، چې هيچا د هيڅ شي د رانيولو توان نه درلودی. په دې دوو کالو کې په ښار کې داسې قحطي راغله چې د امير او وزير څخه نيولې تر ښستمن او نادار پورې هيڅ چا ته نه غنمينه او نه اوربشينه ډوډۍ رسېدله. خلکو په ښار کې د سپيو او پيشيانو غوښې خوړلې او هره ورځ زيات شمېر انسانان له لوږې مړه کېدل. د هرات په ښار کې دننه او د ښار څخه د باندې، او باشانو په ګوښه کوڅو کې خلک نيول، خرابو ته يې بيول، هلته يې وژل، غوښې يې ايشولې غوړي يې ذخيره کول او خرخول يې. په هرو څو ورځو کې د دغه راز خلکو په ډلو ډلو نيول کېدل او د ښار د صفوي حاکم، زينل خان ملازمانو به هغوې وژل. کله چې به يې دا خلک مړه کړل نورو خلکو سمدستي د هغوې مړي وړل او غوښې يې خوړلې.

بالاخره د هرات قحطي خلک دونه کمزوري کړل، چې په اکثرو سیمو کې به خلک مړه سول . وراسته به سول او خپلوانو یې د هغوی د ښخولو توان نه درلود. دې وضع دوه کاله دوام وکړ، ترڅو چې صفوي سلطان د هرات خوا ته توجه وکړه او خپل زوی طهماسب میرزا یې د هرات د حکمران په حیث مقرر کړ. (۵)

## په هرات باندې د اوزبکانو حملې او پرله پسې بدمرغۍ

د شیباني خان له وژل کېدلو څخه سمدستي وروسته، د ماوراءالنهر په اوزبکانو کې پر هرات او خراسان باندې د حملو کولو زور پاته نه و. د هرات ښار په تقریبا پنځو کالو کې بېرته آباد سو، خلک په نس ماړه سول او ښار یو څه پر پښو ودرېدی. پنځه کاله وروسته د ماوراءالنهر او مرو بیلو بیلو حکمرانانو لکه کوچ کونچي خان او د هغه سپه سالار عبید خان، چې د شیباني خان وراره و ، د بخارا حکمران او دغه راز د شیباني خان زوی، د سمرقند حکمران، تیمور سلطان پر خراسان او د هغه پر مرکز هرات باندې حملې پیل کړې. د شاه اسماعیل په ژوند کې یې دوه ځله هرات ډېر سخت محاصره کړ او بېرته پر شا تللو ته مجبور سول. په کال ۱۵۲۳ م کې شاه اسماعیل صفوي وفات سو او په همدغه کال عبید خان پر هرات باندې لښکر کښي وکړه او ښار یې محاصره کړ. د ښار د شاوخوا سیمو د کلیو او ښار ګوټو حاصلات یې وسوځول او څو میاشتې وروسته په ښار کې داسې قحطي راغله چې د ښار حکمران، نواب حسین خان او د هغه افسرانو فیصله وکړه، چې ټول سنیان له ښاره وایستل سي، څو په ښار کې اوسېدونکي قزلباشان د هغوی څخه په پاته سویو مالونو خپله ګوزاره وکړي او د ښار مقاومت دوام وکړي. د ښار څخه ډلې ډلې سني ښځې او نارینه او ماشومان روان سول او په دروازو کې به نارینه و او ښځو د هغوی له سختې تلاښي څخه وروسته د هرې کورنۍ پر سر ۱۵۰ تبریزي دیناره ورڅخه اخیستل. د دې د پاره چې هیڅوک قیمتي شیان او احیاناً خوراکي مواد ورسره ونه ایستلای سي، نو د نارینه او ښځو څخه یې ټولې جامې ایستلې او د تلاښي وروسته یې د ښار له دروازو څخه ایستل. خلاصه دا چې ښار د

خلکو څخه داسې تش سو، چې په ټول بازار کې به کله کله یو سړی لېده کېدی او یو من مالګه، چې د هرات په تول ۳٦۰ مثقاله کیږي، په درې سوه تبریزي دیناره خرڅېده. د امیر محمود بن خواند میر په قول، چې په دغه وخت کې په هرات کې حاضر و، هغو نازولو چې پخوا به یې له کبره د الماس دانې په لاس کې نه نیولی اوس یې د مالګې یوه ټوټه په لنګوټه کې پټوله او د ډوډۍ خوړلو په وخت کې به یې له لنګوټې راایستله، پر ژبه به یې تېروله او بیا به یې وروسته بېرته په لنګوټه کې پټه کړه. حتی د پاچا لویو افسرانو به د مالګې ټوټې په کڅوړه کې اچولې او د کڅوړې خوله به یې لاک او مهر کوله. (٦)

د هرات کړاو او محاصرې په دغه توګه اوه میاشتې دوام وکړ، څو بالاخره شاه طهماسب د هرات پر لور لښکر کښې وکړه، او د عبید خان یو لوی سپه سالار زنیش بهادر ، د شاه طهماسب د عسکرو سره په جنګ کې ووژل سو، او د اوزبکانو لښکر ماته وکړه، او ښار له محاصرې خلاص سو.(۷)

# د هرات د پاره د اوزبکو او شاه طهماسب جنګونه

شاه طهماسب خپل یوه لوی جنرال، حسین خان ته، چې د عبید خان سره په جنګونو کې یې ډېره مړانه کړې وه، د هرات حکومت ورکړ او خپل زوی سام میرزا یې هلته د ده تر سر پرستۍ لاندې عمومي حکمران مقرر کړ. عبید خان یو کال وروسته بیا پر هرات باندې حمله وکړه، خو د ښار حاکم حسین خان، چې د جنګ او مقاومت توان یې نه درلود، سوله وغوښتله او سوله په دې شرط وسوه، چې د عبید خان پوځیان به د ښار له اطرافو څخه لیرې کیږي او د حسین خان قواو ته به ، چې د ښار په منځ کې محاصره دي، اجازه ورکوي، چې د ښار څخه ووزي او یوه امن ځای ته ځانونه ورسوي، بیا نو عبید خان پوه سه او د ښار خلک. حسین خان او سام میرزا سیستان ته ولاړل او عبید خان بې دفاع ښار ته ننوت. (۸)

د عبید خان او زبکو قواو د هرات پر ترکو، تاجکو، عربو او عجمو باندې داسې ظلمونه وکړل، چې د خلکو چیغې آسمان ته پورته سوې. (۹)

عبید خان په دې توګه پر هرات باندې څه کم درې کاله حکومت وکړ او په کال ۱۵۲۹ م کې شاه طهماسب پخپله د هرات پر لور لښکرې

وایستلې. عبید خان د هرات ښخه د دفاع نه پرته مخ د ماوراءالنهر پر لور ونیوی او هلته یې د اوزبکو او ترکمنو مشرانو ښخه د مرستې غوښتنه وکړه. البته چا یې ملاتړ ونه کړ او عبید خان ښه کم دوه کاله په ماورالنهر کې پاته سو.

شاه طهماسب خپل ورور بهرام میرزا د هرات حاکم او قاضي یې د کوتوال په حیث مقرر کړ او پخپله بېرته د ایران خوا ته روان سو. یو نیم کال وروسته، عبید خان بیا د هرات پر لور حرکت پیل کړ. دا ځل یې فراه ونیوله، هلته یې د خپلو قواو مرکز جوړ کړ او د هرات پر ښار یې حمله وکړه. د هرات ښار یې محاصره کړ. ښار محاصرې ته تیاری نه درلود او خلک ډېر ژر د لوږې سره مخامخ سول.

د هرات د قواو عمومي قوماندان قاضي خان د ځو کالو مخکې په شان د هرات خلکو ته امر وکړ، چې د ښار ښخه ووزي او خپله تول شته مني پرېږدي. د ښار په دروازو کې یې محافظینو ته امر وکړ، چې هیڅوک پرې نږدي، چې د هرات له ښار ښخه شي وباسي. محافظینو دا ځل د خلکو ډېره سخته تلاښي واخیستله. د خلکو زړې نیالې او بالښتونه یې څېرل او په پنبه کې یې په نغدو پیسو او نفیسو شیانو پسې کتل. نارینه او ښځو محافظینو د نارینه او ښځینه ښخه تولې جامې ایستلې او د سختې تلاښي د بشپړېدلو ښخه وروسته یې اجازه ورکوله، چې هرې خوا ته ځي هلته دې ولاړ سي. بالاخره د هرات له ښار ښخه دونه خلک ووتل، چې د مورخ امیر محمود په قول بیله غازیانو (عسکرو) شیعه ګانو او تبرایانو یعنې هغه سنیان چې شیعه ګان سوی وه، بل هیڅوک په ښار کې پاته نه سو. بالاخره غازیانو هم د لوږې د لاسه د ښار ښخه په تیښته پیل وکړ او د هرات ښخه د باندې د عبید خان له قواو سره یو ځای کېدل. قاضي خان د عسکرو د تیښتې د مخنیوي د پاره خپلو قواو ته امر وکړ، چې هر هغه څوک چې له ښار ښخه وتلي دي، د هغوې کورونه چور کړي. بې انصافه عسکر د خپل حاکم په حکم پر کورونو باندې ورمات سول، مالونه یې راوایستل، د پیسو او قیمتي شیانو د پیدا کولو د پاره یې د کورونو تول کونجونه وکینل او چې ښه یې لاسته ورتلل هغه یې غنیمت کړل. لوږه دې حد ته ورسېده، چې عسکرو به د اسونو ږګونه سوري کول او وینې به یې چښلې.

په دې ضمن کې د عبيد خان عسکرو خپل ډېر ګر اسونه او خره د شپې په تياره کې د هرات د ښار دروازو ته رسول او په ډېره ګرانه بيه به يې د هرات پر عسکرو باندې خرڅول او هغوې به هم په ډېره خوشالي ورځخه اخيستل او د غوښو ځخه به يې استفاده کوله. په ښار کې لوږه دې اندازې ته ورسېده، چې پخپله شهزاده بهرام ميرزا، چې د ښار اعلی حکمران و، د خوړلو د پاره کافي ډوډۍ نه درلوده. دې وضع تقريباً يو نيم کال دوام وکړ، خو بالاخره شاه طهماسب د ډېر لوی پوځ سره د هرات پر لور حرکت وکړ او عبيد خان بيا ببله جنګه د ښار محاصره پرېښودله او د ماورالنهر پر لور يې حرکت وکړ. (۱۰)

## په هرات کې د پوځي قواو د قوماندان ظلمونه او د کندهار پر لور د هغه حرکت

شاه طهماسب خپل زوی شهزاده سام ميرزا په هرات کې حکمران مقرر کړ او اغزيو ر خان يې د هغه د قواو عمومي قوماندان وټاکی. آغزيور خان په هرات کې څه باندې شپږ مياشتې ډېر ظالمانه حکومت وکړ او مورخ امير محمود بن خواند مير، چې په دغه وخت کې پخپله په هرات کې حاضرو، ليکي چې عسکرو او صاحب منصبانو د آغزيور خان په اجازه د خلکو کورونه تلاښي کول او کله چې به يې د هغه جنس او نغد ورځخه واخيستل، د هغه د پټو کړو مالونو او پيسو تحقيقات به يې ورځخه کول او شکنجې به يې ورکولې په دې توګه يې په شپږو اوو مياشتو کې د هرات نيستمن او شته من ټول فقر ته اړ کړل او بيا نو شهزاده سام ميرزا او اغزيور خان په کال ۱۵۳۴ م کې د کندهار پر لور لښکر کښي وکړه. (۱۱)

د کندهار پر لور د شهزاده سام ميرزا د حرکت سره سم، د غرجستان حاکم بيرم او غلان اوزبک، د هرات پر لور لښکر کښي وکړه. د هرات د پوځيانو عمومي قوماندان دا ځل د ښار دروازې بندې نه کړې او د اوزبکو جنګ ته ور ووت. څرنګه چې د ښار څخه منظم پوځيان شهزاده سام ميرزا د کندهار جنګ ته بيولي وه، نو د ښار پوځي قوماندان دې جنګ ته د ښار بې تجربې ځوانان او زاړه اوسېدونکي په زور ايستلي وه؛ ايله جاري عسکرو د اوزبکو د حملې توان رانه ووړ او ماته په ګډه سوه. اوزبکانو د هرات د جنګياليو په سرونو توبرې ډکې کړې او بېرته يې غرجستان ته مخه کړه.

# د هرات پر خلکو باندې د مشهد د حاکم صوفیان خلیفه ظلمونه

د هرات خلکو د دې حملې څخه وروسته د اوزبکانو د نورو احتمالي حملو په مقابل کې د مشهد له حاکم صوفیان خلیفه څخه مرسته وغوښتله او هغه هم سمدستي د خپلو لښکرو سره د هرات پر لورې حرکت وکړ. صوفیان خلیفه هرات ته د رسېدلو سره سم د خلکو په چور او تاړاک بنا وکړه. د هرات اوسیدونکي به یې دربار ته بلل او ورته ویل به یې، چې ماته یوه له معصومو امامانو څخه برایي په خوب کې وویل چې ستا څخه پیسې واخلم او د لښکرو په مصرف یې ورسوم. ما ورته وویل، چې هغه زما دوست دی، زه څرنګه تکلیف ورکړم، مګر امام زما خبره نه منله او اوس زه مجبور یم چې ستا څخه پیسې واخلم.(۱۲)

د مشهد د حاکم صوفیان خلیفه او د هغه د مامورینو د ظلمونو د لاسه د هرات د خلکو په وجود کې وینه وچه سوله او داسې څوک نه و، چې د دوی د عرض او داد چیغې دې واوري، ځکه هغه چاته چې دوی باید عرض کړ ی وای هغه پخپله د دوی په چورولو بنا کړې وه.

د ماوراالنهر ماجرا غوښتونکي واکدار عبید خان ته په دې وخت کې خبر ورسېدی، چې د مشهد حاکم صوفیان خلیفه له مشهد څخه قواوې هرات ته بیولي دي. هم مشهد خالي دی او هم د هرات مظلوم خلک د صوفیان خلیفه د ظلمونو د لاسه تر سرېمو رسیدلي دي. عبید خان د مشهد

پر لور حرکت وکړ او هغه ښار یې محاصره کړ صوفیان خلیفه په مشهد کې د خپلې کورنۍ د خلاصولو په منظور، د هغه ښار پر لور لښکر رهي کړ او د هرات چارې یې د نورالدین احمد اصفهاني په نوم، یوه داسې ظالم سړي ته وسپارلې چې په لږ وخت کې یې د هرات خلک قیام ته مجبور کړل. د هرات خلکو، چې نور یې د خپل ظالم حاکم د جبر د زغملو توان نه درلود، د هغه پر قصر باندې حمله وکړه او په حمام کې یې وواژه. (۱۳)

عبید خان د مشهد څخه د صوفیان خلیفه د لښکرو پر لور، چې د هرات څخه روان سوي وه، حرکت وکړ. د عبدل آباد په کلي کې یې حمله ورباندې وکړه د صوفیان خلیفه ټول دوه درې زره قزلباش عسکر یې ووژل او د صوفیان خلیفه سر یې پرې کړ. (۱۴)

# په کندهار کې د ایراني شهزاده سام میرزا ماته

شهزاده سام میرزا، چې د هرات څخه یې د فراه او کندهار د نیولو د پاره حرکت کړې و، د فراه له فتح کولو څخه وروسته کندهار محاصره کړ. د کندهار کوتوال خواجه کلان د ښار دروازې وتړلې او شهزاده کامران ته یې، چې دا وخت د خپل پلار بابر له خوا د کندهار حاکم او په لاهور کې اوسېدی، د مرستې خواست وکړ. شهزاده کامران سمدستي د کندهار پر لور حرکت وکړ. کندهار ته د هغه د رسېدلو سره سام میرزا او د هغه سپه سالار آغزیور خان د ښار محاصره پرېښودله. کامران مرزا د خپل کوتوال خواجه کلان په مشوره د سام میرزا قواوې تعقیب کړې او د کندهار په اته فرسخۍ کې یې د ایرانیانو قواو ته ډېره سخته ماته ورکړه. د هغوې سپه سالار آغزیور خان یې بندي کړ او د کامران میرزا په حکم یې مړ کړ. سام میرزا د خپلو نیږدې سلاکارانو سره ایله د جنګ له میدانه په تېښته ژوندی خلاص سو. سام میرزا وروسته خپل ټول هغه سلاکاران چې ده ته یې پر کندهار باندې د حملې مشوره ورکړې وه ووژل. (۱۵)

سام میرزا لا د کندهار په سیمه کې په جنګونو کې لګیا و، چې عبید خان د مشهد څخه د هرات پر لور حرکت وکړ. عبید خان په کال ۱۵۳٦ م کې هرات محاصره کړ او د ښار له دننې څخه ځینو کسانو د عبید خان سره تماس ټینګ کړ. د ښار یوه دروازه یې د هغه په کنترول کې ورکړه او د هغه قواو ښار په هماغه شپه اشغال کړ. په هغه شپه اوزبکانو تر سهاره پورې د

هرات کورونه او دوکانونــه چــور کــړل او سهار عبید خــان خپلــو عسکرو تــه امر وکــړ، چــې نــور د چــا ســره غــرض ونــه کــړئ او د ښار د خلکــو امنیــت وســاتي. عبیــد خــان د خپلــو نــورو عسـکرو د عبرت د پــاره د خپلــو دریــو عسکرو پــه پــزو کــې تناوونــه واچــول او پــه بــازارونو یــې وګرځول. البتــه د عبیــد خــان مــامورینو او صــاحب منصبــانو د هــرات لــه خلکــو څخــه د پیسو او مــال د ترلاســه کولــو د پاره هره ورځ پــه یــوه او بلــه پلمــه درې څلــور تنه غرغــړه کــول او پــه لــس هــاو خلکــو تــه یــې راز راز شــکنجې ورکولــې. د اوزبکــو د قــواو لــه خــوا د هــرات د اشغال په وخــت کــې نــه د چــا ســر او نــه د چــا مــال پــه امــن کــې و او خلــک د ایران د صفوي حاکمانو او اوزبکو یرغلګــرو ترمنځ پــه تــوپیر ونــه پوهــېدل.

# هرات د شاه طهماسب په لاس کې

عبیــد خــان او د هغــه افسرانو څلــور میاشتې پــه هــرات کــې حکومــت وکــړ. هغه څلور میاشتې وروســته د مشــهد د نیولــو پــه نیت روان ســو. مشــهد تــه لا نــه و رسېدلی، چې پــه لاره کــې خبر ورتــه ورسېدی، چــې شــاه طهماســب د ډېر زیــات لښکر سره د هــرات پــر لــور حرکــت کــړی دی. عبیــد خــان د دې خــبر د اورېدلو سره بېرته هرات ته پر شــا ســو. هغــه غوښتــل چې پــه هــرات کــې د شــاه طهماســب ســره مقــاومت وکــړي، مګر ملــګرو یــې ورتــه وویــل چــې مــوږ د خراسان په سیمه کې د شاه طهماســب سره مقاومت نــه ســو کــولای؛ بــاید چــې ماوراءالنهر تــه ولاړ ســو او کــه چېرې طهماســب هلتــه راپسې راســي، بیــا بــه جنګ ورسره کوو. عبیــد خــان د خپلــو افســرانو د خبرو منلــو تــه مجبــور ســو او د ماوراءالنهر پر لــور یــې حرکــت وکــړ. (١٦)

شــاه طهماســب هــرات ونیــوی او خپــل زوی ســلطان محمــد یــې د هغــه ولایــت حــاکم او محمــد خــان یــې د هغــه د مرستیال پــه حیث ورتــه مقرر کــړ. شاه طهماسـب لــه دې نــه وروســته د کندهــار پــر لــور حرکــت وکــر. د کندهــار کوتوال خواجه کلان بیلــه جنګــه د سیند پــر لــور وتښتــېدی او کندهــار پــه کــال ۱۵۳۷ م کــې د شــاه طهماســب لاسته ورغــی طهماســب لږ وروســته د هــرات او بیا د ایران پر لــور حرکــت وکــړ.

عبید خان په کــال ۱۵۳۹ م کــې پــه داسې حــال کــې چــې پــر خراســان او د هغه پر پایتخت هــرات بــاندې یــې د لښکر کښۍ نقشې جوړولــې، سخت نــاروغ او ډېر ژر وفــات ســو. د هغــه د مړګه سره، تــر ډېره وختــه پــورې ، پــر هــرات

باندې د هغه د حملو خطر رفع سو، او ګواکې تر کال ۱۵۵۰ پورې بيا د هــرات ښار نــه چــا محــاصره کــړ او نــه دا ښار د جنګ میــدان ســو. پــه کــال ۱۵۵۰ م کـــې د ماوراءالنهر حکمرانانو، براق سلطان، عبداللطيف سلطان او شاه محمود ســلطان پــه ګډه پر هرات باندې حمله وکړه. ښار يې د لنډې مودې د پاره محاصره کــړ، مــګر د دغې لنډې محاصرې په جریان کې شاه محمد سلطان، چې پــه دوی کــې تــر ټولــو بیباک او زړه ور جنرال و، په جنګ کې ووژل سو او د اوزبکانو قواوې پر شا تللــو تــه مجبورې سوې.

## هرات د اوزبکانو او صفويــانو پــه لاســونو کــې


۱. ایران در روزګار شاه اسماعیل و شاه طهماسب ص ۱۳۴- ۱۳۵
۲. حبیـب السـیر جلـد چـــهارم ص ۵۱۵
۳. ایران در روزګار شاه اسماعیل و شاه طهماسب ص ۱۳۷
۴. حبیـب السـیر جلـد چـــهارم ص ۵۱۹
۵. هغــه کتـــاب ص ۵۵۲-۵۵۳
٦. ایران در روزګار شاه اسماعیل و شاه طهماسب ص ۲٥٦-۲۵۷
۷. هغــه کتـــاب ص ۲۵۹
۸. هغــه کتـــاب ص ۲۷۱-۲۷۳
۹. هغــه کتـــاب ص ۲۷۳
۱۰. هغــه کتـــاب ص ۲۷۴-۲۸۳
۱۱. هغــه کتـــاب ص ۲۸۸
۱۲. هغــه کتـــاب ص ۲۹۴
۱۳. هغــه کتـــاب ص ۲۹۷
۱۴. هغــه کتـــاب ص ۳۰۱
۱۵. هغــه کتـــاب ص ۳۰۲- ۳۰۵
١٦. هغــه کتـــاب ص ۳۱۰-۳۲۳

# صفویان



په کال ۱۵۷۵ م کې د شاه طهماسب صفوي د مرګ په وخت کې د هغه زوی دوهم اسماعيل چې د عمر وروستي نولس کاله يې د پلار په حکم د قهقه په زندان کې تېر کړي وه، قدرت ته ورسېدی. د خپل دوه کلن قدرت په زمانه کې يې د خپلې کورنۍ ځخه نيولې تر دباندې پورې ټول هغه کسان په قتل ورسول، چې يا يې له قدرته څخه بېرېدل ، يا يې خپل دښمنان او مخالفين ګڼل او يا په بند کې د ده د ساتل کېدلو د پاره يې په دسيسو کې برخه اخيستې وه . دوه کاله وروسته خپلو معتمدو کسانو هغه په زهرو وواژه او د ده ورور محمد خدابنده يې چې دا وخت په هرات کې و، پر تخت کښېناوه. محمد خدابنده تر هر څه دمخه خپل درې ورونه ووژل، وروسته يې په کورنۍ کې خپل د قدرت رقيبان له منځه يوړل او نور يې تر ۱۵۸۵ م کال پورې خپل د قدرت په باقي پاته اته کلنه دوره کې خپل د عمر زياتره وخت په حرم کې دننه تېر کړ.

د ده له مرګه څخه وروسته د ده دوه زامن، حمزه او دريم اسماعيل هر يو د څو مياشتو د پاره قدرت ته ورسېدل. هغوې دواړه ډېر ژر په دسيسو کې ووژل سول او نوبت لومړي شاه عباس ته، چې د صفويانو د سلسلې تر ټولو قوي پاچا ګڼل کيږي ورسېدی.

د دريم اسماعيل د وژل کېدو څخه وروسته، شاه عباس، چې د هرات والي و، د اته لسو کالو په عمر قدرت ته ورسېدی. شاه عباس تر هر څه دمخه د خپل ورور حمزه ميرزا قاتلان ووژل. وروسته د ده وکيل السلطنه مرشد قليخان، چې شاه عباس يې قدرت ته رسولی و، د شاه عباس ورور او د هغه د کورنۍ ټول غړي بنديان کړل، البته لږ وخت وروسته هغه پخپله هم د شاه عباس په امر په قتل ورسېدی او د کورنۍ ټول غړي يې قتل عام سول. شاه عباس درې زامن درلودل، دوه کشران يې پخپله په سترګو ړانده کړل او مشر صفي ميرزا، چې ده خپل وليعهد ټاکلی و، وواژه. (۱)

شاه عباس له څلور څلویښت کاله سلطنت څخه وروسته، په کال ۱۶۲۹ م کې وفات سو. څرنګه چې ځان ته یې د پاچاهي لایق زوی نه و پرې ایښی، نو د مرګ په وخت کې یې خپلو امیرانو ته وصیت وکړ، چې د هغه د مشر وژل سوي زوی، صفي میرزا زوی، سام میرزا د صفي میرزا په نوم پاچا کړي.

صفي میرزا تر هر څه دمخه د صفوي کورنۍ د معمول سره سم خپل یوازینی ورور وواژه او بیا یې خپل دوه په سترګو ړانده اکاګان، چې د ده نیکه شاه عباس بندیان کړي وه، ځکه ووژل چې ویل یې دا هسې چتې ژوندي دي. ده وروسته د نیکه د دربار تر ټولو لایق او معتمد افسران یو په بل پسې ووژل. یوه شپه یې د خپل حرم څلوېښت ښځې، چې د ده خپله مور هم په کې شامله وه، ځکه ژوندۍ ښخې کړې، چې د ده د وژلو دسیسه یې کړې وه. (۲)

شاه صفي له دوولسو کالو پاچاهۍ څخه وروسته مړ سو. هغه د خپل قدرت د زمانې اکثریت برخه د شرابو په چښلو، ښکار، په حرم کې له ښځو او د خلکو په وژلو سره تېره کړه. له ده څخه وروسته د ده یوازینی زوی، دوهم شاه عباس، چې ده غوښتل په سترګو یې ړوند کړي، خو موظف سړي هغه ته نجات ورکړی، د دیارلسو کالو په عمر کې قدرت ته ورسېدی. شاه عباس د دوه ویشتو کالو پاچاهۍ څخه وروسته د پنځه دېرشو یا شپږ دېرشو کالو په عمر کې په ۱۶۶۶ م کې وفات سو. د دوهم شاه عباس په زمانه کې کندهار، چې د شاه صفي په وخت کې د ډهلي د مغولي امپراتور لاسته ورغلی و، بېرته د ایران تر کنټرول لاندې سو. د شاه عباس څخه وروسته د هغه مشر زوی سلیمان پاچا سو. اته وېشت کاله یې پاچاهي وکړه او خپل ټول وخت یې د ښځو او شرابو له جامونو سره تېر کړ. د خپل نیکه شاه صفي په شان ظالم سړی و او د نشې او غضب په وخت کې هیڅوک د هغه له قهره خلاصېدلای نه سوای. د خلکو لاسونه، پښې، پزې او غوږونه یې پرې کول، په ډېره وړه خبره یې د خلکو سترګې ایستلې او بیله هیڅ دلیله یې سرونه پرې کول. هر څوک چې د ده دربار ته ورتلل، د هغوی سره د سر غم و. د ده دربار یوه عالي رتبه افسر یو وخت ویلي وه، چې هر وخت د شاه سلیمان له دربار څخه وزم نو یو ځل خپل سر ته لاس وروړم، چې اوس مې هم د اوږو په منځ کې دی او کنه. (۳)

د شاه سلیمان د قدرت په زمانه کې د صفوي دولت انحطاط پیل سو او کله چې هغه وفات سو او پر ځای باندې یې زوی شاه حسین صفوي قدرت ته ورسېدی، نو د صفوي دولت سقوط حتمي وګڼل سو. شاه حسین صفوي د خپلې سلسلې یوولسم او تر ټولو کمزوری پاچا و. شاه محمود هوتک په ۱۷۲۲ م کال کې د اصفهان د محاصره کولو او نیولو څخه وروسته د هغه اقتدار ته خاتمه ورکړه او د ده سره یو ځای د صفویانو سلسله عملاً ختمه سوه.

# د صفویانو په وخت کې د خراسان او ایران اجتماعي او سیاسي اوضاع

که څه هم چې په خراسان او په تېره بیا هرات کې، چې د صفویانو د اقتدار په زمانه کې زیاتره کلونه د ایرانیانو تر لاس لاندې و، په مشخصه توګه د صفوي پاچاهانو د اجراآتو په باب ډېر لږ څه لیکل سوي دي، خو په عامه توګه د هغوې د استبدادي نظام د اجراآتو څخه د دوی د ټول قلمرو وضع اټکل کولای سو.

شاه اسماعیل د شیعه مذهب د پېشوا او په ایران کې د لومړني شیعه سلطان په حیث د تورو په زور په خلکو شیعه مذهب قبول کړ. (۴) د هغه زوی شاه طهماسب د خپلې پاچاهۍ په اوږده دوره کې د خپل پلار لاره ونیوله او کله چې نوبت شاه عباس ته ورسېدی، هغه په دې برخه کې یو څه نرم سلوک غوره کړ. مګر کله چې په دې برخه کې د هغه اجراآتو ته، چې د نرم سلوک خاوند بلل سوی دی، سړی ګوري نو د شاه طهماسب او شاه اسماعیل د زمانې اټکل کولای سي. د تاریخ صفویه لیکوال د شاه عباس د یوه فرمان په حواله لیکي، چې شاه عباس د تسنن له پیروانو سره ډېر سخت سلوک کاوه او هغه امتیازات چې یې شیعه ګانو ته ورکول، سنیانو ته یې نه ورکول. کله کله چې به یې په مالیاتو کې یو څه تخفیف راووست او یا به یې وبخښل، نو بیا به یې په دغه فرمان کې اشاره وکړه چې دغه رعایت د سنیانو سره نه کیږي.(۵)

کله چې به په جنګ کې نیول سویو سني مذهبو کسانو شیعه مذهب قبول کړ، نو هغوې به یې بخښل او که نه نو ټول یې وژل. یو وخت یې

د سمنان په ښار کې یوه ډله سنیان ونیول. د هغوی د ملایانو پزې او غوږونه یې پرې کړل او په دوی یې په زور وخوړل. وروسته یې له هغو څخه درې سوه تومانه جریمه هم واخیستل. (٦)

صفوي پاچاهان بې اندازې مستبدخلک وه او د سزا په ټاکلو کې یې د هیڅ ډول مشخص قانون او مذهب پیروي نه کوله. هر څوک چې به دوي د خپل قدرت او سلطنت د دښمن په حیث وپېژاند، هغه یې په داسې شکل له منځه ووړ، چې نورو ته عبرت سي. د شاه طهماسب افسرانو به د ګرفتار سویو ښورښیانو ژبې یو ځل د هغوي د شونډو سره وګنډلې او بیا به یې د هغه حضور ته ور وستل او هغه به یې سمدستې د قتلولو امر کاوه. د شاه طهماسب افسرانو په دې سلسله کې د خپل یاغي سوي حکمران خواجه محمد صالح ژبه له شونډو سره وګنډله او بیا یې د شاه طهماسب حضور ته را ووست. هغه امر وکړ، چې په یوه خم کې یې واچوی او د یوه جګ منار څخه یې لاندې وغورځوی. (٧)

## د شاه عباس استبداد

شاه عباس انسانان په سیخ پېیل،دښارپه منځ کې یې کباب ول، ژوندي یې پوستول، انسانان یې په عام دربار کې په روزل سویو او ساتلو آدمخورو خوړل، د مخالیفینو او ګناه کارانو په ستوني کې یې ویلې کړي سرپ تویول او دا کارونه هره ورځ کېدل. شاه عباس به کله کله ګناه کارانو ته د سزا ورکولو دپاره د آدمخورو له یوې ډلې څخه استفاده کوله. د دوی کار دا و، چې مجرمین به یې توټه توټه کول او خوړل به یې. د دې ډلې رئیس ملک علي سلطان جارچي باشي و. چې همېشه به په دربار کې حاضر و. د روضه الصفویه په کتاب کې راغلي دي چې دغه آدمخواره ډېر قوي او بدشکله خلک وه او مخصوصي خولۍ او جامې یې در لودلې. (٨)

شاه عباس صفوي،خواجه محب علي مستوفي اصفهاني دخیانت کولو په ګناه ګرفتار کړ. ژبه، پزه او غوږونه یې ور څخه پرې کړل او بیا یې نو سترګي ور څخه و ایستلې، دغه راز یې قلندر بیګ قمي د زرو تومنو د اختلاس په ګناه ونیوی، سترګي یې ور څخه و ایستلې، پزه ژبه او غوږونه یې ور څخه پرې کړل. (٩)

زهر مار سلطان غوښتل هند ته وتښتي. د شاه عباس موظفو کسانو په لار کې ونیوی او د شاه عباس حضور ته یې راووست او د هغه په حکم یې ژوندی په دیګ کې وایشاوه. (۱۰)

شاه عباس یوه ورځ پخپله په داسې حال کې په بازار کې ګرځېده، چې د عادي ښاري سړي جامې یې اغوستې وې او د نرخونو د معلومولو د پاره یې شیان بیه کول. قصاب غوښې ګرانې ورکړې او نانوای ډوډۍ ګرانه وربانديې خرڅه کړه. حکم یې وکړ، چې نانوای ژوندی په تناره کې واچوئ او قصاب یې په سیخ وپییه او کباب یې کړ. (۱۱)

شاه عباس د شرابو په چښلو کې بېحده زیات افراط کاوه او خصوصاً چې د کوم جنګ څخه به فارغ سو، نو د شرابو، رقص او ساز مجلسونه به یې جوړول. انتوني ګوا په خپله سفرنامه کې لیکي، چې شاه عباس ډېره کمه ډوډۍ خوري، مګر په شرابو کې افراط کوي او د شرابو چښلو سره یې دونه زیات عادت نیولی دی، چې هر خونه وچښي عقل یې سم کار کوي. شاه عباس د شرابو سره د ډېرې سختې علاقې درلودلو له امله خپل یوه طبیب ته وظیفه ورکړه، چې د شرابو د ګټو په باره کې یو کتاب ولیکي. هغه دغه کتاب ولیکی او نوم یې "جهان نمای عباسي" ورباندي کېښود (۱۲)

# د صفوي پاچاهانو اخلاقي انحطاط

صفوي پاچاهانو په شرابو کې د افراط ترڅنګ د ښځو سره بې اندازې زیاته علاقه درلوده. دغې افراطي علاقې په دربار، افسرانو او په مجموعي صورت د صفویانو په ټول قلمرو کې اخلاقي ارزښتونه پایمال کړي وه او په پای کې یې صفوي امپراتوري په اخلاقي انحطاط اخته کوله. دا چې د صفوي شاهانو د دې افراط په مقابل کې د ایران په ښارونو کې د خلکو په زړونو کې څه تېرېدل، سړی څه نه سي ویلای چې د دغه راز اعمالو په مقابل کې د کوم عکس العمل څرک نه لېده کېږي؛ البته د دې مانا دا نه ده، چې د ایران او په مجموع کې د صفوي قلمرو خلک به د خپلو شاهانو په دغه راز اعمالو خوښ وه، بلکې چا د وېرې څه ویلای نه سو، ځکه چې دې مستبدو شاهانو په ډېر عادي خبره ژبې، پزې او غوږونه پرې کول. طبیعي خبره ده، چې د پاچا داو امرو څخه سرغړولو خو د بشري تباهی مانا درلوده.

ډاکتر احمد تاج بخش د یوه اروپایي لیکوال ډن ګارسیا له خولې،
چې هرځه یې د سر په سترګو لیدلي دي، لیکي چې شاه عباس به هر وخت د کوم سفر څخه راستون سو، نو د خپل سات تېري د پاره به یې جشن کاوه. کله کله به یې فرمان صادر کړ، چې جارچیان دې په ښار کې وګرځي او ټولو مسلمانانو، مسیحیانو او نورو ته دې اعلان وکړي، چې خپلې ښځې او لوڼې د ټاکلو بازارونو دروازو ته راولي، څو د شاه خواجه سرایان په هغوې کې تر ټولو ښایستې انتخاب کړي او بازار ته یې راولي.

ګارسیا لیکي، چې د هر بازار په دوروازه کې به څو خواجه سرایان ولاړ وه او ښایستې نجونې او ښځې به یې انتخابولې او بازار ته به یې ننه ایستلې. دوکاندارانو او تاجرانو به په خپلو دوکانونو کې مالونه مرتب کړل او بیا به یې خپلې ښځې، لوڼې او خویندې، چې خواجه سرایانو به انتخاب کړې وې، په دوکانونو کې کېښنولې او له بازاره به ووتل. هر نارینه چې دغو بازارونو ته نېژدې سوی وای سخته سزا ورکوله کېدله.

کله چې دا کار بشپړ سو، نو بیا شاه د خپلو خواجه سرایانو سره بازارونو ته ننوت. د بازارونو دروازې وتړلې سوې، شاه او خواجه سرایانو یې ټوله شپه په دغو بازارونو کې تېره کړه. سهار خلکو خپلې ښځې او نجونې کورونو ته بوتلې او شاه عباس د بازارونو څخه څو ارمنۍ ښځې خپل حرم ته بوتلې. (۱۳)

د شاه حسین صفوي څخه مخکې د ده د پلار شاه سلیمان په شمول صفوي شاهانو هم خپل زیاتره وخت په حرم کې له ښځو، رقص او شرابو سره تېراوه، خو شاه حسین په دې برخه کې تر ټولو زیات افراط وکړ. د دې خبرې علت دا و، چې هغه دومره کمزوری او په روحي او عقیدوي لحاظ دومره خرافاتي شخصیت درلود، چې د ایران د چارو په اداره کولو کې یې هیڅ رول نه سوای درلودلای او د خپلو جاه طلبو جنرالانو او امیرانو له سلا او مشورې پرته یې هیڅ ګام نه سوای پورته کولای. په دې حساب نو هغه ته یوازې د حرم په قلمرو کې پاچاهي پاته کېدله او په دې پاچاهۍ کې چې هر څه افراط کېدی هغه یې وکړ او درباریانو یې په ټول صمیمیت همکاري ورسره کوله، له ده څخه مخکې یوه صفوي پاچا نه په خپل حرم کې دونه ښځې درلودې او نه یې په حرم کې دونه پیسې لګولې وې. ده خپلو درباریانو او خواجه سرایانو ته امر وکړ، چې په ټول ایران کې وګرځي او چې هر خای یې ښایسته ښځه پېدا کړه، هغه دې د ده حرم

ته راولي. په دې سلسله کې يې په کال ۱۷۰۱ م کې دونه زياتې ښځې او نجونې حرم ته بوتلې، چې هغه کال په ايران کې د ښځو د کال په نامه ياد سو. د هر ولايت حکمران کوښښ کاوه، چې تر ټولو ښايستې ښځې او نجونې پېدا کړي او د پاچا حرم ته يې واستوي او خپل آب او اعتبار وربانديې زيات کړي. حکمرانان به د دربار له خوا تشويقېدل ، چې که د خپل ولايت د ماليـاتو دوه چنده اصفهان ته واستوي، پاچا دونه نه خوشاله کيږي، لکه ښايستې نجونې او ښځې چې ورته راولېږي. دې نجونو هرې يوې خپل ځانته يو خصي غلام او يوه خدمتګاره درلوده او د ده ټول قصرونه ورخخه ډک وه. هغه په خلاص لاس، چې زړه يې غوښت هغونه پيسې لګولې او هيڅا حساب نه سو ورسره کولای.

د شاه حسين په زمانه کې يو بل کار هم رواج سو، چې د مخکينو صفوي شاهانو په زمانه کې چندانې رواج نه و او هغه دا چې شاه به خپلې د حرم ښځې خپلو اميرانو ته ودولي او د حرم هره ښځه به يې د ډېر درانه جهيز سره له کوره ايستله، کله کله به د شاه حسين په حرم کې ښځې دونه ډېرې سوې، چې د ډېرو کښتو رتبو افسرانو او حتی اشپزانو ته به يې واده کړې او خالي ځای به يې په نويو ښايستو نجونو او ښځو ډکاوه.

د غټو خانانو او لويانو د کورونو نجونې، چې په دغه توګه حرم ته وړل کېدلې، وروسته بيا يوازې غټانو او سردارانو ته په نکاح کېدلې، خو د غټانو او سردارانو د پاره د دې کار يوه بدي په دې کې وه، چې دغه ښځې به اکثرې حاملې وې او چې د خپل نوي مېړه په کور کې به يې اولاد وزيږاوه، هغه مجبور و، چې دې نابللي وارث ته تر خپلو ټولو اولادونو زيات ميراث پرېږدي، په اصطلاح تر ټولو اولادونو د مشر حق ورته ورسيږي. هغه به وروسته شهزاده بلل کېدی او بالاخره د لويو اشرافو داسې کور نه و چې يو شهزاده به يې نه درلود.

شاه حسين چې د اصفهان ځخه هر ځای ته حرکت کاوه، خپل د حرم مېرمنې او د هغوی ښځينه او نارينه خدمتګاران يې ټول ورسره بيول. ښځې به يې پر آسونو او يا بوګانو سپرېدلې، خصي غلامانو به يې جلب ورته نيولی او ښځينه خدمتګارانې به پر خرو ورسره روانې وې. خره به د شاه حسين په اشاره په لښتو وهل کېدل ، هغوی به خدمتګارانې پر مځکه غورځولې او دا د شاه حسين د پاره يوه تفريح وه.

په دغــه راز مــواردو کــې بــه د پخوانــي معمــول ســره ســم، د شـاه او حــرم د سفر څخــه درې ورځې مخکــې اعــلان کــېدی او پــه هغــه ســاعت کــې چــې شـاه پــر هغــه لاره تــېرېدی، ټول هغــه خلکــو چــې کورونـــه یـــې د ده د تېرېدلـــو پــر لارې برســېره پراتــه وه، مجبــور وه چــې د خپلـــو کورونـــو څخـــه ووزي او دغـــه راز ټول خلـک مجبـور وه، چـې د شـاه او د حــرم لــه کــاروان څخــه لږ تــر لــږه ۱۲ کیلــو مــتره فاصلــه ونیســي. پــه دغــه وخــت کــې حتٰی د شــاه خپلــو شــخصي محافظینو اجازه نـــه درلــوده، چــې کــاروان تــه نــږدې ســي، نــو پــه دې حســاب یــوازې د ده خصـي غلامـانو د ده د حــرم لـــه کـــاروان ســـره ملــګری کــولای ســـوای. (۱۴)

صفــوي پــاچاهــانو د خپلــو ټولــو نــاروا عیاشــیو، ظلمونــو او وینــو تویولـــو تــر څنګ یــوه عجیبــه مذهبــي جذبـــه درلـــوده. شــاه عبــاس صفــوي یـــو ځل د اصفهان څخه تر مشهد پورې د امــام رضــا زیــارت تــه، چــې اتــه ســوه میلــه فاصلــه ده، پیاده ورغــی. یــو ځل نجف تــه ورغــی او هلتــه یــې د حضـرت علــي زیــارت او جومات پخپلــه جــارو کــړ. (۱۵)

پــه دې سلسـله کــې شــاه حسـین صفــوي تــه هــم یــو نــاڅاپــه د امــام رضــا د زیــارت کولــو لمبــه ور ولاړه ســوه. هغــه د خپــل ټول حــرم او شـــپېتو زرو خصـــي غلامانو سره یو ځای تقریباً ۱۲ ســوه کیلــو مــتره فاصلــه ووهلــه. هغــه پــه دې ســفر کــې دونــه ببځایــه پیســې ولګولــې، چــې کــه یــې نیمــایې د کندهــار د قـــواو پـــه مقــابل کــې پــه خپــل پــوخ او مقـــاومت لــګولی وای، ښایـــي د کندهـــار قـــواو اصفـهان نــه وای نیـولی. (۱٦)

# صفویـــان

۱. *The history of the late revolutions in persia p 41*

۲. هغــه کتــاب ص ٤٦

۳. هغــه کتـــاب ص ۵۷

۴. تــاریخ صفویــه ص ٦۰

۵. هغــه کتـــاب ص ۳۱۱

۶. هغه کتاب ص ۳۱۱
۷. ایران در روزگار شاه اسماعیل و شاه طهماسب ص ۳۷۲
۸. تاریخ صفویه ص ۲۹۲
۹. هغه کتاب ص ۲۹۳
۱۰. هغه کتاب ص ۲۹۳
۱۱. هغه کتاب ص ۳۲۱
۱۲. هغه کتاب ص ۲۹۸
۱۳. هغه کتاب ص ۳۲۳
۱۴. The history of the late revolutions p 122-124
۱۵. Sykes history of persia vol 2 p 181- 182
۱۶. History of Late revolutions p 127

# هوتکیان

که څه هم چې هوتکو پر هرات باندې حکومت نه دی کړی، مګر څرنګه چې په کندهار کې د ایران د صفوي رژیم په مقابل کې د هوتک میرویس خان د ۱۷۰۷ م کال قیام د هرات د استقلال د تحریک د پاره زمینه برابره کړه، نو مجبور یو چې د هوتکیانو په باب یو څه په اختصار وږغیږو.

د ایران د صفوي دولت د حکومت اساس د صفویانو د لسم سلطان، شاه سلیمان په وروستیو شپو ورځو کې لړزېدلې و، مګر په کال ۱۶۹۴ م کې د صفویانو د یوولسم سلطان صفوي شاه حسین پاچا کېدلو د دغه دولت د بشپړ زوال زمینه برابره کړه.

شاه حسین د پاچا کېدلو سره سم، خپله ټوله توجه د حرم خوا ته واړوله او له سهاره تر ماښامه یې ټول وخت د ښایستو نجونو او ساقیانو سره تېراوه. هغه په عام دربار کې ویلې وه، چې غواړي دونه ښایستې ښځې په حرم کې ولري، چې د نړۍ په تاریخ کې هیڅ سلطان نه وي درلودلي او غواړي په خپل حرم دونه پېسې ولګوي، چې په تاریخ کې یې سارې نه وي لېده سوی. هغه خپلو ټولو درباریانو، والیانو او جنرالانو ته ښودلي وه، چې دې یوازې له هغه چا څخه خوشاله کیږي، چې د ده حرم ته تر نورو زیاتې ښایستې نجونې واستوي. هغه خپلو والیانو ته مخامخ ویلې وه، چې که د خپلو مالیاتو دوه چنده او درې چنده د ده خزانې ته واستوي، دی دونه نه خوشالیږي، لکه د ده حرم ته چې ښایستې نجونې تقدیم کړي د والیانو او حکمرانانو څخه نور کارونه پاته وه او د صفوي امپراطور په پراخ قلمرو کې کوڅه په کوڅه ګرځېدل او د سلطان د حرم د پاره یې ښایستې نجونې پېدا کولې. په کال ۱۷۰۱م کې د شاه حسین د حرم د پاره دونه

زیاتې ښایستې نجونې ټولې سوې، چې د ایران په تاریخ کې هغه کال د ښځو په نامه یاد سو. (۱)

د ایران دربار او ټول اداري نظام له سره ترنو که په اداري فساد کې غوټه و او دغه علت و، چې د کندهار د حاجي میرویس خان له قیام سره په هرات، سیستان، بلوچستان ، بحرین او د صفوي امپراطورۍ په ټول پراخ قلمرو کې نارضایت او ښورښونه پیل سول او صفوي دولت د سقوط کندې ته رهي سو. په کندهار کې د صفوي دربار حاکم د ګرجستان یو شهزاده خسرو خان، چې د صفوي دربار له خوا د شهنواز خان لقب ورکړه سوی او خلکو ګرګین باله له کال ۱۷۰۵ م څخه د کندهار ، زمینداور، بست، شال، مستونګ، فوشنج، ( پښین) قلات غلزایي، قلات بلوچ، ګرشک، فراه او اسفزار ( اوسنی شینډنډ) بګلربېګي یا کل اختیار مقرر سوی و. هغه او د هغه افسرانو د خپلې واکدارۍ په سیمه کې د صفوي دولت د ستم د عادت سره سم داسې ظلمونو او ناروا و ته لاس اچولی و، چې د چا د سر او مال او ناموس پروا یې نه ساتله. د کندهار سني مذهبو خلکو د قزلباشانو حکومت د خپلو مذهبي عقایدو مخالف ګاڼه او کله چې په دې خبر سول، چې ګرګین خان تش په نامه مسلمان دی او عملاً اوس هم پر عیسوي مذهب دِی، نو له هغه څخه یې نفرت دوه چنده سو. (۲)

# میرویس خان او د کندهار پاڅون

میرویس خان، چې د غلجي قبایلو مشر و، ګرګین خان ته ډېر نصیحتونه وکړل، مګر هغه یې پر خبره غوږ ونه نیوی. میرویس خان بالاخره اصفهان ته ولاړ (او یا ګرګین واستاوه) او د ده له تګ سره سم ګرګین خان د ایران دربار ته لیکونه واستول او په هغو کې یې میرویس یو داسې باغي معرفي کړ، چې هر وخت د ایران دربار ته ستونزې پیدا کولای سي. هوښیار میرویس خان په دې پوهېدی، چې څېږې څي او له کندهار څخه یې له ځان سره کشمیري شالونه، د هندوستان نفیس ټوکران، ډېرې نغدې پیسې او سوغاتونه ورسره واخیستل. د اصفهان په دربار کې یې د سلطان حسین د کارخانجاتو د ناظر محمد آقا له لارې نفوذ وکړ او د شاه څخه نیولې تر نورو عالي رتبه کسانو پورې یې سوغاتونه او رشوتونه ووېشل او په لږ وخت کې یې ټول دربار د ځان طرفدار کړ. نه یوازې یې د ګرګین د خطونو

تاثیر لـه منځه یووړ، بلکې صفوي دربار یې د ګرګین د سـر دښمـن کـړ. د اصفهان څخـه د حج په پلمه مکې شـریفې تـه ولاړ او هلتـه یـې د دینـي عالمانو څخـه د ګرګین د حکومـت پر ضد د جهاد فتوٰی واخیستله. (۳)


میرویس خـان کندهـار تـه تر ستنېدلو وروسته خپلـو عزیزانـو تـه د مکـې شریفې د عالمـانو فتوٰی وښودلـه او ټولـو پـه یـوه خولـه او پـه یـوه زړه ورسـره قبوله کـړه. څه وخـت وروسته یې پـه یـوه مناسب فرصت کې، چـې د ګرګین د قواو ستره برخـه د کاکړو او بلـوڅو د قبایلو د ځپلـو د پاره تللې وه، هغـه د خپلـو صاحب منصبانو سره یو ځای وواږه. میرویس خـان پـه هغـه شـپه د ګرګین په جامو کې ښار تـه ننوت او پـه ښار کـې ټول اوسـېدونکي قزلبـاش عسکر یې لـه تېغـه تېر کـړل. د ګرګین اتـه زره کسیزه قـوه، چـې قزلبـاش او ګرجـي عسکر وه، تقریباً ټول لـه منځه ولاړل او کندهـار د لومـړي ځل د پـاره د پښتنو د یوه آزاد هـېواد مرکـز سو.

میرویس یـو لـه تر ټولـو هوښیـارو افغانـانو څخـه و. هغـه د شېر شاه سوري په څېر هر وخـت لومړی د مذاکراتـو او عقـل څخـه کـار اخیست او بیا بـه یـې پر غولیدلي او غـافل دښمـن بـاندې د تـورې داسې ګوزار کـاوه، چې بېرتـه بـه پر هوښ راتللو موقـع پـه لاس نـه ورتلـه.

میرویس خـان پـه داسې حـال کـې چـې پـه کندهـار کـې یې د ایران ټول پوځ تباه کـړې و، بیـا هـم د اصفهان دربـار تـه لیک واستاوه او ورتـه وې لیکل چې زه اوس هـم د دربـار تـابع یم، خـو ګرګین خـان او د هغـه قـواو داسـې ناروا ظلمونـه کـړي وه، چې خلک یې تـر پـزې رسـولي وه او بـالاخره د خپلـو ظلمونو قرباني سـو. کـه چېرې د ایران دربـار یـو هیات د مذاکراتـو او تحقیق د پاره کندهار ته واستوي او ټول احـوال پـه سترګو ووینـي نـو ورتـه معلومـه بـه سي، چې دې په خپل قـول کې صادق دی. د ایران عیاش پاچـا او پـه فساد کې غـرق دربـار یـو ځل بیـا وغولېدی او د حقیقت د معلوملـو د پـاره یـې د هرات حاکم محمـد خـان، چې د میرویس خـان سره یې لـه نـږدې پېژنـدل، کندهـار تـه واستاوه. میرویس پـه دې پوهېدی، چـې یـوه ورځ بـه ختمـاً د اصفهان لـه لښکرو سره مخـامخ جـګړې تـه مجبوریږي، خـو چـې هـر څونـه دا جـګړه وځنډیږي پـه هغـه انـدازه د ده پـه ګټه ده. هغـه د محمـد خـان هیـات په کندهار کې په یـوه او بلـه پلمـه دونـه وځنډاوه، چې د ایـران دربـار تـه وېره پیدا سـوه او کندهـار تـه یې دوهـم هیـات واستاوه. میرویس خـان دا دوهـم هیات هم په کندهـار کـې بنـدي کـړ. (۴)



میرویس نیکه



د کندهار په کوکران کي د میرویس نیکه مزار

# کندهار د صفوي لښکرو په مقابل کې

115

بالاخره صفوي دربار کندهار ته د لښکرو د لېږلو فیصله وکړه. صفوي دربار د کندهار له مشر سره د جنګ د پاره د ګرګین خان وراره کیخسرو، چې یو سر کښ جنرال و ، انتخاب کړ. هغه یې سپه سالار مقرر کړ، د کندهار د پوځ سرداري یې ورکړه، پنځوس زره پیاده، سپاره او توپچي قوه یې ورکړه او د خراسان امیرانو، د هرات حاکم او د کرمان حاکم علي قلي خان ته یې وظیفه ورکړه، چې د کیخسرو خان له پوځیانو سره ملګري سي. (۵)

کله چې د کیخسرو خان پوځ هرات ته ورسېدی، نو د ابدالیانو د قواو مشر عبدالله خان سدوزي او د هغه د قبیلې نور افراد، چې په هغه وخت کې یې له غلجیو سره دښمني درلوده له هغه سره ملګري سول. (٦)

خو محمد خلیل مرعشي وایي چې عبدالله خان په دغه وخت کې په ملتان کې په تبعید کې ژوند کاوه او کله چې پر کندهار باندې د صفوي قواو له حملې څخه خبر سو، له هغوې سره صرف د خپل پیوستون د ښودلو په منظور له پنځو شپږو سوو سپرو سره یو ځای سو. (٧)

میرویس خان د هلمند د سیند پر غاړه د دښمن قواو ته مخه ونیوله. یوه هفته د دواړو خواو قواوې مخ په مخ سره پرتې وې او جنګ څکه پیل نه سو، چې د کیخسرو خان قواوې د میروس خان له جوړ کړو سنګرونو څخه نه سواې تېرېدلای او که یې په حمله لاس پورې کړی وای نو باید چې سخت تلفات یې ورکړې وای. په دغه ترڅ کې میرویس خان یوه شپه د کیخسرو د قواو شاته د ابدالیانو پر قواو باندې دونه سخته حمله وکړه، چې د ابدالیانو د قوې یوه لویه برخه له سخت تلفاتو ورکولو وروسته هرات ته په تېښته ولاړه. د میرویس خان له پوځ څخه دووتنو قزلباشانو ځانونه د کیخسرو خان پوځ ته ورسول او هغه ته یې وویل چې میرویس خان د ابدالیانو په جنګ وتلی دی او سنګرونه یې خالي پرې ایښي دي. کیخسرو سمدستي د میرویس پر سنګرونو باندې حمله وکړه، د هغه باقي پاته قوه یې ماته کړه او د کندهار پر لور یې حرکت وکړ، خو میرویس خان ځان له هغه څخه مخکې کندهار ته ورساوه او ښار د کیخسرو خان قواو قلابند کړ.

میرویس خان هره ورځ له ښار څخه قواوې لېږلې او د کیخسرو خان پر عسکرو یې ناڅاپي حملې کولې. له بلې خوا د ښار د لیرو او نیږدو کلیو او ښار ګوټو پښتنو هره ورځ د کیخسرو د قواو د خوراکي موادو د اکمالاتو پر کاروانونو باندې حملې کولې. د کندهار په سخته ګرمۍ کې د کیخسرو د دونه زیاتې قوې د پاره د شپو تېرول مشکل وه او ضمناً لا د هغه په پوځیانو وبا هم ګډه سوه او د کیخسرو د پاره یې په هغه سیمه کې پاتېدل تقریباً غیر ممکن کړل.

# د اصفهان د لښکر تباهي

کیخسرو او د هغه جنرالانو فیصله وکړه، چې دغه کال باید په هرات او مشهد کې تېر کړي او بل کال به د تازه دمو قواو او زیاتې غلې دانې سره پر کندهار باندې یوه سخته حمله پیل کړي. میرویس خان ته د کیخسرو د پوځیانو د بد حالت، د هغه او د هغه د جنرالانو د وروستۍ فیصلې خبر ورسېدی. میرویس خان پوهېدی، چې د دې طلایي موقع څخه څرنګه ګټه واخلي. سمدستي یې د کیخسرو په عنوان یوه اوږده عریضه ولیکله په هغې کې یې د تسلیم او رضا ټول کلمات استعمال کړل او په ضمن کې یې کیخسرو ته ولیکل، چې ستا کاکا زه مجبور کړم، کنه دونه نافرماني او بد عمل مې چېرې کاوه؟

میرویس خان ورته ولیکل، چې زه اوس هم ستا له قواو څخه بېرېږم که چېرې تاسې خپلې قواوې یو څه شاته کړئ او ماته دونه فرصت راکړئ، چې خپل دوستان او عیال یوه امن ځای ته ورسوم، نو قلعه به تاته وسپارم، چې هر چاته مو زړه غواړي هغه ته یې تسلیم کړئ او چې ماته هر امر وي زه یې عملي کولو ته تیار یم.

په زور او ځوانۍ مغرور کیخسرو، چې د عقل پیمانه یې ډېره کمه وه، سمدستي د خپل هوښیار حریف په خبرو او وعدو وغولېدی. خپل جنرالان یې راوبلل، و خپلو قواو ته یې چې پخوا یې لاکوچ ته تیاري نیولې و، د حرکت امر ورکړ. هغه توپخانه، اردو بازار او کارخانې واستولې او پخپله د ډېرو لږو پیاده قواو سره د میرویس خان د راتللو او تسلمېدلو په انتظار کښېناست. میرویس خان دوې ورځې وروسته د وعدې سره سم، سهار وختي، چې کیخسرو خان لا په خواږه خوب ویده و، له خپلو څلورو پنځو

زرو جرارو سپرو سره له ښاره راووت. لومړی يې کيخسرو له خپلو ټولو ملګرو سره ووژه او بيا يې د هغه پر غير منظمو قواو باندې، چې په بېغمه زړه يې د هرات او مشهد پر لور حرکت پيل کړی و، ناڅاپي حملې وکړې. د کشک نخود، ګرشک او خرماليغ په علاقو کې يې داسې ناتار وربانديې جوړ کړ، چې صفوي دولت له خپلې دغې پنځوس زره کسيزې قوې څخه د تل د پاره لاس پر سر سو. ميرويس خان ته په دې حملو کې دونه زياتې خزانې، وسلې او وسايل په لاس ورغلل، چې په کندهار کې يې د هوتکو د نوي تاسيس کړي دولت اساس وربانديې قوي کړ.

# د اصفهان دويم پوځ او ميرويس خان

کله چې اصفهان د دې حوادثو څخه خبر سو، نو شاه حسين ډېر سخت په قار سو او سمدستي يې د محمد زمان خان قور چې باشي په سپه سالاري د کندهار پر لور يو بل پوځ واستاوه. د ايران دربار خپل ټول اميد په دغه قوه پورې تړلی و او په لاره کې يې ټولو واليانو، سردارانو، مشرانو او اقوامو ته امر کړی و، چې د دې قوې سره يو ځای سي او په کندهار کې د ميرويس خان څخه د ايران د وژل سويو عسکرو انتقام واخلي. د شاه حسين له بده بخته، د دې قوې قوماندان د بسطام په سيمه کې، چې د خراسان او استر آباد پر سرحد پروت دی، ناروغ سو او هلته وفات سو. شاه حسين دونه زړه ماتی سو چې نور يې د کندهار پر لور د لښکر کښۍ له پلانونو څخه لاس واخيست. ميرويس خان په هماغه کال د هند مغولي امپراتور ته خپل ورور حاجي امکو د ډېرو زياتو تحفو سره واستاوه او هغه ته يې په خط کې ليکلي وه چې د ايران د پاچا سره يې ټول مخالفت او جنګونه صرف د هند د دولت د دوستۍ په خاطر کړي دي او د ډهلي د پاچا د هر امر منلو ته تيار دی. د ډهلي امپراتور د هيات ډېر قدر وکړ: ميرويس خان ته يې د کندهار د سيمې د صوبه دارۍ فرمان واستاوه. هغه ته يې د حاجي امير خان لقب ورکړ. فيل، توره، فاخره جامې، وسلې او پينځه لکه روپۍ يې ورته را واستولې. (۷)

ميرويس خان ښايي ډېرې لويې نقشې درلودلې، خو له هغه سره عمر وفا ونه کړه او د اتو کالو حکومت څخه وروسته په کال ۱۷۱۵ م کې ناروغ او د زيات کم پينځه څلوېښتو کالو په عمر کې وفات سو. لاکهارټ د ميرويس خان د شخصيت په باره کې ليکي: " په دې کې شک نسته چې

میرویس ډېر د توجه وړ سړی و. سره له هغه چې ډېر زړه ور و، مګر چې ترخو یې د دښمن په مقابل کې د حیلې او نیرنګ نه کار اخستلای سو، زور او قوې ته یې لاس نه اچاوه. کله چې به یې غلیم ته د ګوزار ورکولو نیت وکړ، نو صبر به یې کاوه او د فرصت په انتظار به کښېنستې. هغه په ژوند کې یو ځل صرف هغه وخت له ماتې سره مخامخ سو، چې د خپلې قبیلې د افرادو د فشار په وجه یې په کال ۱۷۰٦ م کې شورش وکړ.

موږ نه پوهېږو چې میرویس به اصفهان ته د تللو او د شاه د لیرې کولو خیال درلود او کنه، خو په پایتخت کې د کمزوري او فساد څخه یې بشپړه اطلاع درلوده او په دې پوهېدی چې په لازم وخت کې په یوه زړه وره حمله خپل هدف ته رسېدلای سي. مګر هغه کافي هوښیار و او پوهېدی، چې په یوه حمله به خپل مطلب ترلاسه کړي، مګر احتمال لري، چې د ایران تصرف کول او ساتل له ځان سره خطرونه هم ولري. که هغه چېرې د اصفهان د نیولو خیال درلودلی وي نو هم یې یوه لازم فرصت ته پرې ایښی و. هغه خپلو خلکو ته دا امکان برابر کړ، چې د صفویانو د غلامۍ جغ له غاړې لیرې کړي، ویلای سو، چې هغه د افغانانو د استقلال مخکښ و، خو ښایي هغه پخپله په دې نه و خبر. (۸)

د میرویس خان په باره کې لیکنې، موږ ته زیاتره د بېګانه ګانو څخه راپاته سوي دي، له بده مرغه په دغه راز لیکنو کې بې غرضه او عادلانه قضاوتونه ډېر کم لېده کېږي. پخپله په کندهار کې او یا د پښتنو په علاقه کې چا د میرویس خان په باب څه نه دي لیکلي. موږ د هغه د حکومتي اجرااتو او اداري تشکیلاتو په باره کې هیڅ ډول موثقه اطلاع نه لرو. افضل خان ختک، چې د میرویس خان معاصر دی، موږ ته صرف دونه وایي چې اوس سن زر سل څلېروېشت دی، په کندهار ناست خپل حکومت او سرداري کا، توفیق یې رفیق شه ښه پښتون دی. (۹)

میرویس خان د شېر شاه سوري په څېر د عقل او توري څښتن و، چې تر څو پورې یې ژبې کار کاوه، تر هغه وخته یې توري ته لاس نه اچاوه. کله چې د ایران د صفوي دولت سره د دښمنۍ او مخامخ جګړې میدان ته مجبور سو، نو له یوې خوایې د ایران لښکرو ته د صفویانو د تاریخ تر ټولو شرمونکي شکستونه ورکړل او له بلې خوا یې هر وخت د ښمن د مذاکراتو او خبرو په پیشنهادونو غولاوه په همدغه وخت کې یې د هند مغولي امپراتور ته د دوستۍ او حتی د تابعیت لاس اوږد کړ او ځان یې لږ تر لږه د

يوه لوی ګاونډي هېواد له دښمنۍ څخه بېغمه کړ. البته ميرويس خان دا کار يوازې د دې د پاره ونه کړ، چې د صفويانو په مقابل کې د ځان د پاره ملګري پيدا کړي، بلکه په دغه وخت کې ابداليانو، چې د غلجيو قبايلو سره يې تازه هڅونه مات کړي وه، په ملتان کې د هند د مغولي دربار له خوا د پنځو شپږو زرو کورونو جاګير درلود. ميرويس په دې پوهېدی چې د هند د مغولي حکومت او د ابداليانو ترمنځ دوستي د ده قدرت ته صدمه رسولای سي. هغه په دې پوهېدی ، چې مغولي دربار د دې د پاره په ملتان کې ابداليانو ته ځای او جاګير ورکړی دی، چې يوه ورځ د ضرورت په وخت کې د صفويانو په مقابل کې کار ورڅخه واخلي. ځکه يې نو وار د مخه کړ او د هند د امپراتور زړه يې د لاسه کړ. ميرويس ښايي په دې نه و خبر چې د هند مغولي دربار تر صفويانو په سختو مشکلاتو او اداري فساد اخته دی او نور نه د ده قدرت ته صدمه رسولای سي او نه يې د دښمن د احتمالي حملو په مقابل کې لازمه حمايه کولای سي.

دا چې ميرويس خان به د فتوحاتو او لښکر کښيو خيال درلود او کنه، موږ بيا هم موثق اطلاعات نه لرو. موږ دونه پوهيږو، چې هغه د خپل قدرت په لنډه اته کلنه دوره کې د غزني څخه نيولې تر اوروزګان، نيمروز، شال او مستونګ پورې په قلمرو قانع و او لږ تر لږه د نورو سيمو د لاندې کولو د پاره يې عملي اقدام نه دی کړی. موږ د استقلال په لاره کې د هغه له هوښيارو اقدامانو، د صفوي دولت په شان يوې لويې پاچاهي پوځونو او توپخانو ته د شکستونو ورکولو او د قدرت په لنډه دوره کې د هغه د محبوبيت څخه دا اټکل کولای سو چې هغه يو هوښيار پښتون مشر و. په دې کې شک نسته چې احمد شاه بابا به د خپلې امپراتورۍ د تاسيسولو،له خلکو سره د سلوک کولو او په اداري چارو کې د حاجي ميرويس خان له پلانونو او عملياتو څخه پند اخيستی وي.

# کندهار د ميرويس خان تر وفات وروسته

د ميرويس خان تر وفات وروسته د کندهار پښتنو ځکه د هغه ورور عبدالعزيز په مشرتوب ومانه چې د هغه مشر زوی، محمود په دغه وخت کې د اوه لسو کالو او کشر زوی حسين يې د څوارلسو کالو و. عبدالعزيز په هيڅ توګه د خپل ورور ميرويس سره د مقايسې وړ نه و. هغه نه د ميرويس توره او نه د هغه عقل او ژبه درلوده. د مشر کېدلو سره سم يې اصفهان ته پيغام

واستاوه او په هغه کې یې لیکلي وه، چې که اصفهان د کندهار حکومت ده ته ورکړي او د کندهار صوبه داري د ده په کور کې میراثي کړي نو دی به د ایران د دولت له او امرو څخه سرغړونه ونه کړي. د قوم مشرانو، چې آزادي یې د وینو په بیه ګټلې وه، د عبدالعزیز دغه راز مشرتوب نه سو زغملای، ځکه چې هغه نه یوازې پښتانه د آزادۍ او استقلال له نعمت څخه محروموول بلکې صفوي دولت ته یې په تسلیمېدلو سره ټول هغه خانان د صفویانو د غضب اور ته سپارل، چې د میرویس خان سره یې د استقلال په ګټلو او د آزادۍ په جنګونو کې برخه اخیستې او تر سر او مال ورسره تېر سوي وه. مخکې له هغه چې کندهار بیا د یوه بېګانه سلطان او د هغه د ظالمو حکمرانانو لاسته ورسي، پښتنو خانانو او مشرانو د میرویس خان مشر زوی محمود خپل مشر وټاکه او هغه د قوم د مشرانو په مرسته خپل اکا عبدالعزیز وواژه.

# شاه محمود هوتک

محمود په کال ۱۷۱۷ م کې د کندهار او شاوخوا سیمو د قدرت واګې په لاس کې واخیستلې. هغه د خپل پلار په شان زړه ور او د جنګ د میدان زمری و. د هغه سره د قدرت په ټینګولو او فتوحاتو کې ځو شیانو ډېره مرسته وکړه. لومړی خو دا چې له هغه سره د قدرت په مرکز کندهار کې هیڅ ډول ښکاره او پټ مخالفت موجود نه و او د دې خبرې یوه مانا دا کېدلای سي، چې میرویس خان باید د خپل مشر تابه په اته کلنه دوره کې د حکومت اداري چارې دونه په بریالي توګه پر مخ بیولې او د خلکو زړونه یې دونه ساتلي وه چې هغوی په یوه زړه او یوه خوله حکومت او مشري د میرویس د کورنۍ حق باله، چې البته دغه راز توافق د پښتنو په سرکښو قبایلو کې ډېر لږ مثال لري. دوهمه خبره دا ده چې د هرات ابدالیان په دغه وخت کې په خپلو کې په داسې جنګونو لګیاوه، چې د ده قدرت ته یې خطر متوجه کولای نه سو او دریم دا چې صفوي دولت هم د کندهار په مقابل کې د پرله پسې شکستونو د لاسه روحیات بایللي، هم یې په حکومتي دستګاه کې د اداري فساد او په دربار کې د دسیسو له لاسه د لویو لښکرکښیو قدرت له لاسه ورکړی و او نور یې پر کندهار باندې د حملې توان نه درلود. څلورم دا چې صفوي دولت اوس یوازې د

کندهار د قواو سره مخامخ نه و بلکې د هرات په محاذ کې د ابدالي لښکرو د مقاومت سره هم مخامخ سوی و او مجبور و، چې په دوو لويو جبهو کې وجنګيږي په داسې حال کې چې يوازې د کندهار د جبهې فتح يې له توانه وتلې وه.

## د ابداليانو او شاه محمود جګړه

په کال ۱۷۲۰ م کې د هرات د ابداليانو توريالي مشر او زړه ور سپه سالار اسدالله خان، چې تازه يې د ايران مشهور جرنيل صفي قلي خان ته يوه شرمونکې ماته ورکړې وه، د محمود هوتک له قواو سره د دلارام په بدمرغه قومي جګړه کې ووژل سو. ابداليانو ماته وکړه، فراه بېرته د محمود د قواو لاسته ورغله او محمود په کندهار کې د خپل حکومت او قواو په سمبالولو لګيا سو. محمود هوتک د اسدالله خان سر د ايران دربار ته واستاوه او له هغه سره يې په ليږلي عريضه کې د ايران پاچا ته وليکل، چې د اسدالله خان سره جګړه يې صرف د ايران د پاچا د خير غوښتنې په خاطر کړې ده. که چيرې اوس د ايران پاچا د خراسان څخه د هرات پر لور حرکت وکړي، نو هغه به هم د کندهار څخه حرکت وکړي او له دواړو خواو به پر ابداليانو باندې حمله وکړي. د ايران ساده لوح پاچا د محمود هوتک خبرې ومنلې او ډېر سخت خوشاله سو. محمود هم د هرات د ابداليانو د ځپلو په پلمه سيستان ته داخل سو. په دغه وخت کې شهداد بلوچ د کرمان د نيولو او لوټلو په نيت روان و. د کرمان خلکو د شهداد بلوچ د وېرې محمود هوتک ته، چې دا وخت په سيستان کې و بلنه ورکړه. محمود هوتک د کرمان د خلکو غوښتنه يو غيبي لاس وباله او سمدستي يې پر هغه لور حرکت وکړ او کرمان يې ونيوی. په دغه وخت کې هغه ته په کندهار کې د فارسي ژبانو د شورش خبر ورسېدی او هغه مجبور سو چې بېرته د کندهار پر لور حرکت وکړي. خبره داسې وه چې محمود هوتک د فراه د نيولو څخه وروسته بيجن سلطان لکزی، چې په فراه کې اوسېدی د کندهار نايب الحکومه مقرر کړ. بيجن سلطان، چې د کندهار څخه د محمود د حرکت نه وروسته د کندهار قلعه خالي وليده، نو د ملک جعفر خان سيستاني سره يې، چې په کندهار کې بندي و، دسيسه جوړه کړه. دوی دواړو د کندهار د فارسي ژبو په مرسته د صفوي دولت د حمايه کولو په منظور شورش پيل کړ. په قلا کې دننه افغانان يې ټول قتل کړل.

مګر کله چې سبا د ښار ښخه دباندې افغانان په دې احوال خبر سول په یوه سلا قلا ته ننوتل. بیجن سلطان او ملک جعفر خان یې ونیول او د قلات د فارسي ژبو سره یو ځای یې ووژل. محمود هوتک د دې رپوټونو د اورېدلو سره سم د کندهار پر لور روان سو. (۱۰)

# شاه محمود د ایران په لور

دا چې محمود به ریښتیا هم په دغه وخت کې غوښتل د ایران حکومت نسکور کړي او اصفهان ونیسي، سړی په یقین سره څه نه سي ویلای، خو دونه ویلای سي چې په کال ۱۷۲۰ م د سیستان پر لور د هغه د لښکرکښي ښخه دا ثابتېږي چې د پلار ښخه په ورپاته سوي قلمرو قانع نه و او غوښتل یې چې خپله د قدرت ساحه پراخه کړي، خو دا چې ولې یې د هرات له لارې پر ایران باندې حمله ونه کړه، نو له دې ښخه دا ثابتېږي چې د دې ځوان پښتانه مشر سره دا فکر موجود و، چې د هرات ابدالیانو سره په نورو وینو تویولو کې هم د دې دوو لویو پښتني قامونو ترمنځ دښمني ابدي کېږي، هم د صفویانو د احتمالي لښکر کښیو په مقابل کې د ده جنګي طاقت کمزوری کېږي او هم د دې احتمال سته چې د هرات ابدالیان د ده په مقابل کې ببرته د ایران سره لاس یو کړي. سړی ویلای سي چې هغه به د دغه علت په اساس د سیستان خوا ته مخه کړې وي، چې د صفوي دولت په یوه وخت کې په دوو لویو جبهو کې د جنګ میدان ته راکش کړي.

حقیقت خبره خو دا ده چې غلجیانو او ابدالیانو، چې د استقلال د ګټلو یې زیات و کم لس کاله تېر سوي وه او لا یې منظم اداري نظامونه نه وه تشکیل کړي، په هیڅ صورت نه سو کولای چې د ایران په شان یوه مستقر شاهي نظام ته د جنګ په میدانونو کې داسې شرمونکي شکستونه ورکړي، خو خبره دا ده چې د ایران صفوي رژیم، درباري دسیسو او اداري فساد داسې شوږولی و، چې د محمود په شان یوه زړه ور او تر سر تېر جنرال ګوزار ته یې د ځان د ټینګولو توان نه درلود.

محمود په کال ۱۷۲۰ م کې صرف د یوولسو زرو جنګي مېړونو سره د سیستان د لارې د کرمان پر لور حرکت وکړ. په داسې حال کې چې د ده سره د ورسره عسکرو څخه زیات شمېر د لوت په دښت کې د ګرمۍ د لاسه مړه سوي او باقي پاته یې سترې ستومانه او ناروغ وه بیا هم د کرمان حاکم د ده له ور رسېدلو څخه مخکې بیله جنګه وتښتېدی او محمود کرمان ونیوی. (۱۱)

محمود نهه میاشتې په کرمان کې پاته سو او په کندهار کې د خپل یوه لوی جنرال بیجن سلطان لـزګي د ښورښ د ځپلو د پاره په ډېره عجله ځپل پایتخت ته ستون سو او دوه کاله په کندهار کې پاته سو. (۱۲)

محمود دوه کاله وروسته بیا د ایران پر لور حرکت وکړ. دا ځل له هغه سره لس زره پښتانه جنګیالي ملګري وه او وروسته اته زره هزاره او بلوخ هم ورسره یو ځای سول.

په داسې حال کې چې د ایران دولت کولای سوای د محمود د قواو لس چنده او شل چنده قوه او توپخانه د جنګونو میدانونو ته وباسي، مګر د ایران مشرانو خپل هېواد تباهۍ ته ورکاوه، خو جیبونه یې تشېدلو ته نه ورکول. دوی د دښمن هرڅه منلو ته حاضر وه، خو د وطن څخه د دفاع د پاره د پیسو لګولو ته تیار نه وه.(۱۴)

د شاه محمود سره دومره قوت او اولس ملګری و چې د پښتونخوا د سرحداتو څخه یې د هر ډول قوي دښمن په مقابل کې دفاع کولای سوای او دې قوت د هغه د پلار میرویس خان په وخت کې خپل زور ښودلی و، مګر دا چې محمود دې په دغو پوځیانو د ایران خاوره لاندې کړي او بالاخره دی د ایرانیانو پایتخت اصفهان ونیسي دا د هیچا په ګومان کې نه راتله.

# د شاه محمود او اصفهان جنګونه

محمود په کال ۱۷۲۲ م کې بیا د کرمان د لارې پر اصفهان باندې حمله وکړه د هغه د کوچنیو او لویو جنګونو په باره کې تفصیل موږ له موضوع څخه لیرې کوي، خو دونه به ووایو چې هغه د همدغه کال د مارچ په میاشت کې د اصفهان شاوخوا ته ورسېدی. د ایران اداري دستګاه او دولت دونه فاسد سوی وه چې په دغه وخت کې یې هم جنرالانو او

مشرانو د یوه او بل پر ضد دسیسې کولې. د صفوي دولت زړه ور سپه سالاران د همدغو دسیسو قرباني سول. شاه بالاخره خپل مشر زوی محمد مېرزا د حرم څخه را وایست او له اصفهان څخه د دفاع او پر دښمن باندې د حملې چارې یې وروسپارلې. هغه درې ورځې وروسته د دربار د ملا باشي او نورو فاسدو عالي رتبه مقاماتو له مخالفت سره مخامخ سو او شاه مجبور سو چې خپل دغه زوی بېرته حرم ته ننه باسي. شاه خپل دوهم دیروېښت کلن زوی صفي مېرزا له حرم څخه راوایست، مګر د دربار د مقاماتو د دسیسو او شکایتونو په وجه مجبور سو، چې خپل دوهم زوی هم بېرته حرم ته ننه باسي. بالاخره یې خپل دریم زوی طهماسب مېرزا ته د اصفهان څخه د دفاع وظیفه ورکړه. طهماسب مېرزا د شاه محمود له پوځیانو سره، چې د اېرانیانو زړونه یې له نامه څخه لړزېدل د مقاومت توان نه درلود او د دې پر ځای چې د شاه محمود سره وجنګیږي، د زرو تنو سپرو سره کاشان ته وتښتېدی. ایرانیان دومره له افغانانو څخه بېرېدل او دومره یې روحیات کمزوري سوي وه، چې د هالینډي هیأت په قول هر ځای به یې چې څلور تنه یو ځای سره ولیدل د افغانانو د لښکر خیال به یې ورباندې کاوه، په تېښته به ښار ته ننوتل او یوه لویه هنګامه به یې جوړه کړه. (۱۵)

شاه محمود ته د اصفهان په دربار کې د مخالفتونو او دسیسو په باب پرله پسې رپوټونه رسېدل او په دې خبر و چې د ایران د پوځ روحیه څونه کمزورې ده، مګر هغه بیا هم په دې عقیده و، چې نن وي که سبا وي د اصفهان د خلاصولو د پاره به د ایران نورې تازه دمه قواوې راورسیږي او دی به له لوی خطر سره مخامخ کړي. سره له هغه چې د محمود قواو پرله پسې د ایران قواو ته ماتې ورکړې وې، بیا یې هم خپل عالي رتبه صاحب منصبان د اصفهان دربار ته د سولې د مذاکراتو د پاره واستول او د ایران شاه ته یې پېشنهاد وکړ، چې که خپله لور ده ته په نکاح کړي او د هغې سره پنځوس زره تومنه د جهیز په توګه ورکړي، د اصفهان محاصره به خوشې کړي او بېرته به خپل وطن ته ولاړ سي، مګر د ایران شاه د هغه دا پېشنهاد رد کړ او جنګونو بېرته زور واخیست. (۱٦)

د شاه حسین زوی شاه طهماسب مېرزا چې د اصفهان څخه وتښتېدی او ځان یې قزوین ته ورساوه. یو څو ورځې د لښکرو په راټولولو لګیا سو او



سلطان حسين صفوي



شاه محمود هوتك

وروسته يې هرڅه هېر کړل او د خپل پلار او د حرم د نورو شهزاده ګانو په څېر په عيش او نوش کې ډوب سو. (۱۷)

# د اصفهان محاصره

په اصفهان کې د محاصرې د لاسه داسې قحطي راغله چې خلکو په لومړي سر کې د خرو غوښې خوړلې وروسته خره نه پېدا کېدل، خلکو د سُپيو او پيشيانو غوښې خوړلې او بيا يې نو د انسانانو د غوښو په خوړلو بنا وکړه. په اصفهان کې لږ تر لږه پنځو قصابانو د انسانانو غوښې خرڅولې. خلکو د ونو پوستکي خوړل، زاړه بوټونه يې ايشول او اوبه به يې څښلې او داسې خلک لا هم وه چې د خپلې کورنۍ سره يې زهر وخوړل او يو ځای مړه سول. (۱۸)

د ايران شاه بالاخره بېله تسليمېدلو بله چاره نه درلوده او د کال ۱۷۲۲ م د اکتوبر پر دوه وېشتمه د اصفهان د ښار څخه د باندې د محمود خېمې ته ورغی او په خپل لاس يې خپل شاهي تاج د شاه محمود پر سر کېښېښود او مبارکي يې ورته ووېله. محمود هغه ته تسلي ورکړه او ورته وې ويل چې د حکومت او ادارې په چارو کې به د پلار په شان مشوره ورڅخه اخلي. (۱۹)

په دې توګه په ايران کې صفوي رژيم، چې د شپاړسمې پېړۍ په سر کې اقتدار ته رسېدلی و نسکور سو او پر ځای باندې يې د هوتکو لنډه او له حوادثو ډکه دوره پيل سوه.

محمود د زيات و کم دوه وېشتو کالو په عمر کې په داسې حال کې د اصفهان پر تخت کښېناست چې نه ده په خپله د صفوي امپراتورۍ د پراخ قلمرو د اداره کولو د پاره سياسي او ادارې تجربه درلوده او نه د ده سره په ملګري لښکر کې د چا سره د يوه منظم دولت د اداره کولو توان او تجربه موجوده وه. محمود پاک نفسه سړی و، ساده يې خوړل او ساده يې اغوستل. له شرابو او عياشۍ څخه ليرې و، ډېر لږ خوب يې کاوه او هر ځای چې به خوب غلبه ورباندې وکړه هلته به بېدېدی. په باد او باران کې په يوه کميس کې ګرځېدی او په هماغه يوه کميس کې يې پر دښمن باندې حمله کوله او د لښکر په مخ کې به روان و. (۲۰)

البته د پاچاهي او د يوه غليم هېواد د ايلولو او تر کنترول لاندې راوستلو د پاره يوازې پاک نفسي او زړه ور توب کافي نه وه. د دې د پاره نور ډېر هنرونه لازم وه، چې که محمود هغه درلودلای نو اول خو يې بايد د اصفهان د نيولو او ايران ته د پايتخت د نقلولو خيال نه وای کړی او کله چې يې اصفهان ونيوی، نو بيا يې بايد هر قدم د عقل او تدبير په حکم اخيستی وای، خو له بده مرغه چې په اصفهان کې د محمود د قدرت ځه باندې دوه کلنه دوره د سختو اداري اشتباهاتو او د وينو تويېدلو سره پيل سوه. البته د دې ټولو اشتباهاتو او وينو تويېدلو پړه سړی يوازې پر محمود او د هغه پر جنرالانو نه سي اچولای. بلکې دا زياتره په هغه وخت کې د ايرانيانو او افغانانو د قواو ترمنځ د عمل او عکس العمل نتيجه وه او چنداني يې مخه نيول کېدلای نه سوای. بله خبره دا ده چې د محمود او د هغه د جنرالانو د اجراآتو او عملياتو په باره کې مورږ ته زياتره هغه ليکنې را رسيدلي دي چې د افغانانو مخالفو او حتی غليمو، ليکوالانو ترتيب کړي دي، خو دونه ويلای سو چې د محمود له اجراآتو څخه يوازې ايرانيان نه بلکې افغانان او د هغه نيژدې ملګري او جنرالان ناراض وه او د همدغه نارضائيت په نتيجه کې د هغه د کاکا زوی اشرف د ۱۷۲۵ م کال د اپريل د مياشتې پر دوه وېشتمه محمود، چې عمر يې زيات و کم شپږ ويشتو کالو ته رسېدی وواژه او پخپله په اصفهان کې پاچا سو.

# شاه اشرف د اصفهان پر تخت

شاه اشرف د پاچا کېدلو سره سم د عثماني ترکانو سره چې د ايران د ډېرو لويو ښارونو او سيمو د لاندې کولو د پاره يې لښکر کښي کولې، مخامخ سو. دغه راز د ايران په شمال کې د روسيې قواو د ايران پر لوړ پرمختګ پيل کړ او د عثماني ترکانو سره يې د ايران د خاورې د وېشلو قرارداد لاسليک کړ. په دې وخت کې د شاه اشرف تر ټولو خطرناک دښمنان نادر افشار او د صفوي شاه حسين زوی، طهماسب ميرزا ؤ. دوی ته د ايران ټولو خلکو د اميد سترګې نيولې وې او د هرې ورځې د تېرېدلو سره يې د شاه اشرف قدرت ته خطر متوجه کاوه. شاه اشرف د دونه زياتو دښمنانو په مقابل کې يوازې پاته و، د هرات ابداليانو نه له هغه سره مرسته کوله او نه د هغه سره مرستې ته فارغ وه، ځکه چې هغوې يا په خپلو کې

په جنګونو لګیاوه او یا پخپله د نادر افشار د قواو سره په جګړه اخته وه. شاه حسین هوتک، چې په کندهار کې یې د مستقل پاچا په حیث د قدرت واګې په لاس کې نیولې وې، نه یوازې د شاه اشرف مرستې ته حاضر نه و، بلکې د خپل ورور د وینو د انتقام اخیستلو په غرض یې د سر دښمن لا هم باله. لکه څرنګه چې د هرات ابدالیان د هرات د محاصرې او د نادر افشار سره په جنګونو کې یوازې پاته وه دغه راز شاه اشرف هم د ټولو دښمنانو او مشکلاتو سره په یکړ سر د مبارزې میدان ته ووت. د شاه اشرف قواو د نادر افشار په مقابل کې څو ځایه ماته وکړه او بالاخره د ۱۷۲۹ م کال د سپټامبر پر نه ویشتمه د مهماندوست په سیمه کې د دواړو خواو قواوې سره مخامخ سوې. په دې جنګ کې د دواړو خواو د قواو د شمېر په برخه کې ډېر زیات اختلاف موجود دی، خو دونه ویل کیږي چې د نادر درنې توپخانې افغانانو ته دوولس زره تنه تلفات ورسول او پخپله د ایرانیانو د قواو څخه خلور زره تنه ووژل سول. (۲۱)

شاه اشرف د هماغه کال په پای کې د شیراز سره نېژدې د نادر شاه د قواو په مقابل کې قاطع او وروستۍ ماته وخوړه او نور یې نو د قواو د راټولولو توان نه درلود. د شاه اشرف ځینو ملګرو او د کورنۍ غړو د فارس د خلیج پر لور مخ ونیوی، خوک د ایران په نورو ښارونو کې تیت سول او پخپله شاه اشرف د هلمند خوا ته مخه کړه. هغه د خپلو ملګرو سره د ښوراوک پر لور په ریګو کې سترې ستومانه روان و، چې د شاه حسین یوه غلام، ابراهیم بلوچ د ۱۷۳۰ م کال د اپریل په میاشت کې وواژه. نادر شاه د تر ټولو زړه ور، هوښیار او خطرناک دښمن د ماتولو او د خپل کور د یوه غړي په لاس د هغه د وژل کېدلو څخه یو کال وروسته د هرات د ابدالیانو پر لور رهي سو. انګرېز مورخ او محقق هنري جورج راورټي Henry George Reverty لیکي " که دې دواړو لویو قبیلو په منظم ډول لاس سره یو کړي وای او په دې کې شک نسته چې نور قبایل به هم ورسره یو ځای سوي وای ، نو ښایي د دې جنګونو نتیجه به بل راز وای."(۲۲)

د پښتنو په تاریخ کې ډېره لږ داسې پېښه سوې ده چې ددې قوم دې په یوه وخت او زمان کې په دومره مساعدو تاریخي شرایطو کې هم د اصفهان، هرات، کندهار او بلوچستان په شان پراخې سیمې په لاس کې وي او هم دې د ذوالفقار خان، الله یار خان سدوزی، عبدالغني خان الکوزی، شاه حسین هوتک ، شاه اشرف هوتک، سیدال خان ناصر، موسٰی

خان دونګي، نور محمد خان علیزی، آزاد خان سلیمان خېل او ..... په شان هوښیار، زړه ور او پر وطن مین مشران په یوه وخت او شرایطو کې درلودلی وي او ویلاي سو چې پښتنو ښایي په خپل تاریخ کې بیخي لږ دونه مساعد فرصتونه له لاسه ور کړي وي.

# هوتکیان


۱. The history of revolution in Iran p 120-121

۲. مجمع التواریخ ص ۴

۳. هغه کتاب ص ۴

۴. لاکهارټ ص ۱۰۲

۵. هغه کتاب ص ۱۰۳

٦. مجمع اتواریخ ص ۱۹-۲۰

۷. هغه کتاب ص ۱۸ Tate p 42

۸. لاکهارټ ص ۱۰۸

۹. تاریخ مرصع ص ۴۰۲

۱۰. تاریخ جهانکشاي نادري ص ۱۰-۱۱

۱۱. لاکهارټ ص ۱۲۸-۱۲۹

۱۲. هغه کتاب ص ۱۳۰

۱۳. هغه کتاب ص ۱۵۰

۱۴. ویلیم فلور برافتادن صفویان و بر آمدن محمود افغان ص ۱۷۲

۱۵. هغه کتاب ص ۱۱۴

۱۶. لاکهارټ ص ۱۸۱

۱۷. هغه کتاب ص ۱۸۶

۱۸. عبرت نامه ص ۴۶-۴۷

۱۹. لا کهارټ ۱۹۹

۲۰. عبرت نامه ص ۲۳

۲۱. لاکهارټ ص ۳۷۸

۲۲. Raverty Travel to Afghanistan p 610



اعلیحضرت شاه اشرف

13۰

# ابداليان په هرات کې

ابداليان د هرات اصلي اوسيدونکي نه دي او د نورو پښتنې سيمو څخه دلته راکوچېدلي دي. مجمع التواريخ ليکي چې ابداليان د ۱۰۰۰ هجري قمري په شاوخوا کې د کابل د کوهستان څخه، چې د دوی اصلي مسکن دی، د ځينو حوادثو په اثر وتلي او د هرات په شاوخوا کې ځای پر ځای سوي دي. دوی اوړی په بادغيس او ژمی په اوبه او شافلان کې، چې د هرات ختيځې سيمې دي تېراوه، ويل کيږي چې د شاه سليمان او شاه سلطان حسين صفوي په زمانه کې د هرات په شاوخوا کې د هغوی شمېر شپېتو زرو کورنيو ته رسېدی. صفوي سلطانانو هغوی ته د قدر په سترګه کتل او د دغې قبيلې سردارانو ته به يې د سلطاني لقب ورکاوه. صفوي سلطانانو د غلجي قبايلو سره هم عين سلوک کاوه او د هغوی مشر ته يې د سلطان خطاب کاوه.

د شاه سليمان د سلطنت په اواخرو کې د ابداليانو د سردار حيات سلطان او د هرات د حاکم د محصل ترمنځ په څه خبره نښته وسوه او محصل په جګړه کې ووژل سو. حيات سلطان او د هغه ورور لښکر خان د پېنځو شپږو زرو ابدالي کورنيو سره ملتان ته فرار سول. ځکه چې په هغه زمانه کې د قزلباشو حکامو د خپل پوځ ډېر لوی لوی افسران په ډېره کوچنۍ ګناه وهل او بې آبه کول او د يوه محصل وژل کېدل خو ډېره عظيمه ګناه وه. (۱)

د مجمع التواريخ د دې عبارت څخه چې وايي په هرات کې د صفوي شاه سليمان په وخت کې تر شپېتو زرو کورنيو پورې ابداليان اوسېدل، داسې څرګنديږي چې دونه زيات شمېر پښتانه بايد د ډېرې اوږدې مودې په جريان کې دغه ښار ته تللي او کوچېدلي او يا بايد ډېره لويه حادثه

پېښه سوې وي چې په دومره زيات شمېر پښتانه له خپلو ځمکو څخه دغه ښار ته کوچېدلي وي، داسې ښکاري چې حيات سلطان او د هغه ورور لښکر خان په ملتان کې وفات سوي وي، ځکه چې په کندهار کې د صفوي دربار د حاکم ګرګين خان د وژل کېدلو څخه وروسته د ايران صفوي دربار د وژل سوي ګرګين خان وراره. خسروخان د ميرويس خان مقابلې ته واستاوه. د حيات سلطان زوی عبدالله خان او د هغه زوی اسدالله خان د ملتان څخه د خسرو خان مرستې ته راغلل او کله چې خسرو خان د ميرويس د لښکرو سره په جنګ کې ووژل سو، نو عبدالله خان د خپلې کورنۍ سره هرات ته ولاړ او د هغه ښار ابدالي مشرانو هغه په مشرتوب ومانه. (۲)

محمد حيات خان په حيات افغاني کې ليکي چې د ابدالي حيات سلطان او د ايران د حکومت له خوا د کندهار د حاکم ترمنځ اختلاف راغی. حيات افغاني په دې برخه کې د هرات مسئلې ته بيخي اشاره نه کوي او وايي چې حيات سلطان د کندهار د ايراني حاکم د لاسه ملتان ته وتښتېدی او څه وخت وروسته چې ابداليانو د ميرويس سره د کندهار په قيام کې لاس يو کړ، ميرويس د ايراني حاکم د وژلو او د ايرانيانو د ماتې څخه وروسته د ابداليانو سره پر کړې وعده ونه درېدی او هغوی ته يې چنداني حق ورنه کړ. په نتيجه کې د غلجيو او ابداليانو ترمنځ نښته وسوه؛ ابداليانو ډېره سخته ماته وخوړه او هرات ته په تللو مجبور سول. په دغه وخت کې د حيات سلطان زوی عبدالله خان د هرات د ابداليانو سره يو ځای سو او هغوی په مشرتوب ومانه. حيات افغاني انګرېزي چاپ د دې حوادثو کال ۱۰۲۹ هـ ق ذکروي چې په ميلادي حساب تقريباً ۱۶۱۷ کېږي. دا سنه په هېڅ صورت د ميرويس خان د قيام سره، چې په ۱۷۰۸ ميلادي کې سوی دی او حيات افغاني ادعا کوي، چې په همدغه کال د ابداليانو او غلجيانو ترمنځ يوه سخته جګړه وسوه، سر نه خوري. (۳) له بده مرغه چې د حيات افغاني پښتو متن، چې غالباً به د فارسي څخه ترجمه سوی وي، همدغه سنه په همدغه شکل راوړې ده.

البته مجمع التواريخ د هغو حوادثو ذکر نه کوي، چې په ۱۰۰۰ هـ ق کې هرات ته د ابداليانو د کوچېدلو سبب سوی دی، مګر په اته لسمه پېړۍ کې په هرات کې د ابداليانو د قدرت، پر ايران باندې د هغو د حملو او نادر افشار د پوځونو او قواو سره د هغوی د مقاومتونو او برياليتوبونو

ځځه ښکاري چې ابداليان د حيات افغاني د ادعا په خلاف د ميرويس خان په وخت کې نه بلکې ډېر پخوا دغه ښار ته ورغلي او مېشته سوي دي.

## عبدالله خان او اسد الله خان

د يوه روايت په اساس د هرات ابداليانو، عبدالله خان ته بلنه ورکړه چې هرات ته ورسي او د هغوی مشرتوب پر غاړه واخلي. عبدالله خان هرات ته د رسېدلو سره سم د هغو لښکرو ملګری سو، چې د ګرګين خان د وراره خسرو خان په مشري کندهار ته روان وه او د ميرويس خان ځځه يې د ګرګين د قتل انتقام اخيست. د خسرو خان پوځ د کندهار د قواو په مقابل کې ماته وکړه او پخپله د کندهار ځځه د عقب نشيني کولو په وخت کې ووژل سو. عبدالله خان او د هغه زوی اسدالله خان هرات ته ورغلل. د هرات صفوي حاکم عباس قلي خان شاملو دوی دواړه بنديان کړل. په دغه وخت کې د هرات قزلباشانو، چې د عباس قلي خان د ظلمونو ځځه په تنګ سوي وه، هغه له کاره برطرفه کړ. مخکې له دې چې د عباس قلي خان شاملو پر ځای باندې نوی مقرر سوی حاکم جعفر قلي خان استاجلو هرات ته ورسيږي. عبدالله خان او د هغه زوی اسدالله خان د هرات له بنديخانې ځځه دوشاخ ته وتښتېدل. په دوشاخ کې يې لښکر راغونډ کړ او پر هرات باندې يې حمله وکړه. جعفر قلي خان د هرات د ښار ځځه د باندې جګړې ته ورته راووت، مګر لښکرو يې ماته وکړه او دې پخپله د ابداليانو په لاس کې بندي سو. عبدالله خان پر هرات باندې خپلې حملې ته دوام ورکړ او ښار له يوه سخت جنګ ځځه وروسته تسليم سو. ابداليانو هرات ونيوی او د ۱۷۱۷ ميلادي کال د جولای پر شپږويشتمه يې خپلواکي اعلان کړه. اسد الله خان دوه کاله وروسته په کال ۱۷۱۹ کې د ايراني جنرال صفي قلي خان دېرش زره کسيز پوځ ته په پېنځه لسو زرو عسکرو ماته ورکړه. (۴)

اسدالله خان دوه کاله وروسته پر فراه باندې حمله وکړه او هغه ښار يې د کندهار د هوتکو د حکومت له کنټروله وايست. په همدغه کال د ايران صفوي حکومت فتحعلي خان تر کمان د ډېرو زياتو پوځونو سره د هرات

پر لـور واسـتاوه. فتـح علـي خـان د کـال ۱۱۲۸هـ ق پـه پـای کـې د هـرات شاوخوا تـه ورسـېدی . اسـدالله خـان هـم د ډېرو قـواو سـره د هغـه مخـې تـه ور ووت. دواړو خواو د پـل سـالار او ربـاط پریـان پـه سیمه کـې ډېره سـخته جګړه وکـړه. پـه لومړي سـر کـې افغانـانو ماتـه وکـړه. د ایـران پوځیـان د افغانـانو د قواو د تعقیبولو پـر ځای د مـالونو پـه چورولـو لګیـا سـول. فتـح علـي خـان،چـې دې فتحـې ډېر زړه ور کـړې و پـه ډېره بـې احتیاطـی د خپلـو سـلو تنـو سـپرو سره د اسـدالله خـان لښکرې تعقیب کـړې. کلـه چـې د اسـدالله خـان پوځیـانو د غوریان په سیمه کـې ولیـدل، چـې فتـح علـي خـان سـره ډېر لـږ عسکر ورسـره دي، نو سمدسـتي یـې مـخ وربـاندې راواړاوه او ټول یـې لـه تېغـه تـېر کـړل. (۵) له هغه ځایه څخه یې بېرتـه د قزلباشـو پـر پـوځ بـاندې حملـه وکـړه او کلـه چـې قزلباشو تـه معلومـه سـوه، چـې فتـح علـي خـان وژل سـوی دی ، نـو د مقـاومت تـوان یـې لـه لاسـه ورکـړ. فزلباشـو ماتـه وکـړه او پرتـه لـه لـږ قـواو څخـه، چـې ځانونـه یـې د جنـګ لـه میـدان څخـه وایسـتل، نـور ټول د افغانـانو پـه لاس ووژل سـول. (٦)

# د ایران د دربار مشکلات او اداري فساد

د ایران دربار یـو کـال وروسـته، پـه کـال ۱۱۲۹ هـ ق کـې خپـل بـل سـردار صفي قلي خان، چـې پـه دېوانـه مشـهور و، د هـرات پـر لـور واسـتاوه. مخکـې لـه هغه چې صفي قلـي خـان د هـرات شـاوخوا تـه ځان ورسـوي، شـېر غـازي خـان اوزبک لـه ماوراالنـهر څخـه پـر خراسـان بـاندې حملـه وکـړه. صفـي قلـي خـان د شاه په امـر د اوزبکـانو خواتـه توجـه واړولـه او د قاجاریـانو او کردانـو پـه مرسـته یې د اوزبکانو لښکـرو تـه د نیشا پـور پـه شـاوخوا کـې ماتـه ورکـړه. د وژل سـویو کسـانو کلـه منارونـه یـې جـوړ کـړل او هغـه اوزبـک سـرداران یـې چـې پـه دې جنګ کې ژونـدي نیـول سـوي وه، د منـارونو پـر سـر ژونـدې پـه ګچـو کـې ونیـول. (۷)

صفـي قلـي خـان لـه دې فتحـې څخـه وروسـته د مشـهد زیـارت تـه ولاړ. د زیـارت خزانـه یـې چـور کـړه او بیـا یـې نـو د هـرات پـر لـور لښکـر روان کـړ. د اسدالله خان او صفـي قلـي خـان پوځونـو د کـافر قلعـه ( اسـلام قلعـه) پـه سـیمه کې سره مخامخ سـول. د اسـدالله خـان قـواو د جنـګ پـه لومـړۍ مرحلـه کـې د صفـي قلـي شـپاړس کلـن زوی وواژه او لـږ وروسـته پـه هماغـه ورځ صفـي قلـي

خان هم ووژل سو او یا یې د زوی د غمه، چې ډېر سخت وربانديې ګران و، ځان پخپله وواژه. د قزلباشو لښکر، چې پخوا یې لا د افغانانو له هیبته زړونه لړزېدل او د مقاومت توان یې نه درلود ډېره سخته ماته وخوړه. د افغانانو پوځ د قزلباشو څخه د پاته سویو مالونو په چور لګیاسو او د هغوی د قواو تعقیب یې پرېښود. اسدالله خان د هرات ښار ته فاتح او منصور راستون سو. (۸)

# اسدالله خان او شاه محمود

اسدالله خان سمدستي خپله توجه د فراه خوا ته واړوله. فراه یې د شپې په یوه حمله کې اشغال کړه؛ خپل یو دوست یې د هغه ولایت حاکم مقرر کړ او پخپله یې د هرات پر لور حرکت وکړ. محمود هوتک، چې هغه هم د اسدالله خان په شان یو تکړه او ځوان سپه سالار و، یو کال وروسته د فراه د بېرته نیولو د پاره لښکر کښي وکړه. اسدالله خان د هرات څخه د مقابلې د پاره ور ووت او د دواړو قواو ترمنځ په دلارام کې د سخت جنګ څخه وروسته د ابدالیانو قواو ماته وکړه. اسد الله خان په جنګ کې ووژل سو او محمود د ایران د پاچا او دربار د غولولو په منظور د هغه سر د خپل مشترک دښمن په حیث د اصفهان دربار ته واستاوه. (۹)

د محمود هوتک دې حیلې ډېر ښه کار ورکړ. د ایران دربار، د هغه د انتظار سره سم ، وغولېدی. شاه حسین صفوي دا وخت په قزوین کې و، چې د شاه محمود عریضه ورته ورسېدله. شاه حسین ډېر سخت خوشحاله سو؛ محمود هوتک یې صوفي صافي ضمیر وباله او د حسین قلي خان لقب یې ورکړ. (۱۰)

# د هرات د ابدالیانو داخلي جنګونه

د هرات ابدالیان د اسدالله خان د وژل کېدلو څخه وروسته په ډېر بد حال بېرته هرات ته ستانه سول. د اسد الله خان پلار عبدالله خان یې، چې د خپل زوی له خوا د هرات نایب الحکومه و، له کاره برطرفه کړ او قدرت محمد زمان خان ابدالي ( د احمد شاه ابدالي پلار) ته ورسېدی. هغه عبدالله خان بندي کړ او د هرات پخوانی حاکم جعفر خان استاجلوي

او د قزلباشو ځینې سرداران، چې اسدالله خان بندیان کړي وه، ټول یې ووژل؛ څه وخت وروسته یې عبدالله خان هم وواژه. زمان خان دوه کاله ژوندی و او د هغه د قدرت په زمانه کې کومه د یادولو وړ پېښه ونه سوه. زمان خان د هرات او د هغه د شاوخوا په قلمرو قناعت وکړ نه ده له هرات څخه د باندې د محمودِ هوتک او یا د صفوي شاه حسین پر قلمرو یرغل وکړ او نه هغوې پر هرات باندې حملې کولو ته فرصت پیدا کړ. د زمان خان د وفات څخه وروسته قدرت بېرته د عبدالله خان ابدالي کورنۍ ته ورسېدی او د دې کهول مشر محمد خان ابدالي د هرات او د هغه د شاوخوا سیمو قدرت په خپل لاس کې واخیست.

په کال ۱۷۲۷ میلادي کې، چې شاه محمود هوتک وژل سوی او شاه اشرف هوتک په اصفهان کې پاچا و، د اسدالله خان ورور محمد خان د مشهد د نیولو په نیت روان سو. مشهد یې څلور میاشتې محاصره کړ، مګر بیله دې چې ښار دې فتح کړي، بېرته هرات ته روان سو. ویل کیږي چې محمد خان ډېر ظالم سړی و او خپل او پردي ټول ورڅخه په عذاب وه او دغه علت و چې هرات ته د محمد خان د رسېدلو سره سم د ښار خلکو شورش وکړ، هغه یې له قدرته لیري کړ او د زمان خان ابدالي زوی ذوالفقار خان یې له ښوراوک څخه راوباله او د هرات د حکومت چارې یې وروسپارلې. دوه کاله وروسته د عبدالله خان ابدالي بل زوی عبدالرحمن خان چې پلار یې ابدالي زمان خان وژلی و، د خپل پلار د وینو د انتقام اخیستلو په نیت هرات ته داخل سو او د ذوالفقار خان له قواو سره یې جنګ پیل کړ. د ابدالیانو د قواو ترمنځ د دې سخت اختلاف په وجه، د هرات ابدالیانو بالاخره ذوالفقار خان او عبدالرحمن خان دواړه له هراته وایستل. ذوالفقار خان باخرز او عبدالرحمن خان فراه ته ولاړ. د هرات د چارواکي یې د عبدالله خان ابدالي بل زوی الله یار خان ابدالي ته چې د ملتان څخه یې رابللی و، ور وسپارلې. په هرات کې عبدالغني خان الکوزی، چې د ذوالفقار خان ماما و، د هغه په طرفدارۍ هلې ځلې پیل کړې او ذوالفقار خان یې بېرته له باخرز څخه راوغوښت. په هرات کې یو ځل بیا شورښونه پیل سول او دې جنګونو شپږ میاشتې دوام وکړ. خو چې بالاخره افغانانو خپل دواړه مشران د ښاره وایستل. ذوالفقار خان یې فراه او الله یار خان یې مروچاق ته واستاوه. افغانانو ته په دغه وخت کې د هرات پر لور د نادر افشار د لښکرو د حرکت خبر ورسېدی او په خپلو کې

يې جوړه سره وکړه. ذوالفقار خان يې د فراه حاکم کړ او هرات يې الله يار خان ته وسپاره. (۱۱)

الله يار خان د هرات پر لور د نادر افشار د حرکت د اورېدلو سره د ذوالفقار خان څخه مرسته وغوښتله او هغه هم د فراه څخه د هرات پر لور حرکت وکړ. افغانانو شپېته زره عسکر راغونډ کړل او د کافر قلعه (اسلام قلعه) خوا ته يې حرکت وکړ. (۱۲)

البته تاريخ جهانکشا په دغه وخت کې د ذوالفقار خان او الله يار خان ملګرتوب ته اشاره نه کوي او له هغه متن څخه داسې ښکاري چې ذوالفقار خان لا دا وخت په فراه کې د خپل قلمرو په ټينګولو او د آينده پلانونو په جوړولو لګيا و. نادر افشار ته خبر ورسېدی چې د ابداليانو لښکر د الله يار خان تر قوماندې لاندې کوسويه ته رسيدلي دي. نادر افشار لومړی د ابداليانو قواو ته ليک واستاوه او هغوې يې د اطاعت منلو ته تشويق کړل، مګر افغانانو ورته وويل چې د دوی فيصله به د تورې په ژبه کيږي. څرنګه چې افغانانو د ايران د قواو څخه د جنګ ډېر زيات ميدانونه ګټلي وه او هغوې يې ټول ډېر سخت وېرولي وه، نو نادر افشار مجبور و، چې تر هر څه دمخه يو ځل د ايرانيانو روحيه قوي کړي او وروسته نو د جنګ ميدان ته داخل سي. د جنګ په لومړي ورځ په لومړيو حملو کې افغانانو فتح وکړه، خو کله چې د نادر افشار توپچي قواو د افغانانو د قواو پر مرکزونو باندې سختې حملې پيل کړې، نو افغانانو عقب نشيني وکړه او د شپې د رارسېدلو سره جنګ هم پای ته ورسېدی. په سبا تر مازديګره د دواړو خواو د قواو ترمنځ د سختو جنګونو په نتيجه کې افغانانو ماته وکړه او هرات ته پر شا سول. الله يار خان او د هرات افغانانو يوه ورځ وروسته نادر افشار ته د سولې پېغام واستاوه، مګر په همدغه وخت کې يې د نادر افشار پر قواو باندې د هرې خوا حملې پيل کړې. جنګ دونه سخت و چې ډېر ژر دواړه پوځونه سره ګډ سول او خبره د توپ او توپک څخه لاس او ګريوان او د تورو او خنجر جنګونو ته ورسېده او تر ماپښينه پورې يې دوام وکړ. افغانانو يو ځل عقب نشيني وکړه او الله يار خان بيا نادر افشار ته د سولې پېغام واستاوه. (۱۳)

عالم آرايکي چې په دې جنګ کې د نادر افشار له فتحې وروسته مړي وشمېرل سول، د قزلباشو څخه ۲۸۰ تنه مړه سوي او د افغانانو اته ويشت زره تنه وژل سوي وه. په داسې حال کې چې د همدغه کتاب ليکوال، يوه

صفحه مخکې لیکي. چې کله نادر افشار د افغانانو غلبه ولیده او په دې وخت کې د لمر لوېدلو وخت هم رارسېدلی و، نو ځان یې د آسه لاندې وغورځاوه، خدای ته په سجده پرېووت او په زاریو یې د خدای څخه د فتح او نصرت غوښتنه کوله. (۱۴)

دا خبره له عقله لیرې ښکاري، چې یو لښکر له سهاره تر ماښامه د داسې فتحې په حالت کې وي چې د مقابل لورې سردار پر مځکه پرېوزي او په زاریو له خدایه فتح او نصرت غواړي، هغه دې دوه سوه اتیا تنه مړي ورکړي او پخپله د ماتې په وخت کې د لمر له لوېدلو څخه د ماښام تر تیارې پورې دښمن ته اته وېشت زره تلفات واړوي. له بده مرغه چې د دې جنګونو او تاریخي پېښو ټول رپورټونه د ایران درباري لیکوالانو او یا متعصبو تاریخ لیکونکو ترتیب کړي دي او پښتنو او د پښتنو طرفدارو لیکوالانو، یا لږ تر لږه بېطرفو لیکوالانو موږ ته څه نه دي را پرې ایښي ، نو موږ مجبور یو چې پر قیاس باندې تکیه وکړو.

الله یار خان د هرات له ښار څخه د باندې د جنګ په میدان کې د ماتې خوړلو څخه وروسته نادر افشار ته د سولې پېغام واستاوه، مګر نادر افشار ورته ولیکل چې تر خو پورې د ابدالي فرقې لوی مشران له ده سره د سولې تړون ونه کړي، هغه د الله یار خان په قول او پېشنهادونو باور نه سي کولای. الله یار خان بالاخره عبدالغني خان الکوزي او څو تنه نور ابدالي سرداران د نادر افشار پوځ ته واستول. نادر افشار د هغوی سره سوله وکړه او خپلې قواوې یې پر شا کړې. یوه ورځ وروسته نادر افشار ته خبر ورسېده چې د فراه څخه ذوالفقار خان د الله یار خان او عبدالغني خان سره د مرستې وعده کړې ده او د ډېرو زیاتو قواو سره یې د هرات پر لور حرکت کړی او د شکیبان په سیمه کې یې خیمې وهلې دي. لا د ذوالفقار خان او نادر افشار ترمنځ جنګ پیل سوی نه و چې الله یار خان د هرات د لورې د نادر افشار پر قواو باندې حمله وکړه، خو د ذوالفقار خان او الله یار خان قواو د نادر افشار د توپخانې په مقابل کې مقاومت نه سو کولای او د ذوالفقار خان قواوې فراه او د الله یار خان قواوې هرات ته په شا سوې. الله یار خان بیا د نادر افشار سره د سولې غوښتنه وکړه: نادر افشار بیا هم د الله یار خان سره سوله وکړه.

دا چې نادر افشار هر ګړی د الله یار خان سره سولې ته حاضرېدی، د دې علت دا دی، چې یو خو نادر افشار دننه په ایران کې ډېر زیات

مشکلات درلودل او لا اوس هم اصفهان د شاه اشرف هوتک په لاس کې و. د بلې خوا عثماني ترکانو او روسانو د شمال له لورې هره ورځ د ایران قلمرو تهدیداوه او پرله پسې حملې یې وربانديې کولې او نادر شاه مجبور و چې لږ تر لږه د جنګ په یوه جبهه کې ځان بېغمه کړي. دغه راز نادر افشار د شاه طهماسب د لیرې کولو، د قدرت د نیولو او د قلمرو د پراخولو ډېرې لویې نقشې درلودلې او تر وسه وسه یې کوښښ کاوه چې ځان د هرات د ابدالیانو د مشکل څخه په ښه وساتي او یو علت یې دا دی چې نادر افشار په دې پوهېدی چې د هرات د پښتنو اېلول اسانه کار نه دی او که یې احیاناً فتح په نصیب کیږي نو ډېر درانه تلفات به ورسره ملګري وي.

نادر افشار څو ورځې وروسته د الله یار خان د غوښتنې سره سم ټول هغه بندیان خوشې کړل چې د ایران پوځیانو په فراه کې د ذوالفقار خان قواو ته د ماتې ورکولو په وخت کې نیولي وه او په بندیانو کې پخپله د ذوالفقار خان د کورنۍ غړي هم شامل وه.

په دغه وخت کې شاه اشرف هوتک هم د خراسان پر لور د لښکر کښي نیت وکړ او د مشهد خوا ته روان سو، خو د اشرف خان د سپه سالار سیدال خان لښکرو د نادر افشار د توپخانې په مقابل کې مقاومت ونه سو کړای او له دوو ورځو سختو جنګونو څخه وروسته مومن آباد او وروسته مهماندوست ته پر شاه سو او هلته د شاه اشرف د قواو سره یو ځای سو. په مهماندوست کې د دواړو قواو ترمنځ د ۱۱۴۴هـ ق کال د ربیع الاول د میاشتې په شپږمه ډېره سخته جګړه وسوه. په دې جنګ کې افغانانو البته د پخوا په شان ډېره سخته مړانه وکړه، مګر پلیو او سپرو قواو، چې د زنبورک توپخانه د هغوې تر ټولو درنده او موثره وسله وه، مقاومت ته دوام ورنه کړ او د ډېرو زیاتو تلفاتو له ورکولو څخه وروسته یې ماته ورکړه.

د هرات او فراه د ابدالیانو او د اشرف د قواو په مقابل کې د نادر افشار د قواو د بریالیتوب اساسي علتونه د شاه اشرف او په کندهار کې د شاه حسین د قواو ترمنځ د همکارۍ نه موجودیت او حتٰی دښمنۍ، د ابدالیانو او د اشرف د قواو ترمنځ اختلاف او دښمنۍ او پخپله د هغه قوي توپخانه وه. د جهانکشا او عالم ارامتنونه چې هر ځای د نادر افشار د فتوحاتو خبرې کوي نو د هغه د توپخانې د موثریت په باب رغیږي. د نادر افشار د قواو لومړی صف درنه توپخانه، دوهم صف زنبورک خانه، دریم

صف جزایري، څلورم صف تفنګچې او پنځم صف یې توري او سپرونه وه. (۱۵)

د الله یار خان او نادر افشار ترمنځ سولې ډېر دوام ونه کړ. د هرات ابدالیانو د الله یار خان سره مخالفت وکړ او له فراه څخه یې ذوالفقار خان راوباله. د الله یار خان سره د هرات د خلکو د مخالفت علت دا و چې د کندهار څخه شاه حسین هوتک د هرات ابدالیانو ته احوال واستاوه او د نادر افشار په مقابل کې یې د هر راز مرستې وعده ورسره وکړه. د هرات ډېرو مشرانو د شاه حسین هوتک د دې مرستې هر کلی وکړ، مګر الله یار خان، چې په ځان کې یې د نادر افشار له پوځونو سره د مقاومت توان نه لیدی، غوښتل چې د نادر افشار سره د سولې پیمان دوام وکړي او د شاه حسین مرسته یې ونه منله. د هرات ابدالیانو د الله یار خان له مشرتوب سره مخالفت وکړ او د فراه څخه یې ذوالفقار خان د حکومت د پاره راوباله. الله یار خان د ذوالفقار خان سره مخالفت وکړ او د ابدالیانو قواوې بیا پر دوو ډلو ووېشلې سوې. (۱٦)

د ابدالیانو د قواو ترمنځ جنګونو تقریباً درې میاشتې دوام وکړ او بالاخره الله یار خان د خپلې کورنۍ او ملګرو سره مروچاق ته وتښتېدی. ذوالفقار خان ډېر ژر د هرات څخه د مشهد د فتح کولو د پاره حرکت وکړ او الله یار خان هم له ده څخه مخکې د مروچاق څخه مشهد ته ولاړ او هلته د نادر افشار د ورور ظهیرالدوله ابراهیم خان سره ملګری سو. نادر افشار خپل ورور ابراهیم خان ته پیغام واستاوه چې په مشهد کې غله دانه جمع کړي. د ښار دروازې وتړي او د افغانانو سره د ښار د باندې د میدان جنګ ونه کړي.

ذوالفقار خان د اتو زرو عسکرو سره د مشهد پر قلا باندې حملې پیل کړې او له پنځه لسو ورځو وروسته بالاخره ابراهیم خان د جنګ میدان ته راووت. د جنګ په ډېرو لومړیو مرحلو کې د ابراهیم خان د پیاده توپک والا و قوماندان باقر خان ژخمي سو او لښکرو یې روحیه بایلو ده. ابراهیم خان غوښتل چې د باقر خان لښکرې له ماتې څخه راوګرځوي، مګر عسکرو یې فکر وکړ چې هغه خان تېښتې ته جوړوي او سمدستي ماته په ګډه سوه. د ابدالیانو قواو ایراني پوځونه د مشهد د ښار تر دروازې پورې تعقیب کړل او ډېر درانه تلفات یې ور واړول. (۱۷)

د عالم آرای نادري ليکوال وايي زه په دې وخت کې کوچنى وم او د قلا د سره مې ننداره کوله چې افغانانو څرنګه قزلباشان وژل او د دې ماتې اساسي علت دا و چې سپه سالار ابراهيم خان د قالبينانو پر خبره غوږ ونه نيوى او د هغوې د مشورې په خلاف يې جنګ پيل کړ. (۱۸)

ذوالفقار خان مشهد ځو ورځې محاصره کړ او کله چې د دغه ښار پر لور د نادر افشار د پوځونو له حرکت څخه خبر سو نو د ښار محاصره يې پرېښوده. نادر د هرات پر لور حرکت وکړ او امام وردي خان يې د ډېر زيات پوځ سره د فراه پر خوا واستاوه. د هرات څخه ذوالفقار خان، خپل ورور عليمر دان خان د فراه خوا ته واستاوه او د مخه تر هغه چې نادر افشار د هرات ښار ته ورسېږي، هغه د جنګ مېدان ته راووت. د دې جنګونو په باب ډېر زيات تفصيلات په لاس کې نسته، خو داسې ښکاري چې د دريو ځلورو ورځو سختو جنګونو څخه وروسته ايرانيانو ماته کړې ده. حتى د عالم آرای نادري ليکوال، چې د افغانانو ډېر سخت مخالف دی، وايي چې افغانانو داسې جنګ وکړ چې زمان د هغوې په شان توريالي نه وه ليدلي. (۱۹)

د نادر پوځيانو، چې پخپله نادر افشار يې قومانده پر غاړه درلوده، د هرات ښار محاصره کړ. د هرات محاصرې شپږ مياشتې دوام وکړ او بالاخره ذوالفقار خان او امان الله خان د شلو زرو پوځيانو سره د جنګ ميدان ته راووتل. په دغو جنګونو کې د کندهار څخه د سيدال خان تر قوماندې لاندې پوځيان هرات ته ورسېدل او د ايران د لښکرو سره په دريو جبهو کې جنګ پيل سو. په دې جنګونو کې د نادر افشار ډېر مهم سپه سالاران او عسکر ووژل سول. د نادر افشار کردي، قزلباشو او قراچورلو پوځيانو هر يوه جلا جلا ماته وکړه او حتى د عالم آرا ليکوال ليکي چې امير صاحبقران د افغانانو پر له پسې حملو داسې وارخطا کړ، چې پر مځکه خدای ته په زاريو پرېووت او د هغه له دربار څخه يې د مرستې غوښتنه کوله. (۲۰)

د ذوالفقار خان او امان الله خان پوځيانو د نادر د درنې او عصري توپخانې د حملو توان نه درلود او د تقريباً اتو زرو عسکرو د تلفاتو ورکولو څخه وروسته بېرته هرات ته ننوتل او د ښار دروازې يې وتړلې. ذوالفقار خان په کندهار کې د شاه حسين څخه مرسته وغوښتله او هغه ته يې وليکل چې د قزلباشو سره د ګډ دښمن په حيث، د جنګ کولو په منظور، ډېر ژر

امدادي پوځیان ورواستوي. شاه حسین په کندهار کې د خانانو او مشرانو ځخه مشوره وغوښتله، مګر هغوې اکثرو ورته وویل چې اول خو نادر افشار هرات نه سي نیولای او که چیرې هرات ونیسي، بیا نو کندهار ته په هیڅ صورت نه سي راتللای. ښه خبره به دا وي چې کندهاریان خپل ښار وساتي او د وروستیو حوادثو په انتظار کښیني. شاه حسین د هرات ایلچیان رخصت کړل او د ذوالفقار خان او د هرات له پښتنو سره یې د پوځي مرستې وعده وکړه. شاه حسین البته د کندهار د قومي مشرانو خبرې واورېدلې، مګر د هرات د پښتنو وروڼو سره یې ناځواني ونه کړه او د لعل خان په مشرۍ یې لس زره عسکر د هرات پر لور واستول. هرات ته د لعل خان د قواو د رسېدلو ځخه مخکې د هغه ښار میراب باشي کاظم بیګ له ښار ځخه د باندې ووت او د نادر افشار پر عسکرو یې ډېره سخته حمله وکړه. البته دا حمله د امان الله خان د ټولو پوځي مشورو په خلاف سوې وه او سره له هغه چې کاظم بیګ خپل ټول وس تمام کړ او نادري قواو ته یې ډېر سخت تلفات واړول او سره له هغه چې امان الله خان او سیدال خان د هغو قواو ته ښې مرستې ورسولې هغه بیا هم د نادر افشار د عسکرو په لاس کې بندي سو او هغه سمدستي اعدام کړ. ذوالفقار خان د کاظم بیګ غوندې تکړه افسر وژل کېدلو دونه په قار کړ چې په هغه شپه یې امان الله خان برطرفه کړ او هغه د خپل سر د ویرې سهار وختي د ځلور سوو سپرو سره د نادر افشار خیمې ته ورغی.(۲۱)

نادر افشار ته د امان الله خان د جنګونو او مړانې ټول تاریخ معلوم وُ هغه پوهېدی چې امان الله خان د اصفهان، مشهد او هرات په جنګونو کې داسې کارنامې پرې ایښې دي چې د جنګ د میدان د هر جنرال کار نه دی او د بلې خوا یې د امان اله خان د ملګري کولو سره د هرات په جبهه کې ډېر لوی درز پېدا کړ او دا په آینده کې د ډېرو نورو نامتو پښتنو د ترلاسه کولو مقدمه سوه.

په سبا سهار یې نادر افشار ۱۳۰۰ جنګي بندیان اعدام کړل او سرونه یې په نېزو پورته کړل.(۲۲) د نادر افشار لښکر ته د هغې ورځې په ماښام خبر ورسېدی چې افغانانو د اوبه قلا نیولې ده او د اوبې د قلا محافظ قوماندان اسماعیل خان-استاجلو او د غوریان حاکم، مېرزا ابراهیم کلانتر میش مست او د هغوې ملګري وژلې دي. په دغه حمله کې د اوبې فارسي ژبو د هرات له پښتنو سره لاس یو کړ او د پښتنو قوماندانانو، شېرم، اشرف

سلطان او ایاز تـه یې د قلا دروازه خلاصه کړې وه. هغـوې سمدسـتي قـلا ونیوله او د نادري پوځ مشران یې لـه تېغـه تـېر کـړل. د نـادر افشار پوځیـانو پـه هماغـه ورځ پـر اوبـي بـاندې حملـه وکـړه. شـېرم او ایـاز پـه جنـګ کـې ووژل سـول. پـه همدغـه شـپو ورځـو کـې درویش علـي خـان هــزاره چـې د نـادري پوځونو سره یـې ډېـر سـخت جنګونـه کـړي وه او ډېرې سـتونزې یـې ورتـه پېدا کـړې وې د نـادر افشـار پوځیـانو تـه ژونـدی پـه لاس ورغـی او هغـه یـې اعـدام کـړ. (۲۳)

# نادر افشار او پښتانه

نادر افشـار د خپلـو ټولـو فتوحـاتو پـه جریـان کـې لـه پښتنـو سـره پـام کـاوه. هغه له پښتنو سره مخـامخ جنـګېدې او کلـه چـې بـه جنـګ پـای تـه ورسـېدی، د خپل همیشګي عـادت پـه خـلاف یـې د هغـوې ښارونـه نـه چـورول، هغـوې یـې نـه قتـل عـامول او د هغـوې د نـاموس او ښځـو سـره یـې خصوصاً د ډېر احتیـاط څخه کار اخیستی. پـه داسې حـال کـې چـې نـادر افشـار پـه خپلـو نـورو مفتوحـه سیمو په تېره بیا ایران کـې دغـه رعـایت نـه کـاوه او چندانـې یـې د چـا د مـال، سر او نـاموس پـروا نـه سـاتله. د مثـال پـه ډول کلـه چـې نـادر افشـار تـه مـېرزا تقـي خـان شـېرازي یـاغي سـو او دې مجبـور سـو چـې د هغـه د ایلولـو د پـاره لـس پنځه لـس زره عسکر ور واسـتوي او لـه سـختو جنګونـو وروسـته یـې هغـه وینوی، نو د هغه زامـن او ورور یـې د هغـه پـه مخ کـې ورتـه ووژل، د هغـه یـوه سترګه یې ورڅخـه وایستله او آلـت یـې ورڅخـه قطـع کـړ او پـه زنـدان کـې یـې واچـاوه. د هغـه ښځې، لـوڼې، مـرېندې او د کورنـۍ مېرمنـې یـې ټولـې فحشـا تـه مجبـورې کـړې او پـه پـوځ کـې یـې پـه خرابـات کـې کښېنولـې. څو میاشـتې وروسـته یـې مېرزاتقـي خـان ببرتـه وبـاخښه، د هغـه ښځې یـې لـه خراباتـه ورتـه راوایستلې او دې یـې د خراسـان او هندوسـتان مسـتوفي الممـالک مقـرر کـړ. میرزا تقي خـان خپلـه وظیفـه اشـغال کـړه او پـه ډېر اخـلاص یـې تـر پایـه پـورې د نادر افشـار خدمـت وکـړ. (۲۴)

البته د پښتنو پـه تـاریخ کـې هـېڅ زمـامدار لـه هغـوې سره نـه داسـې کـړې او نـه یـې کـولای سـوای. نـادر شـاه د نـورو ټولـو بېګانـه مستبدینو پـه څېر پـه دې پوهـېدی چـې پښتانـه سرتر نـاموس قربـانوي. هغـه د خپـل ټول اسـتبداد او وحشـت سـره سـره د پښتنـو پـه مقابل کــې د ډېرې هوښیـارۍ څخـه کـار

اخیستی او تر ممکنه حده پورې یې د هغوی د دښمنۍ څخه ځان ژغوره او کوښښ یې کاوه چې د ځان ملګری یې کړي.

# د هرات محاصره او مقاومت

د هرات محاصرې یو کال دوام وکړ او په دې جریان کې د هرات پر خلکو باندې داسې لوړې او بدبختۍ راغلې چې په خپل تاریخ کې یې نه چندانې لیدلې او نه یې له هغه وروسته چندانې ولیدلې. د هرات خلکو د دغې محاصرې په جریان کې د سپیو او پیشیانو غوښې خوړلې او کله کله خو به یې د خپلو مړو عزیزانو غوښې هم خوړلې. (۲۵)

نادر افشار په دې موده کې یوه ورځ پر هرات باندې حملې بندې نه کړې او یوه ورځ یې د دغه ټینګ ښار د نیولو خیال له سره لیرې نه کړ. په دې ترځ کې یې الله یار خان ته، چې ډېر پخوا یې د ده کمپ ته پناه وړې وه، وویل چې که چیرې د هرات خلک دې ته تشویق کړي چې د ښار دروازې پرانیزي، نو د هغوې سر او مال به مصئون وي. الله یار خان هم د ښار پر لور حرکت وکړ او کله چې ښار ته ورسېدی، نو د بامونو د سرونو څخه ښځو د ډبرو بارانورباندې جوړ کړ. ښځو په لوړ اواز پېغورونه ورکول او په ساندو ساندو یې ورته ویل چې د خپلو وینو او نفس د ساتلو په خاطر دی خپل په زرګونو عزیزان او ځوانان د قزلباشانو د ګولیو او تېغونو قرباني کړل. د الله یار خان له سترګو اوښکې روانې وې او مخامخ د ذوالفقار خان کور ته ورغی. د ذوالفقار خان سره یې په غېږ کې ونیول او له هغه ځایه یې نادر افشار ته احوال ولېږه چې ترڅو مې یو څاڅکې وینه په وجود کې باقي وي د خپلو عزیزانو څخه به بیل نه سم. نادر شاه د دې خبرې د اورېدلو سره ډېر سخت په قهر سو او د خپل طبیعي وحشت سره سم یې پنځه سوه پښتانه بندیان ځای پر ځای اعدام کړل. (۲٦)

الله یار خان په سبا سمدستي د خپلو قوماندانانو سره یو ځای د نادر افشار په جنګ ووت. خو څرنګه چې د یوې خوایې عسکر پرله پسې لوږو او احتیاج ډېر سخت کمزوري کړي وه او د بلې خوا د نادر افشار پوځ ته د دلاورخان تایمني دوولس زره تازه دمه قوه رسېدلې وه او دغه راز د پښتنو ناځوانه ورور امان الله خان د نادر شاه په پوځ کې جنګېدی او هر ګړی یې د هرات په پښتنو کې بې اتفاقي ایجادوله، نو د الله یار خان او ذوالفقار

خان قواو ډېر څه نه سواي ترلاسه کولای. په دغه جريان کې يوه ورځ امان الله خان نادر افشار ته پېشنهاد وکړ چې که د هرات د ښار يوه دروازه په ډېره لږه قوه فتح کړې خرنګه به وي؟ نادر شاه ورته وويل چې که يې دا کار وکړ نو دونه انعام به ورکړي چې تراوسه پورې چا په سترګو نه وي ليدلی او د هرات او شاوخوا سيمو حکومت او شته منۍ به ټوله د هغه وي. امان الله خان د ګازرګاه په دروازه کې د خپلو عزيزانو سره خبره پخه کړې وه او هغوې ته يې ويلي وه چې د ده د وررسېدلو سره به دروازه ورته خلاصوي، خو مخکې له هغه چې امان الله خان دروازې ته ورسېږي، د هغه توطيه کشف سوه او الله يار خان د هغه طرفداران او عزيزان ټول بنديان کړل. کله چې امان الله خان د ګازرګاه دروازې ته نېژدې سو نو د هرات زړه ورو مدافعينو يې د ګوليو په داسې باران هر کلی وکړ چې په تېټ سر بېرته د نادر افشار کمپ ته ستون سو. کله چې د دغه جنګ په جريان کې د نادر افشار د دربار محرم، نوروز بېګ، هغه ته خبر ورووړ او ورته وې ويل چې د ښار له دروازې سره د امان الله خان او الله يار خان د ملګرو ترمنځ ډېر سخت جنګ روان دی، نو هغه ورته وويل چې:" ز هر طرف که شود کشته، سود اسلام است."(۲۷)

کله چې د محاصرې څه باندې دیارلس میاشتې تېرې سوې او د هرات خلکو نور د لوږې او قحطۍ د زغملو توان نه درلود. د خپل بخت د ورو ستي ځل ازميلو د پاره يې تقريباً دوه زره جنګيالي د اوبې خوا ته واستول، چې يو ځل هغه سيمه اشغال کړي او بيا له هغه ځايه د هرات ښار ته غلې دانې او خوراک واستوي. دې قوې په ډېره اسانۍ د اوبې د قلا پر شاو خوا باندې د نادر افشار قوه له منځه يوړه او تر وروستي سړي پورې يې له تېغه تېر کړل، خو يوه ورځ وروسته د نادر افشار قواو، چې ښتنو يې نه په شمېر او نه په وسلو کې سيالي کولای سواي، د ښتنو دغه قوه د اوبې په قلا کې محاصره کړه او د هرات د خلکو وروستی امید قطع سو. د هرات خلکو نادر شاه ته اطلاع ورکړه چې دوی نه د جنګ او مقابلې توان پاته نه دی او که چېرې نادر شاه هغوې وبخښي او سر او مال يې په امان کړي، نو دوی حاضر دي چې د هغه سره بيعت وکړي. نادر شاه د خپله لوري عبدالغني خان الکوزی، چې پخوا يې لا د هغه کمپ ته پناه وړې وه، د سلو تنو سره د هرات خلکو ته واستاوه. عبدالغني خان د نادر شاه په

لاس مهر کړې قران شریف د هرات خلکو ته وښود او د هرات خلک هم په جوپو جوپو د نادر شاه کمپ ته ورغلل او بیعت یې وکړ.

البته ذوالفقار خان او الله یار خان د نادر په کمپ کې د بیعت کولو زغم نه درلود او شپه په شپه د ښاره وتښتېدل. (۲۸)


تاریخ جهانکشا د هرات څخه د الله یار خان او ذوالفقار خان د تښتېدلو او کندهار ته د تللو خبره نه کوي، بلکې لیکي چې د هرات خلکو د نادر افشار کمپ ته سړي واستول او له هغه څخه یې وغوښتل چې که چېرې الله یار خان د هرات حاکم مقرر کړي، دوی به تول د نادر افشار اطاعت ته غاړه کښیږدي. نادر شاه د دوی دا غوښتنه ومنله او د هرات حکومت یې الله یار خان ته ورکړ. الله یار خان درې ورځې وروسته د نادر افشار دربار ته ورغی او هغه امر ورته وکړ چې ذوالفقار خان او د هغه ورور احمد خان دې فراه ته واستوي او هغوې دې هلته گوښه نشیني اختیار کړي.

الله یار خان د نورو قومي مشرانو سره یو ځای هرات ته ستون سو. یوه ورځ وروسته د هرات افغانانو بابي خان افغان د نادر افشار دربار ته واستاوه او هغه ته یې وویل چې څلوېښت زره غلجیان د فراه سره د مرستې د پاره راروان دي، نو که دوی ته اجازه وي چې تر هر څه دمخه د دغو غلجیانو په ځپلو کې برخه واخلي. مگر نادر شاه پوه سو چې د دې پیغام څخه د حیلې او نیرنگ بوي راځي، نو هغوی ته یې وویل چې غلجي او ابدالي دواړه په شکلي او عنعنوي لحاظ ارتباط سره لري، نو که د دوی خوښه وي اول دې د نادر د پوځیانو په مقابل کې په گډه خپل زور وازمیي او بیا دې نو په خپلو کې جگړه سره وکړي. نادر افشار پر هرات باندې بیا د حملې د پاره تیاری پیل کړي. الله یار خان بیا د سولې او عفو غوښتنه وکړه، مگر څرنگه چې نادر افشار نور د هغوې په قول اعتماد نه سو کولای، نو عبدالغني خان الکوزي ته یې امر وکړ، چې په کمپ کې پاته سي او الله یار خان یې رخصت کړ. څو ورځې وروسته د اسفزار حاکم نادر افشار ته اطلاع ورکړه چې ذوالفقار خان په اسفزار کې د سیدال خان له قواو سره یو ځای سوی او د فراه پر لور یې حرکت کړی دی. نادر افشار د دې خبرې د اورېدلو سره د هرات پر افغانانو هم بد گومانه سو او الله یار خان ته یې د بارکزیو د قبیلې د مشر یوسف خان په لاس ډېر تهدیدونکی پیغام واستوه. یوسف خان نادر افشار ته خبر ورکړ چې الله یار خان بیا په هرات کې یاغي سوی او د قلا په ټینگولو لگیا دی. نادر افشار تر هر څه

دمخه عبدالغني خان الکوزی بندي کړ او نور افغاني مشران یې، چې د ده په کمپ کې اوسېدل سیاه چالونو ته واستول او پر هرات یې د حملې امر ورکړ. الله یار خان خپل ورور موسي دانګی د بادغیس پر لور واستاوه او هلته د نادر افشار د لښکرو سره په جنګونو لګیا سو. الله یار خان د هریرود پر غاړه د کبرزان په سیمه کې د ایراني لښکرو سره جنګ پیل کړ. په دغه وخت کې د الله یار خان کورنۍ او خپلوان، چې په مروچاق کې اوسېدل د نادر افشار د لښکرو لاس ته ورغلل. (۲۹)

جهانکشا د الله یار خان د سرنوشت په باب چوپ پاته دی او عالم آرا هم صرف دونه وایي چې هغه د ذوالفقار خان سره یو ځای کندهار ته ولاړ. په داسې حال کې چې جهانکشا دا ادعا رد وي او وایي چې د هرات څخه د ذوالفقار خان د کوچېدلو څخه وروسته هم هغه د نادر افشار سره جنګونو ته دوام ورکړ، خو لږ تر لږه دونه معلومه ده چې د پښتنو دې نومیالي سپه سالار د عمر تر پایه پورې د ایرانیانو سره د مقابلې څخه لاس نه دی اخیستی او ژوندی هم د بېګانه دښمن لاسته نه دی ورغلی. ذوالفقار خان د هرات د وضع خرابي په سترګو لیده او مخکې له هغه چې د دښمن په لاس ګرفتار او یا ووژل سي، د کندهار پر لور یې حرکت وکړ. دا چې د کندهار د فتح کېدلو څخه وروسته ذوالفقار خان او د هغه کشر ورور احمد خان د شاه حسین هوتک په بندیخانه کې وینو، نو داسې ښکاري چې هغه به د فراه له لارې چې د ده د بل ورور علیمردان خان په لاس کې وه کندهار ته تللی وي او خپل کشر ورور احمد خان به یې، چې په دغه وخت کې به لس کلن یا دوولس کلن و، ورسره اخیستی وي. عالم آرا نادري د نادر افشار له خوا د هرات د وروستۍ محاصرې په وخت کې د ذوالفقار خان او علیمردان خان ترمنځ د ارتباط خبرې کوي، مګر د علیمردان خان د وروستي سرنوشت په باب چوپ پاته دی او داسې ښکاري چې دې ورونو هم د قسمت او سرنوشت بېلې بېلې لارې اخیستي وي.

ذوالفقار خان د هرات څخه خپل ورور علیمردان خان ته لیک واستاوه او ورته وې ویل چې په هرات کې وضع دونه خرابه ده چې موږ په نن اوسبا کې د ښار تسلیمولو ته مجبور یو. د خط د رسېدلو سره سم د کندهار پر لور حرکت وکړه او موږ به هم پر هغه لور حرکت وکو، خو په دغه وخت کې د فراه حاکم علیمردان خان ته د کندهار څخه پېغام ورسېدی چې د



شاه حسین هوتك



نادر افشار -

شاه حسين لس زره عسکر د سردار خان په قوماندانۍ د فراه خوا ته روان دي. عليمردان خان سردار خان ته احوال واستاوه چې د فراه د ښار سره نږدې د ده د کورنۍ انتظار وباسي. عليمردان خان سردار خان ته ليکلي وه، چې که چېرې د قزلباشو د قواو قوماندان ظهيرالله ابراهيم خان هغه تعقيباوه نو دې بايد دفاع ته حاضر وي. سردار خان د عليمردان خان د غوښتنې سره سم په لار کې منتظر سو او د هغه د پېش بينۍ سره سم په لار کې د قزلباشو قواو حمله ورباندې وکړه. سردار خان په دغه جنګ کې ډېر سخت تلفات ورکړل او پر شا تللو ته مجبور سو. د ايران قواو د فراه ښار ونيوی. نادر شاه ته يې د فراه د تسلېمېدلو او د عليمردان خان د تښتېدلو اطلاع ورکړه؛ او نادر شاه په هرات کې د څو شپو تېرولو څخه وروسته د مرمر حوض له بېخه وايست او مشهد ته ولاړ. (۳۰)

## نادر شاه د کندهار پر لور

نادر افشار په ايران کې له زيات و کم شپږو کالو داخلي او خارجي جنګونو او د ايران د تش په نامه پاچا شاه طهماسب د ليرې کولو او بندي کولو او رسماً د پاچا کېدلو وروسته په کال ۱۱۴۹ هـ.ق په مني کې د کندهار د ولايت د نيولو او دغه راز د بلوڅو د قبايلو د ايلولو تکل وکړ. نادر شاه افشار کندهار ته د حرکت کولو او پر هغه ښار د حملې د تکل کولو څخه مخکې محمد مومن بېګ قولر آقاسي د شاه حسين هوتک د خور لپاره په مرکه واستاوه.(عالم آرای نادري، ص ۳۵۱) نادر افشار شاه حسين ته وليکل چې د اصفهان د نيولو او شاه اشرف د تښتېدلو په وخت کې د محمود حرم او ښځې مور ته په لاس راغلې او په هغه لړ کې ما ستاسې خور زينب خاتون وليده او له هغې سره مې ايجاب او قبول هم وسو. خو څرنګه چې زموږ او ستاسو ترمنځ عداوت موجود و، او له دې وېرې چې دا عداوت نور هم زيات نه سي. نو ستاسو د حرم مېرمنې مې په احترام رخصت کړې او اوس مې دا دی ددغه مقصد لپاره محمد مومن بېګ دروا‌ستاوه. بايد چې د خپل دوست غوښتنه ومنې او ورورولي او اعتماد منځته راولې. چې دواړه دولتونه سره وصل سي او وحدت ترلاسه کړي.( عالم آرای نادری. ۲۹۹ مخ) مګر شاه حسين نادرشاه ته د زينب له ورکولو څخه ډډه وکړه، آن د نادر شاه د مرکه چيانو د وژلو هڅه يې وکړه.( هغه کتاب، ۳۵۵مخ) کله چې نادرشاه د شاه حسين د دوستۍ او اتحاد څخه مايوسه سو، نو د توري په زور يې د کندهار د لاندې کولو تکل وکړ. د هغه سره په دې خل څه باندې شپېته زره پوځيان، ملګري وه او د همدغه کال په اوايلو کې يې ځان د ارغنداب رود ته ورساوه. شاه حسين خپلو افسرانو. سيدال خان او يونس خان ته وظيفه ورکړه، چې هر يو اته زره سپاره ورسره واخلي او د نادر شاه

پرپوځ باندې د شپې يوه سخته ناڅاپي حمله وکړي. د هغه مطلب دا و چې هم د نادر افشار پوځ په يوه ناڅاپي حمله وارخطا کړي او هم د نادر شاه د پوځ قوت ځانته معلوم کړي. يونس خان او سيدال خان د ارغنداب د سيند سره نېږدې د دووخواو د نادر شاه پوځ ته ورنېږدې سول او په دې ضمن کې د يونس خان قوه د غني خان الکوزي، چې د نادر شاه ملګرى و، د طلايه قوې سره مخامخ سوه. هغوې په پښتو پوښتنه ورڅخه وکړه چې تاسې څوک ياست؟ دوى فکر وکړ چې دا به د سيدال خان عسکر وي، ځکه چې دوى فکر نه کاوه چې د نادر شاه په پوځ کې به هم پښتانه وي او د کندهار د ښار د فتح کولو دپاره به را روان وي. د يونس خان قواو سمدستي جواب ورکړ چې دوى د سَيدال خان په قواو پسې ګرځي. د غني خان عسکرو دوى سمدستي د خپلو قواو مرکز ته رهنمايي کړل او هلته د پوځ په مرکز کې د يونس خان عسکر په دې پوه سول چې دا د سيدال خان قوه نه ،بلکې د دوى د هغو ناځوانو پښتنو ورونو قطعات دي، چې د نادر شاه سره د کندهار د نيولو د پاره روان سوي دي، خو دا وخت نور کار له کاره تېر سوى و او دوى سمدستي په جګړه لاس پورې کړ، څرنګه چې يونس خان د جنګ په نيت نه بلکې د يوې ناڅاپي حملې او خرپ او ترپ د جګړې د پاره راوتلى و، نو د نادر شاه د مجهز او لوى پوځ سره يې د مقابلې توان نه درلود او د کندهار پر لور يې عقب نشيني وکړه. په همدغه شپه د سيدال خان او يونس خان پوځيانو هم پر يوه بل باندې د دښمن د قواو په ګومان ډزې وکړې او تر يوې لنډې نښتې وروسته پوه سول چې دواړه د دوست قوتونه دي. دواړه جنرالان په هغه شپه د کندهار ښار ته ننوتل او له همدغې شپې څخه د کندهار د ښار محاصره او پر افشاري قواو او قزلباشانو باندې د کندهار د پښتنو پرله پسې يرغلونه پيل سول.

د کندهار د ښار محاصرې څه کم يوولس مياشتې دوام وکړ او په دغه وخت کې د کندهار د ښار صفا او قلات په سيمه کې شېر خان پر ځان باندې پښتانه او بلوڅ راټول کړل او د نادر شاه د قوتونو سره يې جګړې پيل کړې. نادر موسى دانګي ته، چې د نادر شاه د قواو سره ملګرى سوى و، د شېر خان د ځپلو د پاره شپږ زره عسکر ورکړل او د ښار صفا او قلات پر لور يې د حرکت امر ورکړ. موسى دانګي د شېر خان پر پښتنو او بلوڅو قواو باندې په داسې حال کې چې هغوې د جنګ هيڅ تيارې نه درلود، يوه ناڅاپي حمله وکړه او په يوه ورځ کې يې تقريباً پينځه زره افغانان او بلوڅ قتل کړل. امان الله خان، چې په دغه وخت کې د نادر شاه له خوا د قلات حاکم و. پر خپله سيمه باندې د موسى خان پوځي عمليات پر خپل قلمرو باندې تيري وباله او سمدستي د هغه په جنګ را ووت. د دواړو خواو تر منځ د

ښار صفا په سیمه کې د ډېر سخت جنګ په جریان کې امان الله خان نابېره ووېشتل سو او ځای پر ځای مړ سو. د امان الله خان قواو د خپل مشر د مړینې سره سم ماته وکړه او د موسی خان قواو د هغه مات سوې عسکر تر دوه میله پورې تعقیب کړل او موسی خان د بې شمېره غنیمت سره د کندهار په سیمه کې بېرته د نادر حضور ته ورغی.

شاه حسین په کندهار کي د یوولسو میاشتو محاصرې څخه وروسته، په داسې حال کې چې نور یې نو د ښار لوی برجونه وران سوي او د ښار خلک د نادر د انتقام او قتل عام په خطر کې وه، اخري مقاومت وکړ او نادر افشار ته تسلیم سو. نادر شاه د هغه مشهور سپه سالار سیدال خان، چې د ښارصفا په جنګ کې ژوندی نیولی و، په سترګو ړوند کړ او حکم یې وکړ چې شاه حسین او د هغه کورنی دې مازندران ته ولېږل سي. شاه حسین یې زیات و کم شپږ میاشتې وروسته په زهرو مړ کړ.[۳۱] او د پښتنو ددې سرکښ، علمدوست او پر ازادی مین پاچا د وژل کېدو سره د هوتکو سلسله ختمه سوه او د پښتنو په خپله خاوره کې د پښتنو لومړنی تاسیس سوی مستقل حکومت هم پایته ورسېدی. نادرشاه د کندهار حکومت غني خان ته وسپاره او موسی خان دانګي یې د هغه د ایشیک آقاسي په حیث مقرر کړ. موسی خان دانګي د غني خان الکوزي تر لاس لاندې خدمت ته غاړه نه ایښودله؛ او غني خان سمدستي نادرشاه ته د هغه نافرمانی رپوټ ورکړ. کله چې نادرشاه له موسی دانګي څخه پوښتنه وکړه، چې ولې د غني خان اطاعت نه کوې؟ هغه په ځواب کې ورته وویل چې زه یوازې د نادر نوکر یم او د بل چا نوکري نه سم کولای. نادرشاه پر هغه ځای د موسی خان د وژلو حکم صادر کړ او په هماغه ورځ یې د شاه حسین د کاکا زوی، دوست محمد خان، چې د کندهار د تسلیمېدلو تر ورځې پورې یې توره له ملا نه وه خلاصه کړې او څو تنه نور پښتانه مشران یې ووژل.[۳۲]

## ابدالیان په هرات کي

۱. مجمع التواریخ، ص ۱۹.
۲. هغه کتاب، ص، ۱۹ — ۲۰.
۳. حیات افغاني، ص، ٦١.
۴. ګندا سینګه، ص، ۹.
۵. مجمع التواریخ، ص، ۲۱ — ۲۲.

٦. هغه کتاب ص ۲۴
۷. هغه کتاب ص ۲۹
۸. هغه کتاب ص ۲۸
۹. تاریخ جهانکشای نادری ص ۷
۱۰. هغه کتاب ص ۸۵

حیات افغاني لیکي چې دوی ( ابدالیانو) وروسته له هغه د فراه قلعه، چې د میرویس خان شاه محمود له متصرفانو څخه وه، ونیوله. د غرزیو مشر، چې اصفهان یې فتح کړی و، دا وخت په ډېرو پراخو فتوحاتو مصروف و. که څه هم چې ابدالیان یې مات کړل، مګر د موقع څخه یې ډېره زیاته استفاده ونه کړه، ځکه چې هغه ډېرې نورې نقشې په مخ کې درلودلې. ډېر ژر وروسته د دولت خان زوی محمد زمان خان، عبدالله خان له قدرته او ژونده محروم کړ او ویل کیږي چې محمد زمان خان به زهر ورکړي وي. د هرات نوي مشر د ایران پوخ ته، چې د افغانانو دوه چنده و، ماته ورکړه او د هرات د بېرته فتح کولو د پاره یې د ایران ټول کوښښونه پر شا وتمبول. د ده د هوښیار او جدي مشر تابه په زمانه کې د ابدالیانو قدرت دونه زیات سو، چې هغوی په کال ۱۷۲۲ میلادي کې پر مشهد باندې د حملې کولو فیصله وکړه، مګر په دغه وخت کې په ابدالیانو کې ډېر سخت اختلافات او دښمنۍ پیل سوې او د عبدالله خان زامنو الله یار خان او سعدالله خان، محمد زمان خان وواژه. د محمد زمان خان مېرمنې خپل ماشوم زوی احمد خان ، چې بیا وروسته احمد شاه ابدالي سو، په ډېر زحمت د هرات حاکم حاجي اسماعیل خان غلزي ته وسپاره. (ص٦١) د حیات افغاني په پښتو متن کې چې، له فارسي څخه ترجمه سوی دی، اسماعیل خان علیزي لیکل سوی دی او دغه دوهم نوم ځکه سم برېښي چې غلجي نه په دغه زمانه کې او نه له دې څخه وروسته په هرات کې دونه قدرت ته رسیدلي دي، چې د هغه ولایت حکومت دې ترلاسه کړي. د احمد خان مور خپله لور حاجي اسماعیل خان ته په نکاح کړه او هغه احمد خان په پټه په سبزوار او فراه کې وساته.

د حیات افغاني له متن څخه داسې فهمول کیږي چې شاه محمود پر فراه باندې د ابدالیانو د یرغل او د هغه ولایت د فتح کولو په وخت کې د اصفهان کنټرول په لاس کې درلود. په داسې حال کې چې شاه محمود د فراه په جنګ کې د ابدالیانو د لښکرو د ماتولو او د اسدالله د وژلو څخه یو

کال وروسته د اصفهان پر لور لښکر کښې وکړه او هغه پینځه چې حیات افغاني اشاره نه ورته کوي، هغه په دغه جنګ کې د ابدالیانو د تکړه سپه سالار اسدالله خان وژل کېدل دي. په حقیقت کې د هغه د وژل کېدلو له امله د هرات د ابدالیانو لښکر ماته وکړه او د هغه پلار عبدالله خان دونه مایوس او غمجن سو، چې نور یې د ابدالیانو د مشر تابه چارې پر مخ نه سوای بیولای. محمد زمان خان له دغې موقع څخه استفاده وکړه او عبدالله خان یې له کاره لیرې او وروسته مړ کړ.

۱۱ عالم آرای نادري ص ۹۷
۱۲ جهانکشای نادري ص ۹۵
۱۳ عالم آرای نادري ص ۹۸
۱۴ هغه کتاب ص ۹۷
۱۵ جهانکشای نادري ۱۳۰-۱۳۱
۱۶ جهانکشای نادري ص ۱۳۳
۱۷ عالم آرای نادري ص ۱۵٦
۱۸ هغه کتاب ص ۱۸۳
۱۹ هغه کتاب ص ۱۸۸
۲۰ هغه کتاب ص ۱۹۱
۲۱ جهانکشای نادري ص ۱۴۵
۲۲ هغه کتاب ص ۱۴۵-۱۴٦
۲۳ عالم آرای نادري ص ۹۵۸
۲۴ هغه کتاب ص ۱۹۴
۲۵ هغه کتاب ص ۱۹۲
۲٦ هغه کتاب ص ۱۹۴
۲۷ هغه کتاب ص ۱۹۵-۱۹۷
۲۸ جهانکشای نادري ص ۱۷۰- ۱۷۸
۲۹ عالم آرای نادري ۲۰۰-۲۰۱
۳۰ هغه کتاب ص ۵۵۱
۳۱ هغه کتاب ص ۵۵۲


# احمد شاه بابا او تیمور شاه

نادر شاه افشار د کال ۱۷۴۷ م د جون پر شلمه په خبوشان کې خپلو افسرانو محمد خان قاجار، صالح خان او نورو وواژه. د هغه قاتلانو سهار وختي د نادر شاه سر خپلو عسکرو ته وښود او په پوځ کې لویه هنګامه جوړه سوه. احمد خان دا وخت د خپلو څلورو زرو افغان پوځیانو سره په لښکر کې حاضر و. هغوې په لومړي سر کې د هیڅا په خبره اعتبار نه کاوه او سمدستي یې د نادر افشار د خیمې پر لور حرکت وکړ. د خېمې سره نېژدې شپږو زرو قزلباشو محافظینو د هغوې مخه بنده کړه، مګر هغوې په وچ زور ځانونو ته لاره خلاصه کړه. احمد خان او د هغه ملګرو په خیمه کې د نادر بې سره تن ولیدی او بېرته یې د باندې خوا ته حرکت وکړ خو دا وخت د دغو قزلباشو عسکرو سره څلور زره نور هم یو ځای سوي وه او د احمد خان د پوځیانو مخه یې بنده کړه؛ که څه هم چې دا حمد خان د پوځیانو شمېر ډېر کم و، مګر بیا یې هم د قزلباشو په لښکر کې ځانونو ته په زوره لاره پیدا کړه او مخ یې د کندهار پر لور ونیوی. (۱)

احمد خان کندهار ته په لاره کې یو ځل د خراسان د ترشیز په سیمه کې د مقاومت سره مخامخ سو، خو ډېر ژر یې د هغې سیمې او باشان او داړه ماران، چې د احمد خان د کاروان د لوټلو په نیت یې حمله وربانديې کړې وه، تیت او پرک کړل. دوهم ځل په تربت حیدریه کې د نادر افشار د وراره علي قليخان، چې په دغه وخت کې د هرات حکمران و، د پوځیانو سره مخامخ سو، خو بېله دې چې لښکر دې جنګ سره وکړي، د علي قلي خان پوځیانو ، چې شمېر یې دوولسو زرو ته رسېدی د احمد خان پوځیانو ته لاره ورکړه. احمد خان د فراه په سیمه کې هم د علي قلي خان د قواو سره مخامخ سو، مګر دا ځل هم بشپړه جګړه ونه سوه او احمد خان د کندهار پر لور حرکت وکړ. (۲)



احمدشاه بابا



په کندهار کي د احمدشاه بابا مقبره

په دغه وخت کې د نادر افشار د پاره یوه لویه خزانه، چې شل میلیونه نغدې روپۍ، الماس او شالونه په کې وه او پر دریو سوو اوښانو بار وه کندهار ته ورسېده. احمد خان سمدستي جارچیان وګرځول او خلکو ته یې خبر ورکړ، چې نادر شاه افشار مړ دی او احمد شاه د افغانستان مستقل پاچاه دی. احمد شاه دا خزانه واخیستله او نغدې پیسې او قیمتي شیان یې پر خپلو ملګرو ووېشل او د خپل راتلونکي دولت مالي بنسټ یې ورباندې ټینګ کړ. (۳)

احمد شاه په کندهار کې د نور محمد علیزي، چې د نادر شاه له خوا د کندهار او شاوخوا سیمو حکمران و، کدو خان بارکزی، محبت خان پوپلزی، میاداد خان اسحق زی او مانو خان، چې د ده له قدرت او پاچاهي سره یې مخالفت کاوه، له منځه وړلو وروسته د پښتنو د مستقل او واحد دولت د جوړولو کار ته متوجه سو. پوځ یې تنظیم کړ، حکومتي اداري یې ووېشلې او د هند پر لور یې حرکت وکړ.

که د میرویس خان په وخت کې د ایران امپراتوري فاسده سوې او په هند کې د مغولي اورنګ زیب تر مرګ وروسته د مغولي امپراتوري بشپړ اضمحلال پیل سوی و، نو د احمد شاه په زمانه کې په ایران کې مرکزي قدرت بیخي له منځه تللی و او هغه هېواد هم له شماله تر جنوبه په داخلي جګړو لګیا او هم د ترکیې او روسیې په شان قوي ګاونډیانو د حملو له خطر سره مخامخ و. د کندهار په شرق کې مغولي امپراتوري، دنادر افشار له مرګاني ګوزار څخه وروسته د شړېدلو په حال کې وه. ګاونډیان، په تېره بیا ایران دونه کمزوری و، چې په هیڅ صورت یې د افغانستان نوی تاسیس سوی دولت ته خطر نه سو متوجه کولای او پښتانه ایله، پسله بیخي ډېره وخته د ګاونډیانو د یرغلونو او دسیسو څخه بېغمه سوي وه او په دغه مناسب فرصت کې یې د یوه مرکزي دولت د جوړولو ضرورت احساس کړ.

احمد شاه بابا باید د خپل نوي تاسیس کړي دولت د ساتلو او روزلو د پاره قوي لښکر او د لښکر د پاره منظمه خزانه پیدا کړې وای او د دې خزانې تر ټولو ښه منبع د هندوستان خوا ته توجه اړول وه. احمد شاه بابا د دغه علت له مخې پر هرات باندې د حملې او کندهار سره د دې مهم ښار د دایمي یوځای کولو کار عجالتاً معطل کړ او د دې پر ځای چې پر هرات باندې حمله وکړي، د خپلو پوځونو مخ یې د هند خوا ته واړاوه.

احمد شاه په کال ۱۷۴۷ م کې قلات، غزني، کابل او پېښور له کندهار سره يو ځای کړل او تر لاهور پورې پر مخ ولاړ. په کال ۱۷۴۸ م کې يې بيا پر هند باندې حمله وکړه او د ډهلي امپراتور احمد شاه کورګانی يې د څوارلس لکه روپيو مالي په ورکولو مجبور کړ او د ډهلي پاچا د اباسين د غرب ټولي مځکې احمد شاه ته خوشې کړې. (۴)

احمد شاه له دې فتحې څخه وروسته د دېره غازي خان او دېره اسماعيل خان د لارې د کندهار پر خوا روان سو. د دغې سيمې پښتنو احمد شاه د خپل پاچا په حيث ومانه. احمد شاه په دغه سيمه کې ټول خانان او مشران پر خپلو ځايونو باندې بېرته مقرر کړل او کندهار ته روان سو. په قلات کې د بلوڅو مشر مير نصير خان هم د احمد شاه سره خپل اتحاد اعلان کړ او هغه کندهار ته ولاړ. (۵)

# احمد شاه بابا د هرات پر لور

احمد شاه بابا په کندهار کې د خپلو پوځي قطعاتو له معاينه کولو څخه وروسته د هغه ښار حکومت خپل وراره قهار خان ته، چې د خان خانان لقب يې درلود، وسپاره او د هرات پر لور يې حرکت وکړ. فراه ته د احمد شاه د لښکرو د رسېدلو سره د هرات حاکم امير خان عرب ميش مست، چې د نادر افشار د لمسي شاه رخ له خوا مقرر سوی و، د شاه رخ څخه د مرستې غوښتنه وکړه او د هرات د ښار دروازې يې وتړلې. امير خان خپل يو پوځ د حسن علي خان بېګلر بېګي تر قوماندې لاندې د احمد شاه مقابلې ته، چې په پل مالان کې يې خيمې وهلې وې واستاوه. حسن علي خان د جنګ په لومړۍ ورځ ماته وخوړه او هرات ته پر شاه سو. احمد شاه د هرات ښار محاصره کړ او هره ورځ يې د ښار پر قلا باندې ګولۍ اورولې. امير خان په دغه وخت کې هره ورځ د شاه رخ له درباره څخه د مرستو غوښتنه کوله، مګر هغه چې دا وخت پخپله په سترګو ړوند سوی او د خپلو درباريانو په لاس کې لوبېدی، دومره زيات مشکلات درلودل، چې هرات ته يې توجه نه سوه کولای. امير خان له څلورو مياشتو مقاومت څخه وروسته د ښار د مشرانو او ديني عالمانو په لاس يوه عريضه د احمد شاه حضور ته واستوله او د خپلو ګناهونو او خطاګانو معافي يې وغوښتله او د

هرات ښار يې احمد شاه ته وسپاره. احمد شاه هم هغه عفو کړ او فاتح او منصور د هرات ښار ته ننوت. (٦)

الفينستون وايي احمد شاه د کندهار څخه د پنځه وېشتو زرو عسکرو سره حرکت وکړ او هرات يې له څوارلسو ورځو محاصرې څخه وروسته ونيوی. (٧) گنداسينګه د مجمل التواريخ په حواله د هرات د محاصرې موده نهه مياشتې بولي. (٨) مګر زما په عقيده په دغه برخه کې تاريخ احمد شاهي معتبر ښکاري او د محاصرې څلور مياشتنۍ موده يو څه واقعيت ته نږدې هم ده.

# د خراسان حوادث

په خبوشان کې د نادر شاه افشار له وژل کېدلو او د کندهار څخه د هرات پر لور د احمد شاه بابا د لښکر کښۍ ترمنځ تقريباً درې کاله تېر سوي وه او په دغه موده کې په ايران او په تېره بيا خراسان کې ډېرې زياتې پېښې منځته راغلې وې.

د نادر شاه وراره علي قلي خان، چې د وخته يې لا په هرات کې سرکښۍ ته ملا تړلې وه د نادر افشار د مرګ د خبر د اورېدلو سره سم، د مشهد پر لور حرکت وکړ. علي قلي خان د نادر شاه شل تنه زامن او لمسيان د رضا قلي مېرزا څخه نيولي، چې عمر يې نهه وېشتو کالو ته رسېدی او خپل پلار پخوا لا په سترګو ړوند کړې و، د نصر الله مېرزا تر هغه زوی پورې چې د زېږېدلو يې يوه شپه تېره سوې وه او د پلار په نامه يې بللی و، ټول ووژل او يوازې د رضای قلي خان مېرزا زوی، شاه رخ مېرزا يې، چې په دغه وخت کې د څوارلسو کالو و، ژوندی پرېښود. (٩)

علي قلي خان په مشهد کې په خپل نامه سکه ووهله او ځان يې عليشاه وباله او خپل ورور ابراهيم خان يې په اصفهان کې مقرر کړ. البته هغه عسکر او پوځيان چې د نادر شاه په فتوحاتو کې يې برخه اخيستې وه، د عليشاه څخه د انعامونو تر اخيستلو وروسته ټول په خپله مخه ولاړل او بغاوت ته يې ملا وتړله. ابراهيم خان دوې درې مياشتې وروسته په اصفهان کې خپله مستقله پاچاهي اعلان کړه او عليشاه د هغه مقابلې ته لښکري وايستلې. د علي شاه لښکرو په آذرپايجان کې د زنجان او سلطانيه ترمنځ په جنګ کې

ماته وکړه او پخپله عليشاه او د هغه درې ورونه د جنګ له ميدان څخه په تېښته ولاړل. دوی ټول په تهران کې د ابراهيم خان د قواو د مشر سليم خان قوتلوي افشار لاسته ورغلل. ابراهيم خان خپل ورور عليشاه په سترګو ړوند کړ او پخپله د سلطان ابراهيم په نوم پر تخت کښېناست. (۱۰) په دغه وخت کې په مشهد کې د عليشاه درباريانو او د مشهد خلکو شاهرخ له زندانه را وايست او پر تخت يې کښېناوه. ابراهيم خان په لومړي سر کې د شاهرخ د غولولو په منظور اعلان وکړ، چې هغه د پاچاهۍ خيال نه لري، بلکې غواړي قدرت شاهرخ ته وسپاري او پخپله د هغه خدمت وکړي، مګر شاهرخ د هغه په دغه تبليغاتو نه غولېدی او په نتيجه کې د اکا او وراره ترمنځ جنګ پيل سو. ابراهيم خان ماته وکړه او څه وخت وروسته د شاهرخ طرفدارانو هغه ګرفتار کړ او د هغه په امر يې لومړی په سترګو ړوند او بيا يې د خپل ورور عليشاه سره يوځای اعدام او په مشهد کې يې خاورو ته وسپاره.

شاهرخ ته ډېر ژر د مشهد متولي سيد محمد او د دربار افسرانو کودتا وکړه او هغه يې له تخته ليرې کړ او په سترګو يې ړوند کړ. د شاهرخ بل جنرال يوسف علي خان چې دا وخت د احمد شاه د قواو سره د مقابلې د پاره له مشهد څخه وتلی و، سمدستي مشهد ته ستون سو. سيد محمد يې، چې د شاه سليمان په نوم يې ځان پاچا اعلان کړی و، ګرفتار او په سترګو ړوند کړ او شاهرخ يې بېرته پر تخت کښېناوه. دا نو هغه وخت دی چې احمد شاه هرات فتح کړی او د مشهد او نيشاپور پر لور يې حرکت پيل کړی و.

# احمد شاه بابا په خراسان کې

احمد شاه د هرات د نيولو او هلته د والي په حيث د درويش علي خان هزاره د مقررولو څخه وروسته د مشهد او نيشاپور پر لور حرکت وکړ. يوسف علي خان پخپله په مشهد کې د يوه بل جنرال مير علم خان په لاس ورغی، هغه د وخت د معمول سره سم په سترګو ړوند کړ؛ د مشهد د چارو واګې يې په لاس کې ونيولې او د احمد شاه سره د مقابلې د پاره د هرات پر لور روان سو. مير علم خان د احمد شاه د دوو جنرالانو، جهان

خان او نصير خان سره په جګړه کې ووژل سو او لښکر يې دړې وړې سو. (۱۱)

احمد شاه د مشهد ښار محاصره کړ. البته په ښار کې کلابند پوځ ډېر ښه مقاومت وکړ، مګر څرنګه چې د احمد شاه په شان يوه تکړه او منظم پوځ سره د مقابلې د پاره يې تياري نه درلود.، نو شاهرخ تسليم سو او د مشهد ښار د احمد شاه لاسته ورغی. احمد شاه د مشهد د ښار او شاوخوا سيمو حکمراني شاهرخ ته ورکړه، خانانو ته يې انعامونه او خلعتونه ورکړل او پخپله يې د نيشاپور پر لور حرکت وکړ.(۱۲)

احمد شاه د مشهد له فتح کولو څخه وروسته خپل يو جنرال شاه پسند خان د محمد حسين خان قاجار د ايلولو د پاره مازندران ته واستاوه او پخپله نيشاپور ته روان سو. د شاه پسند خان قواو د محمد حسين خان قاجار د يوه جنرال، حسن خان قاجار د لښکر په مقابل کې ماته وکړه او دا ماته احمد شاه ته، چې په دغه وخت کې د نيشا پور په محاصره لګيا و، ډېره ګرانه پرېوته. (۱۳)

دا وخت د مني موسم او په نيشا پور کې سخت د ژمي موسم پر رارسېدلو و. د ښار حکمران عباس قلي خان د خپل اکا حاجي يوسف خان په مشوره د ښار محاصره ټينګه کړه او مقاومت ته يې دوام ورکړ او کله چې د ژمي موسم راورسېدی، نو د ښار فتح کول د احمد شاه د توپچي قواو له توانه وتلی کار ښکارېدی، نو احمد شاه مجبور سو چې د نيشا پور محاصره پرېږدي او د هرات او بيا له هغه ځايه د کندهار پر لور حرکت وکړي.

احمد شاه ته په دې عقب نشيني کې د واورو او يخني له لاسه ډېر سخت تلفات ورسېدل. سراج التواريخ د دې سختې يخني د لاسه د احمد شاه د پوځيانو تلفات اته زره تنه ښيي(۱۴)، تاريخ سلطاني، چې فکر کېږي چنداني په صحيح نه وي، تلفات اته سوه تنه ښيي(۱۵)، قاضي عطاالله خان وايي د احمد شاه نيم لښکر په دې عقب نشيني کې تباه سو(۱٦) ګنداسينګه د فيرير په حواله وايي چې د احمد شاه د قواو اته لس زره تنه د کافر قلعه سره په يوه شپه د يخني د لاسه مړه سول او په ورپسې شپه يې تقريباً په دغه شمېر عسکر د کهسان ښار ته نېژدې د هريرود د اوبو څخه د تېرېدلو په وخت کې مړه سول (۱۷) البته تاريخ احمد شاهي د نورو تاريخونو په خلاف په دغه جنګ کې هم تر يوې اندازې پورې د

احمد شاه د فتحې خبرې کوې او داسې ښيي چې د نيشاپور ښار تقريباً تسلیمېدی چې احمد شاه محاصره پرېښوده او د هرات پر لور يې حرکت وکړ. (۱۸)

احمد شاه هرات ته د رسېدلو سره خبر سو چې د ده له خوا ټاکل سوی حکمران درویش علي خان هزاره د ده د له منځه وړلو او پخپله د قدرت اخيستلو د پاره دسيسه کوله. احمد شاه هغه بندي کړ او خپل زوی تيمور میرزا يې په هرات کې حکمران کړ. (۱۹)

احمد شاه ته د مشهد او نيشاپور په جنګونو کې يوازې د سر تاوان نه بلکې ډېر زيات مالي تاوان هم رسېدلی و. په افغانستان کې د ده تر اداري لاندې سيمو د ده د فتوحاتو د پاره پيسې نه سوای تاديه کولای او احمد شاه مجبور سو چې پر ايران باندې د راتلونکي يرغل او د مشهد او نيشاپور د لاندې کولو او ايلولو د پاره د هند له عايداتو څخه استفاده وکړي. هغه د کال ۱۷۴۹ م په پای کې د پنجاب پر لور حرکت وکړ او د کال ۱۷۵۰ م په فبروري کې يې د لاهور صوبه د ارميرمانو( معين الملک ) دې ته مجبور کړ چې د څلورو محلونو سيالکوټ، پرسور، ګجرات او اورنګ آباد څوارلس لکه روپۍ کلنۍ ماليات ورکړي. دا هغه څلور محلونه وه چې د هند مغولي امپراتور محمد شاه ګورګاني يې ماليات له نادر شاه افشار سره منلی وه. (۲۰)

# احمد شاه بابا يو ځل بيا د نيشاپور په لور

احمد شاه بابا د کال ۱۷۵۱ م په سر کې د تازه دمه قوې سره يو ځل بيا د نيشاپور پر لور حرکت وکړ. احمد شاه دا ځل خپلو ټولو عسکرو ته امر وکړ، چې هر يو دې دوولس پونډه چودن ورسره واخلي او د نيشاپور د کلا سره دې هغه د شاهي پوځ قوماندانۍ ته تسليم کړي. احمد شاه د دې چودن څخه د نيشاپور د کلا سره نېژدې يولوی توپ جوړ کړ، چې پنځه سوه پونډه ګولۍ يې وارول او په اول ډز يې د کلا په دېوال کې درز پيدا کړ او په ښار کې يې زلزله جوړه کړه. د نيشاپور حکمران عباس قلي خان په ځان کې د مقاومت توان ونه ليدی او د احمد شاه کمپ ته ورغی. احمد شاه د هغه عذر ومانه او بېرته يې د نيشاپور حکومت وروسپاره. البته عباس قلي خان او د ښار خلک په دې نه وه خبر ، چې هغه لوی توپ چې

په دغه ښار کې يې زلزله راوستلې وه، صرف دغه يو او وروستی دز وکړ او له کاره ولوېدی. (۲۱)

احمد شاه د نیشاپور د نیولو څخه وروسته مشهد ته په لاره کې سبزوار هم ونیوی او بیا یې نو د مشهد ښار، چې دروازې یې ورته تړلې وې، محاصره کړ. احمد شاه په عین وخت کې خپل دوه تکړه جنرالان سردار جهان خان او نصیر خان بلوڅ د تون او طبس د ایلولو د پاره واستول. د طبس حکمران علي مردان خان په جنګ کې ووژل سو او فتح د افغانانو په نصیب سوه. دواړه جنرالان د ډېرو زیاتو غنایمو سره د احمد شاه سره د مشهد د ښار سره نېژدې یو ځای سول. د خراسان حکمران شاهرخ د مشهد په ښار کې نور مقاومت نه سو کولای او تر شپږ میاشتې محاصرې وروسته احمد شاه ته تسلیم سو. احمد شاه د هغه ډېر قدر وکړ او بېرته یې مشهد ور وسپاره او شاهرخ تعهد وکړ چې سکه به د احمد شاه په نامه وهي او خطبه به د هغه په نامه وایي. (۲۲)

د شاهرخ او احمد شاه د موافقې په اساس جام، باخرز، تربت حیدریه، خواف او ترشیز، چې د هرات او مشهد ترمنځ پراته وه، د شاهرخ له قلمرو څخه جلا او د افغانستان په خاوره پورې وتړل سول. (۲۳) احمد شاه د دې موافقې څخه وروسته هرات ته ستون سو او له هغه ځایه څخه یې د بلخ او بدخشان پر لور پوځونه واستول او د افغانستان اوسني سرحدات یې بشپړ کړل. (۲۴)

احمد شاه وروسته خپله زیاتره توجه د هند خوا ته واړوله او پنځه ځله نور يې پر هندوستان باندې د مختلفو علتونو له مخې یرغلونه وکړل. هغه د سیکهانو او مرهټیانو د استبداد او تېریو څخه د مسلمانانو په تېره بیا پښتنو د ساتلو په منظور د هند پر لور لښکر کښۍ وکړې او تر هغه وخته پورې چې د ده سرکښ اولس د یوه واحد مرکزي دولت او قانون تابع کېدی، خلک او قومي مشران یې تل وخت د غزا او غنیمت په نوم یو موټې سره وساتل.

په دې سلسله کې د احمد شاه بابا تر ټولو لوی او مهم جنګ د هند له مرهټیانو سره د کال ۱۷٦۱ م د پاني پت جګړه وه. احمد شاه په دې جنګ کې د هند دونه لوی قوت ته ماته ورکړه، چې مورخین یې د نړۍ د تر ټولو لویو او قاطع جګړو څخه بولي.(۲۵) د احمد شاه بابا پوځیانو ته د دې فتحې په نتیجه کې ډېر زیات غنیمت په لاس ورغی او ټولو غوښتل

چې خپل هېواد ته ستانه سي. احمد شاه هم په ډهلي کې د مغول علي ګوهر تر پاچا کولو وروسته مخ د خپل هېواد پر لور ونیوی.

د احمد شاه بابا د فتوحاتو، اجرااتو او جنګونو په باب مفصل بحث زموږ د کتاب موضوع نه ده، خو دونه باید ووایو چې د هرات، بادغیس او غوریان په شان هغه سیمې چې د ایران پر پوله پرتې وې او پښتنو د تاریخ په اوږدو کې د وینو تویولو او سرونو دښندلو په بیه ساتلې وې او ایرانیانو یې هیڅ وخت د اشغالولو او نیولو د تلاښ څخه لاس وانه خیست، د تل د پاره د افغانستان سره داسې یو ځای سوې، چې د هغوی بېلېدل د ټول افغانستان د مرګ او نابودۍ مانا لري.

# تیمور شاه

احمد شاه په کال ۱۷۷۳م کې وفات سو او د هغه د وصیت سره سم تیمور شاه چې دا وخت په هرات کې حکمران و، د پاچاهۍ اعلان وکړ. صدراعظم شاه ولي خان بامیزایي، چې د احمد شاه د مشر زوی شهزاده سلیمان خسرو، خپل زوم په کندهار کې پاچا کړ. تیمور شاه له هراته حرکت وکړ او شاه ولي خان ډېر ژر پوه سو چې د کندهار د قومي مشرانو ملاتړ ورسره ملګری نه دی، نو د تیمور شاه د هرکلي د پاره یې د هرات پر لور حرکت وکړ. شهزاده تیمور خپل یو وفادار نوکر اسلام خان ته هدایت ورکړ چې شاه ولي خان او د هغه دواړه زامن په لار کې قتل کړي. د تیمور شاه افسرانو هم د بکوا په غرب کې د سیاه آب په سیمه کې شاه ولي خان قتل کړ(۲۶) او په دې توګه یې د پښتنو د یوه لایق جنرال ژوند ته، چې ټول ژوند یې قوم او سلطنت ته د خدمت په لاره کې د آس پر شا او د جنګ په میدانونو کې تېر کړی و، خاتمه ورکړه. شاه ولي خان تقریباً په ټولو مهمو جنګونو کې د خپل سلطان احمد شاه بابا ترڅنګ ولاړ و او موږ چنداني داسې تاریخي متن نه پېژنو چې د دغه زړه ور پښتانه جنرال د مېړانې، پوهې او پاکې صفت په کې سوی نه وي.

تیمور شاه د خپل دې اقدام څخه وروسته، چې باید ډېر قومي خانان او قومي مشران یې بېرولي وي، کندهار ته داخل سو. هغه ډېر لږ وروسته

کابل ته حرکت وکړ او پایتخت یې هم هغه ښار ته نقل کړ. په دې کې شک نسته چې کابل د افغانستان د ډېرو مهمو تاریخي او ستراتیژیکو ښارونو څخه و او تیمور شاه ښایي د هغه د ستراتیژیک او مرکزي اهمیت درلودلو له کبله پایتخت ورنقل کړی وي، خو ډېر مورخین په دې عقیده دي چې تیمور شاه د وژل سوی شاه ولي خان د قوی بامیزایي قبیلې د مخالفت او د شهزاده سلیمان د طرفدارو قومي خانانو له وېرې، چې سلیمان د هغوې په مرسته قدرت ته رسېدلی و، خپل د حکومت مرکز کابل ته انتقال کړ.(۲۷)

د تیمور شاه د دوه وېشت کلنې دورې زیات وخت د خارجي او داخلي فتنو او ښورښونو په کرارولو تیر سو. په کندهار کې عبدالخالق خان سدوزی، چې ځان یې د احمد شاه بابا اکا باله، ښورښ وکړ او تقریباً شپېته زره سپاره عسکر یې د کابل د نیولو د پاره روان کړل.(۲۸) البته تیمور شاه دا ښورښ کرار کړ او له دې څخه وروسته په پېښور کې فیض الله خان خلیل ښورښ وکړ. په کشمیر کې آزاد خان یاغي سو، د بخارا امیر شاه مراد بې د افغانستان په قلمرو باندې تېرې وکړ او سعدالله خان مومند بغاوت وکړ، د ملتان مشران یاغیان سول (۲۹) او دې ټولو فتنواو ښورښونو تیمور شاه د اجتماعي او عمراني پروژو عملي کولو ته (که یې چېرې په نظر کې درلودلې) پرې نه ښود.

تیمور شاه د خپل پلار په خلاف، چې ټول ژوند یې فعالیت، کار او لښکر کښیو ته وقف کړی و، یو راحت طلب او پر عیش او نوش مین سړی و.(۳۰) په داسې حال کې چې افغانستان د یوه نوي تاسیس سوي هېواد په حیث په هغه وخت او زمان کې یوه داسې مدبر شخصیت ته ضرورت درلود، چې هېواد یې نور هم مستحکم کړي او پر پښو درولی وای. له نیکه مرغه چې په هغه وخت کې سیکهان دومره قوي نه وه، چې د افغانستان خاوره لاندې کړي، په هند کې انګرېزانو د افغانستان له لورې دونه جدي خطر نه و احساس کړی، چې د تیمور شاه د دولت د نسکورولو د پاره یې د سیسې کړې وای؛ په شمال کې د بخارا امیر دونه زور نه درلود چې د افغانستان خاورې اشغال کړي او ایران په ډېرو سختو داخلي جنګونو اخته و. دغه علت و چې د تیمور شاه په شان یوه عیاش پاچا په زمانه کې افغانستان د داسې یوه هېواد په حیث پاته سو، چې که یې د ګاونډیانو سرحدونه تهدېدولای نه سوای، نو د ځان څخه یې د دفاع کولو ښه توان

درلود. د ايران مشران، چې هيڅ وخت يې د افغانستان د غربي سيمو د لاندي کولو خيال له سره نه دی ايستلی، دا وخت په ډېرو سختو داخلي جنګونو اخته وه او د افغانستان پر خاوره باندې د يرغل فرصت يې نه سو پيدا کولای. تاريخ ثابته کړه چې ايرانيانو له داخلي جنګونو څخه د بېغمه کېدلو څخه سمدستي وروسته ،کله د روسانو او کله د انګرېزانو په تحريک پر افغانستان باندې يرغلونه پيل کړل.

تيمور شاه په کال ۱۷۹۳ م کې له دوه وېشت کاله سلطنت څخه وروسته وفات سو او د ده له وفات سره سم د کورنيو اختلافونو، داخلي جنګونو او د سدوزو د سلطنت د زوال دوره پيل سوه.

# د ايران داخلي جنګونه


د احمد شاه بابا د قدرت په لومړيو کلونو کې په ايران کې تقريباً په ټولو سيمو کې د قدرت د نيولو د پاره جنګونه روان وه او هغه وخت چې په ايران کې کريم خان زند قدرت تر لاسه کړ او د هغه هېواد داخلي جنګونه يو څه کرار سول، نو په افغانستان کې احمد شاه بابا داسې قوي دولت جوړ کړی و چې ايرانيانو هغه ته خطر نه سو متوجه کولای.

د تيمور شاه د پاچاهۍ په لومړيو کلونو کې هم پخپله تيمور شاه دونه توان او قوي پوځ درلود چې د افغانستان د خاورې او تماميت څخه يې دفاع کولای سوای او هم د کريم خان زند او افغانستان ترمنځ د خراسان نيمه مستقله پاچاهي پرته وه او کريم خان که چېرې پر افغانستان باندې د تېري خيال درلودلای ، دونه زور يې نه درلود چې تر خراسان را تېر سي او پر افغانستان باندې يرغل وکړي. د تيمور شاه د پاچاهۍ پر شپږم اوم کال د کريم خان زند د وفات سره سم په ايران کې بيا داخلي جګونه پيل سول او افغانستان د شاه زمان تر زماني پورې د ايران د احتمالي شر څخه په امان پاته سو.

د ايران د خراسان سيمه د احمد شاه د تورې له برکته د نادر شاه د لمسي شاهرخ مېرزا په لاس کې پاته سوه، خو په نورو سيمو کې يې د آزاد خان افغان، کريم خان زند او محمد حسن قاجار ترمنځ جنګونه پيل سول.



تیمورشاه



په کابل ښار کې د تیمورشاه مقبره

آزاد خان افغان، چې په آذربایجان کې د نادر افشار جنرال و، هغه سیمه وساتله، د ګرجستان سره یې تر یوې سختې جګړې وروسته، د هغه ځای له واکمن سره سوله وکړه او ارس یې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سرحد په حیث قبول کړ.

د ایران په مرکزي برخه کې علیمردان خان بختیاري، یو صفوي شهزاده پیدا کړی و او د اسماعیل صفوي په نوم یې پر تخت کښېناوه. علیمردان خان د کریم خان زند سره، چې په دغه وخت کې یې ډېر لږ عسکري قدرت درلود، مخالف سو، مګر مخکې له هغه چې کریم خان له منځه یوسي، پخپله قتل سو او میدان کریم خان ته خالي سو. د ایران د تخت او تاج د نیولو د پاره د مبارزې او جګړې په میدان کې یوازې درې تنه، کریم خان زند، آزاد خان افغان او محمد حسن خان قاجار پاته سول (البته په سترګو ړانده شاهرخ د خراسان له سیمې څخه د باندې د فتوحاتو خیال نه سو کولای).

کریم خان زند، محمد حسن خان قاجار او آزاد خان افغان یو بل ته څو ځله داسې ماتې ورکړې، چې فکر کېده دا به وروستۍ جګړه وي، مګر بیا به هر یوه قواوې را غونډې کړې او دیوه بل جنګ د پاره به یې تیاری پیل کړ. یو ځل خو آزاد خان کریم خان ته داسې ماته ورکړه، چې نېژدې و هغه له منځه یوسي او په ایران کې د قدرت په مبارزه کې هغه او محمد حسن قاجار پاته سي، خو کریم خان د خپل یوه دوست د پوځونو په مرسته بېرته آزاد خان ته وروستۍ ماته ورکړه او آزاد خان له اوو کالو جنګونو څخه وروسته، ځان پخپله کریم خان ته تسلیم کړ او تر مرګه د کریم خان زند د مېلمه په حیث پاته سو. (۳۱)

لږ وروسته محمد حسن خان قاجار د کریم خان زند مرکز شیراز محاصره کړ، مګر په خپل پوځ کې د بې اتفاقۍ په وجه یې میدان پرېښود، او د عقب نشینۍ په وخت کې د قاجار د قبیلې افرادو، چې له ده څخه یې چندانې ښه زړه نه درلود، قتل کړ او سر یې کریم خان ته واستاوه. (۳۲)

## کریم خان زند او د هغه کورنۍ

کریم خان زند، چې د ایران په تاریخ کې یې د عدالت او زړه سواندي ډېرې افسانې خپرې دي، د محمد حسن قاجار د وژل کېدلو او تهران د نیولو څخه وروسته، د هغو څلورو پنځو زرو افغانانو په شمول چې

ده ته یې بیعت ورکړی و، تقریباً نهه زره افغانان، نارینه، ښځې او ماشومان د نوروز د جشن په شپه قتل عام کړل او په اصطلاح د خپل عنعنوي جشن او اختر خوښي یې ورباندې خو چنده کړه. کریم خان دا بې وسلې افغانان او بېګناه ښځې او ماشومان په دې پلمه قتل عام کړل چې ویل یې افغانانو څه باندې نیمه پېړۍ پخوا د اصفهان د اشغال په وخت کې پر ایرانیانو باندې بیحده ظلمونه کړي وه. کریم خان دغه افغانان د نوروز په جشن کې د ګډون کولو او مشرانو ته د انعامونو د وېشلو په پلمه د تهران ښار ته وبلل او خپلو عسکرو ته یې د هغوی د وژلو حکم صادر کړ.(۳۳)

کریم خان زند، چې پرته له خراسان څخه یې د ایران پر تقریباً ټوله خاوره باندې تسلط ټینګ کړی و، تقریباً نهه وېشت کاله د ایران له خلکو سره په بشپړ عدالت ګوزاره وکړه. هغه تر خپل لاس لاندې قلمرو کې امنیت قایم کړ، تجارتي لارې یې مصوئنې کړې او خارجیانو، په تېره بیا هالینډیانو ته یې ښه امتیازات ورکړل او په ایران کې یې د خارجي سرمایه ګذارۍ د تشویق له لارې تجارت ته ښه وده ورکړه. کریم خان له نهه ویشت کالو پاچاهۍ څخه وروسته په کال ۱۷۷۹ م کې په شیراز کې وفات سو او د وخت د معمول سره سم د هغه د کورنۍ د غړو ترمنځ د پاچاهۍ د نیولو د پاره دسیسې او جګړې پیل سوې.

کریم خان د خپل قدرت په زمانه کې د ایران له خلکو سره ښه عدالت وکړ، خو د هغه ورور زکي خان، چې یو ځل خپله کریم خان زند ته یاغي سوی او هغه بخښلی و ډېر ظالم سړی و. په دې وخت کې شک نسته چې د زکي خان د ټولو ظلمونو او ناروا په باره کې کریم خان ته بشپړ اطلاعات رسېدل، مګر هغه خپل ورور ته څه نه ویل او د مهمو ولایاتو او ښارونو واک یې ورسپارلی و. یو ځل کریم خان خپل ورور زکي خان دامغان ته، چې حسین قلي خان قاجار شورښ په کې کړی و واستاوه. زکي خان دغه شورښ کرار کړ او ټول نیول سوي بندیان یې یو ځل د اوسپنې په میلو پورې وتړل او بیا یې نور ژوندي سرچپه ښخ کړل. (۳۴) ده د کریم خان زند د وفات څخه وروسته د لنډې مودې د پاره قدرت تر لاسه کړ او چې څه یې په وس وه هغه یې وکړل.

هغه د خپل قدرت په زمانه کې په نورو ښارونو او سیمو کې هم دغه ته ورته ظلمونه وکړل او په ټول ایران کې یې خلکو له نامه څخه نفرت درلود. هغه به کله کله خپل مخالفین او زیاتره بېگناه خلک د ښار له قلا څخه لاندې په کندو کې غورځول او د اشرافو او سیدانو ښځې او لوڼې به یې خپلو عسکرو ته ورتسلیم کړې او په زور به یې بې عزته کولې. (۳۵)

زکي خان بالاخره په کال ۱۷۸۲ م کې خپلو عسکرو وواژه او د کریم خان زند بل ورور صادق خان خپل ځان په شیراز کې پاچا اعلان کړ او د کریم خان زوی ابوالفتح خان یې په سترګو ړوند کړ. د کریم خان بل وراره علي مراد، چې مخکې د کریم خان زند ملګری او بیا ورڅخه بیل سوی و همدان ته نېژدې یې د خپل اکا صادق خان قواو ته ماته ورکړه او هغه شیراز ته پر شا سو. علي مراد شیراز محاصره کړ او اته میاشتې وروسته یې ونیوه او خپل اکا یې پرته له یوه زوی جعفر خان څخه، چې له ده سره یې مخکې جوړه کړې وه، د خپلې ټولې کورنۍ سره قتل کړ. (۳٦)

## د کریم خان زند کورنۍ او اغا محمدخان قاجار

علي مراد څلور کاله وروسته د خپل اکا د زوی جعفر د ښورښ د ځپلو د پاره، چې په اصفهان کې یاغي سوی وُ، د ژمي په سخته یخنۍ کې چې ناروغ هم وُ روان سو او په مورچه خورت کې مړ سو. جعفر د علي مراد زوی شیخ اوویس په سترګو ړوند کړ او پخپله پاچا سو. اوس نو د ایران د قدرت د نیولو د مبارزې په میدان کې جعفر خان او اغا محمد خان قاجار پاته سول. اغا محمد خان قاجار، چې تقریباً ټول عمر یې د کریم خان زند په دربار کې د هغه د مېرمنې د ورور، مېلمه او نظر بند په حیث تېر کړی وُ او کریم خان بېحده زیات نازولی وُ د کریم خان د سختې ناروغۍ د خبر د اورېدلو سره سم د شیراز څخه تښتېدلی او د خپلو نورو قاجاریانو په مرسته یې تهران اشغال کړی و.

جعفر د خپل نیمګړي قدرت څلور کلونه د اغا محمد خان قاجار سره په جنګونو تېر کړل او په پای کې په کال ۱۷۸۹ م کې چا په شیراز کې په زهرو مړ کړ. د هغه زوی لطف علي خان څه باندې څلور کاله د اغا محمد خان قاجار سره وجنګېدی او د یوه زړه ور او لایق عسکر په حیث یې دوه ځله، په ډېرو لږو قواو د قاجاریانو مشر ته ماته ورکړه او حتی یو ځل خو نېژدې ژوندی لاسته ورغلی و، خو بالاخره یې د اغا محمد خان قاجار د

حملو او قـواو پـه مقـابل کـې ماتـه وکـړه او حتـٰی يـو ځل خـو يـې فيصلـه وکـړه چـې د افغانسـتان د پـاچـا تيمـور شـاه ځـخـه مرسـته وغـواړي او د دې مرسـتې د ترلاسه کولـو د پـاره پخپلـه کندهـار تـه روان سـو، مـگر پـه لاره کـې د تېمورشـاه له وفات څخه خبر سـو او فيصلـه يـې بدلـه کـړه.(۳۷)

لطـف علـي خـان بـالاخره کرمـان تـه ولاړ او اغـا محمـد خـان قاجـار دغـه ښار لـه سـختې محـاصرې او حملـو څخـه وروسـته ونيـوى. لطـف علـي خـان د تېښتـې پـه وخـت کـې ووژل سـو. اغـا محمـد خـان قاجـار د دغـه ښار ټول ځوانـان، نارينـه قتـل عـام کـړل، شـل زره جـوړې سـترګې يـې وايسـتلې ( ځينـې وايـې څو منـه سـترګې يـې وايسـتلې) د دې ښار ښځې يـې خپلـو عسـکرو تـه ور تسليم کـړې او هغـوى يـې تشـويق کـړل چـې ټول پـه زور بـې عزتـه او يـا مـړې کړي او ټول ماشومان يـې د غلامـانو پـه حيث پـه بـازارونو کـې خـرڅ کـړل. اغـا محمـد خـان د شپږ سـوو جنگي بنديـانو سـرونه پـرې کـړل او نـورو دريـو سـوو جنگي بنديانو ته يـې پـه شـا ورکـړل او بيا يـې نـو د دغـو نـورو دريـو سـوو تنـو جنگي بنديـانو سـرونه هـم پـرې کـړل او پـر هغـه ځاى بـاندې يـې چـې لطـف علي خان ورباندې ووژل سـوى، د سـرونو کلـه منـار جـوړ کـړ.(۳۸)

اغا محمـد خـان د خپـل قـدرت پـه زمانـه کـې دومـره ظلمونـه وکـړل، چـې په ايـران کـې چنداني چـا نـه وه کـړي. هغـه پـر هيڅـا رحـم نـه کـاوه او حتـٰی خپـل ورونه يـې، چـې د ده د قـدرت اخيسـتلو پـه جنگونـو کـې تـر-ـتـر او مـال ورتـه تـېروه او پـه حقيقـت کـې يـې د ايـران تـاج او تخـت د هغـوى پـه مرسـته ونيوه، يو په سـترګو ړونـد کـړ او بـل يـې وواژه. خپـل ورور جعفـر قلـي خـان يـې ، چـې د ده پـه مقـابل کـې يـې هيـڅ ډول خيـانت نـه و کـړى او ده هيـڅ ډول پلمه نـه سـوه ورتـه جـوړولاى، پـه زاريـو او قسـمونو د يـوې شپې د پـاره تـهران ته وغوښت او په هغه لومړۍ شپه يـې قتـل کـړ. کلـه چـې يـې سـهار د جعفـر قلـي خان مړى ورته راووړ ، نـو ده پـه سـاندو بنـا وکـړه او خپـل وراره فتح علـي خـان تـه يـې، چـې ده خپـل وليعـهد ټاکلـى و، ويـل چـې زه دا ټول مـړي او جنايتونـه ستا په خاطر کوم. زه ښه پوهېږم چـې کـه تـه زمـا لـه مـرګ څخـه وروسـته قـدرت تـه رسېدلى واى، نو دغه زړه ورجـنـرال تـه ارامـي تـه نـه پرېښودلې.(۳۹)

## د اغا محمد خان قاجار شخصيت

پـه هغـه انـدازه چـې د اغـا محمـد خـان قاجـار ظلـم او قساوت سـرحد نـه درلود، په هغه انـدازه يـې حـرص او پـول پرستي هـم انـدازه نـه درلـوده. هغـه

چې به خلکو ته سزاوې وټاکلې. نو ټول بايدده په مخکې عملي سوي وای. يوه ورځ يې خلکو ته د سزا ورکول کېدلو نندارہ کوله او خبرسو چې يوه مجرم جلاد ته ويلي وه چې که د هغه غوږونه په بېخ کې پرې نه کړي ، نو يو څه پيسې به ورکړي. اغا محمد خان هغه مجرم راوغوښت او ورته وې ويل چې که دغه پيسې دوه چنده کړې نو زه به دې د غوږونو له پرې کېدلو څخه معاف کړم. سړی له ډېرې خوشاليه په سجده پرېووت او د پاچا غوښتنه يې سمدستي ومنله، خو اغا محمد خان ورپسې رېږ کړل چې پيسې بايد هېرې نه کړې، ځکه چې د پېسو له برکته دې سزا معاف سوې ده. يوه بله ورځ يې په خپله خوله خپلو وزيرانو او سلاکارانو ته د خپلې دسيسې حال ووايه. کيسه داسې وه چې دې له خپلو درباريانو سره د باندې وتلی و او يو درويش يې مخې ته ودرېدی. ده درويش ته خورا زياتې پيسې ورکړې او غوره مالو درباريانو د ده په تعقيب هر يوه په هغه اندازه او يا له هغې څخه زياتې يا کمې پيسې درويش ته ورکړې. درويش ته خورا زياتې پيسې په لاس ورغلې، مګر په هغه شپه پاچا خورا سخت په قار و او په پای کې يې له خولې ووتل چې فقير زه خطا ايستلم. هغه درويش چې تاسې سهار وليدی، زما سره يې وعده کړې وه، چې زما پيسې به بېرته راکوي او له درباريانو څخه چې يې څه پيسې ترلاسه کړي دي، د هغو نيمايي به هم راکوي، مګر نه يې زما پيسې بېرته راکړې او نه د هغه نورو پيسو درک معلوم سو. په درويش پسې يې سپاره عسکر واستول، مګر درويش ځان تر ځايه رسولی و.(۴۰)

د اغا محمد خان د پيسو يوه ډېره ظالمانه طريقه دا وه چې يو سړی به يې د هغه پر دښمنانو خرڅ کړ او هغوې ته به يې وويل چې هرڅه ورباندې کوي، ستاسې خپل اختيار دی او چې هرخونه پيسې ورڅخه اخيستلای سي ورڅخه وايي خلئ.(۴۱)

اغا محمد خان قاجار په کال ۱۷۹٦ کې د خراسان د نيولو په نيت روان سو. هغه تقريباً بيله کومې ستونزې مشهد ته داخل سو او چا مقاومت ورسره ونه کړ. د شاهرخ مېرزا زوی نادر مېرزا هرات ته وتښتېدی او شاهرخ په مشهد کې قاجار پاچا ته په لاس کې ورغی. اغا محمد خان په دې خبر وچې شاهرخ ځينې قيمتي او اعلي جواهرات لري او د هر چا څخه يې پټ ساتلي دي. شاهرخ ډېر سخت سوګندونه ياد کړل چې هيڅ قيمتي جواهرات يې نه دي پټ کړي، مګر د هغه خبره چا اورېدله. شاهرخ ته يې

ډېرې سختې شکنجې ورکړې او هغه د خپلو جواهراتو ځای وروښود. مګر د اورنګزیب د خزانې قیمتي یاقوت یې یوازې هغه وخت ورکړ، چې پر سر یې ایشولي تیل ورتوی کړل او نور یې په وجود کې د مقاومت اثرپاته نه سو. اغا محمد خان امر وکړ چې نور دې شاهرخ ته شکنجې نه ورکوي، مګر دا خبره یې ډېره ناوخته وکړه، ځکه چې شاهرخ د هغو شکنجو د لاسه ډېر ژر وفات سو.(۴۲)

یو ایراني مورخ د تاریخ روضة الصفا ناصري په حواله لیکي چې اغا محمد خان قاجار په مرواوسرخس کې حاکمان مقرر کړل او محمد ولي خان قاجار ته یې د لسو زرو سپرو سره د خراسان سرداري ورکړه او په مشهد کې یې د پاتېدلو وظیفه ورکړه او شاهرخ او د هغه اولاد یې مازندران ته واستول. (۴۳)

اغا محمد خان بالاخره په کال ۱۷۹۷ م کې د قره باغ په مرکز شیشا کې خپلو هغو دوو تنو عسکرو ووژاه چې ده یې د اعدام حکم صادر کړی و او د جمعې د ورځې له امله یې د هغوی اعدام ځلېرویشت ساعته ځنډولی او د شنبې ورځې ته معطل کړی و.(۴۴)

صدر اعظم حاجي ابراهیم د اغا محمد خان قاجار وراره او ولیعهد فتح علي شاه قاجار پر تخت کښېناوه، که څه هم چې د هغه د پاچا کېدو سره یو څه مقاومت رسو، خو لکه څرنګه چې د ده اکا په خپل ژوند کې ویلي وه چې په ټول ایران کې مې دونه سړي نه دي پرې ایښي چې زما د وراره په مقابل کې، چې ده بابا خان ورته وایه سر اوچت کړي. پښه د اغا محمد خان د پېش بینۍ سره سمه وه او فتح علي شاه تقریباً په اسانۍ سره قدرت ترلاسه کړ.

د فتح علي شاه په مخالفینو کې وروستی او مهم دښمن د شاهرخ مېرزا زوی نادر مېرزا و، چې د اغا محمد خان له قتلېدلو څخه وروسته د هرات څخه خراسان ته ستون سو او مشهد یې ونیوی. فتح علي شاه د خراسان پر لور حرکت وکړ، نیشا پور یې تر لنډې محاصرې وروسته ونیوی، تربت حیدریه یې فتح کړ او کله چې مشهد ته ورسېدی، نادر مېرزا ورته تسلیم سو او فتح علي شاه هغه وباخښه.(۴۵)

درې کاله وروسته نادر مېرزا بیا یاغی سو او فتح علي شاه یو ځل بیا د مشهد پر لور حرکت وکړ. نادر مېرزا د مشهد د ښار دروازې وتړلې او فتح علي شاه مشهد محاصره کړ. په ښار کې دننه ډېره سخته قحطي راغله او د

ښار خلکو میرزا محمد مهدي مشهدي د فتح علي شاه لښکر ته په شفاعت واستاوه او شاه د مشهد څخه د تهران پر لور حرکت وکړ (۴٦)

ویل کیږي چې شاه زمان په دغه وخت کې د ایران شاه ته یو سفیر واستاوه او له هغه څخه یې وغوښتل چې د خراسان له سیمې څخه ووزي او تهران ته ستون سي. د ایران پاچا په دې شرط د شاه زمان دا غوښتنه ومنله چې هغه باید خپل هغه ورونه چې د ایران دربار ته یې پناه وړی ده پریږدي چې افغانستان ته ولاړ سي او له هغوی سره ښه سلوک وکړي. د ایران پاچا په دغو پوځي عملیاتو کې چنداني څه تر لاسه نه کړه، خو دا چې شاه زمان د لاهور څخه پېښور ته حرکت وکړ، څو د ایران سره د جنګ د پیل کېدلو په صورت کې تیاری ولري او سیمې ته نېژدې وي، پر برتانوي هند باندې یې فشار کم کړاو هغوی یو څه د آرامۍ سا و ایستله. (۴۷)

د فتح علي شاه ورور شهزاده محمد ولي میرزا بیا هم د مشهد محاصرې ته دوام ورکړ او بالاخره یې مشهد اشغال کړ؛ نادر میرزا یې ګرفتار کړ او د میرزا محمد مهدي مجتهد د قتل په ګناه یې په بازارونو وګرځاوه، وروسته یې تهران ته واستاوه او د همدغه قتل په ګناه یې اعدام کړ.(۴۸)

## احمد شاه او تیمور شاه

۱. Lockhart Nadershah p 263
تاریخ جهانکشای نادري ص ۴۲۲
۲. تاریخ احمد شاهي ص ۴۵-۵۰
۳. Ganda Singh p 29-30
۴. هغه کتاب ص ۷۷
۵. هغه کتاب ص ۸۰
٦. تاریخ احمد شاهي ص ۲۵۵-۲۵٦

۷. An Account vol 2p 287

۸. Ganda Singh p 84

۹. تاریخ جهانکشای نادری ص ۴۲۲-۴۲۴

۱۰. هغه کتاب ص ۴۲۵-۴۲۷

۱۱. Ganda Singh p 87-88

۱۲. تاریخ احمد شاهی جلد اول ص ۲۹۴

۱۳. Ganda Singh p 89-90

۱۴. سراج التواریخ جلد اول ص ۱۵

۱۵. تاریخ سلطانی ص ۱۲۹

۱۶. د پښتنو تاریخ جلد اول ص ۱۲۳

۱۷. Ganda Singh p 19 Ferrier p 77

۱۸. تاریخ احمد شاهی جلد اول ص ۲۹٦- ۲۹۷

۱۹. Ganda Singh p 92

۲۰. Sirkar vol 1 p 263 Ganda Singh p 93

۲۱. سراج التواریخ ص ۱۵ Ganda Singh p 93-94

Sykes A History of Afghanistan vol 1 p 356-357

۲۲. Ganda Singh p 95-97 سراج التواریخ ص ۱۵

۲۳. سراج التواریخ ص ۱٦

۲۴. Sykes Afghanistan vol 2 p 357

۲۵. هغه کتاب ص ۳٦۴

۲٦. سراج التواریخ ص ۳۵

۲۷. بالاحصار کابل جلد دوم ص ۱۱-۱۲

۲۸. سراج التواریخ ص ۳٦

۲۹. بالاحصار کابل ص ۱۱

۳۰. تاریخ سلطانی ص ۱٦۱

۳۱. Sykes Persia vol 2 p 277-279

۳۲. مجمل التواریخ ص ۳۲۱

۳۳. هغـه کتـاب ص ۳۲۲-۳۲۳

۳۴. Sykes persia vo;l2 p 282

۳۵. هغـه کتـــاب ص ۲۸۲- ۲۸۳

۳۶. هغـه کتـــاب ص ۲۸۳

۳۷. هغـه کتـــاب ص ۲۸۷

۳۸. Persia Oliver p 268 Sykes Persia 288

۳۹. Oliver Persia p 270

۴۰. هغه کتـاب هغـه مـخ

۴۱. Sykes Persia vol 2 p 295

۴۲. هغـه کتـــاب ص ۲۹۴

۴۳. مطلـع الشـــمس ص ۶۴۰

۴۴. Oliver p 273

۴۵. Sykes persia p 297

۴۶. مطلـع الشـــمس ص ۶۴۰

۴۷. Sykes Persia p 299

۴۸. مطلـع الشـــمس ص ۶۴۱

# یوه تاریخي افسانه یوه تاریخي غلطي

احمد شاه بابا په کال ۱۷۴۷ م کې د هند پر لور د سفر څخه وروسته کندهار ته راستون سو او په کال ۱۷۴۹م کې یې د هرات پر لور حرکت وکړ. هرات یې تر یوې سختې محاصرې وروسته ونیوی او د خراسان د مرکز مشهد پر لور یې حرکت وکړ. مشهد دا وخت د نادر افشار د لمسي شاهرخ مېرزا، چې په سترګو ړوند کړه سوی و، په لاس کې و. شاهرخ مېرزا ډېر ژر تسلیم سو او احمد شاه د مشهد د ښار د چاروواکي بېرته شاهرخ مېرزا ته وروسپارلې. میر غلام محمد غبار مورږ ته وایي چې احمد شاه د عراق له الحاق څخه وروسته ( حتماً یې مطلب هرات دی، که څه هم چې د کتاب په پای کې په غلطنامه کې یې نه دی ذکر کړی) د مشهد پر لور حرکت و کړ، د تربت شیخ جام په حدودو کې یې د شاهرخ نایب میر علم خان ته ماته ورکړه. میر علم خان وتښتېدی او شاهرخ ، چې د هغه په لا س کې بندي و، دخپل زوی نصر الله مېرزا په مرسته خوشې سو او کله چې احمد شاه مشهد ته ورسېدی، نو شاهرخ تسلیم سو.(۱)

خبره په دې کې ده چې شاهرخ مېرزا د تاریخ جهانکشای نادری په حواله په دغه وخت کې ایله د شپاړسو یا اوه لسو کالو وی (۲) هغه په دغه وخت کې دونه زوی نه سوای درلودلای چې د یوه یاغي جنرال څخه دې د خپل پلار د خلاصولو کوښښ وکړي.

د دغې تاریخي پېښې او په دغه زمانه کې د نورو تاریخي حوادثو په باره کې غلطي دونه عامه سوې ده چې بیخي زیاتو تاریخي کتابونو او آثارو ته ورغلې ده. تاریخ سلطاني، چې ښه ډېر تاریخي کتابونه په هغه استناد کوي، د احمد شاه له خوا د مشهد په لومړۍ محاصره کې د شاهرخ

میرزا د دوو زامنو نصرالله میرزا او نادر میرزا د باتورۍ ډېرې افسانوي کیسې کوي او وايي چې احمد شاه دهرات د نیولو څخه وروسته درویش علي خان هزاره په هرات کې حاکم مقرر کړ او پخپله د شاهرخ څخه د مشهد د نیولو د پاره د هغه ښار خوا ته وخوځېدی. شاهرخ د مقاومت توان نه درلود او طوس ته ولاړ. احمد شاه د مشهد ښار محاصره کړ، خو هره شپه به د دغه ښار څخه دوه تنه سپاره راووتل او څو تنه نور سپاره به ورپسې وه او د احمد شاه پر لښکرو به یې حملې کولې او ډېر زيات کسان به یې له تېغه تېر کړل او بېرته به په ښار ننوتل. له تحقیق څخه وروسته معلومه سوه چې دا دوه تنه د نادر افشار کړوسیان نصرالله میرزا او نادرمیرزا دی، خو څه وخت وروسته د مشهد په ښار کې ډېره سخته قحطي راغله او شاهرخ وبېرېدی او د احمد شاه سره په سوله راضي سو. احمد شاه هم سولې ته تیار سو، شهزاده تیمور یې ، چې بیا وروسته تیمور شاه سو او د نادر له وخته په مشهد کې یرغمل و، خلاص کړ او ښې ډېرې پیسې یې د نعل بها په توګه واخیستې او د نیشاپور پر خوا روان سو.(۳)

فیریر همدغه کیسه په یو څه آب تاب کوي او وايي چې د احمد شاه د مشهد په محاصره کې شپېته زره تنه عسکر ورسره وه، مګر د نصرالله خان او نادر میرزا د تقریباً زرو سپرو د لاسه یې ،چې هره شپه به یې حملې ورباندې کولې، دونه تلفات ولیدل چې جبران کولای یې نه سوای. فیریر د احمد شاه د دونه سختو تلفاتو علت دا بولي چې وايي آسیایان د شپې له پیرې او بېدارۍ سره بلد نه دي، ځکه نو احمد شاه ته دونه تلفات ورسېدل.(۴) فیریر هم د نورو زیاتو تاریخي متونو په شان د نصرالله میرزا او نادر میرزا د باتورۍ کیسې کوي، البته د هغوی د سپرو شمېر، چې دی وايي زر تنه وه په نورو متنو کې نسته او ښايي دده خپله اختراع وي او دا چې د احمد شاه سره د مشهد د محاصرې په وخت کې شپېته زره عسکر ورسره وه ځکه یو څه د تأمل وړ خبره ده چې په نورو تاریخي متنو کې دغه شمېر نه دی ذکر شوی.

سړی به د فیریر سره دا خبره ، د یوې لحظې د پاره ومني، چې احمد شاه د یوه آسیايي جنرال په حیث د شپې له پیرو سره بلد نه و( فیریر دا خبره هېره کړې ده چې پښتانه له هیڅ شي سره دونه بلد نه دي لکه د شپې له پیرو سره او بل دا چې نصر الله میرزا خو هم یو آسیايي و. که چېرې احمد شاه د شپې له پیرو سره بلد نه و نو نصرالله میرزا ته د شپې

پېرې چا ورښودلې وې) نو که د شاهرخ زامنو يوه شپه يا دوې شپې حملې کړې وای په هر صورت ، مګر دی وايي چې د مشهد د ښار محاصره تقريباً څلور مياشتې اوږده سوه او په دې څلورو مياشتو کې چندانې داسې شپه رانغله چې د شاهرخ زامنو دې د احمد شاه پوځ په آرام خوب ته پرې ايښی وي ( فيرير دا خبره د داسې جنرال او داسې پوځ په باره کې کوي چې اته ځله له هندوستان څخه بريالی راستون سو او د پانی پت په شان لوی جنګ يې وګاټه) کله چې خبره څلورو مياشتو ته رسېږي ، نو د فيرير خبره د تأمل څه چې د مستقيماً ردېدلو وړ ده.

قاضي عطاالله خان د دغو پېښو په باب ليکي چې احمد شاه د هرات د فتح کولو وروسته د مشهد پر لور حرکت وکړ. ميرعلم خان، چې شاهرخ يې بندي کړی و، د احمد شاه مخې ته را روان سو. د احمد شاه د لښکرو په مقابل کې يې په تربت شيخ جام کې ماته وخوړه کله چې د شاهرخ زوی نصرالله خان د مير علم خان د شکست څخه خبر سو، نو مشهد ته راغی او خپل پلار يې له بند څخه خلاص کړ. احمد شاه په دې منځ کې مشهد ته راورسېدی، مګر هغه د مشهد حکومت شاهرخ مېرزا ته پرېښود او د هغه يې ډېر قدر وکړ. (۵)

سراج التواريخ د همدغې پېښې په ارتباط تاريخ سلطانی او مجمل التواريخ تعقيبوي او وايي چې احمد شاه څلور مياشتې د مشهد ښار محاصره کړی و او شهزاده نصرالله مېرزا او نادر مېرزا به د خراسان له ډېرو لږو سپرو او ډېرو لږو غلامانو سره هر وخت د احمد شاه پر لښکرو حملې کولې او چې افغانانو به خانونه دفاع ته جوړول ، هغوی به د لښکر پر بل اړخ حملې پيل کړې. (٦)

اعتماد السلطنه په مطلع الشمس کې ليکي چې په کال ۱۱٦۲ هـ.ق کې چې شاهرخ بيا په مشهد کې د پاچاهی پر تخت کښېناست ، نو احمد شاه په دغه کال د هرات له فتحې څخه وروسته د مشهد پر لور حرکت وکړ. کله چې يې د مشهد د ښار د قلا فتح کېدل له خپل وس څخه وتلی کار ولېدی، نو يې شاه رخ ته پېغام واستاوه چې زه غواړم د مشهد زيارت وکړم. شاهرخ يې وغولاوه او په دغه چل د مشهد ښار ته ننوت او هلته يې نور محمد خان افغان د شاهرخ د نايب په حيث مقرر کړ... کله چې د احمد شاه پوځي قوماندان په مازندران کې د محمد خان قاجار څخه ماته وخوړه نو د احمد شاه روحيه هم کمزورې سوه او له سبزوار څخه هرات

تـه ولاړ او د نـور محمـد خـان افغـان پـه ځای بـاندې يې امير خـان قرايـي د شاهرخ مرستيال مقرر کړ، خو امير خـان قرايـي يو نـاپاکـه سـړی و، نـو د شاهرخ مېرزا زوی نصرالله مـېرزا هغـه قتـل کـړ. (۷)

دلچسپه دا ده چـې همدغـه کتاب يـوه صفحـه مخکې ليکي چې پـه کـال ۱۱۶۰ کـې د نـادر افشار وراره عليقلـي خـان د نـادر شـاه ټول زامـن او لمسيان قتل کړل او يوازی شـاهرخ مـېرزا يـې، چـې پـه هغـه وخـت کـې ځوارلس کلـن و، ژوندی پرېښود. يـوه صفحـه وروستـه ليکـي چـې پـه کـال ۱۱۶۲ کـې دشـاهرخ زوی نصرالله مـېرزا، امير خـان قرايـي قتـل کـړ. پـه داسـې حـال کـې چـې پـه دغه کـال بـايد شـاهرخ مـېرزا پخپلـه ايلـه شپاړس کلـن اوه لـس کلـن و او هغـه دونـه زوی درلـودلای نـه سـو چـې د يـوه لـوی منصبـدار د وژلـو دسيسـه دې جوړه کـړي.

د مطلـع الشـمس ليکـوال وروسـته ليکـي چـې احمـد شـاه درانـي د تـاريخ زنديه د مورخ پـه قـول پـه کـال ۱۱۸۳ کـې د دريـو سـوو زرو عسـکرو، شپږ سـوو فيلانـو او اوو سـوو تـوپونـو سـره د کندهـار څخـه د مشهد پـر لـور حرکـت وکـړ ( احمد شاه دخپلـو جنګونـو پـه تـاريخ کـې ترټولـو سـتره قـوه پـاني پـت جنګ ته وايستله او په دغه جنګ کـې يې، چـې تقريبـاً نيمـايي قـوه يـې روهيلـه پښتانـه اودډهلـي دحکومـت عسکر وه ايلـه شـپږته زره پيـاده اوسپاره برابرکـړي وه (۸) احمـد شـاه چـې د مشهد ښارتـه ورسېدی نـو وې ليـدل چـې د ښار دروازې تړلې وې او وروسـته يـې د ښار محـاصره پيـل کـره. پـه دې وخـت کـې د کردانـو مشران هـم پـه يـوه پلمـه لـه ښاره ووتـل او شـاهرخ يـوازې پاتـه سـو. نصـرالله مېرزا، چـې د خپـل پـلار سپه سـالار و، تـر دوه سـوه زيـات افـراد نـه درلـودل او له دغو دوو سوو تنـو سـره بـه يـې د احمـد شـاه پـر لښکرو حملـې کولـې. حتـی يوه شـپه نصيرخـان بلـوچ د احمـد شاه پـه حکـم لـه دوولسـو زرو سپرو سـره د مشهد پـر ښار حملـه وکـړه او نصرالله مـيرزا د خپلـو کـم شـمېره افـرادو سـره پـر هغـه بـاندې داسـې حملـه وکـړه، چـې د احمـد شـاه لښکـرو ماتـه وکـړه، ډېر زيات يې مړه سول اوباقي پاتـه يـې تېـي او زخمـي خپـل پـوځ تـه سـتانه سـول.

د مطلـع الشـمس ليکـوال د صاحب تـاريخ زنديـه مـېرزا ابولحسـن کاشـاني لـه قوله ليکـي چـې پـه دغـه جنګ کـې د احمـد شـاه د لښکـرو شپږ زره تنـه ووژل سـول ( دوه سـوه تنـه دولسـو زرو تنـو تـه ماتـه ورکـوي او شـپږ زره ورځخـه وژني!!) دلته نـو د مطلـع الشـمس ليکـوال تـه هـم يـو څه حيـا ودريـږي او وايـي

چې زما په نظر مولف یو څه مبالغه کړې ده، خو په هر صورت د شاهزاده دغې فتحې د مشهد د خلکو زړونه تقویه کړل.(۹)

البته د دې جنګونو او د شاهرخ د سپه سالار! د دې فتوحاتو په باب له ایراني افسانه لیکونکو او د فیریر په شان بېخبرو سیلانیانو څخه پرته هیڅ باوري تاریخي منبع رپوټ نه دی ورکړی. د مطلع الشمس د لیکوال اعتماد السلطنه محمد حسن خان زړه په مبالغه نه سړېږي او وروسته د مشهد د دغې محاصرې په باب لیکي، چې د شهزاده زړه ورتیا بالاخره دې اندازې ته ورسېده، چې یوه ورځ د لسو سرتېرو سره د احمد شاه پوځ ته ورغی. خلور تنه ملګري یې په لاره کې پرېښودل او مستقیماً اردو بازار ته ولاړ، هلته یوه مشهدي سړي وپېژاند او ناري یې کړې او خبره احمد شاه ته ورسېده. احمد شاه یوولسو زرو سپرو عسکرو ته د شهزاده نصرالله د تعقیبولو وظیفه ورکړه او پخپله یې د یوه لوړ بام څخه د هغه د جنګ او ګریز ننداره کوله او په دې وخت کې یې خپل زوی تیمور شاه ته، چې څنګ ته یې ولاړ و، مخ راواړاوه او په پښتو یې ورته وویل چې پلار لره دغسې زوی ښايي. بالاخره نصرالله مېرزا په دغه جنګ کې زر تنه افغانان قتل کړل (په لسو تنو) او پخپله روغ رمټ مشهد ته ستون سو.(۱۰)

اعتماد السلطنه وروسته لیکي چې احمد شاه بالاخره د مشهد له محاصرې څخه عاجز سو او د تقي خان شېرازي او د شاه ولي خان صدر اعظم په شان خواص یې شاهرخ ته د مصالحې د پاره واستول او د شرایطو سره سم سوله وسوه.(۱۱)

د ایران دا مشهور تاریخ پوه او جغرافیه نویس د خپل تاریخ څخه دونه بېخبره دی، چې د تقي خان په شان یوه مشهور او جنجالي شخصیت له سرنوشت څخه اطلاع نه لري. دا وخت چې موږ د احمد شاه دراني له خوا د مشهد د دوهم ځل محاصرې خبرې کوو، د تقي خان شېرازي د وژل کېدلو څخه باید دیارلس څوارلس کاله تېر سوي وي. مجمل التواریخ د هغه د وژل کېدلو کال ۱۱۹۰ هجري ښيي(۱۲) په داسې حال کې چې دا یا د کاتب غلطي، یا چاپي غلطي او یا پخپله د کتاب د لیکونکي اشتباه ده، ځکه چې مجمل التواریخ پخپله موږ ته وايي چې مېرزا تقي خان د آزاد خان افغان له وروستي ماتې او کریم خان زند ته د تسلیمېدلو څخه مخکې وژل سویدی.(۱۳) او کریم خان ته د آزاد خان د تسلیمېدلو کال ۱۱۷۱هـ ۱۷۵۷میلادي دی.(۱۴)

زمونږ اعتماد السلطنته لکه څرنګه چې د شاهرخ میرزا د زوی د قهرمانیو په باره کې د هیڅ ډول افساني او مبالغې په نقلولو صرفه نه ده کړې، دغسې يې په دې کې هم ری نه دي وهلي چې میرزا تقي خان څه کول او کله مړ سو. په حقیقت کې احمد شاه بابا هیڅ وخت میرزا تقي خان د خپل سیاسي استازي په حیث چاته نه دی لېږلی او دا ټول د تاريخ زندیه اختراعات دي، چې د مطلع الشمس ليکوال په ډېره بې احتياطي رانقل کړي دي.

د دې افسانې په ارتباط ګنداسینګه په خپل کتاب کې يوه دلچسپه حاشيه ليکلي او دغه حاشيه سړی دې ته متوجه کوي، چې د ګندا سينګه په شان معتبر او باوري ليکوالانو او محققينو آثار هم باید د احتیاط په قید کې وکتل سي. ګندا سينګه د مشهد پر لور د احمد شاه بابا د حرکت او د هغه ښار د محاصرې په باب پخپله حاشيه کې ليکلي دي،چې تاريخ سلطاني ص ۱۲۸-۱۲۸ سایکس افغانستان ص ۳۵٦، الفینستون کابل ص ۲۸۷، فيرير افغانز ص ۷٦ کې د مشهد د مقاومت او داحمد شاه پر پوځونو باندې د شاهرخ میرزا د دوو زامنو نصرالله میرزا او نصير ميرزا (حتماً يې مطلب نادر میرزا دی) د حملو په باره کې تفصيلات ورکړه سوي دي.. په داسې حال کې چې شاهرخ ميرزا په دغه وخت کې شپاړس کلن هلک و او هغه د ۱۷۳۴ م کال د مارچ په میاشت کې زوکړی و.(۱۵)

نورې حوالې صحیح دي، مګر د الفينستون په تاريخ کې نه په هغه صفحه کې چې دی يې ذکروي او نه په بله کومه صفحه کې د شاهرخ میرزا د زامنو د مقاومت او حملو په باب بحث سوی دی، بلکې الفینستون وايي چې شاهرخ میرزا د نادر افشار زوی (زوی يې نه و بلکې لمسی يې و او د رضا قلي میرزا زوی و) په هغه وخت کې په مشهد کې و. د احمد شاه مخې ته را ووت او هغه يې په احترام هر کلی وکړ او بیا يې نو د مشهد د ښار او سیمې واکداري وروسپارله.(١٦)

سایکس په خپل کتاب کې، د ګنداسینګه د ادعا په خلاف، د شاهرخ میرزا د زامنو په باب هیڅ نه وايي او په هغه صفحه کې چې ګندا سینګه يې حواله ورکوي، ليکي چې په دغه وخت کې د نادر افشار څوارلس کلن لمسی شاهرخ د مشهد تش په نامه واکدار و او اصلي واک د سیستان د میر علم خان په لاس کې و. البته سایکس پخپله بله اشتباه کوي او وايي چې میر علم خان، چې په مشهد کې يې خپلو رقيبانو ته ماته ورکړه، د يوه قوي لښکرسره پرهرات باندې دناخاپي حملې دپاره روان سو،مګر په تربت شيخ

جام کې تیمور مېرزا یوه نابېره حمله ورباندې وکړه او تر یوه سخت جنګ وروسته یې ماتـه وخوړه. (۱۷)

د سایکس اشتباه په دې کې ده چې په دغه وخت کې پخپله تیمور مېرزا ایله درې کلن څلور کلن و. هغه د پوځ قوماندانې او بیا د داسې یوې ناڅاپي حملې قوماندانې چې د میر علم خان په شان یوه تکړه جنرال ته ماته ورکړي، کولای نه سوه. خبره لا دا ده چې د مشهد د فتح کېدلو تروخته پورې تیمور مېرزا د خپل پلار سره یو ځای سوی نه و او د مشهد د فتحې څخه وروسته شاهرخ مېرزا هغه خپل پلار احمد شاه بابا ته وسپاره.

## یوه تاریخي افسانه یوه تاریخي غلطي


۱. میر غلام محمد غبار، افغانستان ، در مسیر تاریخ ص ۳٦۳

۲. تاریخ جهانکشا ص ۴۲۴

۳. تاریخ سلطاني ص ۱۲۸-۱۲۹

۴. Ferrier p 76

۵. د پښتنو تاریخ ص ۱۲۳

٦. سراج التواریخ ص ۱۴

۷. مطلع الشمس ص ٦۳۰

۸. ګنداسینګه ص ۲۵٦

۹. مطلع الشمس ص ٦۳۲

۱۰. هغه کتاب ص ٦۳۲

۱۱. هغه کتاب ص ٦۳۳

۱۲. مجمل التواریخ ص ۳۱۳

۱۳. هغه کتاب ص ۳۰۴-۳۱۳

۱۴. Sykes Persiqa vol 2p 279

۱۵. ګنداسینګه ص۸۹ حاشیه

۱٦. الفینستون کابل ص ۲۸۷

۱۷. سایکس افغانستان ص ۳۵٦

# شاه زمان او شاه شجاع

د تیمور شاه پنځم زوی زمان شاه د هغه د مرګ په وخت کې په کابل کې و. د هغه مشروروز همایون په کندهار، دوه نور مشران ورونه شاه محمود او حاجي فیروز الدین یې په هرات او شهزاده عباس، چې په خپل جسماني قوت او زړه ورتوب ډېر سخت مغرور و، په پېښور کې و.
شهزاده زمان د خپل پلار تیمور شاه د اشرف الوزرا سردار پاینده خان په مرسته، چې په کابل کې له ټولو نه زورور او هوښیار قومي مشر و، په بالاحصار کې د خپلو ټولو ورونو او مهمو قومي او حکومتي مشرانو یوه جرګه جوړه کړه. هغه د جرګې په جریان کې د پاینده خان سره یو ځای د باندې ووت او په خپلو ورونو او قومي مشرانو پسې یې د جرګې د اتاق دروازې وتړلې او د باندې یې د شاه زمان په نوم خپله پاچاهي اعلان کړه.(۱) شاه زمان د پاچاهي د اعلان سره سم، د خپلو مشرانو ورونو په تېره بیا همایون او محمود د مخالفت سره، چې تر نورو ټولو خطرناک ثابت سول، مخامخ سو. شاه زمان په بالاحصار کې د خپلو ورونو د بندي کولو سره داسې فکر کاوه، چې کورني اختلافات یې حل کړي دي او لږ وروسته یې د هند خوا ته د تللو او د فتوحاتو د تعقیبولو نقشې طرح کړې. په داسې حال کې چې د ده کورني اختلافات له دې ځخه وروسته پیل کېدل او د ده په مقابل کې کورنیو او قومي جګړو لا وروسته زور واخیست. هغه د ایرو د لاندې اورونو ته ونه کتل، هغه دې خبرې ته هیڅ اهمیت ورنه کړ، چې له ده ځخه درې مشران ورونه یې په هرات او کندهار په شان مهمو ښارونو کې حکمرانان دي او هریو له ده ځخه ځانونه د پاچاهي مستحق او لایق ګڼي. د بلې خوا ښایي شاه زمان په دې خبرې نه پوهېدی او یا یې دې مسلې ته ډېر کم اهمیت ورکړی و، چې نه افغانستان د ده د

پلار او نيکه د وخت په شرايطو کې دی او نه په سيمه کې هغه شرايط سته چې د ده د نيکه د فتوحاتو په وخت کې برابر وه.

دا وخت په ايران کې له څه کم نيمې پېړۍ ګډوډيو څخه وروسته، محمد خان قاجار د مرکزي حکومت په جوړولو بريالی سوی او نه يوازې يې په ايران کې د افغاني شاهانو احمد شاه او تيمور شاه تر کنټرول لاندې ځمکې نيولې وې، بلکې لا يې د خراسان د لاندې کولو د پاره عمليات پيل کړي او حتی د هرات، بادغيس او غوريان د لاندې کولو د پاره يې نقشې طرح کړې وې. د هېواد په شرقي برخه کې اکثر سيکهان دا وخت د خپل ځوان او جاه طلب مشر رنجيت سنګه تر مشرۍ لاندې راټول سوي وه او سيکهان نور هغه قوم نه و، چې د احمد شاه د لښکر کشيو د خبر د اورېدلو سره به يې کلي او ښارونه خوشې کړل او غرونو او ځنګلونو ته به يې پناه يوړه. سيکهانو ته د تيمور شاه شلو کالو ارام سلطنت دا موقع ورکړې وه، چې خپل ځانونه سره راجمع کړي او د خپلو سيمو د لاندې کولو او تريوه مرکز لاندې راغونډولو څخه وروسته په شاوخوا کې د نورو مځکو لاندې کولو ته سترګې خړې کړي. دغه راز د افغانستان په شرقي برخه کې ، په ډهلي کې دمغولو د سلطنت، چې پخوا يې هم چنداني مزه نه وه، تش نوم پاته و؛ او انګرېزانو يې، تقريباً عملاً، قواله په خپل نامه کړې وه. يعنې که چېرې شاه زمان د هند پر لور حرکت کاوه، يوازې د ډهلي د لښکرو سره نه،بلکې له هغه نه سل چنده زورور قدرت،- سترې برتانيې- د لښکرو سره مخامخ کېدی او برتانيې په دې سيمه کې د افغاني تولواک فتوحاتو ته تش د ننداره کوونکي په حيث نه سو کتلای.

په هند کې لا د احمد شاه دراني د پاني پت د فتحې خاطرې ژوندۍ وې او د پنجاب پر لور د شاه زمان د حرکت او فتوحاتو نقشو د انګرېزانو سره انديښنه پيدا کوله. دغه راز د هند مسلمانانو ته د شاه زمان لښکر کښيو او په هند کې د اسلامي امپراتورۍ د برم د بېرته را ژوندي کېدلو تمه ورپيدا کوله. انګرېزانو ته هره ورځ د شاه زمان او د ډهلي د امپراتور، د اود Oudh د حکمران او ډېرو نورو مسلمانانو او راجپوتو شهزاده ګانو ترمنځ د ليکونو دتبادله کېدلو خبرونه رسېدل. د برتانوي هند ګورنر جنرال لارډ ويليسلي Lord Wellesley د دغو خطرونو د رفع کولو په منظور پيشنهاد وکړ، چې په افغانستان کې د ايران څخه د دفاع د پاره طرحې عملي کړي.(۲)



شاه شجاع



شاه زمان

تر دې چې راتېر سو، نو تر ټولو مهمه او اساسي خبره دا ده چې شاه زمان د افغانستان په دننه کې د خپلو مشرانو ورونو د مخالفت سره، چې ځانونه يې د تاج او تخت لومړني مستحقين بلل، مخامخ و. احمد شاه او تېمور شاه په افغانستان کې دننه د دغه راز مخالفتونو سره مخامخ نه وه او که مخامخ سوي وه، نو هغه دونه جدي او غښتلي نه وه، چې د دوی تاج او تخت يې په خطر کې اچولی وای.

په دې کې شک نسته چې شاه زمان تر يوې اندازې قوي شخصيت او زړه ور سړی و، هغه غوښتل چې د افغانستان برم يو ځل بيا ژوندی کړي؛ هغه غوښتل چې د افغانانو د لښکرو له وېرې او هيبته لوی او واړه راجه ګان ميدانونه ېبله جنګه خوشې کړي او په سيمه کې چې د سلطان نوم ياديږي هغه يوازې د شاه زمان نوم وي. هغه غوښتل چې نه يوازې د خپل پلار او نيکه ځخه ورپاته سوی قلمرو لا پسې ټينګ کړي، بلکې د خپل وس سره سم يې نور هم پراخ کړي، خو هغه هيڅ وخت دې ټکي ته متوجه نه سو، چې د افغانستان په داخل او خارج کې شرايطو د احمد شاه بابا د وخت ځخه ډېر تغير کړی دی، او دده سره نه د خپل نيکه دوخت شرايط او نه د هغه قدرت موجود دی.

په دغو شرايطو کې تزاري روسيې په مرکزي آسيا کې ، د پراختيا غوښتنې د پخوانيو پلانونو په اساس، فتوحات پيل کړي او د ماورالنهر د ټولو اسلامي هېوادونو او ايالتونو د الحاق پلانونه يې طرح کړي او د هند سمندر ته يې د رسېدلو د پاره د هرات د نيولو نقشې جوړې کړي او په عملي اقداماتو يې لاس پورې کړی و.

انګرېزانو په دغه وخت کې د ايران دربار ته خپل استازی مېرزا مهدي خان واستاوه او په سيمه کې يې د خپلو نقشو د عملي کولو او پر هند باندې د شاه زمان د يرغل د مخنيوي په منظور د هغه هېواد سره د دوستۍ تړون لاسليک کړ. انګرېزانو مېرزا مهدي خان ته وظيفه ورکړه چې د ايران شاه دې ته تشويق کړي، چې شاه زمان ته دايمي ستونزې پېدا کړي، خو هغه پر هند باندې د يرغل کولو توان پېدا نه کړي.(۳) انګرېزانو مېرزا مهدي خان ته وظيفه ورکړه چې د افغانستان په باره کې د ايران شاه او حکومت نيتونه ځانته معلوم کړي او بيا يې سرجان مالکم Sir Jhon Malcolm تهران ته واستاوه او د ايران له حکومت سره د دوستۍ يو تړون يې، چې زياتره د افغانستان په باره کې و، ورسره لاسليک کړ. البته

انګریزان ډېر ژر متوجه سول چې د شاه زمان حملو هند ته دونه جدي خطر متوجه کړی نه و، لکه د روسیې او ایران ترمنځ اتحاد او پر هرات باندې د هغوی د ګډو حملو پلان چې په هند کې د دوی ګټو ته حیاتي صدمه رسوله.

خو له بلې خوا په افغانستان کې شاه زمان د خپل قدرت په څه کم لس کلنه دوره کې هیڅ وخت دې ته متوجه نه سو، چې د خپلو عالي نقشو د عملي کولو د پاره کوم کار لومړی او کوم کار وروسته وکړي. هغه لومړی د کندهار د والي شهزاده همایون د مخالفت سره مخامخ سو او کله چې یې هغه ته د قلات په شاوخوا کې ماته ورکړه او هغه بلوچستان ته وتښتېدی(۴)، نو د خپل بل مشر ورور شاه محمود، چې د هرات والي و، د ایلولو د پاره هرات ته روان سو. شاه محمود جنګ ته راووت، مګر مخکې له هغه چې د شاه زمان د لښکرو سره مخامخ سي، په هرات کې د خپل والي قلیج خان د خیانت او شاه زمان ته د هغه د تسلیمېدلو څخه خبر سو. سمدستي یې مخ پر هرات ونیوی او ښار ته د رسېدلو سره سم یې خپل ورور شاه زمان ته، چې د هرات په لور روان وو د معافي غوښتلو یو لیک واستاوه شاه زمان هغه عفوه کړ او بېرته یې د هرات د والي په حیث مقرر کړ او پخپله یې د هند د فتح کولو د پاره حرکت وکړ. (۵) سړی نه پوهېږي چې شاه زمان د دونه لویو نقشو درلودلو سره د هرات په شان یوه مهم ایالت په اهمیت نه پوهېدی او که طبیعتاً دونه نرم سړی و، چې د خپل یاغي ورور د معافي غوښتلو په یوه لیک، شفاعت غوښتلو او زاریو یې سمدستي اکتفاء کوله، هرڅه یې هېرول‌ه او بېرته یې حرکت کاوه، خو که په دې دواړو کې هره یوه خبره ریشتیا وي، شاه زمان نه په هغو شرایطو کې د افغانستان پاچاهي ته جوړ او نه د هند د فتوحاتو تمه ورڅخه کېدلای سوه.

## د شهزاده همایون او شهزاده شاه محمود ښورښونه

شاه زمان په پېښور کې و، چې همایون د بلوچستان څخه پر کندهار باندې حمله وکړه؛ د شاه زمان اوه کلن زوی قیصر یې، چې پلار د کندهار د والي په حیث مقرر کړی و، زخمي او بندي کړ؛ کندهار یې لاندې کړ او سکه یې په خپل نامه ووهله.



شهزاده همایون



**شهزاده قیصر**

شاه زمان دپېښور څخه بېرته د کندهار خوا ته حرکت وکړ. همايون وتښتېدی ، خو په بلوچستان کې د محمد خان بلوخ سره، چې د شاه زمان سره يې بيعت کړی و، په جنګ کې ژوندی ونيول سو. شاه زمان هغه په سترګو ړوند کړ او د کابل په بالاحصار کې يې بندي کړ.(٦) د همايون دړندېدلو او هغه ته د دومره سختې سزا د ورکولو يو علت ښايي دا وي، چې هغه د شاه زمان زوی قيصر په جنګ کې زخمي کړی و، کنه نو شاه زمان د خپلو نورو وروڼو سره دومره سخت سلوک ونه کړ. د همايون سکه ورور شاه محمود د هغه د ړندېدلو د خبر د اورېدلو سره سم بيا ياغي سو او د کندهار پر لور يې لښکر کشي وکړه. البته د شاه زمان د لښکرو سره په جنګ کې يې سخته ماته وخوړه. مور يې شاه زمان ته شفاعت وکړ او د هغې په شفاعت يې نه يوازې هغه وباخښه ، بلکې د هغه سره ټول ملګري خانان يې وبخښل او دا لا پرېږده چې د هرات په شان يوه مهم ولايت حکومت يې بېرته شاه محمود ته پرېښود. (۷) شاه زمان ته ډېر ژر اطلاع ورسېده، چې شاه محمود د ايران د پاچا محمد خان قاجار په تحريک ، بغاوت ته ملا تړلې او د شاه زمان اطاعت ته غاړه نه ايږدي. شاه زمان د ايران پاچا ته د سزا ورکولو د پاره پر ايران باندې د حملې اعلان وکړ، مګر مخکې له هغه چې د دواړو خواو څخه دي د جنګ ترتيبات ونيول سي. د دواړو پاچاهانو ترمنځ سفيران تبادله سول، يوه پل ته تحفې واستولې سوې او خبره په خوښئ پای ته ورسېده. (۸)

# د شاه زمان د پاچاهۍ ناکرار کلونه

که حقيقت ته ځير سو نو د درانيانو د امپراتورۍ سقوط او اضمحلال اصلاً د شاه زمان د پاچا کېدلو سره پيل سو. شاه زمان او د هغه سکه ورور شاه شجاع د خپلو پاچاهيو په دوران کې دومره زيات اشتباهات وکړل، چې سړی ويلای سي، په لوی لاس يې هم ځانونه او هم هېواد تباه کړ. شاه زمان د سقوط تر ورځې پورې په دې پوه نه سو، چې د ده د قدرت مرکز کابل او اصلي ښارونه يې کندهار او هرات دي، تر څو يې په مرکز او اصلي ښارونو کې امنيت نه وي قايم کړی ، بايد چې بلې خوا ته حرکت ونه کړي، مګر هغه د هند د فتح کولو خوبونو ارام ته نه پرېښود او چې په

هېواد کې به یې لا اور نه و وژلی. سمدستي به یې د هند د سفر ترتیبات ونیول. لا به ئې په لاهور کې ساه نه وه اچولی، بیا به یا د هرات او یا کندهار د ښورښونو ځخه خبر سو او ژرترژره به یې د وطن خوا ته حرکت وکړ. شاه زمان د خپل جاه طلب او خود خواه ورور شاه محمود په مقابل کې، چې یوه ورځ او یوه لحظه یې د قدرت د نیولو د پاره د دسیسو او تحریکاتو ځخه لاس وانه خیست او د قدرت د اخیستلو د پاره یې څو ځله د ایران د پاچا لمنې ته لاس واچاوه، د ډېرې سختې نرمۍ ځخه کار واخیست. ښايي د شاه محمود په مقابل کې دغه نرمي د ده د سقوط او په وروسته کې د همدغه خودخواه او جاه طلب ورور په مقابل کې د شاه شجاع نرمي د دواړو د سقوط یو لوی عامل وي. شاه زمان د خپل ورور، همایون په ړندولو کې د ډېر تلوار ځخه کار واخیست او کله چې یې هغه روند کړ او کار له کاره تېر سو، نو باید د شاه محمود په برخه کې یې چې د همایون سکه ورور و، د دومره زیات اغماض ځخه کار نه وای اخیستی، چې هم به یې ښورښ ورته معاف کړ او هم به یې د هرات په شان مهم ولایت حکومت بیرته ورکړ.

د شاه زمان هوښیارو مشاورینو او درباریانو هغه ته مشوره ورکړه، چې تریو ځه وخت پورې په افغانستان کې پاته سي او چې ترڅو یې د شاه محمود له خوا زړه بېغمه کړی نه وي، د هند خوا ته حرکت ونه کړي. خو شاه زمان د هغوې خبره ونه منله او لکه چې په افغانستان کې هیڅ خبره نه وي او شاه محمود اصلاً وجود نه لري، بیا یې د هند پر لور حرکت وکړ او د سیکهانو په جنګ ووت.

شاه زمان په کال ۱۲۱۱ هجري قمري کې په لاهور کې سیکهانو ته ډېره[5] سخته ماته ورکړه، خو د ډهلي پر لور یې لا حرکت نه و کړی، چې بیا په هرات کې د شاه محمود د ښورښ خبر ورته ورسېدی شاه زمان سمدستي د پنجاب ځخه حرکت وکړ، هر ځه یې نیمګړي پرېښودل او وطن ته ستون سو.

## شاه زمان، ایران او شاه محمود

محمود بیا د شاه زمان په مقابل کې د پخوا په شان ماته وکړه او خپله مور یې شاه زمان ته د شفاعت د پاره واستوله. دا ځل یې شاه زمان شفاعت قبول نه کړ او د شاه محمود د نیولو د پاره یې سرې موظف کړل.

په دې وخت کې شاه زمان ته خبر ورسېدی، چې د ايران پاچا محمد خان قاجار وفات سوی دی او شاه زمان بېله ځنډه شير محمد خان مختارالدوله ته وظيفه ورکړه، چې د نادرشاه لمسيانو شهزاده عباس مېرزا او نادر مېرزا د پاره، چې د محمد خان قاجار له لاسه يې د شاه زمان دربار ته پناه وړې وه، مشهد ونيسي او حکومت يې هغوی ته وسپاري. حافظ شير محمد خان سمدستي د مشهد پر لور حرکت وکړ،مشهد يې اشغال کړ اوچارواکي يې نادر مېرزا تـه وسپارلې.(۹)

دايران نوی پاچا فتح علي شاه قاجار ډېر ژر نادر مېرزا او عباس مېرزا له منځه يوړل او په دغه وخت کې شاه محمود د خپل ورور شاه زمان په مقابل کې له هغه څخه د مرستې غوښتنه وکړه. فتح علي شاه، چې هم يې د شاه زمان له خوا تازه پرخپل قلمرو باندې تېری ليدلی او هم يې د هرات او د هغه د مربوطاتو نيول له نظره نه وه غورځولي، د شاه محمود د مرستې غوښتنه د خپلو ارزوګانو د پوره کېدلو او د افغانانو د پاچا څخه د انتقام اخيستلو د پاره يو ښېښي فرصت وباله او سمدستي يې د هغه سره د هر راز مرستې وعده وکړه. شاه محمود د ايران د پاچا فتح علي شاه قاجار په مرسته د افغانستان سرحداتو ته ننوت، فراه يې ونيوله او هرات يې، چې د شاه زمان زوی قيصر په کې نايب الحکومه و، محاصره کړ.په هرات کې د شاه زمان د لښکرو مشرمحمد زمان خان د تدبير څخه کار واخيست.د شاه محمود سره ملګرو ايراني جنرالانو، امير علي خان قايني او مير حسن خان طبسي ته يې په قران شريف کې ذننه د شهزاده قيصر په مهر او امضا يو مکتوب وليکي او ورته وې ويل چې که مو چېرې د وعدې سره سم شاه محمود موږ ته ترلی په لاس راکړ، نو موږ به هم د وعدې سره سم د خراسان، حکومت درکړو. د پيغام حامل خان قصداً د شاه محمود پر لښکرو برابر کړ او کله چې شاه محمود دا عهد نامه ولېده، نو دونه وبېرېدی، چې دايراني جنرالانو په قسمونو او زاريو يې هيڅ اعتبار نه سو کولای او سمدستي د خپل ورور حاجي فيروزالدين او خپل زوی کامران سره په شپه کې وتښتېدی. شاه زمان هرات ته ننوت او زمان خان ته يې انعام ورکړ.

شاه محمود بخارا ته ولاړ، د بخارا اميرد شاه زمان له وېرې مرسته ورسره ونه کړه اوحتی د بندي کولو عزم يې وکړ او بالاخره يې بېرته په تهران کې د فتح علي شاه دربار ته پناه يوړه. هغه بيا ونازاوه او د فرصت په تمه يې کښېناوه.(۱۰)

دلچسپه دا ده چې شاه زمان د دې ټولو جنګونو او شورشونو سره سره دې ټکي ته متوجه نه سو، چې سږی اول ترلمنې لاندې اور وژني او بیا فتوحاتو ته متوجه کیږي. شاه زمان ته په هرات کې خبر ورسېدی، چې سیکهانو په شورش بنا کړې ده او د ده پر قلمرو باندې یې سختې حملې پیل کړي دي. شاه زمان سمدستي د هرات څخه د هزاره جات د لارې، کابل او له کابل څخه د پنجاب پر لور حرکت وکړ. دا د هند پر لور د شاه زمان وروستی سفر و. هغه د سیکهانو د مشر مهابت سنګه، دځپلو او رنجیت سینګ ته د قدرت سپارلو نه وروسته د وطن پر لور حرکت وکړ. د پېښور حکومت یې خپل ورور شاه شجاع ته ورکړ او پخپله دکندهار خوا ته ولاړ.

په کندهار کې خبر ورته ورسېدی، چې سردار پاینده خان بارکزي، اسلام خان ضبط بیګي، حکمت خان سرکانی، محمد عظیم خان بن میر هزار خان الکوزی، امیر اصلان خان او جعفر خان جوانشیر، یوسف علي خان خواجه، میرزا شریف خان منشي باشي او نور محمد خان بابر د میا غلا محمد هندوستاني په خلوت کې په قرآن شریف قسم کړی دی، چې د شاه زمان وزیر رحمت الله خان ( وفادار خان) به وژني؛ شاه زمان به برطرفه کوي او پر ځای باندې به یې د هغه ورور شاه شجاع کښېنوي،خو میرزا شریف خان منشي باشي او احمد خان بارکزي، رحمت الله خان ته اطلاع ورکړه. هغه شاه زمان خبر کړ او شاه زمان د ټولو دسیسه کونکو سردارانو د قتلولو امر وکړ.(۱۱)

شاه زمان د خپل غوره مال وزیر او مشاور رحمت الله خان په مشوره ډېره عاجله فیصله وکړه او د خپل سلطنت تر ټولو لایق او هوښیار جنرال او تر ټولو مقتدر قومي مشر پاینده خان ( سرفراز خان) د وژلو فیصله یې وکړه او د هغه په وژلو یې د هغه د زامنو، چې تقریباً ټول د جنګ د میدان سپاهیان او جنرالان وه او په مجموع کې د بارکزیو ډېره لویه قبیله د ځان دښمنان کړل او خپل د سلطنت او قدرت لړزان اساس ته یې په لوی لاس یو بل کاری او مرګانی ګوزار ورکړ. په حقیقت کې په افغانستان کې د سدوزیو د سلطنت د سقوط او د بارکزیو او پوپلزیو د قوي قبیلو ترمنځ د اوږدو دښمنیو د پیل کېدلو یو لوی عامل د شاه زمان دغه عجولانه فیصله وه.(۱۲).

# فتح خان د جنګ او سیاست په میدان کې

187

د پاینده خان مشر زوی فتح خان. چې د پلار د وژل کېدلو په ورځ په کور کې حاضر و، د خپلو نولسو ورونو سره په هغه ورځ له کندهاره وتښتېدی او په دې توګه یو لوی اور بل سو. فتح خان د سدوزیو د کورنی د داخلي اختلافاتو څخه د استفادې کولو د پاره ځان شاه محمود ته ورساو او شاه محمود چې د کابل د تخت د نیولونه پرته یې بله هیڅ ارزو نه درلوده، د فتح خان ملګری یو غیبي لاس وباله او د ایران په مرسته یې د افغانستان د تخت د نیولو نقشې طرح کړې.(۱۳)

د افسوس خبره دا ده چې شاه زمان په دغسي حالاتو کې لا هم د پنجاب د فتح کولو خیال له سره لیرې نه کړ او د خپل ورور شاه شجاع په غوښتنه یې د سیکهانو د فتنو د کرارولو د پاره د کندهار څخه د پېښور پر لور حرکت وکړ. په کابل کې خبر ورته ورسېدی، چې شاه محمود او فتح خان د سیستان د لارې افغانستان ته ننوتلي دي او کندهار یې نیولی دی. شاه زمان سمدستي د کندهار خوا ته متوجه سو. خپل یو تکړه سپه سالار، احمد خان نورزی یې د لسو زرو سپروسره د شاه محمود مقابلې ته روان کړ او پخپله یې دوې ورځې وروسته حرکت پسې وکړ. احمد خان نورزی، چې د نورو خانانو په څېر د رحمت الله خان څخه سخت خپه و، بېله جنګه شاه محمود ته تسلیم سو او شاه زمان مجبور سو، چې د مقر څخه بېرته د کابل پر لور حرکت وکړي.(۱۴)

شاه زمان نور یوازې د خپل عیاش او جاه طلب ورور شاه محمود د مخالفت سره مخامخ نه و، بلکې د سردار پاینده خان لایق او هوښیار زوی فتح خان او له هغه سره د هغه ورونه او تر یوه ځایه ګواکی، د بارکزیو ټوله قبیله د جنګ میدان ته داخله سوې وه. د دونه لوی قدرت سره د شاه زمان دربار، چې رحمت الله خان د فساد سرحد ته رسولي او کمزوري کړي و، مقابله نه سوه کولای. فتح خان وخت ضایع نه کړ او د شاه زمان په تعقیب کابل ته روان سو. شاه زمان د خپل ژوند وروستنی بې تدبیري هم وکړه او بېله دې چې د یوه مقتدر سلطان په حیث دې لږ تر لږه یوه ټولی قدر عسکر ورسره واخلي او د یوه پاچا په حیث دې حرکت وکړي، د یوه فراري په حیث صرف د پنځه لسو سپرو سره، چې رحمت الله خان او د هغه ورونه محمد خان او زمان خان بامیزایي هم ورسره وه، د پېښور پر لور،

د شاه شجاع څخه دکومک اخیستلو په تمه. حرکت وکړ.(۳) په جګړه کي د عاشق خان شینواري په قلا کي تم سو. عاشق خان د پښتني غیرت او مېلمه پالنې د ټولو اصولو په خلاف، په هغه پسي د قلا دروازې راوتړلې او شاه محمود ته یې اطلاع ورکړه.

شاه محمود هم د پاینده خان زوی نواب اسد خان، د ښو ډېرو سپرو سره ور واستاوه. هغه شاه زمان په سترګو ړوند کړ او بالاحصار کي یې بندي کړ او رحمت الله خان او د هغه دوه ورونه محمد خان او زمان خان یې اعدام کړل (۱٦) او د سلطنت نوبت شاه محمود ته ورسېدی. د شاه زمان زوی قیصر، چي دا وخت په هرات کي حکمران و، ایران ته وتښتېدی او هرات یې خپل کاکا حاجي فیروز الدین ته پرېښود. د ایران پاچا لکه څرنګه چي انتظار یې ایستل کېدی، قیصر ونازاوه او د هر راز ممکني مرستي وعده یې ورسره وکړه. (۴۷)

# شاه محمود او وزیر فتح خان

شاه محمود د کابل د تخت د نیولو سره، د خپل ژوند تر ټولو لوی مقصد ته ورسېدی فتح خان ته یې د شاه دوست لقب ورکړ، خپل وزیر یې مقرر کړ او د تخت او حکومت ټولې سیاسي او نظامي چارې یې ورپرېښودلې. فتح خان د معمول سره سم، خپل ټول ورونه د افغانستان په بېلو بېلو ولایاتو کي حکمرانان کړل. ګواکي عملي اجراآت او حکومتي چارې فتح خان او د هغه ورونو او د عیش او عشرت کارونه شاه محمود ته پاته سول. د افغانستان په تاریخ کي ښایي د شاه محمود په څېر نالایق او بې پروا پاچا ته ډېر لږ دقدرت نوبت رسېدلی وی او که ورته رسېدلی وی نو هغه به هم د ده په څېرد افغانستان د بربادۍ سبب ګرځېدلی وي. د ده د پاچاهي په لومړیو میاشتو کي د شمال له لورې اوزبکان د آمو له سیند نه راتېر سول او د سرحدي ښارونو په چور او تالان یې بنا وکړه. فتح علي شاه قاجار مشهد ونیوی او د هرات د نیولو د پاره یې تیاری پیل کړ. د کابل په جنوب کي غلجیو شورش وکړ او فتح خان لا د غلجیو د کړارولو څخه فارغ سوی نه و، چي په کابل کي په کال ۱۸۰۳ م یعني د شاه محمود د پاچا کېدلو څخه څه کم درې کاله وروسته په کابل کي دشیعه ګانو او سنیانو ترمنځ یوه خونړۍ مذهبي جګړه ونښته. د شاه محمود تر



شاه محمود سدوزی



وزیر فتح خان

تولـو نـیژدې خنک ؛ شېر محمد خـان مختارالدولـه او د هغـه زوی عطا محمـد خـان بـامیزایي او احمـد خـان نـورزی، چـې شـاه محمـود د ښورښ د کړاولـو دپاره لیږلې وه، د ښورښیـانو سره ملـګري سـول. (۱۸) د لـوګر او د کـابل د اطرافـو څخـه سنیان په دغـه مذهبـي جنګ کـې د برخـې اخیسـتلو د پـاره کـابل تـه راتـوې سـول او کـه فتح خـان او د هغـه ورونه د جنګ صحنـې تـه ورغلـی نـه وای، ښایـي په کـابل کـې داسـې قتل عـام پېښ سـوی وای، چـې دغه ښار بـه په خپـل تـاریخ کـې نـه و لیدلی. د کـابل خلکـو او د شـاه محمـود مهمو جنرالانو شاه محمـود پـه بالاحصـار کـې بنـدي کـړ او شـاه شـجاع تـه یـې، چـې ځان یـې دا وخـت زرمـت تـه رسـولی و، د کـابل د نیولـو او پـاچـا کېدلـو بلنه ورکړه. فتح خـان د شـاه شـجاع مخـې تـه ور ووت او پـه قلعـه قـاضي کـې د دواړو خـواو ترمنځ د سختې جګړې پـه نتیجـه کـې فتح خـان ماتـه وکـړه او شـاه شـجاع کـابل ونیـوی. شـاه شـجاع غوښتـل چـې شـاه محمـود پـه سـترګو ړونـد کـړي، مګر څرنګه چـې شـاه محمـود د قـرآن مجیـد سره یـو ځای خپلـه عریضـه ورتـه واسـتوله او د بلـې خـوا شېر محمـد خـان د هغـه شـفاعت وکـړ او داسـې هـم ویـل کیـږي،چـې شـاه زمـان، شـاه شجاع تـه وویـل چـې ماتـه د ړندېدلو زور معلوم سـوی دی، شـاه محمـود لطفاً بنـدي کـړه او ړنـدوه یـې مـه، نو ځکـه شـاه شـجاع هغـه ړونـد نـه کـړ(۱۹) شـاه شـجاع بـه پـه تـاریخ کـې ډېر زیـات اشـتباهات کـړي وي، خـو د شـاه محمـود پـه معـافولو سـره یـې داسـې اشتباه وکړه چې حتمـاً بـه ترمـرګه وربـاندې پښمانـه و.

# شاه شجاع

د شاه شجاع تقریباً شـپږ کلنـه دوره، تولـه یـا پـه جنګونـو او یـا د دسیسـو پـه شنډولو تېره سـوه. پـه دغـه دوره کـې د ایران د پاچـا فتح علـي شـاه زوی محمـد ولي مېرزا د غوریـان پـر لـور لښکـر واستاوه. غوریـان یـې ونیـوی او د هـرات خـوا تـه متوجـه سـو. د هـرات والي حـاجي فیروزالدین، د دې پـر ځای چـې د ځان غـم ورسره وي او د ښار سـاتنه وکـړي، خپـل پیر او مرشد صوفـي اسـلام، چـې لـږ وخـت مخکـې د اوزبکسـتان څخـه راغلـی و او پـه کـرخ کـې اوسېدی، د ډېرو زیـاتو لښکـرو سره د مشهد د نیولـو د پـاره واسـتاوه. د ایـران د لـوري محمـد خـان قاجـار، د هــرات پـه دېرش کیلـو میـتري کـې حملـه وربـاندې وکـړه. پـه دې جنګ کـې د صوفـي اسلام پـه شـمول ډېر لـوی قومـي

مشران او لایق صاحب منصبان ووژل سول. په دې جنګ کې شپږ زره افغانان ووژل سول او درې زره تنه د ایران پوځ ته ژوندي په لاس ورغلل. حاجي فیروزالدین خپل باقي پاته پوځیان د هرات ښار ته ننه ایستل، خو لکه څرنګه چې د ایران د پوځیانو په مقابل کې یې مقاومت نه سو کولای، نو د سولې شرایطو ته یې غاړه کېښودله. حاجي فیروزالدین د جریمې په توګه، د ایران پاچا ته سل کشمیري شالونه، سل زره نغدې روپۍ، یو پیل او دغه راز خپل زوی ملک حسین د یرغمل په توګه واستاوه. ایرانیانو د هرات محاصره پرېښودله او لښکر حرکت وکړ.(۲۰)

د شاه شجاع په شپږ کلنه پاچاهي کې درې ځله د هغه وراره شهزاده قیصر، په کندهار او کابل کې شورش وکړ. یو ځل یې معاف کړ او بېرته یې د کندهار حکومت وروسپاره، بل ځل یې معاف کړ او د کابل حکومت یې ورکړ او دریم ځل یې بیا معاف کړ او د ځان سره یې په کابل کې کېښناوه. شاه محمود، چې په بالاحصار کې بندي و، د شاه شجاع د پاچاهۍ په پنځم کال د یو شمېر نورو شهزاده ګانو سره د بالاحصار له زندانه څخه وتښتېدی. هغه د فتح خان او شهزاده کامران او نورو قومي خانانو په مرسته څه باندې یو کال وروسته د شاه شجاع پاچاهۍ ته، په داسې حال کې چې هغه تازه انګرېزانو سره تړون لاسلیک کړی او د وفادار خان د ورور اکرم خان تر قوماندې لاندې دېرې لويې قو ې يې د کشمېر په جنګ کې ماته کړې وه، سقوط ورکړ(۲۱). او په کال ۱۸۱۹ میلادي کې د شاه محمود دوهم ځل پاچاهي پیل سوه.

## برتانیه د سیمې په سیاسي میدان کې

برتانوي هند په سیمه کې د سترې لوبې د اساسي لوبغاړي په حیث، ټول چالونه او حرکات څارل. برتانیه په دې پوهېده چې شاه زمان پر هند باندې د حملې پلانونه جوړوي او هغوی ته داسې رپوټونه رسېدلي وه، چې هغه د دې حملو پیل کولو د پاره کافي پیسې او پوځ لري. هغوی ته اطلاع رسیدلې وه چې شاه زمان په شاهي خزانه کې لس میلیونه طلایي مهرونه ( یو مهر پنځه لس هندي روپۍ کېدلې) او څلوېښت میلیونه نقره ای مهرونه لري او پوځ یې ځکه ورځخه راضي دی،چې هغه پر تخت باندې د کښېنستلو په وخت کې عسکرو او صاحب منصبانوته اته میلیونه روپۍ

انعامونــه او باقيــات ورکړيــدي. پــر دې برســيره د ملتــان نــاظم مظفرخــان سدوزي او د بــهاول پــوری حکمــران، بــهاول خــان، هــم د خپلــو مرســتو اطمينــان ورکــړی و. (۲۲)

انګرېزانـو تـه اطـلاع رسـېدلې وه، چـې د مغــولي ســلطنت وليعــهد مــيرزا اکبر شـاه، زمـان شـاه تـه بلنـه ورکـړې وه، چـې کـه هنـد تـه ورسـي، نـو ډېرې زياتې پيسې بـه ورکـړي. دغـه راز روهيلـه مشر غـلام محمـد خـان کـابل تـه روان و او د برتانـوي هنـد ګورنـر جنـرال تـه يـې ويلــي وه، چــې دخپــل عــزت او حيثيـت دا عـاده کولـو د پـاره مجبـور دی، چــې د شــاه زمــان څخــه مرســته وغـواړي. دغـه راز د ميسـور د ټيپـو سـلطان، چـې پنځـه لـس کالـه يـې انګرېزانـو ته د سر پـه کاسـه کـې اوبـه ورکـړې وې، وکيـلان، مـير رضـا علـي او مـير حبيـب الله د ســمندر لــه لارې روان ســوي او کندهــار تــه رســېدلي وه. دوی لــه کندهـار څخـه شـاه زمـان تـه اطـلاع ورکـړې وه، چــې ډېر ژر بـه کـابل تـه ورسـيږي او لـه هغـه سـره بـه د خپـل پـټ مـاموريت پـه بـاب خـبرې وکـړي. د ټيپـو سـلطان وکيلانـو د شـاه زمـان د پـاره پنځـه لکـه روپــۍ او قيمتــي تحفــې ورسـره اخيتسـې وې. ټيپـو سـلطان د شـلو زرو سپرو غوښتنــه کـړې وه او ورتــه ويلي يې وه چې کــه پخپلـه د هنـد پـر لـور حرکـت وکـړي، نـو د شـلو زرو سپرو لښکرو لــګښت او دېرش ميليونــه کلــدارې بــه ورکــړي، دې رپوټونــو ګورنــر جنـرال ډېر سـخت وارخطـا کـړ او پـر هنـد بــاندې د شــاه زمــان د احتمــالي حملې د مخنيوي او شــنډولو خواتـه يـې توجـه واړولـه.(۲۳)

انګرېزان پـه هغـو شـرايطو کـې پـه داسـې موقعيـت کـې نـه وه، چـې د شـاه زمـان د تـهديدونو مخـه دې مستقيماً ونيسي او يـا دې د هغـه پـه مقــابل کــې مستقيم انتقـامي عمليـات پيـل کـړي. انګليسـانو د هنـد څخــه د زمــان شــاه د توجه اړولو د پـاره ايـران تـه مراجعـه وکـړه. هغـو غوښتـل چـې د ايـران شـاه پـر افغانستان حملې ته تشـويق کـړي او دشـاه زمـان توجـه د هنـد څخـه بلې خـوا تـه واوړي. دې مقصـد تـه د رسـېدلو د پـاره هـرات تـر ټولـو مســاعد ځای و او د ايـران د شـاه پـه دربـار کـې د شـهزاده محمـود موجوديـت پـر هـرات بـاندې د ايـران د حملـې د پـاره ډېر ښه شـرايط برابـرول. انګرېزانـو تـه دا معلومـه ســوې وه چـې کـه شـاه زمـان پـه هـرات کـې دايمـي ستونزې ولـري، هيڅ وخــت د هند خوا ته توجـه نـه سـي کـولای. (۲۴)

البته انګرېزان په دې هم پوهېدل چې د ايران پاچا د افغانستان په خاوره کې د پراختيا غوښتنې پټې او ښکاره نقشې ترتيبوي او په دې لړ کې د دوی فعاليتونه بې ګټې نه پاتېږي کله چې شاه زمان د ايران پاچا،فتح علي شاه ته سفير واستاوه او د ايران څخه يې وغوښتل چې خراسان دې افغانستان ته پرې ښودل سي؛د ايران پاچا خپل صدراعظم حاجي ابراهيم ته وظيفه ورکړه، چې د افغانستان پاچا په دې پوه کړي چې د ايران شاه غواړي خپل قلمرو د صفوي پاچاهانو د زماني حدودو ته ورسوي او غواړي چې هرات، مرو، بلخ، کابل، کندهار، تبت، کاشغر او سيستان ونيسي.(۲۵)

د صفوي شاهانو په وخت کې مرو، بلخ، کابل، تبت او کاشغر هيڅ وخت د ايران په لاس کې نهٔ وه، البته يو ځل يې د ډېر لنډ وخت د پاره، مرو د توري په زور فتح کړه، مګر هغه سيمه بېرته د محلي واکدارانو لاسته ورغله او حتیٰ د صفويانو د دوو لومړيو مقتدرو پاچاهانو شاه اسماعيل او شاه طهماسب په زمانو کې خو به اوزبکانو هرات، مشهد او نيشاپور لا هم لاندې کول. ايران د فتح علي شاه او له هغه څخه وروسته زمانه کې هيڅ وخت دونه زور نه دی پېدا کړی، چې د افغانستان خاوره او دونه لوی ښارونه او سيمې دې لاندې کړي، مګر په داسې حال کې چې د محمود په شان يو عياش او جاه طلب شهزاده د ايران په دربار کې اوسېدی، نو د هغې خوا څخه د هر ډول خطر احتمال موجود و. خو شاه زمان ښايي خپل قوت دونه مغرور کړی و، چې دې خطرونو ته يې چنداني توجه ونه کړه. په ۱۷۹۹ م کال کې، چې شاه زمان کندهار ته ولاړ، خپل سفير طره باز خان يې د ايران پاچا ته، چې دا وخت په خراسان کې و، د ډېرو زياتو او قيمتي سوغاتونو سره واستاوه او له هغه څخه يې وغوښتل چې تهران ته پر شا سي. د ايران پاچا موافقه وکړه، مګر طره باز خان ته يې وويل چې شاه زمان بايد خپل ورونه، فيروزالدين او محمود په افغانستان کې ومني او د هغوی د رتبې او مقام سره سم سلوک ورسره وکړي.(۲٦)

شاه زمان حتیٰ دغه راز غوښتنو او شرايطو هم د هرات حساس موقعيت ته متوجه نه کړ او تر پايه پورې په دې فکر کې نه سو، چې اول بايد خپل

کور سمبال کړي، خپل سرحدات مصوٌن کړي او بیا هند ته توجه وکړي.
دلچسپه خبره دا ده چې د شاه شجاع د پاچاهۍ په دوران کې حاجي فیروزالدین، چې د لومړۍ ورځې د شاه محمود ملګری و، تر پایه پورې د هرات د والي په حیث پاته سو. حاجي فیروزالدین خپل ماجرا غوښتونکی وراره شهزاده کامران په فراه کې حکمران کړ او هغه د خپل پلار شاه محمود او حاجي فیروزالدین په مرسته بالاخره د فراه او هرات د لارې د شاه شجاع سلطنت ته سقوط ورکړ.

په داسې حال کې چې د افغانستان په شرق، غرب او شمال کې ټول ګاونډیان د افغانستان د خاورې د تجزیه کولو او لاندې کولو په دسیسو لګیا وه، سدوزي شهزاده ګان د یوه بل په وهلو او ټکولو اخته وه او پاچا یې له سهاره تر ماښامه د غرب پر لور د فتوحاتو خوبونه لیدل. شرق الهند کمپنۍ پر هند باندې د شاه زمان د حملې د مخنیوی په منظور د میرزا مهدي علي خان په نوم یو تاجر د ایران دربار ته واستاوه او هغه ته یې وظیفه ورکړه چې د ایران شاه پر افغانستان باندې حملې ته تشویق کړي. مهدي علي خان په کال ۱۷۹۸ م کې د بو شهر له بندر څخه د ایران د پاچا او صدراعظم سره مکاتبه پیل کړه. ده هغوی ته وویل چې په پنجاب کې شیعه ګلن د متعصب زمان شاه د لاسه کړیږي او په ډېر بد حال کې دي، په داسې حال کې چې شرق الهند کمپنۍ د شیعه ګانو د زړه له کومې او ټینګه حمایه کوي. ده د ایران صدراعظم او پاچا ته وویل چې د افغانستان خلک د شاه زمان څخه ناراض دی او هغه باید د محمود او فیروزالدین، چې د ده په دربار کې حاضر دی، ملاتړ وکړي. د ایران پاچا د محمود او فیروزالدین د حمایه کولو او پر خراسان او کندهار باندې د حملې کولو ته تیاری ونیود او میرزا مهدي علي خان پوه سو، چې ورسپارل سوی ماموریت یې په ښه توګه بشپړ کړی دی. مهدي علي خان د ایران څخه د روانېدلو نه مخکې د ایران د پاچا فتح علي شاه سره یو اوږد مجلس وکړ، چې په هغه کې یوازې صدراعظم حاضر و. فتح علي شاه په دغه مجلس کې د میرزا مهدي علي خان څخه مشوره وغوښتله چې پر افغانستان باندې تر مذهبي شعار لاندې حمله وکړي ښه به وي او که د خپلې خاورې د لاندې کولو د پاره ورباندې ورسي. مهدي علي خان ورته وویل چې زما په عقیده دا یوه خبره هم سمه نه ده. پر افغانستان باندې چې په هر نامه حمله وسي، د هغه هېواد خلک سره یو موټی کیږي او بې

اتفاقه کیږي نه. ښه به دا وي چې ستاسې په دربار کې د حاضرو افغاني شهزاده ګانو، محمود او فیروز ملاتړ وکړي او په دې توګه د افغانستان د نفوس یوه برخه د ځان سره ملګرې کړي. د ایران پاچا د مهدي علي خان مشوره ومنله.(۲۷)

د برتانوي هند ګورنر جنرال لارډ ویلسلي Wellesley د ۱۷۹۹ م د اګسټ په میاشت کې کپتان جان مالکم، چې بیا وروسته سرجان مالکم سو، د ایران دربار ته د استازي په حیث واستاوه. جان مالکم یو څه وخت په بېلو بېلو ښارونو کې په ملاقاتونو او د تحفو په وېشلو تېر کړ. شپږ میاشتې وروسته یعنې په کال ۱۸۰۰ کې په وضع کې ډېر تغیر راغی نور شاه زمان د هند د پاره خطر نه ګڼل کېدی او جان مالکم د شاه زمان پر ضد د ایران سره د تړون د لاسلیک کولو ضرورت نه لیدی. جان مالکم ته ویل سوي وه، چې کولای سي د ایران دربار ته د دریو کالو په موده کې له دریو څخه تر څلورو لکو روپیو پورې ورکړی او یا دغه روپۍ د ایران په دربار کې په رشوتونو ولګوي. مالکم دوهمه لاره غوره کړه. د رشوتونو په ورکولو یې بنا وکړه او هیڅ کار یې نه بندېده. په ایران کې د اینګلیند نوم لوړ سو، د لوی او کوچني په سینه کې د تمې او حرص اور بل سو او چا ته چې به دې د برتانیې نوم ور واخیست، خوله به یې له اوبو ډکه سوه. هر څونه چې مالکم د ایران دننه ته زړتلی په هغه اندازه توجه ورته زیاتېدله او د مسیحي ایلچي د سخاوت نوم د هر چا پر ژبه ګرځېدی. د برتانیې د طلاو جادو هر مشکل اسانه کړی و. جان مالکم پخپله هم د خپل ماموریت د نتیجې څخه راضي و او د شرق الهند د کمپني مقاماتو ته یې ولیکل چې که بیا دراني پاچا پر هند باندې حمله وکړه، نو د ایران پاچا به حتماً پر افغانستان باندې حمله کوي او تر څو چې په توبو او قسمونو یې د هند د خاورې څخه پر شا کړي نه وي، تر هغو به یې پر کراره نه پرېږدي.(۲۸)

کپتان مالکم د کال ۱۸۰۰ م د اکتوبر پر نهمه د شرق‌الهند کمپني ته ولیکل چې د شاه زمان له خوا زړه بېغمه کړي، هغه لږ تر لږه د کال ۱۸۰۱ د بارانونو د پیل کېدلو تر موسم پورې د هند پر لور حرکت نه سي کولای. دې که پر هند باندې د حملې کولو قدرت ولري، دې کار ته وخت نه سي پېدا کولای او د خدای په توکل به په دې سیمه کې څو کلونه دونه مشکلات ولري، چې پر هند باندې به د حملې کولو توان پېدا نه کړي.(۲۹)

بالاخره جان مالکم د کال ۱۸۰۰ په پای کې د ایران سره دوې موافقې، چې یوه یې سیاسي او زیاتره د افغانستان په ارتباط وه او بله یې تجارتي موافقتنامه لاسلیک کړه. په دې وخت کې زمان شاه په افغانستان کې دونه مشکلات پیدا کړي وه چې حتیٰ جان مالکم ضرورت نه لیدی، چې د ایران سره سیاسي موافقه لاسلیک کړي او یوازې د تجارتي موافقې د لاسلیک کولو پیشنهاد یې ورته وکړ. د ایران صدراعظم د جان مالکم خبره ونه منله او د دواړو موافقو پر لاسلیک کېدلو یې ټینګار وکړ.(۳۰)

## د شاه زمان د قدرت په باره کې د سرجان کې نظر

سرجان ویلیم کې، چې په افغانستان کې د جنګ تاریخ په نوم کتاب یې د دغو حوادثو څخه نیمه پېړۍ وروسته لیکلی دی، په دې عقیده دی، چې ښایي زمان شاه اصلاً د هند د فتح کولو توان پیدا کړی نه وای. دی د درانیانو د پوځي قدرت په باب لیکي چې د احمد شاه دراني په وخت کې دراني قبایلو هغه ته شپږ زره منظم سپاره عسکر ورکول. د افغانستان د غربي سیمو د نورو قبایلو او د فارسي ژبو قبایلو معاش خواره عسکر هم شپږ زره سپاره کېدل. د تیمور شاه په زمانه کې د پاچا لښکر څلوېښتو زرو عسکرو ته، چې تقریباً ټول سپاره وه، رسېدی، مګر د زمان شاه په زمانه کې، په تېره بیا په ۱۷۹۹ او ۱۸۰۰ کلونو کې هغه صرف لس دوولس زره عسکر د جنګ مېدان ته ایستلای سوای او په دې کې هم پرته له څو فارسي ژبو معاش خورو عسکرو څخه، چې هغه تل د وزیر په خدمت کې وه، نور چنداني سمبال هم نه وه. حتیٰ په ۱۷۹۹ کال کې قزلباشو عسکرو شاه زمان ته وویل چې که دوی ته د جنګ د پاره ښې وسلې ورنه کړلې سي او د کور کهول د خرڅ خوراک د پاره پیسې ورته برابرې نه سي، دوی د هغه سره جنګ ته نه سي تللای.

سرجان کې وایي په دې کې شک نسته ، چې په افغانستان کې د جنګ سړي هیڅ وخت کم نه وه، مګر د جنګ میدان ته د هغوې د بیولو د پاره پیسې په کار وې. داسې ویل کېدله چې که شاه زمان پیسې ولرې، دوه سوه زره عسکر دجنګ میدان ته ایستلای سي، مګردشاه زمان د ټول کال

عایداتو تر دغه د کوچني پوځ د لګښتونو د پاره کفایت نه کاوه. د ده څخه هر وخت د خطر او بحران په وخت کې عسکر د معاشونو او پیسو د نه رسېدلو له کبله تښتېدل چې خزانه به تشه سوه، دې مجبور و چې یوه چاره یې وکړي، مثلاً د مروجه سکې قیمت به یې لوړ کړ، مګر دغه راز اقداماتو ده ته یو قوي پوځ نه سو برابرولای. د ده د پوځ یو اړخ بې اندازې کمزوری و. ده په خپله ټوله توپخانه کې تقریباً ۲۱ لوی توپونه او پنځه سوه واړه زنبورک توپونه، چې د اوښ پر شا وړل کېدل، درلودل. حتیٰ دغه وړه توپخانه هم ښه سمباله نه وه اوښانو سړیو ته ضرورت درلود او توپخانه ترمیم ته اړه وه. په ۱۷۹۹ او ۱۸۰۰ کلونو کې د شاه زمان د پوځ څخه چا رپوټ ورکړ چې په ټول کمپ کې پنځه سوه ښه آسونه نسته او هغه آسونه زیاتره د پاچا او د وزیر وه. عسکر زیاتره پر داسې یابوګانو سپرېدل چې په تاوده بازار کې په سل روپۍ ارزېدل.

سرجان کې وایي زمان شاه په دغه پوځ پر هندوستان باندې د حملې پلانونه سنجول پخپله زمان شاه هم د خپل پوځ په شان کمزوری سړی و او چنداني قوي شخصیت نه و. هغه البته پوه او عالم سړی و، مګر د عسکري مزه یې نه وه. ټینګ مسلمان و او د قرآن شریف ډېر زیات تلاوت یې کاوه. که د مرکزي آسیا په معیارونو ورته وکتل سي، نو زمان شاه په عمومي صورت ښه سړی و. زړه سواندی، سخي او نرم طبیعته سړی و، ډېر ژر غولېدی او سړي کولای سوای ، چې ریشتیا دروغ ورته وښیي. خاص فعال شخصیت نه و او حتیٰ یو څه بې زړه هم و. هغه فطرتاً داسې جوړ سوی و، چې یو چالاکه وزیر لوبې ورباندې وکړي او دا وزیر یې وفادار خان و، چې بې اندازې چالاکه سړی و. ویل کیږي چې شاه زمان د حکومتي چارو په اداره کې چنداني فعاله برخه نه اخیستله او کله چې به یې په دربار کې څه ویل نو هغه جملې به یې تکرارولې چې مخکې له مخکې به په خوله ورکول سوې وې. په دې کې هیڅ شک نسته چې هغه د ډېر بد وزیر په لاس کې لوبېدی، مګر ظاهري تشریفات یې ډېر شاهانه وه، همیشه به مهم خلک او درباریان په مجلس کې حاضر وه او پر حکومتي کاغذونو په یې مهرونه معلومېدل. سرجان کې وایي داسې فکر لا هم کېدی چې که شاه زمان په داخل کې په جګړو لګیا نه وی او پر هند باندې د حملې د پاره ټول وسایل په لاس کې ولري، د ده وزیر ښایي په یوه حساس وخت کې رشوت واخلي. د درانیانو پوځ ټوټې ټوټې کړي او

شاه زمان بېرته کرار کښېنوي. شاه زمان په عمومي صورت پر خلکو ګران او محبوب پاچا و، د ده په پاچاهۍ کې کروند ګر خوشاله وه. هر وخت چې به دوی ادعا وکړه، چې د حکومتي خدماتو د پاره پيسې ورڅخه اخيستل سوي دي، عوض به يې بېرته ورکول کېدی. د ده په نوم هيڅ وخت غبن او ظلم نه کېدی. د ده په حکومت کې تاجران او کسب کاران مصؤن وه. وزير په بې انصافۍ او پستۍ مشهور و او خلکو به د خپلو حقوقو د خوندي کولو د پاره معمولاً پاچا ته پناه وړله.(۳۱)

د شاه زمان د شخصيت او طبيعت په باب چې ويليم کې څه وايي، هغه به د کتابونو او رپوټونو څخه د ده شخصي برداشت وي، خو د شاه زمان د پوځي قدرت په باره کې چې هر څه وايي هغه د واقعيت سره يو څه سر خوري. د ده د خبرو حقيقت د شاه زمان او شاه محمود تر منځ دوروستۍ مقابلې څخه معلومېږي. کله چې د شاه زمان جنرال احمد خان نورزی، شاه محمود ته د لسو زرو عسکرو سره بيله جنګه تسليم سو، نو شاه زمان سمدستي ماته وکړه او د خپل ورور شاه شجاع څخه د مرستې د ترلاسه کولو د پاره پېښور ته روان سو او هغه هم د پنځه لسو نيژدې کسانو سره! د دې يوې خبرې څخه د شاه زمان ټول پوځي قدرت معلومېږي. د دې خبرې مانا دا ده چې شاه زمان صرف دغه لس زره عسکر درلودل او دونه قدرت ورسره نه و چې په اضطراري حالاتو کې يو وړوکی پوځ استخدام کړي. البته په دې کې شک نسته چې شاه زمان د خپل جنرال احمد خان نورزي تسليمېدلو بې اندازې وارخطا کړی و، کنه نو د کابل خزانه به دونه تشه نه وه چې ده لږ تر لږه زرتنه استخدام کړي نه وای او تر پېښور پورې د رسېدلو په لاره کې يې د هر راز احتمالي خطر مخه وربانديې نيولی نه وای. د دې څخه د سرجان دا خبره ثابتېږي چې شاه زمان د خپلو نيکونو ترڅنګ يو څه بې زړه سړی و او د ده خپلې بې جرأتۍ د ده قدرت ته وروستۍ ګوزار ورکړ.

## د شاه زمان پر ضد د برتانيې دسيسې

داچې شاه زمان به څونه قدرت درلود او په هند کې به يې د برتانيې ګټو ته څونه خطر متوجه کولای سوای مونږ د بېرڅه ويلو ته ضرورت نه لرو خو برتانيه د خپل عصري پوځ، پيسو، وسايلو، مالي او استخباراتي قوت

سره، پر هند باندې د شاه زمان د حملې خطر دونه وارخطا کړې وه چې د هغه د احتمالي خطر د مخنیوي د پاره یې هرې ممکنې وسیلې ته لاس اچاوه. له یوې خوا یې مهدي علي خان د ایران د شاه دربار ته واستاوه او د ایران پاچا یې پر افغانستان باندې حملې ته تشویق کړ، بلې خوا ته ګورنرجنرال د بمبئ ګورنر ، جانتان ډنکن Jonthan Duncan ته وظیفه ورکړه چې که ترکیه دې ته وهڅوي چې ایران پر افغانستان باندې حملې ته تشویق کړي. ګورنر جنرال ډنکن ته ولیکل چې په قسطنطنیه کې دی د برتانیې سفیر مېنستې Manesty ته ووایي چې د ایران پاچا داسې اقداماتو ته تشویق کړي، چې د زمان شاه سره د خپل موروثي قلمرو غم پېدا سي او پر هند باندې د حملو له پلانونو څخه لاس واخلي.(۳۲)

ګور جنرال، د یوسف علي خان په نوم یو بل استازی رنجیت سینګه ته واستاوه او هغه ته یې وظیفه ورکړه، چې د سیکهانو مشر په دې پوه کړي، چې که شاه زمان هر وخت ځان په پنجاب کې ټینګ کړ، تر هرڅه دمخه به د ده چاره وکړي، ځکه چې هغه د رنجیت سینګه د زړه ورتوب، قدرت او جاه طلبۍ څخه اندېښنه لري او دغه راز که چېرې د زمان شاه سره ملا وتړي او د هغه‌لخوا د لاهور حکومت قبول کړي، نو دا به په سیکهانو کې د ده حیثیت ته صدمه ورسوي. یوسف علي خان د کال ۱۸۰۰ د اکتوبر پر دوه وېشتمه د رنجیت سینګه سره وکتل او هغه ورته وویل چې د درانیانو په پاچا هېڅ اعتماد نه لري او صرف د ظاهري وفادارۍ د ښودلو د پاره یې هغه ته خپل وکیلان لیږلي دي. رنجیت سینګه دغه راز یوسف علي خان ته خبر ورکړ چې شاه زمان بیا پر هند باندې د حملې خیال لري، مګر ډېر ژر معلومه سوه چې شاه زمان په ډېر تلوار د پېښور څخه بېرته د کابل پر لور حرکت کړی دی، ځکه چې هغه ته اطلاع رسېدلې وه چې شاه محمود په ډېر سرعت د کابل پر لور روان دی.(۳۳)

## برتانوي هند د افغانستان پر ضد

د برتانیې ګورنر جنرال دغه راز د بمبئ ګورنر ډنکن له لارې کوښښ وکړ، چې د سیند سره روابط احیاء کړي. د دې اقدام هدف په ظاهره د تجارتي روابطو انکشاف و، په داسې حال کې چې کمپنۍ غوښتل په دې توګه د ټیپو سلطان او د فرانسې د زیاتېدونکي نفوذ مخه ونیسي او دغه راز

د کابل د حکمران، شاه زمان، د جاه طلبیو مخنیوی وکړي. ډنکن د تالپور د کورنۍ د موسس فتح علي خان سره خبرې پیل کړې، د بمبئ څخه یې ناتان کرو Nathan Crow د استازي په حیث سیند ته واستاوه او وظیفه یې ورکړه چې د شاه زمان حرکات وڅاري او په سیند او د سیند په ګاونډ کې په بېلو بېلو سیمو کې ټول هغه کسان د شاه زمان په مقابل کې ولمسوي، چې لږ و ډېر پر هغه باندې تکیه کوي او دغه راز دې ټولو ته د برتانیې د مرستو وعدې ورکړي. د سیند امیر فتح علي خان د ناتان کرو ډېر ښه هرکلی وکړ او اجازه یې ورکړه چې انګرېزان کولای سي په ټټه او کراچي کې فابریکې جوړې کړي. کرو ډنکن ته رپوټ ورکړ چې د سیند امیران دې خبرې وارخطا کړي دي، چې وایي احتمال لري شاه زمان خپل پایتخت کندهار ته انتقال کړي او که چېرې دا کار وسي، نو بیا به هغه وخت په وخت د سیند پر لور لښکر کښي کوي. داسې اوازې هم خپرې سوې وې چې شاه زمان ښایي څلور زره کوره پښتانه سیند ته وکوچوي او هلته خپل موقف ورباندې تقویه کړي. البته دا اوازې غلطې وختلې، خو شاه زمان د سیند د امیرانو د وفادارۍ او طبیعي فرمانبردارۍ څخه ګټه واخیستله. هغه د افغانستان سرحد ته دومره نیژدې د انګرېزانو د فابریکو پر جوړېدلو باندې اعتراض وکړ او د سیند امیران یې د خپلې مذهبې جذبې په اساس دې ته تشویق کړل چې د انګرېزانو استازی کرو پسې واخلي او په ټټه او کراچۍ کې د هغوی فابریکې وتړي. شاه زمان د میر فتح علي خان دربار ته ایلچیان د شاهي فرمانونو سره واستول او د سند امیرانو ته یې امر وکړ چې ناتان کرو او د هغه ملګري سمدستي له سیند څخه وباسي. ناتان کرو په کال ۱۸۰۰ کې د سیند څخه ووت او انګرېزانو دا توهین په پټه خوله قبول کړ.(۳۴)

شاه زمان ډېرې لویې نقشې درلودلې، خو خپلو شخصي کمزوریو، اشتباهاتو، سختو کورنیو اختلافاتو او د خارجي دښمنانو پر له پسې دسیسو او حملو د یوې نقشې د عملي کولو مجال هم ورنه کړ. معاصر ایراني مورخ محمود محمود لیکي" زمان شاه د خپل ورور شاه محمود په لاس، چې د ایران د پاچا له خوا تقویه کېدی روند سو او شاه محمود د افغانستان پاچا سو، مګر ډېر ژر د هغه بل ورور شجاع الملک، د خارجیانو په دسیسو د شاه محمود پر ضد قیام وکړ، هغه یې مات کړ او په کال

۱۸۰۳م کې یې د کابل امارت ترلاسه کړ. شاه محمود وتښتېدی او شجاع الملک د شاه شجاع په نوم د افغانستان پاچا سو.(۳۵)

محمود محمود دا خبره کوي چې د ایران پاچا فتح علي شاه د انګرېزانو د سفیر سرجان مالکم په زور دې ته تحریک سو، چې د شاه محمود ټر شا ودرېږي، افغانستان ته لښکرې واستوي او شاه زمان د ایران د لښکرو په زور له تخته وغورځوي او ړوند یې کړي(۳٦) خو دلچسپه خبره دا ده، چې زموږ مورخ! د شاه زمان د نسکورولو د پاره د ایران د فتح علي شاه اقدامات، چې هغه هم ټول د انګرېزانو په زور کېږي، ګواکې روا بولي او د بېګانه کلمه هیڅ پر خوله نه راوړي، مګر کله چې شاه شجاع د خپل پلرني تاج او تخت د نیولو د پاره درې کاله جنګونه کوي او په لومړي ځل پاچا کېدلو کې د هیڅ خارجي قدرت مرسته هم ورسره نسته، هغه د بېګانه ګانو تحریکات بولي. محمود محمود په افغانستان کې د ایران د پاچاهانو مداخلې، په اصطلاح د کور خبرې بولي او دا ځکه چې دی د افغانستان خاوره د ایران ملکیت ګڼي. البته دا یوازې د محمود محمود خبره نه ده، بلکې د ایران د ټولو مورخینو، منورینو او سیاستمدارانو دغه نظر دی او د افغانستان د بدبختیو یو عامل او په تېره بیا د نولسمې پېړۍ د مشکلاتو یو اساسي عامل یې د ایران د مشرانو دغه وسعت طلبي ده.

د افغانستان په معاصر تاریخ کې چې هر مشر دغه حقیقت له نظره غورځولی دی، یا یې شعوري وطن فروشي کړې ده او یا یې په ناپوهۍ کې پر خپله مېنه او ټاټوبي اور بل کړی دی.

شاه شجاع په ژوند کې ډېر زیات اشتباهات وکړل او ښایي تر ټولو لویه اشتباه یې دا وي چې هرات یې د یوه کمزوري شهزاده او په ضمن کې د شاه محمود او ایران د وفادار دوست، حاجي فیروزالدین په لاس کې پرېښود او په دې توګه یې په افغانستان کې د ایرانیانو د پراختیا غوښتنې د دسیسو د پاره یوه له تر ټولو مهمو دروازو څخه خلاصه کړه. حاجي فیروزالدین د دغه ښار څخه د ایرانیانو په مرسته د خپل سکه ورور شاه محمود او وراره شهزاده کامران، چې ده د فراه والي مقرر کړی و، ملا وتړله او شاه شجاع یې، چې اوس یې تازه د پنجاب د فتح کولو چرتونه وهل، له تخته وغورځاوه.

# شاه زمان او شاه شجاع

۱. سراج التواریخ ص ۴۵

۲. Verma Easts India Conmpany p 3

۳. Bilgrami p 18

۴. سراج التواریخ ص ٤٦

۵. هغه کتاب ص ۵۱

٦. هغه کتاب ص ۵۰

۷. هغه کتاب ص ۵۱

۸. هغه کتاب ص ۵۲

۹. هغه کتاب ص ۵۵

۱۰. هغه کتاب ص ۵۸

۱۱. هغه کتاب ص ٦۰

۱۲. تاریخ سلطانی ص ۱٦۹

۱۳. تاریخ بالاحصار کابل ص ۱۱۲

۱۴. هغه کتاب ص ۱۱۳

۱۵. سراج التواریخ ص ٦۱

۱٦. تاریخ بالاحصار کابل ص ۱۱۸-۱۱۹ افغانستان در قرن نزده ص ۸

۱۷. افغانستان در قرن نزده ص ۱۱

۱۸. بالاحصار کابل ص ۱۴۰

۱۹. افغانستان در قرن نزده ص ۱۲

۲۰. سراج التواریخ ص ۷۴-۷۵

۲۱. Elphinstone vol 2 p 109

۲۲. Verma p 67

۲۳. هغه کتاب ص ۹۲

۲۴. Watson history of Persia p 125

۲۵. هغه کتاب ص ۱۲۵

۲۶. **Kirpal East India Compay and the Afghans p 10**

۲۷. هغه کتاب ص ۱۲

۲۸. Kaye history of the war p 15-18

۲۹. Vemra p 123-124

۳۰. هغه کتاب ص ۱۳۷-۱۳۸

۳۱. هغه کتاب ص ۱۳۶-۱۳۷

۳۲. محمود محمود ص ۱۲۵

۳۳. هغه کتاب ص ۲۴۱

# شاه محمود او وزیر فتح خان

شاه محمود په کال ۱۸۰۹ میلادي کې د دوهم ځل د پاره کابل ته ننوت او د سلطنت چارې یې، چې دی په هیڅ ډول ورته جوړ نه و، په لاس کې واخیستلې. د قدرت د اخیستلو سره سم یې عیش او نوش ته مخه کړه او بیا یې هر څه فتح خان ته پرېښودل.

وزیر فتح خان د سدوزو د امپراتورۍ په بېلو بېلو سیمو کې خپل ورونه مقرر کړل او د چارو اداره یې پر غاړه واخیستله.

لکه څرنګه چې د شاه زمان او شاه شجاع د سلطنتونو په وخت کې شاه محمود هر وخت د ایرانیانو او په داخل کې د ناراضو قومي مشرانو او جنرالانو په مرسته هڅوی ته ستونزې پېښولې او دوه ځله یې قدرت ورڅخه ونیوی، دغه راز شاه شجاع هم د شاه محمود د پاچا کېدلو سره سم په اقداماتو لاس پورې کړ او هرې وسیلې ته یې لاس واچاوه. شاه شجاع د عمر تر پایه پورې د کابل د تخت د بېرته نیولو څخه لاس وانه خیست. د پاچاهۍ څخه د لوېدلو په لومړیو شپو ورځو کې یو ځل د کشمیر والي عطا محمد خان بامیزایي په لاس کې بندي سو. څرنګه چې کشمیر تر دغه وخته پورې د افغانستان یوه صوبه وه، نو شاه محمود د کشمیر د دغه والي دا اقدام پر خپل صلاحیت او واکداري باندې تېری وباله او وزیر فتح خان ته یې وظیفه ورکړه چې د کشمیر د والي د غوږ تاوولو، چې د ډېره وخته راهیسې یې مالیه نه وه تحویل کړې او د بنده څخه شاه شجاع د خلاصولو د پاره کشمیر ته حرکت وکړي. وزیر فتح خان پر کشمیر باندې حمله وکړه، شاه شجاع له بنده خلاص سو او لاهور ته ولاړ او عطا محمد خان، وزیر فتح خان د نقلي جواهراتو په ډک صندوق وغولاوه او ځان یې د هغه له منګولو څخه خلاص کړ. وزیر فتح خان خپل سکه ورور محمد عظیم خان په کشمیر کې مقرر کړ او پخپله د کابل پر لور روان سو. شاه شجاع د رنجیت سنګه په لاس کښېوت او پس له ډېرو زیاتو او رنګارنګ شکنجو او تهدیدونو یې د کوه نور الماس او نور جواهرات ورڅخه واخیستل. شاه شجاع د رنجیت سینګه له بنده وتښتېدی او په لودیانه کې یې انګرېزانو ته پناه یوړه او د عمر تر پایه پورې د انګرېزانو تر سیوري لاندې پاته سو.

# حاجي فېروزالدين او ايران

204

په دغو شپو ورځو کې د هرات والي، حاجي فيروز الدين، د غوريان د نيولو د پاره، چې دا وخت د ايرانيانو په لاس کې و، خپل زوی ملک قاسم ورواستاوه. د غوريان کوتوال چې پخپله د ايران له دربار څخه ناراض و، د ايران څخه د مرستې غوښتلو پر ځای، شهزاده کامران ته، چې دا وخت د کندهار والي و، ليک واستاوه او هغه ته يې وليکل چې د کندهار د لارې د مشهد پر لور حرکت وکړي،ځکه چې د خراسان د خلکو او ايران د حکومت ترمنځ سخت مخالفتونه شروع سوي دي او دی په ډېره آساني کولای سي، چې دا ټوله سيمه ترلاسه کړي. ځوان او ماجرا غوښتونکی شهزاده کامران هم د کابل د سلطنت سره د سلا مشورې کولو څخه پرته، د مشهد پر لور حرکت وکړ او د هرات په شاوخوا کې يې لښکرې واچولې. حاجي فېروزالدين د هرات په شاوخوا کې د شهزاده کامران وجود د خپل قدرت د پاره خطرناک باله، مګر د دې پر ځای چې د کابل او يا د شاوخوا ولايتونو څخه مرسته او يا مشوره وغواړي، سمدستي يې خپل زوی د غوريان څخه راوباله او د دې ترڅنګ يې اسماعيل خان د امغاني ته، چې د خپلو قواو سره په مشهد کې پروت و، بلنه ورکړه چې د هرات پر لور حرکت وکړي او دی د شهزاده کامران له شره خلاص کړي.

حاجي فېروز الدين د اسماعيل خان دامغاني سره وعده وکړه، چې د کامران په مقابل کې د مرستې کولو په صورت کې به د هرات د مالياتو څخه دوه سوه پنځوس زره روپۍ د ايران خزانې ته تحويل کړي او سکه او خطبه به د ايران د شاه په نامه کړي. اسماعيل خان دامغاني سمدستي خپل دوه ورونه ذوالفقار خان او مطلب خان د هرات خوا ته واستول او هغوی پل مالان ته نيژدې واړول. شهزاده کامران، چې دا وخت د هرات په نيژدې حدودو کې پروت و، په ځان کې د ايران له قواو سره د مقاومت توان نه ليدی. اسماعيل خان ته يې د عفوې غوښتلو يو ليک واستاوه او پخپله د کندهار پر لور رهي سو. سردار اسماعيل خان او د هغه ورونه هرات ته ننوتل، حاجي فيروزالدين د وعدي سره سم د هرات ماليات هغوی ته ورتسليم کړل او د ايران د شاه په نوم يې خطبه وويله او هغوی بېرته مشهد ته حرکت وکړ.(۱)

حاجي فېروزالدين وروسته د ايران د پاچا فتح علي شاه دربار ته ايلچي واستاوه او د شاه محمود د ظلمونو او د هرات پر سيمه باندې د

هغه د تیري له لاسه څخه یې شکایت ورته وکړ. فتح علي شاه، چې هم یې یو وخت د شاه زمان په مقابل کې د شاه محمود ملاتړ کړی او د شاه زمان د سقوط سره سم یې د شاه محمود په مقابل کې د شاه زمان زوی قیصر ته د مرستې وعده ورکړې وه، دا ځل یې د حاجي فیروزالدین سره د شاه محمود او د هغه د زوی کامران په مقابل کې د هر راز کومک وعده وکړه.

د ایران قاجاري شاهانو او مشرانو صرف د کابل د حکومت کمزوری کېدل او په افغانستان کې د وینو تویېدل او کورني جنګونه غوښتل. هغو غوښتل چې د دې کورنیو جنګونو په نتیجه کې افغانستان کمزوری سي، د خان څخه د دفاع توان ونه لري اوروی وکړای سي چې هرات، فراه، نیمروز، سیستان او غوریان لاندې کړي. په مقابل کې د افغانستان مشران او پاچاهان په دومره داخلي جنجالونو لګیاوه او د لاهور، کشمیر او سند مسایلو او مالیاتو یې دونه توجه جلب کړی وه، چې د افغانستان دغه تر ټولو مهم ښار هرات ته یې چنداني توجه نه سوای کولای او په مختلفو وختونو کې یې د هرات او شاوخوا سیمو د چارووا کي د تیمور شاه د کورنۍ یوه له تر ټولو کمزوری شهزاده، حاجي فیروزالدین ته، چې پرته له شخصي قدرت او عیش او نوش څخه د بل هیڅ شي په غم کې نه و، پرې ایښې وې. هغه خپل ټول عمر د ایران په سیوري او لمن کې تېر کړ او د ایران په لمن کې خاورو ته وسپارل سو. د ایران لیکوالان او مورخین د دغو کمزورو شاهزاده ګانو او امیرانو له وجهې ادعا کوي چې افغانستان په دغو کلونو کې هر وخت د ایران تر تسلط لاندې و او که یې چېرې کله کله ښورښ کاوه، نو هغه یې د بېګانه ګانو په تحریک کاوه او چې د ایران د شاه لښکرې به ورنېژدې سوې ، دوی به سمدستي اطاعت ومانه.(۲)

په داسې حال کې چې افغانستان په دغو کلونو کې هیڅ وخت د ایران تر تسلط لاندې نه و او لا یې تازه د خپلو داخلي جنګونو او شهزاده ګانو د کمزوریو له کبله د نیشاپور او مشهد ښارونه له لاسه ورکړي وه او حتیٰ د حاجي فیروزالدین په شان کمزورو شاهزاده ګانو به له یوې خوا د ایران د شاه دربار ته استازي، لیکونه او سوغاتونه لېږل او د بلې خوا به یې د هغه پر قواو باندې حملې کولې او مشهد یې تهدیداوه.(۳)

# ایرانیان د هرات په سیمه کې

206

کله چې شهزاده حسن علي مېرزا د خراسان له کارونو څخه بېغمه سو، نو د هرات پر لور يې د لښکر کښي نيت وکړ. حسن علي مېرزا په کال ۱۲۳۲ هجري کې د هرات ښار محاصره کړ. د هرات والي حاجي فېروزالدين نه د جنګ توان درلود او نه يې د هرات په ښار کې دننه محاصرې ته دوام ورکولای سوای او د ايران قواو ته يې د سولې پېشنهاد وکړ. حاجي فېروزالدين بيا دوه سوه پنځوس زره روپۍ، د جنګ د تاوان او د هرات د ماليې په توګه د ايران خزانې ته تحويل کړې او سکه او خطبه يې بيا د ايران د پاچا په نامه کړه. البته مخکې چې به پر حاجي فېروزالدين باندې تنګسه راغله نو د ايران دربار ته به يې مخه کړه، دا ځل پخپله د ايران دربار تهديد کړی و، نو ځکه يې د خپل ورور شاه محمود څخه د ايران د لښکرو او پر له پسې تهدېدونو په مقابل کې مرسته وغوښتله. حاجي فېروزالدين د شاه شجاع د پاچاهۍ له وخته څخه په هرات کې تقريباً مستقل والي و او چا ته يې منظمه ماليه نه وه ورکړې. هغه ديوه مستقل پاچا په ډول دربار درلود او چې د هرات او د هرات په شاوخوا کې يې څه زړه غوښتل هغه يې کول، مګر د ايران له خوا د غوريان اشغال او له مشهد څخه د هرات پر له پسې تهديد او د مالياتو اخيستلو له هغه سره د آينده غم پيدا کړ او له وچه ناکه مه يې له کابل څخه مرسته وغوښتله.

شاه محمود پخپله هم تر دغه وخته پورې، ښايي د کورنيو مشکلاتو د زياتېدلو له وېرې، د هرات د بشپړ اشغالولو جرات نه سو کولای او له بلې خوا د هغه سره دا وېره وه، چې که دې د هرات پر لور حرکت وکړي حاجي فېروزالدين به د ايران لمنې ته لاس واچوي. اوس چې پخپله حاجي فېروزالدين د مرستې غوښتنه کړې وه، نو شاه محمود لا له خدايه څه غوښتل؟. شاه محمود سمدستي وزير فتح خان د دېرشو زرو عسکرو سره د هرات پر لور واستاوه. حاجي فېروزالدين مرسته وغوښتله، هغه د کابل پوځونه هرات ته نه پرېښودل. هغه غوښتل چې د ده استقلال پر خپل حال پاته وي، د هرات ماليات شخصي خزانې ته يوسي او چې زړه يې وي د هغه په نامه خطبه ووايي او په اصطلاح هم شهيد سي، هم غازي سي او هم سلامت کورته ورسيږي. هغه مخکې هم په دې پوهېدی چې که شاه محمود او فتح خان يو ځل د کشمير او سيند د ستونزو څخه ورته

را ببغمه سي، نو د ده د استقلال به هم چنداني مزه نه وي. مګر کله چې يې استقلال د دوارو خواو له خطر سره مخامخ وليد، نو له تهران نه يې کابل يو څه غنيمت وباله. حاجي فيروزالدين په هرات کې د والي کېدلو په وخت کې له شاه محمود سره وعده کړې وه، چې سکه او خطبه به د هغه په نامه وي او د هرات کلنی عايدات او ماليات به پر وخت وررسوي، مګر په حقيقت کې حاجي فيروزالدين د هغو پيسو څلورمه برخه هم کابل ته نه لېږله، چې وعده يې کړې وه.(۴)

## وزير فتح خان او د هغه ورونه په هرات کې

د وزير فتح خان قواوې د حاجي فيروزالدين د غوښتنې څخه تقريباً نهه مياشتې وروسته د هرات حدود ته ورسېدلې، مګر حاجي فيروزالدين په وزير فتح خان اعتماد نه سو کولای، ځکه يې نو د هرات ښار ته د ننوتلو اجازه ورنه کړه او هغه مجبور سو، چې څو ورځې د ښار څخه د باندې تم سي، خو وزير فتح خان هرات ته د رسېدلو څخه مخکې د شپږو مياشتو په موده کې ۹٦ لکه روپۍ خلکو ته په بخششونو کې ورکړې وې او د سيمې ټول خانان او مشران يې د ځان کړي وه او کله چې د هرات قلا ته نيژدې ورسېدی نو بيا يې هم د پيسو او طلا وېشلو ته دوام ورکړ او خلک يې د ځان کړل.(۵)

وزير فتح خان بالاخره د ښار له د باندې څخه حاجي فيروزالدين ته سړي واستول او د مشورو د پاره يې د باندې راوباله. کله چې فيروزالدين د باندې راووت، له يو ګړۍ خبرو وروسته يې ګرفتار کړ. خپل ورونه دوست محمد خان او سردار کهندل خان يې د هرات ښار ته واستول او د حاجي فيروزالدين د خزانې د لوټلو وظيفه يې ورکړه.(٦)

فتح خان البته د حاجي فيروزالدين سره ډېره بې احترامي ونه کړه او هغه يې په اعزاز او اکرام خپل ورور شاه محمود ته د حسابونو د ورکولو او تصفيه کولو د پاره واستاوه.

مګر کهندل خان او په تېره بيا دوست محمد خان، چې د حاجي فيروزالدين د خزانو د غصبولو د قوې قوماندان و، تر حد زيات تېری وکړ. د حاجي فيروزالدين خزانه او جوهرات د هغه په کور کې ساتل کېدل او د دې مانا دا وه چې بايد د هغه د حرم رعايت هم بايد ونه سي. دوست

محمد خان او د هغه اندیوالان د حاجي فیروزالدین کور ته ننوتل، د قصر په ټولو کونجونو، صندوقونو او د ښځو په کالیو کې وګرځېدل. په دې سلسله کې حتلی دوست محمد خان د شاه محمود لور رقیه بېګم، چې د حاجي فیروزالدین مړور او د هغه د زوی ملک قاسم مېرمن وه، شخصاً تلاښي کړه او د هغې له کمربند څخه یې مرغلرې وشلولې.(۷)

رقیه بېګم خپل پوړنې خپل ورور کامران ته واستاوه، په لیک کې یې ټوله کیسه ورته وکړه او د یوې کشرې خور په حیث یې د غیرت پېغور ورکړ او ګیله یې ورڅخه وکړه. کامران دا ټوله کیسه خپل پلار ته وکړه او دواړه د یوه لازم فرصت په انتظار کښېنستل.

فتح خان نه غوښتل چې د حاجي فیروزالدین د خزانې د لوټلو کیسه په دې اندازه رسوایي ته ورسېږي او د خپل ورور دوست محمد خان د نیولو په لټه کې سو. دوست محمد خان ته د خپلې ګناه اندازه معلومه وه او د دې پر ځای چې فتح خان ته ورسي، مخامخ یې د کشمیر پر لور، چې د ده ورور سردار محمد عظیم خان په کې والي و، حرکت وکړ. په لاره کې د شاه محمود او کامران سره مخامخ سو او د هرات د پېښو لنډه کیسه یې ورته وکړه او حرکت ته یې دوام ورکړ، کله چې کشمیر ته ورسېدی او عظیم خان ولیدی، چې د فتح خان له خوا هیڅ ډول لیکلی مکتوب ورسره نسته او هیڅ ډول امر له ځان سره نه لري، نو پوه سو چې تبنتېدلی دی او بندیخانې ته یې واستاوه.(۸)

# شهزاده کامران د وزیر فتح خان په مقابل کې

د شهزاده کامران او فتح خان ترمنځ ډېرې زړې دښمنۍ او عداوتونه موجود وه او د هغو ټولو مسؤل شهزاده کامران و. وزیر فتح خان د شاه محمود د قدرت په زمانه کې د شهزاده کامران د ټولو جاه طلبیو او مغرورو اقداماتو په مخ کې خنډ و. څرنګه چې شاه محمود ته دا معلومه وه چې تخت یې د فتح خان په توره نیولی دی او بیله هغه یې ساتلای نه سي،نو معمولاً به هغه هم د فتح خان طرفداري کوله. ترڅو چې یوه ورځ شهزاده کامران خپل د کاکا زوی شهزاده قیصر، چې هغه هم په جاه طلبي کې له ده نه کم نه و، په باغ کې د ګرځېدلو په وخت کې بې موجبه په خنجر وواهه او مړ یې کړ. فتح خان د شهزاده قیصر د سر د ساتلو ذمه وهلې وه او

شاه محمود هم د هغه د کاکا په حيث په خپل ارګ کې خای ورکړی و. دې قضيې فتح خان او شاه محمود دواړه په قار کړل او شاه محمود خپل زوی کامران ته امر وکړ چې نور به د کابل څخه د باندې نه وزي. البته دې وروستۍ قضيې د کامران جاه طلبيو ته له هرڅه نه زياته صدمه رسولې وه. هغه يې په کابل کې نظر بند کړی و او ده دا ټوله پېښه د فتح خان څخه ګڼله. که دې سابقې ته وګورو، نو ويلای سو، چې د فتح خان سقوط يوه ورځ حتمي و، ځکه چې يو پلار تر قيامته د زوی په مقابل کې د وزير طرفداري نه سي کولای او يوه ورځ مجبورېږي چې د خپل زوی پر خبره غوږ ونيسي. خو دونه ويلای سو چې که په هرات کې د وزير فتح خان دغه وروستۍ زبردستي د ده د سقوط او مرګ اساسي عامل نه وي، نو لږ تر لږه د ده د عمر شپې يې ډېرکلندې کړي او سقوط ته يې نيژدې کړي دي.

# وزير فتح خان د ايران د لښکرو په مقابل کې

فتح خان د هرات د حسابونو د تصفيه کولو څخه وروسته د ايران د پوځ پر لور، چې د هرات په شپږ ميلي کې د کهسان سره نيژدې يې سنګرونه نيولي وه، حرکت وکړ. د فتح خان سره په دغه جنګ کې پښتانه، د کندهار او کابل قزلباش، د هرات، بلوچستان او سيستان خلک او د جمشيدي هزاره او فيروز کوهي قبايلو خلک ملګري وه.(۹)

جنګ سهار وختي پيل سو. د ايران د قواو قوماندانې د شهزاده حسن علي ميرزا په لاس کې وه او ډېره ښه قوه يې را ايستلې وه او د افغانستان د قواو په سر کې فتح خان او د هغه ورونه شېردل خان، پردل خان او کهندل خان جنګېدل.(۱۰)

د سردار کهندل خان توپخانې په ډېر ښه وخت کې په حملې پيل وکړ او د ايران د پوځونو عقب نشيني يې، چې مخکې يې لا پيل کړې وه، په بشپړه ماته بدله کړه. ماپښين مهال ايرانيانو د جنګ د ميدان څخه په تېښته پيل وکړ او فتح خان د هغوی د تعقيبولو د پاره حرکت وکړ. په دې وخت کې يو ناځاپه د مرمۍ يو پوچک د وزير فتح خان پر خوله ولګېدی او هغه د آسه راولوېدی. د فتح خان عسکرو فکر وکړ چې مشر يې ووژل سو او بيله دې چې خانونه په حقيقت پوه کړي، د جنګ له ميدان څخه يې په تېښته

پيل وکړ. فتح خان يې خيمې ته يوړ او مخکې له هغه چې دې پر هوښ راسي. عسکرو يې ځانونه هرات ته رسولي وه او خلکو ته يې د فتح خان د وژل کېدلو او د لښکرو د ماتې خبر ورکړي و. فتح خان، پر هوښ باندې له راتللو سره سم هرات ته ولاړ او خلکو ته يې د خپل پوځ د بري زيري ورکړ. ايرانيان ځو ورځې وروسته په مشهد کې خبر سول، چې ډېره ښه موقع يې له لاسه ورکړې ده او په حقيقت کې يې ګټلې جنګ بايللى دى. د دوى توپونه، وسلې او مهمات نهه ورځې وروسته افغاني عسکرو د جنګ له ميدان څخه هرات ته نقل کړل.(۱۱)

ايرانيانو د دې توهينونکي ماتې څخه وروسته د څه مودې د پاره د هرات د نيولو خيال له سره لېرې کړ او فتح خان د هرات د ښار د مالي چارو په سمبالولو او ابادولو لګيا سو. فيرير، چې د دغه جنګ څخه صرف څو کاله وروسته هرات ته تللى او د دغه جنګ او فتح خان د شخصيت په باره کې يې د عيني شاهدانو سره خبرې کړي دي، د فتح خان د شخصيت په باره کې وايي." هغه يو عادل او منور واکمن و او ډېر زر يې د ټولو هراتيانو زړونه ځانته مايل کړل. ما له ډېرو هراتيانو سره، چې د دې لوى انسان سره يې له نېژدې پېژندل، خبرې کړي دي او هغوى ټولو د ده نوم په احترام ياداوه. دى چې څومره زړه ور و، په هغه اندازه پرهېزګار و. ده خپل ټول ژوند د هېواد ګټو او عظمت ته وقف کړى و . د ده وروستي برى د ده شهرت آسمان ته وخېژاوه او د خراسان د فتح کولو د پاره يې تيارى پيل کړ، مګر يوې خطرناکې فاجعې، افغانستان د يوه لايق انسان څخه محروم کړ او هغه عالي نقشې يې له منځه يوړې چې ده ورته طرح کړې وې. که د ده نقشې عملي سوى واى، نو ده به افغانستان د لوى احمد شاه د عصر قدرت او سمسورتيا ته رسولى واى.(۱۲)

د فتح خان د شخصيت په برخه کې د فيرير نظر تقريباً ټول مورخين تاييدوي ، خو دا چې هغه به افغانستان بېرته د احمد شاه د عصر په څير سمسور کړى واى دې نقشو له بده مرغه د عمل جامه نه سواى اغوستلاى، ځکه چې مو ږ د شاه زمان د پاچاهۍ په بحث کې ووېل چې افغانستان د شمال له لورې د اوزبکو، ترکمنانو او روسانو د غرب له خوا د ايران او شرق له خوا د سيکهانو او انګرېزانو د دښمنيو سره مخامخ و او افغانستان په يوه کمزوري ځان په داسې حال کې چې په دننه کې د ورونو او

تربرونو او قومونو ترمنځ بې اتفاقي او خصومتونه روان وه، خپله نیکمرغي او سمسورتیا نه سوای ساتلای.

فتح خان پر ایران باندې د حملې کولو او یرغلګرو پوځونو ته د سزا ورکولو د پاره قواوې راغونډولې، چې شهزاده کامران هرات ته ورسېدی. کامران د منصور خان په نوم یو ایلچي د ایران د پاچا فتح علي شاه دربار ته ، چې دا وخت په مشهد کې و، واستاوه، کامران د ایران پاچا ته ولیکل چې فتح خان پر خپل سر د ایران د قواو سره جنګېدلی دی او دا د کابل د حکومت پالیسي او اراده نه وه. فتح علي شاه منصور خان ته سوغاتونه او انعامونه ورکړل او شهزاده کامران ته یې ولیکل چې که ریشتیا په خپل قول کې صادق وي، نو فتح خان دي یا مشهد ته واستوي او یا دي هغه په سترګو ړوند کړي.

# د وزیر فتح خان ړندېدل او د محمدزیو عمومي ښورښ

کامران چې د ډېره وخته راهیسې د فتح خان د له منځه وړلو په فکر کې و، تر دې ښه پلمه نه سوه پیدا کولای. کامران درې میاشتې وروسته، چې د وزیر فتح خان له ذهن څخه هر ډول بدبیني وتلې وه، یوه ورځ پر خپلو حاضرباشانو امر وکړ او فتح خان یې ځای پر ځای ړوند کړ. د فتح خان دوه ورونه شېردل خان او کهندل خان سمدستي د ښاره وتښتېدل او ناد علي ته یې ځانونه ورسول. پردل خان، چې په دغه وخت کې ناجوړه و، له آسه ولوېدی او د کامران عسکرو ته ژوندی په لاس ورغی. شاه محمود او کامران په هرات کې خپل والي مقرر کړ او په سترګو ړوند فتح خان او پردل خان یې له ځان سره واخیستل او د کندهار پر لور یې حرکت وکړ.

که د پاینده خان وژل کېدلو د سدوزو د سلطنت اساس ولړزاوه، د فتح خان د ړندېدلو سره د سدوزو د اقتدار د جنازې مراسم پیل سول. د هغه د ړندېدلو خبر د سدوزو د امپراتورۍ په پراخ قلمرو کې د برق او برېښنا په سرعت خپور سو او داسې کونج پاته نه سو چې دغه خبر ونه لړزاوه او د مقاومت او مخالفت لمبې ورڅخه پورته نه سوې.

تر هر څه دمخه د کشمیر حکمران سردار محمد عظیم خان د سردار پاینده خان د کاله د مشر په حیث د عمل میدان ته داخل سو. شاه شجاع ته یې، چې دا وخت په لودیانه کې و، لیک واستاوه او ورته وې لیکل چې که د ده پخوانـي مخالفتونه او بغاوتونه ورته معاف کړي، نو د کابل د تخت د نیولو په لاره کې به په صداقت او ایمانداری ملا ورسره وتړي. شاه شجاع سمدستي د لودیانې څخه حرکت وکړ. په لاره کې یې د شاه محمود د حاکمانو د قواو مقاومتونه یو په بل پسې مات کړل. خپل زوی شهزاده تیمور یې په شکارپور کې حکمران مقرر کړ او پخپله یې حرکت ته دوام ورکړ. په نادعلي کې د کهندل خان او شېردل خان تر بېرغ لاندې سرداران او قومي مشران راټول سول او د مخالفت بېرغ یې اوچت کړ.

سردار عظیم خان خپل ورور سردار دوست محمد خان، چې په کوه ماران کې بندي و، خوشی کړ او هغه د خپل ورور یار محمد خان او څلور زرو سپرو عسکرو سره د کابل پر لور حرکت وکړ. دوست محمد خان له پېښور څخه د تیمور شاه زوی شهزاده ایوب، چې ویل یې ماته یو د پاچاهي نوم راکړئ نور هیڅ نه غواړم، له پېښور څخه ورسره واخیست شاه شجاع خان پېښور ته ورساوه او بېله دې چې د سردار محمد عظیم خان سره دې کومې موافقې ته ورسیږي، د پخوانیو بې اعتمادیو په اساس د دواړو خواو ترمنځ جګړه ونښته. شاه شجاع ماته وکړه او په خیبر کې له څه باندې دوو میاشتو تېرولو څخه وروسته شکارپور ته ولاړ دوست محمد خان، یار محمد خان او شهزاده ایوب، څانونه کابل ته ورسول او دمخه تر هغه چې شاه محمود او کامران څانونه کابل ته ورسوي هغوی ښار ونیوی.(۱۳)

کامران بیا هم غوښتل چې د وروستي فرصت څخه استفاده وکړي او پر دل خان ته یې، چې ژوندی یې نیولی و، وویل چې فتح خان یې اصلاً د دې د پاره ړوند کړ، چې ده ته د وزارت لاره خلاصه کړي. پردل خان په ډېره خوښۍ د وزارت مقام قبول کړ او د کامران سره یې د وفاداری لوړه وکړه. پردل خان کامران ته پېشنهاد وکړ چې ده ته اجازه ورکړي چې خپل نور ورونه، په تېره بیا کهندل خان او شېر دل خان د ده دربار ته حاضر کړي. کامران، چې د بارکزیو د مشر د ړندولو په نتیجه کې پیل سوی ښورښ سخت وارخطا کړی و، د پردل خان خبره ومنله او هغه ته یې اجازه ورکړه چې په خپلو ورونو پسې ولاړ سي او هغوی د کامران خدمت ته حاضر کړي. پردل خان سمدستي وتښتېدی او په ناد علي کې د خپلو

نورو ورونو سره یو ځای سو. کامران ته بله هیڅ لاره پاته نه سوه او فتح خان ته یې وویل چې یا به خپلو ورونو ته لیکي چې د ده خدمت ته حاضر سي او یا دې مجبور دی چې مړ یې کړي. فتح خان ورته وویل چې زما حکم او مشوره هغه وخت چلېده چې سترګې مې درلودې روغ او فعال وم او د وزرات مقام مې درلود. اوس مې نه څوک په خبره غوږ نیسي او نه مې د قدرت او دنیا یې چارو سره علاقه پاته ده. کامران، چې دا وخت یې ځان سیداباد ته رسولی و، فتح خان یې خپلې خیمې ته وباله او د دې د پاره چې په دې تاریخي جنایت کې نور هم د ځان سره شریک کړي، په خېمه کې حاضر قومي مشرانو ته یې وظیفه ورکړه، چې د بې وسه فتح خان په شکنجه کولو او وژلو کې برخه واخلي. په خېمه کې ناستو سردارانو هر یوه فتح خان ته یو ګوزار ورکړ او بالاخره یې ووازه او په غزني کې یې د علي لالا په مزار کې خاورو ته وسپاره.(۱۴)

# د وزیر فتح خان شخصیت

فتح خان د افغانستان یو له تر ټولو هوښیارو مشرانو څخه و، یو زړه ور جنرال و او له هغې ورځې چې د عمل میدان او د تاریخ پاڼو ته داخل سوی دی، یوه ورځ ارام نه دی کښېنستلی. هغه د خپل پلار ټول صفتونه په میراث وړي وه او د خپل پلار په شان د خپلې هوښیارۍ، غرور، زړه ورتوب او لیاقت په ګناه ووژل سو. فتح خان د یوه وطن پرست پښتون په حیث، په دې خبرې ښه پوهېدی چې د افغانستان د خاورې اصلي دښمن ایران دی او ایران هم د افغانستان د بې کفایته پاچا په دربار کې خپل لوی دښمن ښه پېژندلی و او دغه علت و چې په لومړني مساعد فرصت کې یې د شاهزاده کامران څخه وغوښتل چې یا فتح خان په سترګو ړوند کړي او یا یې بندي مشهد ته واستوي. کامران داسې پلمه له خدایه غوښته او سمدستي یې د فتح خان په ړندولو سره فتح خان نه، بلکې افغانستان له دوو داسې سترګو څخه محروم کړ چې د ډېرو لرو افغانانو په سر کې غړېدلې وې.

فیریر لیکي" شاه محمود په دې پوهېدی چې دواړه ځله یې د کابل تخت د فتح خان په توره نیولی دی، نو د پاچا کېدلو سره سم یې ټولې دولتي او نظامي چارې هغه ته خوشې کړې او پخپله په عیش او نوش لګیا

سو او نور یې ځان له هرڅه نه بې خبره وغورځاوه. هغه په عیش او نوش کې په هیڅ صرفه ونه کړه او چې څه یې په وس کېدله هغه یې وکړه. د جنګ او سیاست چارې ټولې فتح خان اداره کولې، خو هغه هیڅ وخت د خپل قدرت څخه ناوړه استفاده ونه کړه او ډېر ژر یې خپل هېواد د احمد شاه د عصر عظمت او جلال ته، چې د تیمور شاه د حکومت راهیسې له منځه تللی و، ورساوه. د فتح خان شهرت په ډېر لږ وخت کې په ټوله مرکزي آسیا کې خپور سو او هرافغان د هغه نوم په احترام یاداوه او په مقابل کې یې پاچا ته په سپکه سترګه او د تحقیر په نظر کتل، خو په هغه زمانه کې د سدوزاییانو دومره قدر کېدی، چې هیڅ چا د هغه د لیرې کولو او د هغه لایق جنرال د پاچا کولو فکر نه سو کولای. ډېر خلک وایي چې فتح خان یو جاه طلب انسان و، مګر کله چې هغه شاه ته خپل اطاعت ښودی، نو هغه په خپل قول کې صادق و او دا اطاعت یې په ایمانداری کاوه او په هغه مقام قانع و چې شاه ورکړی و. که دی چېرې پاچا سوی وای، نو ښایي یوه عنوان څخه به یې بل څه ترلاسه کړی وای. په داسې حال کې چې ځان به یې ډېر سخت په عذاب کړی وای او ښایي دې چې قدرت یې زیات سوی وای، ځانته به یې دښمنان زیات کړی وای.(۱۵)

د فتح خان د شخصیت او اهلیت په باره کې چې فیریر او نورو مورخینو هر څه لیکلي دي، مبالغه یې نه ده کړې، مګر دا چې فتح خان به پاچاهي نه غوښتله، دا خبره یو څه د تأمل وړ ده. د فتح خان نیکه حاجي جمال خان د احمد شاه دراني په مقابل کې د پاچاهۍ مقام ته یو قوي کاندید و. د فتح خان پلار سردار پاینده خان د شاه زمان د لیرې کولو او شاه شجاع د پاچا کولو د پاره نقشه طرحه کړې وه. دا چې وروسته به هغه څه غوښتل دا خبره څکه نه سي معلومېدلای چې دده د وژل کېدلو سره دا نقشه ټوله پای ته ورسېده. فتح خان ته شاه شجاع دوه ځله تر ټولو ګناهونو ور تېر سو او حتی د هغه ورور نواب اسد خان یې، چې د شاه زمان د ړندولو شخصي مسؤل و، ور خوشې کړ، مګر فتح خان د شاه شجاع سره، چې په شخصیت او اهلیت کې تر شاه محمود قوي و او چې پر تخت کښېناست د یوه پاچا په حیث یې د هر څه اداره او واک په خپل لاس کې واخیستل، ګوزاره نه سوه کولای او دوه ځله ورته یاغي سو. په حقیقت کې د شاه شجاع د قدرت د زوال یو عامل د فتح خان پرله پسې ښورښونه وه. فتح خان ښایي غوښتل پخپله پاچا سي او د دې نقشې

عملي كولو دپاره هغه لومړی یـوه کمـزوري پـاچـا تـه ضـرورت درلـود. هغـه بـايد يـو ځل خلكـو تـه قنـاعت وركـړی وای، چـې شـاه محمـود د قـدرت د سـاتلو او سـمبالولو نـه دی او بیا یـې نـو پخپلـه قـدرت اخیستی وای. فتـح خـان پـر دې برسېره د پوپل زيـو د لويـې قبیلـې سره پـه اصطـلاح پـدر كشي هـم درلـوده او هم يې ورسره مات كـړیو. فتـح خـان د خپلـې قبیلـې د يـوه سـردار پـه حيث د قبیلـوي قوانينـو او غـچ اخيستلو ځخـه خان نـه سـو ژغـورلای. البتـه پـه دې خبره كې هيڅ عيب نسته. كه شـاه محمـود د پـاچـا كېدلـو حـق درلـود، نـو فتح خان چې تر ده په عقل او تـوره سل چنـده لايـق و، دا حـق ولـې نـه درلـود. پـه افغانستان كـې ديموكراسي نـه وه چـې فتـح خـان انتخابـاتو تـه انتظـار ايستلی وای. پـه افغانسـتان كـې قـدرت پـه تـوره نیـول كـېدی او فتـح خـان پـه دې پوهـېدی چـې د ده تـوره ترهـر چـا تـېره او پـه عقـل تـر هـر چـا قـوي دی. د خپلو ورونو په كتار كـې يـې لـږ تـر لـږه شپږ داسـې كسان ولاړ وه، چـې د جنـګ او خبرو په ميدانونو كې يـې خپـل لیـاقت ثـابت كـړی و فتـح خـان د امنیـت پـه قـايمولو، د مـالي چـارو پـه سـمبالولو او د شورشـونـو او د مخـالفينو پـه ځپلـو كـې هـر ځای خپـل لیـاقت پـه اثبـات رسـولی و او بـالاخره د دغـه بـې حـده لیـاقت په ګناه ووژل سـو.

## د شاه محمود او کامران قاطع شکست

شـاه محمـــود او كـامران د دېرشـو زرو لښكـرو سـره د چارآسـيا سـره نـېژدې د دوسـت محمـد خـان د قـواو پـه مقـابل كـې تقريباً ښلـه جنـګه ماتـه وكړه، ځكه چې پـلار او زوی د دوسـت محمـد خـان ديـوه جعلـي پېغـام پـه اثـر، چـې د دوی قوماندانـانو تـه يـې د عطـا محمـد خـان بـاميزايي پـه لاس ليكلـی و، دونـه وپـېرېدل، چـې د شپې د ډوډۍ خوړولـو لـه هــوار دسـترخوان ځخـه وغورځېدل او مـخ يې د كندهـار پـر لـور ونیـوی. څرنګه چـې كندهـار د دوی د ورتـګ ځخـه مخكې شـېردل خـان او پـردل خــان نیـولی و، نــو دوی‌دواړو دهراود تــه مخـه كـړه. پـه هغـه سیمه بـاندې د كـهندل خـان لـه حملـې ځخـه خبـر سـول او مـخ يـې پـر هـرات ونیـوی. پـه دې اړو دوړ كـې حـاجي فيروزالدين چـې د شاه محمـود سره بنـدي و، وتښتـېدی او ځان يـې ايـران تـه و رسـاوه.

شاه محمود او کامران هرات اشغال کړ او په هرات کې یو څه وخت د ایران د پاچا فتح علي شاه څخه په وهم کې وه ، خو وروسته یې د ایران پاچا ته وروفهموله چې دوی هم د حاجي فېروزالدین په شان د ایران د پاچا اطاعت کوي او خپله کلنۍ مالیه به پر وخت وراستوي. د ایران پاچا هم سمدستي د هغوی لیرې کول لازم نه بلل، ځکه چې د هغه مطلب اطاعت و او هغه دوی منلی و.

حاجي فېروزالدین یو څه وخت په مشهد کې تېر کړ او بالاخره یې د قلیج خان تایمني په تشویق پر هرات باندې حمله وکړه. کامران د حملو کونکو عسکرو مخې ته ور ووت او خپل وزیر عطا محمد خان الکوزی یې د حاجي فېروزالدین د قواو شاته واستاوه. جنګ تر ماپښینه دوام وکړ او تقریباً ټوله جګړه په تورو او چړو وسوه، ځکه چې مخالفې قواوې لاس په لستوني سره جنګېدل. قلیج خان مخامخ پر کامران باندې وروځغستل او ښایي په څو دقیقو کې یې ټوټې ټوټې کړی وای، چې د هغه بخت ناره وکړه او د قلیج خان آس په سپرغه کې ولوېدی او مغزي او غاړه یې ډېر سخت زخمي سول. د قلیج خان عسکرو د خپل سردار د لوېدلو سره روحیات بایلودل او ماته یې وکړه. دکامران عسکرو قلیج خان ژوندی ونیوی او کامران ته یې راووست. کامران هغه په خپل لاس په توره ټوکر ټوکر کړ او که شاه محمود د حاجي فېروزالدین شفاعت نه وای کړی، ښایي هغه هم د قلیج خان په لاره پسې تللی وای. کامران حاجي فېروزالدین ونه واژه او په بالاحصار کې یې بندي کړ.

## په هرات باندې د ایران حمله او د هرات داخلي جنګونه

شاهزاده کامران ایله ځان د دې خطر څخه مصؤن احساس کړی و، چې په کال ۱۸۲۳ م کې د ایران د پاچا فتح علي شاه قاجار په امر پر هرات باندې حمله وسوه. د ایران پاچا ځکه په غوسه و، چې شهزاده کامران د وعدې سره سم د هرات مالیات نه وه تحویل کړي.خراساني عسکرو درې میاشتې پر هرات باندې ډېرې سختې حملې وکړې او په دې موده کې یې ښار داسې چور کړ، چې هیڅ شی یې ورپرې نه ښودل. کامران ایله ځان د خراسانیانو د حملو څخه بېغمه کړی و، چې په کال

۱۸۲۴ م کې فراه د هرات څخه بېله سوه او د کندهار سره یو ځای سوه. کامران د فراه د نیولو او د هرات سره د هغه ولایت د بېرته یو ځای کولو د پاره پخپله حرکت وکړ او مخکې له هغه چې فراه ته حرکت وکړي، خپل پلار شاه محمود یې د باغ شاه قصر ته واستاوه او خپل جنرال مصطفٰی خان زوري او د هرات کوتوال محمد حسین خان ته یې د هغه د تینګ نظارت وظیفه ورکړه. کامران د فراه په شاوخوا کې وځنډېدی او د ده په غیاب کې د ده دوه جاه طلبو مرستیالانو کودتاه وکړه، مګر څرنګه چې په خپلو منځونو کې پر قدرت سره جوړ نه سول، محمد حسین خان، حاجي فېروزالدین له ارګه راوایست او پاچا یې کړ. مصطفٰی خان بله لاره ونه لیده او شاه محمود یې، چې په باغ شاه کې له هرڅه نه بې خبره ناست و، راوایستی او د هغه پاچاهي یې اعلان کړه . د حاجي فېروزالدین قواو، مصطفی خان مجبور کړ، چې د شاه محمود سره یو ځای ارګ ته ننوزي او له هغه ځایه یې پر ښار باندې څو ورځې ګولۍ واورولې. مصطفٰی خان اته لس ورځې وروسته حاجي فېروزالدین مجبور کړ چې د محمد حسین خان سره یو ځای مشهد ته ولاړ سي. کامران د فراه څخه ډېر ژر د هرات پر لور حرکت وکړ، مګر کله چې ښار ته ورسیدی، مصطفٰی خان د ښار دروازې تړلې وې او د قلا څخه یې احوال ورکړ، چې زه یوازې شاه محمود په رسمیت پېژنم او هغه وایي چې د ښار دروازې چاته مه خلاصوه. کامران د هرات ښار محاصره کړ، مګر ډېر ژر یې څکه محاصره پرېښودله چې د کندهار څخه د شېردل خان قواوې د هرات خوا ته راغلې. کامران لاش و جوین ته ولاړ او هلته یې د قلا دروازې وتړلې. شېردل خان هم د هرات محاصره څکه پرېښودله چې د خراسان څخه د محمد خان کرایي تر قوماندې لاندې یو پوځ د مصطفٰی خان مرستې ته را روان و او شېردل خان د ایراني او هراتي پوځونو سره مخامخ کېدل نه غوښتل.

مصطفٰی خان په دې توګه ځان د ټولو رقیبانو څخه بېغمه کړ او محمد خان کرایي ته یې د هغه د مرستې په بدل کې ډېرې زیاتې پیسې ورکړې. مصطفٰی خان وروسته د ټولو هغو کسانو په وژلو پیل وکړ، چې د ده سره یې مخالفت کړی و او په لږ وخت کې یې د وینو ویالې وبهولې. بالاخره په ښار کې د بردرانیو مشر سید میر صادق خان کامران ته احوال ورکړ، چې په پټه ځان په نیمه شپه کې هرات ته ورسوي او د ښار کنټرول

واخلي. که څه هم چې کامران دا وخت تقريباً هيڅ پوځ له ځان سره نه درلود، مګر دا خطرناکه بلنه يې ومنله او هرات ته يې حرکت وکړ. د سيد صادق خان د مشورې سره سم په نيمه شپه کې هرات ته ننوت او تر سهاره پورې د ښار ټول اوسېدونکي، چې د مصطفلي خان ظلمونو تر پزې رسولي وه، خبر سول،سهار تقريباً لسو زرو عسکرو او خلکو مصطفلي خان په ارګ کې محاصره کړ او تر ځلوښت ورځې مقاومت وروسته يې ونيوی. شهزاده کامران لومړی هغه په سرو سيخونو داغ کړ. بيا يې په سرو اوسپنو ټوټې ټوټې غوښې ورڅخه پرې کړې او هغه يې په داسې حال کې چې ټول وجود يې زخمي او داغلی وُ د ارګ له دروازې سره په يوه لويه درخته پورې وتاړه او د ښار خلکو يې چا پر مخ نارې ورتوکولې، چا په کاڼو وېشته او چا ښکنځل ورته کول. په دغه توګه يې اوه ورځې شکنجې ورکړې او په پای کې يې نس ور څيري کړ او همداسې يې پرېښود ترڅو ساه يې وختله. کامران پر خپل پلار باندې يوه مياشت شراب بند کړل او د هغه د پاره تر دې لويه سزا نه وه.

کامران څه موده وروسته ټول هغه کسان ونيول، چې د ده په مقابل کې يې د باغيانو حمايه کړې وه او ياده فکر کاوه چې د ده مخالفين به وي. ده خپل مخالفين په ډېره ظالمانه توګه اعدام کړل، ځينې يې د پيلانو پښو ته وغورځول او ځينې يې وږو پړانګانو ته ، چې ده د همدغه هدف د پاره ساتلي وه، وغورځول.(١٦)

شاه محمود د عمر ترپايه پورې په هرات کې چنداني خوږې شپې تېرې نه کړې،هغه هرات ته د داخلېدلو څخه لږ وروسته د خپل جاه طلب زوی د مخالفتونو او دسيسو سره مخامخ سو. د هغوی تر منځ خبره بالاخره دې حال ته ورسېده، چې شاه محمود د هرات څخه ووت او د کامران په مقابل کې يې د فراه او شينډنډ دخلکو څخه يو پوځ جوړ کړ او پر هرات باندې يې د حملې پلان ترتيب کړ. شاهزاده کامران د ايران څخه مرسته وغوښتله او د مشهد والي شهزاده حسن علي مېرزا پنځه سوه عسکر ورته راولېږل. شاه محمود دا وخت د بادغيس، ميمنې او غرجستان څخه تقريباً څلور زره عسکر برابر کړي وه او هرات ته نېژدې يې د کامران قواو ته ماته ورکړه. د کامران عسکر ښار ته ننوتل او شاه محمود هرات محاصره کړ. کامران بيا د شهزاده حسن علي مېرزا څخه نوره مرسته وغوښته. دا خل

شهزاده پخپله د هرات شاوخوا ته راغی. د پلار او زوی ترمنځ یې جوړه وکړه او د شاه محمود سره یو ځای هرات ته ننوت. شاه محمود په ټول اخلاص د ښار او خزانو د درازو کیلي د حسن علي میرزا مخې ته کښېښودلې او هغه صرف یوه دانه د عقیق انګشترۍ ورځخه واخیستله او خپل زوی ارغون میرزا یې د پنځو زرو سپرو سره په هرات کې پرېښود. شاه محمود دوه کاله وروسته د هیضه په مرض مړ سو.(۱۷)

ځینې په دې عقیده دي چې شاه محمود په کال ۱۸۲۹ کې په حمام کې مړ سو، ځینې وایي چې زهر ورکړی سوي وه او ځنې ادعا کوي چې د خپل زوی کامران په اشاره خفه سو.(۱۸)

د هغه وزیر عطا محمد خان الکوزی هم په همدغه کال د هیضه له رنځه مړ سو. شهزاده کامران د عطا محمد خان وراره یار محمد خان الکوزی، چې د کشمیر د پخواني والي عبدالله خان الکوزي زوی و د خپل وزیر په حیث مقرر کړ. څرنګه چې د هرات د آینده څه باندې دېرشو کالو او سترې لوبې د پېښو سره د یار محمد خان نوم تړلی دی، نو لازمه ده چې د هغه د شخصیت او کړو وړو په باب څه په تفصیل وږغیږو.


## شاه محمود او فتح خان

۱. سراج التواریخ ص ۸۸
۲. محمود محمود ص ۲۲۸
۳. سراج التواریخ ص ۸۹-۹۰
۴. Ferrier p152
۵. سراج التواریخ ص ۹۲
۶. هغه کتاب ص ۹۳
۷. Ferrier p 153
۸. سراج التواریخ ص ۹۳
۹. هغه کتاب ص ۹۵
۱۰. Ferrier p154
۱۱. هغه کتاب ص ۱۵۵

۱۲. هغه کتاب ص ۱۵۵
۱۳. سراج التواریخ ص ۱۰۰
۱۴. هغه کتاب ص ۱۰۰
۱۵. Ferrier p 145-146
۱٦. هغه کتاب ص ۱٦۵-۱۷۲
۱۷. سراج التواریخ ص ۱۱۳
۱۸. Ferrier p 173

# یار محمد خان

د شاه محمود د وفات یا وژل کېدلو سره، په هرات کې شهزاده کامران ته میدان خالي سو او د هرات او د هغه ښار په شاوخوا کې د خپل قدرت د ټینګولو او زیاتولو په پلانونو لګیا سو. البته کله چې د شهزاده کامران د حکومت په باب خبرې کوو، نو ګواکې پر هرات باندې د ایرانیانو د پرله پسې حملو او دغه راز د یار محمد خان د شخصیت او فعالیتونو په باب رغېږو؛ ځکه چې یار محمد خان ډېر ژر د کامران په دربار کې ټول قدرت تر لاسه کړ او کامران ته تش نوم پاته سو، تر څو چې بالاخره هغه دا تش په نامه پاچا هم له مخه لیرې کړي او ټول قدرت یې په مستقیم ډول په لاس کې واخیست.

کامران په هرات کې د پاچاهي د اعلانولو څخه لږ وروسته ځان عیش او نوش ته تسلیم کړ. هغه به له سهاره تر ماښامه خپل ټول وخت په ارګ کې تېراوه او ډېر ژر د هرات د خلکو څخه بېګانه سو. د هرات اداري چارې یې خپل لایق وزیر عطا محمد خان الکوزي ته، چې د حاجي فیروزالدین او شاه محمود په وخت کې یې همدغه وظیفه درلوده، پرېښودلې. عطا محمد خان د شهزاده کامران د واکمنۍ په دوهم کال ناروغ سو او کامران ته یې وصیت وکړ، چې د ده لایق وراره یار محمد خان الکوزی، چې د کشمیر د پخواني والي عبدالله خان الکوزي زوی او په هلکوالي کې یتیم سوی او ده ته ورپاته سوی و، د خپل وزیر په حیث مقرر کړي. کامران هم د خپل وزیر د وصیت سره سم، د هغه د وفات څخه وروسته، یار محمد خان د خپل وزیر په حیث مقرر کړ.

دا وخت په کندهار کې کهندل خان او د هغه ورور مهردل خان له کلاته تر هلمند او اورزګان پورې سیمه په لاس کې وه او د هرات د لاندې

کولو دپاره یې هم پخپله لښکر کښې کولې او هم یې د ایران څخه مرستې غوښتلې. ایران پخپله د هرات او حتی د کندهار او غزني د لاندې کولو او بشپړ الحاق خیال درلود او فتح علي شاه د هغه زوی شهزاده عباس میرزا او لمسي محمد شاه قاجار هر یوه په خپل وخت کې پر هرات باندې لښکر کښې وکړې. کله چې به د ایران او کندهار دواړو له خوا ښغمې وه، نو بیا به د شمال له لورې د اوزبکو او ترکمنو تاړاکونه پیل سول. یار محمد خان په دغو شرایطو کې وزیر او د لومړیو شپو ورځو څخه په دې پوه سو، چې کامران د قدرت د ساتلو نه دی او دی د بشپړ قدرت د ترلاسه کولو په لاره کې چندانې رقیب نه لري. هغه ډېر سخت هوښیار او بېدار و. تمامه ورځ د خپلو دښمنانو د له منځه وړلو په نقشو لګیا و او په داسې طریقه به یې خپل دښمنان له منځه وړل، چې چندانې به عمومي نارضایت نه پېښېدی. کامران پرده بشپړ اعتماد درلود او چې ده به څه مشوره ورکوله هغه به عملي کوله.(۱)

# یار محمد خان او ایران

د وزیر یار محمد خان د مقررېدلو څخه تقریباً یو کال وروسته، د ایران د سلطنت ولیعهد شهزاده عباس د هرات د نیولو عزم وکړ. جام او باخرز یې د محمد خان قرایي څخه ونیول او وزیر یار محمد خان یې له هرات څخه خراسان ته احضار کړ. یار محمد خان ته یې وویل چې کامران میرزا باید د ایران اطاعت ومني او هرات دې د ایران ضمیمه سي او کنه نو جنګ ته دې تیاری وکړي. یار محمد خان کامران ته احوال ورکړ او هغه د شهزاده عباس غوښتنې رد کړې.(۲)

شهزاده عباس غوښتل چې یار محمد خان په زور د یوې موافقې منلو ته حاضر کړي، مګر هغه فشار ته تسلیم نه سو او عباس میرزا حتی د یار محمد خان دوه غابښونه ور مات کړل. البته وروسته یې د خپلو درباریانو او مشرانو د مداخلې په وجه د هغه له شکنجه کولو څخه لاس واخیست.(۳)

په دغه وخت کې شهزاده عباس پر هرات باندې د حملې د پاره تیاری کاوه، چې ناڅاپه د تهران له خوا احضار سو او پر هرات باندې د حملې پلان پاته سو. یو کال وروسته شهزاده محمد میرزا د هرات پر لور حرکت وکړ او هرات یې محاصره کړ د ایران پوځ پر هرات باندې د لویې

حملې ترتیبات نیول، چې ایرانیانو ته د ولیعهد شهزاده عباس د مړینې خبر ورسېدی او محمد میرزا محاصره سمدستي پرېښودله او تهران ته یې حرکت وکړ. ایران تر کال ۱۸۳۸ م پورې درې ځله نور هم پر هرات باندې حملې وکړې او له ټولو نه مهمه یې د کال ۱۸۳۸ م محاصره وه،چې هم یې ډېر زیات دوام وکړ او هم انګرېزانو رسماً مداخله وکړه او د ایران پاچا محمد شاه قاجار یې د محاصرې پرېښودلو او د تهران پر لور حرکت کولو ته مجبور کړ.

د هرات د محاصرې د ختمېدلو څخه وروسته کامران بېرته په عیش او نوش لګیا سو. یار محمد خان د انګرېزانو څخه وغوښتل چې الدرډ پاتینجر، چې د ایران سره د هرات د جنګ څخه وروسته ډېر مغرور سوی و او حتیٰ یوه ورځ یې د یار محمد خان پر وروو امر وکړ او ښکنځل یې ورته وکړل، ور وغواړې او کوم بل څوک هرات ته واستوي. انګرېزانو پاتینجر وروغوښت او د هغه وظایف یې مېجر ټاډ ته وسپارل. یار محمد خان له هغه سره هم جوړ نه سو او څه وخت وروسته یې هغه له هرات څخه وایستی. یار محمد خان له دې وروسته د شهزاده کامران د له منځه وړلو نقشه طرحه کړه. کامران د یار محمد خان د قطعي اقدام څخه مخکې د اختیارالدین قلعه ونیوله او د یار محمد خان سره یې جنګ اعلان کړ. یار محمد خان قلعه محاصره کړه او پنځوس ورځې وروسته شهزاده کامران تسلیم سو یار محمد خان هغه کوهستان ته واستاوه. څو ورځې وروسته یې تاجو خان او داود خان الکوزي ورپسې واستول او کامران یې وواژه. یار محمد خان په هرات کې مستقل حکومت اعلان کړ او دوه کاله وروسته یې غور او میمنه ونیوله.(۴)

یار محمد خان یو ځل په کال ۱۸۴۴ م کې د ایران د پاچا ناصرالدین شاه قاجار په مقابل کې، چې په دغه کال د خپل پلار محمد شاه قاجار له مرګه وروسته پاچا سوی و، په مشهد کې د یوه ښورښ په څپلو کې ، چې د ایران په تاریخ کې په فتنه سالار مشهور دی، برخه واخیستله او د ایران د پاچا څخه یې د خپل دې خدمت په بدل کې د ظهیرالدوله لقب وګاټه.

یار محمد خان په کال ۱۸۴۹ م کې خپله یوه لور وزیر محمد اکبر خان ته ورکړه او د امیر دوست محمد خان یوه لور یې خپل زوی سعید

محمّد خان تـه وغوښتله. البتـه وزیـر اکـبر خـان ډېر ژر وفـات سـو او کونـده یـې سردار غـلام حیـدر خـان تـه پاتـه سـوه. سـردار غـلام حیـدر خـان هـم پـه کـال ۱۸۵۸ م کـې وفـات سـو او دغـه ښځه امیر شـېرعلي خـان، چـې پـه هغـه وخـت کـې ولیعـهد و، پـه نکـاح کـړه. یـار محمـد خـان بـالاخره د سـردار احمـد خـان ځخـه د لاش او جویـن د نیولـو ځخـه وروسـته هـرات تـه روان و، چـې پـه لاره کې ناروغ او وفـات سـو.

## د شهزاده کامران او یار محمد خان شخصیتونه

انـګرېز مـؤرخ سـرجان کـې، د کـامران او یـار محمـد خـان د شـخصیتونو پـه بـاره کـې لیکـي" د کـامران حکومـت تـش پـه نامـه حکومـت و. هغـه د ټول عمـر افراطـي عیـش او نـوش زوړ کـړی او لـه کـاره غـورځولی و، ځکـه یـې نـو خپل ټول کارونه خپـل وزیـر تـه پـرې ایښي وه. کـامران ښایـي د خپلـې کورنـۍ پـه شـهزاده ګانـو کـې تـر ټولـو بـد سـړی و. هغـه پـه ځوانـۍ کـې ټول ممکـن جنایتونـه وکـړل او کلـه چـې جسماً لـه کـاره ولوېد او نـور د جنایـاتو د کولـو قدرت ورپاته نـه سـو، نـو شـرارت یـې کـم سـو... یـو وخـت یـې پـه ښکـاره داړه ماري تـه لاس واچـاوه، وسـله والي غـدۍ یـې درلودلـې، کورونـه یـې لـوټل او د لوټ کـړي کـور ټول اوسـیدونکي یـې قتلـول... پـه ځوانـۍ کـې یـې د لیونتـوب ترسـرحده د ښځو سـره شـوق درلـودی او د خپلـو نفسـاني خواهشـاتو د ارضـا کولو دپاره یې هیڅ سرحد نه پـېژانـد. هغـه پـه هـرځای کـې د هـر چـا ښځې پـه زور نیـولي او د خپلـو شـهواني لمبـو د کرارېدلـو ځخـه وروسـته یـې بېرتـه خوشـې کولـې او کلـه چـې ښځو د بـې عزتـه کولـو او تبنتولـو ځخـه ولـوېدی، نو بیا یې د شـرابو چښلـو تـه پناه یـوړه او لـه سهاره ترمابنامـه بـه نشه و. هغـه د دوستانو سره وفـا نـه درلـوده او پـر دښمنـانو یـې زړه سـوی نـه درلـود. ناځوانـۍ او بېرحمـي د هغـه پـه طبیعـت کـې اخښلـې وه او پـه ټول شـخصیت کـې یـې چنداني د ستایلو ټکـی نـه درلـود.

که یار محمد خـان لـه شـهزاده کـامرا ن سـره مقایسـه کـړو، نـو ویـلای سـو چې هغه تر کـامران لا بـد سـړی و. یـار محمـد خـان یـو چـاغ شـلند، میانـه قـده سړی و. همیشـه بـه یـې ترینګلـې مـخ نیـولی و. پنډ د حبشـي پـه شـان شـونډان یـې وه. غاښونـه یـې کـاږه واږه او وروځـې او تنـدی یـې دواړه را ځړیـدلي وه،



شهزاده کامران



یار محمدخان الکوزی

خو د ټولې بدرنګي په مقابل کې یې ډېرې ښایستې سترګې او ښایسته ږیره درلوده... ډېر مؤدب او مهذب و او هیڅ وخت له کنټروله نه ووت. ډېرې خبرې یې کولې، ډېرې کیسې یې زده وې؛ ښه زیات مذهبي کتابونه یې لوستي وه او مذهبي ظواهر یې ډېر سخت رعایتول. زړه ورتیا یې ثابته وه او په هماغه اندازه قابل سړی و، خو د دې دواړو صفتونو څخه یې په ډېره منفي طریقه کار اخیستی. یار محمد خان په مرکزي آسیا کې داسې یو مشر و، چې د هیڅ اصولو او پرنسیپ پابند نه و. حرص او جاه طلبي یې سرحد نه درلود او په دې لاره کې یې د خنډ تحمل نه سو کولای. په زړه سخت او بې احساسه سړی و او د هیڅ چا د هیڅ ډول کړاو او رنځ غم ورسره نه و. هم پخپله ترحد وتلی ظالم و او هم یې خپل تر لاس لاندې خلک ظلم ته تشویقول. په هغه اندازه چې ظالم و په هغه اندازه بد قوله و او د پیمان او عهد مراعت یې نه کاوه، که په مرکزي آسیا کې په دغه اندازه بل قابل او ضمناً خراب سړی موجود وي زه یې نه پېژنم.(٦)

## د یار محمد خان په باره کې د فیریر نظر او د فیریر د تاریخ نیمګړتیاوې

د یار محمد خان د عصر په برخه کې فرانسوي تاریخ پوه فیریر، تر ټولو د اعتماد وړ لیکوال دی، ځکه چې یو خویې د دغه وخت د قدرت او سیاست د صحنې ځینې افغاني لوبغاړي لکه حاجي فیروزالدین، یار محمد خان، کهندل خان او ځینې نور قومي او سیاسي مشران په سترګو لیدلي او ورسره رغبدلي دي او بل دا چې د نورو غربي مورخینو په تېره بیا ځینو انګریزي مورخینو او لیکوالانو په خلاف په خپله لیکنه کې چنداني غرض نه لري او کافي ببطرفه دی. البته د افغانستان او پښتنو په باره کې د ده د کتاب یوازې هغه برخه د اعتماد وړ ده، چې د نولسمې پېړۍ د پېښو په باره کې یې لیکلې ده. د دې څخه مخکې تاریخي حوادثو په باره کې دومره اشتباهات لري، چې که څوک له تاریخ سره نابلده وي او د سیمې تاریخ یې سم لوستی نه وي، بالکل یې ګمراه کوي. مثلاً کله چې ښاغلی فیریر د لودیانو د پاچاهۍ په باره کې خبرې کوي، نو داسې ښکاري لکه

هیڅ کتاب چې یې نه وي ویلي او ټول بیان یې له ځانه جوړ کړی وي. فیریر وایې په کال ۱۳۹۸ م کې دریم محمود، چې یو افغان و د ډهلي پر تخت ناست و. په دغه وخت کې ګوډ تیمور پر هند باندې یرغل وکړ او کله چې بېرته د هند څخه روانېدی، نو د ډهلي تخت یې هم دغه محمود ته پرېښود. ځکه چې هغه د تیمور سره د ډهلي په هغه قتل عام کې همکاري کړې وه، چې د هغه په اساس تیمور د بشریت د تباه کونکي لقب وګاټه. دریم محمود په کال ۱۴۵۰ م کې مړ سو او په دغه زمانه کې د بلال په نوم یوه افغان مشر، چې هغه هم د لودیانو د قبیلې څخه و (محمود هم لودي و) واکمنه کورنۍ له قدرته لیرې کړه. اګره یې خپل پایتخت وټاکه. البته د ده د پاچاهۍ په دوره کې لودیانو شورښونه وکړل او بالاخره ابراهیم خان، چې هغه هم د لودي قبیلې څخه و، دی له قدرته لیرې کړ. ابراهیم خان پرکابل او کندهار باندې ډېرې پرله پسې بریالۍ حملې وکړې او چندانې د مقاومت سره مخامخ نه سو. دې پرله پسې بریالتوبونو د ده جاه طلبې زیاته کړه او بالاخره یې په فرغانه کې د تاتارانو پر قلمرو باندې د حملې تصمیـــم ونیوی. د شاه له خوا د بخارا پاچا شاهي بیګ حمله ورباندې وکړه او ده له هغه سره د یوه دفاعي تړون په اساس ټولې مفتوحه ځمکې ووېشلې.(۷)

په داسې حال کې چې دډهلي په تاریخ کې نه ددریم محمودپه نوم کوم افغان پاچاهي کړې ده،نه تیمور دلودیانوسره مخامخ سوی او بېرته یې قدرت ورسپارلی، نه بهلول (دلیکوال په قول بلال) دمحمود لودي سره جنګ کړی، نه هغه ته ابراهیم خان لودي ماته ورکړې،نه ابراهیم خان لودي کوم وخت پر کندهار او کابل باندې حملې کړي دي، نه یې د فرغانې د نیولو نیت کړی او نه یې د شیباني خان قوه په سترګو لیدلې ده. البته فیریر د هغه وخت د زیاترو انګریزي لیکوالانو په څېر دا نه وایي چې دا معلومات یې له کومه کړي دي؟ فیریر دغه راز قطب الدین ایبک، چې د سلطان شهاب الدین غوري، یو ترکي غلام و او د هغه له مرګه وروسته په ډهلي کې پاچا سو لودي افغان بولي(۸) شیر شاه سوري لودي بولي(۹) بایزید روښان، چې په قوم اورمړ او په کاني کروم کې ژوند کړی و، لودي بولي(۱۰). سړی داسې فکر کوي چې دی به هر څوک لودي بولي، مګر بیا ګورو چې په بل ځای کې وایي میرویس او د هغه زوی د غلجي

قبیلې څخه وه. مګر وروسته بېرته لاره ورڅخه ورکه ده او وايي چې لودي د توخو د قبیلې يو ښاخ دی.(۱۱)

دغه راز حتی د افغانانو د تاریخ د اته لسمې پېړۍ د پېښو په برخه کې، چې د ده عصر ته ډېرې نېژدې دی، هم ډېر سخت اشتباهات کوي او چې پر افغانانو باندې عمومي قضاوت کوي، نو ځکه يې قضاوتونه سطحي او حتی ظالمانه وي، چې د یوه يا دوو دريو مشرانو د شخصیتونو او خصوصیاتو پر اساس يې خپل عمومي قضاوت بنا کړی وي او د افغانستان او افغانانو په باب مطالعه يې د ځو مخکنيو ټکو څخه معلومېږي، خو د نولسمې پېړۍ د پېښو خصوصاً د هرات او کندهار په باب د ده خبرې ځکه ډېرې دقيقې دي، چې تقریباً هرڅه يې په سترګو ليدلي او ليکلي دي او څرنګه چې په خپلو ليکنو کې خاص سياسي هدف نه لري، نو معلومات يې زياتره د اعتماد وړ دي.

# فيرير په هرات کې

فيرير په کال ۱۸۳۱ م کې د ايران له خوا د هرات د محاصرې د پرې ښودلو څخه وروسته دغه ښار ته ورغلی دی او وايي چې سړی د هغې تباهي او تاوانونو تصور نه سي کولای چې ايرانيانو د هرات د ښار د لسو مياشتو محاصرې په وخت کې دغه ښار ته اړولي دي. دوی له دغه شته من او سمسور ښار څخه بالکل صحرا جوړه کړې وه. دی وايي پر دې ښار باندې يې دونه ګولۍ ورولې وې چې سړی پرته له خرابو او کنډوالو څخه بل څه په سترګو نه ليدل، کورونه، کاروانسرايونه او بازارونه د کلا د نړېدلو برجونو او دېوالونو د ترميم د پاره نړول سوي وه او چې ښار ته دی کتل په حقيقت کې د خاورو او خزلو يوه لويه کوټه وه او بس.

د محاصرې د ختمېدلو سره د خلکو بدبختي او کړاو ختم نه سو، بلکې لا زيات سو. هغه دا چې په ښار کې لوږه او قحطي راغله او هر چا چې د محاصرې څخه مخکې څه خرڅ خوراک ذخيره کړې وه، هغه يې ټول په نس خوړلي وه. ايراني پوځ د ښار د اويا څخه ترنيوي ميلو فاصلې پورې ټول کلي چور کړي او له موادو خالي کړي وه. هغه خلک چې د

ایرانیانو د محاصرې د پیل څخه مخکې د ښار څخه وتلي وه، د محاصرې د ختمېدلو څخه وروسته په تشو لاسونو هغه ښار ته ستانه سول، چې یوه دانه غنم نه په کې پېدا کېده. په ښار کې دونه خطرناکه قحطي پیل سوه، چې سړي فکر کاوه نن او سبا به انسانان سره وخوري. پر دې ښار داسې حال راغی چې انسان یې تصور نه سو کولای.

# یار محمد خان او د هرات خلک

یار محمد خان ټولو نېژدې، کوچنیو ولایتونو ته سړي واستول، د خدای او مسلماني په نوم یې د مرستې غوښتنه ورڅخه وکړه او ضمناً یې پر هر قسم غله دانه باندې مالیات لغو کړل.

د ترکستان، کندهار، او ایماق د سیمو څخه ډېر ژرد هرات ښار ته غله دانه راروانه سوه. دهرات اکثریت ښاریانو، چې په جیبونو کې یې د غلې د رانیولو د پاره پیسې نه درلودې، ځانونه په لس منه جواریو پر شتمنو خرڅ کړل. پلرونو خپل ماشومان تر دې هم په ارزانه بیه خرڅ کړل او ماشومان به د خپلو پلرونو څخه په دې خوښ وه چې لږ تر لږه دغه ګړۍ یې د لوږې د مرګ څخه ژغورلي وه.

دې میدان ته یار محمد خان هم شامل سو. البته نه د دې لپاره چې د خپلو خلکو ژوند ته نجات ورکړي، بلکې د خپلو جیبونو او خزانې،چې د جنګ په جریان کې بالکل خالي سوې وه ، د ډکولو د پاره په هرات کې چې به چا بیخي کوچنۍ ګناه وکړه، ده به سمدستي هغه پر شتمنو باندې خرڅ کړ. خلکو چې دې حال ته وکتل ، دونه ارام او کرار سول، چې هېڅ چا هیڅ ډول ګناه نه کول. د خلکو دې عمل د ده د ګټې یوه لویه منبع ، چې د ګناه کارانو خرڅول وه، له منځه یوړه. یار محمد خان وروسته ښار ته خپل سړي واستول او وظیفه یې ورکړه ، چې په بازارونو کې بې نظمي جوړه کړي او په دې توګه یې د خپل بازار د پاره بیا غلامان پېدا کړل. چا چې به په لوړ اواز خبرې وکړې، د ده جاسوسانو به هغه ونیوی او څوک چې به د نیول سوي سړي تماشې ته ودرېدی هغه به یې هم ونیوی او سمدستي به یې د غلامانو بازار ته بوت او په دوو ساعتونو کې به یې یا په نغده ، یا په اوښ ، یا په غاتره او یا په یوه شي سودا کړ. شل ځوانان د یوه ترکمني آس په بدل کې چې سل تومنه یې ارزښت وو سودا کېدل. دې تجارت ښه زیات وخت دوام وکړ، ترڅو چې انګرېزانو د هرات در بار ته د سبسیډیو په ورکولو دغه عمل بند کړ. (۱۲)

يار محمد خان يو ډول عجيب شخصيت Character درلود. د هغه دظلم او جاه طلبۍ په باب تقريباً ټول مورخين او ليكوالان په يوه عقيده دي. دا چې ده به څه نقشې درلودلې، سړى ځكه څه نه سي ويلاى، چې ده هېڅ چاته د خپل زړه راز نه دى ويلى، خو پر فارياب، بلخ، فراه، لاش و جوين او بالاخره مشهد باندې د ده د حملو او لښكر كښيو څخه سړى داسې اټكل كولاى سي، چې هغه د هرات او د هغه د شاوخوا قلمرو په واكدارۍ او حكمرانۍ بسيا نه و. هرات د هغه د قدرت داسې مركز و، چې د تنګسې په وخت كې يې د هغه د ديوالونو شاته پناه وړله او كله چې به وضع عادي سوه، نو ده به بېرته د ديوالونو څخه بهر د خپلو نقشو د عملي كولو د پاره لښكرې راوايستلې. ايراني ليكوالان او مورخين ښايي د خپلو زړونو د ښه كولو د پاره او يا ښايي پر هرات باندې د خپل ملكيت د حق د تثبيتولو په منظور د يوه دليل د پېدا كولو د پاره هغه د ايران طرفدار، حتٰى مطيع او فرمانبردار بولي. په داسې حال كې چې هغه د هرات د محاصرې څخه مخكې، د محاصرې په جريان كې او د محاصرې څخه وروسته ثابته كړه، چې پر خپل قلمرو باندې د هيڅ چا تيرى نه سي زغملاى. هغه د خپل قدرت او قلمرو څخه د دفاع د پاره د هيڅ سرحد او اصولو مراعت نه كاوه. د ايران د تهديدونو څخه يې انګرېزانو ته پناه يوړه او د هرات څخه د دفاع ټولې چارې يې انګرېز صاحب منصب پاټينجر ته وسپارلې. انګرېزانو ته يې ځان دونه تسليم كړ، چې هغوى فكر وكړ، چې يار محمد خان د دوى خپل سړى دى او چې زړه يې غواړي هغې لارې ته به يې برابروي. كله چې يار محمد خان پوه سو، چې د ايران خطر رفع سوى دى، بيا يې نو انګرېزانو ته وروښودله، چې په هرات كې به پښې له كمبلې څخه نه اوږدوي. د يوې خوايې فارياب او بلخ فتح كول او د امير دوست محمد خان قلمرو يې تهديداوه او د بلې خوا يې د امير دوست محمد خان د كورنۍ سره دوستي كوله او خپله لور يې د هغه زوى ته ودوله. د ايران سره يې دښمني له سرحده اړولې وه، مګر د ضرورت په وخت كې يې د ناصر الدين شاه مرستې ته ودانګل او په مشهد كې يې د هغه د قواو سره مرسته وكړه. البته نه د دې د پاره چې د ناصرالدين شاه سره يې صميميت موجود وُ، بلكې دې په دې پوهيدى، چې دا ميدان بالاخره ناصرالدين شاه ګټي او دې بايد د تهران له دربار څخه د خپل خدمت

انعام ترلاسه کړي او د احتمال په صورت کې يې له غضبه ځان وساتي. کله چې د مشهد او د ټول خراسان ښوربښ کرار سو، نو ده د خپلې نقشې سره سم د تهران څخه د ظهيرالدوله لقب ترلاسه کړ. د فيرير سره د يار محمد خان د يوې مصاحبې څخه، چې د کامران د وژل کېدلو څخه وروسته يې ورسره کړې ده، پوهېدلای سو،چې هغه د انګرېزانو سره په دوستي کې څه هدف درلود او د هرات د محاصرې او له محاصرې څخه وروسته پېښو کې يې د انګرېزانو څخه خونه ګټه واخيستله.

# ديار محمد خان د خپلې خولې نکل

فيرير ليکي:"..... يار محمد خان د چلم او چای څخه وروسته خبرې سياست ته يوړې او په ضمن کې يې زما څخه وپوښتل، چې آيا زه انګرېز يم؟ زه پوهېږم چې تاسې ولې دا خبره پټوئ. بيخي سمه ده، خپل مطلب په ځرګند ډول راته ووایاست. که ستاسې د دولت په نزد، زه ګناه ګار يم، زه هم له تاسې څخه شکايت لرم. اوس تېرې خبرې تېرې سوي دي اوس بايد د دواړو خواو څخه يو اقدام وسي او امکان لري، چې زموږ او ستاسې روابط بېرته سره ټينګ سي. زه به ستاسې سره هغومره صميميت وښيم، چې تاسې يې امکان وينئ. د پاټينجر او ډي ار سي ټاډ سره زما سلوک بايد ستاسې په نزد زما مقام ټيټ نه کړي، ځکه چې دې دواړو کسانو شرابي او ليونی کامران زما په مقابل کې تحريکاوه. زما ژوند په خطر کې و او ما بايد ځان ساتلی وای. زه هر وخت په وېره کې وم او اوس چې هغه مړ دی، دا موضوع بيخي له منځه تللې ده، فعلاً د ټول مملکت اختيارات زما په لاس کې دي. افغانان ماته وفادار دي، ما د اِيرانيانو څخه خپل ګرېوان خلاص کړی دی، اوس نو خپل مطلب صاف راته ووایاست. که ستاسې اتحاد ماته ګټور وي، زما خدمتونه به هم تاسې ته مفيد وي.

کله چې ديار محمد خان خبرې خلاصې سوې، زه حيران وم ،چې څه ورته ووايم. هغه يقين درلود چې زه انګرېز يم، نو ما په ډېره ساده‌ګۍ ورته وويل چې زه انګليس نه يم او جداً درته وايم، چې هېڅ سياسي ماموريت هم نه لرم او په هېڅ دسيسه کې به برخه وانه خلم.

زما دغو خبرو په هغه کې يو ډول د عذر غوښتنې احساس پېدا کړ. وروسته يې نو په هرات کې د انګليسي صاحب منصبانو د سلوک په باره کې

خبرې پيل کړې او وې ويل، چې زه د انګليسانو په نقشو خبر يم او ښه پوهيږم، چې هغوی د خپلو نقشو سره څومره علاقه لري. که په هرات کې د هغوی نفوذ زما له نظرياتو سره موافق وای، په دې کې شک نسته، چې دوی به دلته ډېرې ريښې ځغلولې وای. که څه هم چې دوی دلته ډېرې زياتې پيسې ولګولې، مګر زما په برخه کې يې دوی ته کومه ګټه ونه رسوله. ما دوی ته داسې ښودله چې د دوی په دام کې ګير يم، مګر زه د دوی په دام کې لوېدلی نه وم. کله چې به د باندې ګرځيدو، ما قصداً جګړن ډي آر سي ټاډ ته اجازه ورکوله، چې له ما څخه مخکې حرکت وکړي، څو هغه په دې خوشاله سي، چې په هرات کې قدرت او نفوذ لري. تر هغه ځايه پورې چې ممکنه وه، ما خپل صندوقونه د دوی په پيسو ډک کړل او کله چې دوی نورې پيسې نه راکولې، نو ما هم خپل خدمت پرېښود. مېجر ټاډ کوښښ وکړ، چې ما له منځه يوسي، مګر ما هغه له هراته وشاړه."(۱۳)

# بيا هم د يار محمد خان د شخصيت او هدفونو په باره کې

د ايران مشهور ليکوالان د فيرير د سفر نامې او په دغه عصر کې د نورو ليکل سويو کتابونو د مطالعه کولو سره سره بيا هم په دې عقيده دي، چې يار محمد خان او دغه يا هغه افغان مشر د ايران سره د زړه له کومې وفاداري او اخلاص درلود. په داسې حال کې چې افغاني مشرانو په خپل تاريخ کې هيڅ وخت د خارجي قوتونو سره د زړه اخلاص نه دی درلودلی او هر وخت يې صرف د خپلو قومي، قبيلوي، منطقوي او ملي ګټو لپاره د هغوی څخه استفاده کوله. تر دې چې را تېر سو، افغانانو د ايران سره د ژبني او قومي اختلاف ترڅنګ ډېر زور مذهبي اختلاف درلودلی دی. افغانان ټول حنفي مذهبه سنيان او ايراني پاچاهان او مشران متعصب شيعه ګان دي. دغه نن ورځ په کندهار کې چاته د غجر (قاجار) زوی خطاب کول ښکنځل او توهين ګڼل کيږي او په ځينو پښتني منطقو کې روس او غجر بيخي څنګ پر څنګ سره ياديږي.

* يار محمد خان په دې پوهېدی، چې ايرانيان د هرات د بشپړ الحاق نقشې لري او په دې هم پوهېدی، چې انګرېزان په هرات کې د ايرانيانو

دنفوذ سره ډېر سخت مخالف دي. هغه ښار چې د ده تر کنټرول لاندې و، د دواړو قدرتونو ترمنځ د مبارزې میدان و او ده د هغوی له تضاد څخه ترمرګه پورې پخپله ګټه استفاده وکړه. د هغه شخصیت د ګېدړې او زمري ترکیب و. د ښکار په نیامت یې ځان تر بیخي لیرې واټونو رساوه او چې د ښکاریانو ډزې به یې ترغوږ سوې او د خطر احساس به یې وکړ، نو د ښار دروازې به یې په ځان پسې وتړلې. هرات د ده ځنګل او دی یې پاچا و. هغه تر مرګه د زمري غرومبې کاوه او چې هر وخت به پوه سو، چې د تورې په ژبه خبرې یې په وس پوره نه دي، نو بیا به د ګیدړې په شان هوښیار و او په هر ډول یې حریف تېر ایستی.

# یار محمد خان او انګرېزان

فیریر په خپل کتاب کې لیکي، چې انګرېزانو د هرات د محاصرې څخه وروسته، د قحطي څخه د هرات د ښاریانو د خلاصولو او د دغه ښار د بیا آبادولو د پاره پیسې ولګولې. جګړن پاټینجر او ډګروال ستوډارټ فکر کاوه، چې افغاني مشران به یې په دې توګه تر خپل احسان لاندې کړي وي، نو هغوی ته یې څو پېشنهادونه وکړل. یو دا چې د هرات حکومتي سیستم باید اصلاح سي او اداره یې د برتانیې استازو ته وسپارله سي، دویم دا چې د هرات ارګ باید دوه منظم هراتي کنډکه، چې صاحب منصبان به یې انګرېزان وي، اشغال کړي.او دریم دا چې د هرات پوځونه باید د غوریان قلعه، چې د ۱۸۳۷ م کال راهیسې د ایرانیانو په لاس کې ده بیرته اشغال کړي.

یار محمد خان د هغوی یو پېشنهاد هم منظور نه کړ او کله چې د برتانیې صاحب منصبانو سر زوري وکړه او حتی د یار محمد خان ورور شېر محمد ته یې ښکنځل وکړل او په نوکرانو یې هغه پورې واهه، نو یار محمد خان لومړی د پاټینجر د هغه افغان نوکر لاس پرې کړ، چې د ده ورور یې پورې وهلی و او بیا یې نو فرقه مشر لعل محمد خان ته وظیفه ورکړه، چې دوه سوه عسکر ورسره واخلي او د پاټینجر د کور پر شاوخوا باندې ودرېږي او تر سختې څارنې لاندې یې ونیسي.

یار محمد خان په دې پوهېدی چې پاټینجر د ده پر ضد په دسیسو لګیا دی، نو ځکه به یې پر یوه دروازه ډېر سخت مقاومت ورسره وکړ او پر بله

دروازه به بېرته دونه ورته کوږ سو، چې د سبا د روغې جوړې د پاره به يې لاره هواره کړه. يار محمد خان په دغه توګه تر هغې ورځې پورې د انګرېزانو سره ګوزاره کوله،چې نور نو د ده جيب ته د هغو د خزانې څخه يوه پيسه نه راتله. يار محمد خان فيرير ته وويل دوی غوښتل چې مالوټ او تباه کړي او زه به احمق وای، چې مخکې له مخکې مې اقدام نه وای کړی.

فيرير ليکي، چې پاټينجر ته هم د يار محمد خان شخصيت معلوم و او پوهېدی، چې څرنګه ځان ورڅخه خلاص کړي. هغه ځان د پېسو په زور د يار محمد خان له نظارته خلاص کړ او د شاه کامران سره يې ارتباط ټينګ کړ، مګر هغه تر هغه وخته پورې ازاد ګرځېدی، چې د هرات دربار ته يې پيسې ورکولې. که څه هم چې کامران او د ده وزيران د انګرېزانو په زور ناست و، مګر يوه هم د انګرېزانو احسان نه مانه، ځکه دوی ټول په دې پوهېدل، چې د انګرېزانو سخاوت د خپلو ګټو د خوندي کولو د پاره دی، نه د هرات د خلکو د ساتلو د پاره. يار محمد خان تر هر څه دې خبرې ته زيات متوجه و. هغه د کال ۱۸۳۹ م د مارچ د مياشتې څخه د ايران د دربار سره په تماس کې و او غوښتل يې چې د انګرېزانو په مقابل کې ملاتړ ورڅخه ترلاسه کړي. يار محمد خان په دغه وخت کې محمد شاه قاجار ته پېشنهاد وکړ، چې د ده او د کندهار د سردارانو سره لاس يو کړي او د شاه شجاع په مقابل کې يو لښکر ترتيب کړي، مګر د يوې خوا انګرېزانو ډېر چټک عمل وکړ او له بلې خوا د ايران شاه د انګرېزانو پر ضد د لښکر د پرابرولو د پاره پيسې برابرې نه کړې او يار محمد خان پوه سو چې تر ايرانيانو يې د انګرېزانو دوستي په ګټه ده. يار محمد خان تر هر څه دمخه شاه شجاع ته د هغه د کاميابي مبارکي ووېله اوپه دې اقدام سره يې د پاټينجر څخه لاره ورکه کړه. په دغه وخت کې پاټينجر ته خبر ورسيدی، چې په هرات کې يې ماموريت ختم سوی او د ده پر ځای بل څوک مقرر سوی دی. هغه د يار محمد خان د شر څخه د خلاصېدلو له امله دونه خوشاله و، چې پښې يې مځکې ته نه ورتلې. ډي آر سي ټاډ Major d, Arcy Todd د پاټينجر پر ځای وټاکل سو. د برټانوي هند ګورنر جنرال، مېجر ټاډ ته وظيفه ورکړې وه، چې د انګليسانو د حکومت په برخه کې د شاه کامران او د هغه د دربار نظر معلوم کړي او که چېرې څه

نارضايت موجود وي، نو علت يې معلوم کړي او د علت د له منځه وړلو لار يې ولټوي د شاه کامران سره د اتحاد يو تړون لاسليک کړي.
يار محمد خان ته د خپلو پخوانيو اعمالو يو معافي ليک ورکړي، څو په آينده کې د هغه اعتماد جلب کړي، مګر دا بايد ورسره ونه مني، چې انګريزان د تل د پاره په هرات کې د ده او د ده د کورنۍ حکومت تضمينوي.
د هرات له دربار سره د شرق الهند د کمپنۍ مالي روابطو ته توجه وکړي.
انجينران او د توپخانې صاحب منصبان ورسره واخلي او د هرات د ښار کلا او دېوالونه ترميم کړي.
د امکان په صورت کې د ايران او د هرات د ولايت ترمنځ سرحد وټاکي.
د بخارا او خيوا مشران د انګريزانو په اهدافو خبر کړي او وروسته نو کابل ته ولاړ سي او پاټينجر په هرات کې د انګريزانو د حکومت د نماينده په حيث پرېږدي.

# ميجر ټاډ او يار محمد خان

د ميجر ټاډ ماموريت په لومړي سر کې کامياب سو او هغه د شاه کامران سره د دوستۍ تړون لاسليک کړ. انګلينډ د هرات استقلال تضمين کړ. برتانيې دغه راز د هرات په مشرانو دا ومنله چې د غلامانو تجارت به بندوي او د برتانيې د قبلي اطلاع څخه پرته به د نورو حکومتونو سره تماس نه ټينګوي او برتانيه به هر کال د هرات د محاصرې څخه مخکې د کلني عايداتو په اندازه پيسې، د هرات حکومت ته ورکوي.
د برتانيې حکومت د دهقانانو، تاجرانو او دوکاندارنو سره ډېرې مرستې وکړې او د هرات د ښار په کلا او دېوالونو يې ډېرې زياتې پيسې ولګولې. که هرات د انګريزانو په لاس کې وای هم به يې تر دې زياتې پيسې نه وای ورباندې لګولې او په دې کې شک نسته چې انګريزانو به فکر کړی وي، چې هرات نور د دوی خپل سو، ځکه چې دوی په دې ښار کې د بيخي زيات سخاوت څخه کار واخيست، مګر دې قربانيو او لګښتونو

د شرق الهند کمپنی ته چنداني ګټه ونه رسوله. یار محمد خان هغوی ته تقریباً هیڅ امتیاز ورنه کړ او د هرات د مطلق واکدار په حیث پاته سو. ده ځکه د انګریزانو د وجود تحمل کاوه، چې هغوی د ده جیب ته طلاوې تویولې.

فیریر لیکي چې د انګریزانو استازي بالاخره په دې پوه سو، چې یار محمد خان د هغوی د هر عمل په مخ کې خنډ دی، ځکه چې هغوی شاه کامران په پرېمانه شرابو دونه خوشاله ساتلي و، چې د هغوی سره یې هر څه منل، مګر انګرېزانو په هر اقدام کې د وزیر یار محمد خان منظوري ته ضرورت درلود او هغه د هیڅ شي منظوري نه ورکوله. انګرېزانو د کامران څخه وغوښتل چې یار محمد خان له مخه لیرې کړي او کامران ورته وویل، چې ښه وژلو یې په بله لاره له مخه نه سي لیري کولای، مګر جګړن ټاډ د یار محمد خان د وژلو په مسله کې همکاري ته نه حاضرېدی. هغه د یار محمد خان نورو مخالفو خانانو ته اجازه ورنه کړه، چې یار محمد خان د هغه په کور کې په داسې حال کې مړ کړي، چې د ډېرو شرابو د چښلو له لاسه بې سده سوی و. بالاخره یوه ورځ شهزاده کامران په ارګ کې د یار محمد خان څخه د یو لکو روپیو حساب وغوښت، خو هغه ورته وویل چې پیسې یې په حکومتي لګښتونو لګولي دي او حساب ته حاضر نه سو. کامران حمله ورباندې وکړه او حتی خنجر یې ورباندې راوایستی، مګر په کامران کې د ځوانی زورپاته نه و او خنجر یې بېرته په ملا کې وواهه. په دې سلسله کې یو ځل د یار محمد خان د کاکا زوی دین محمد خان، چې تر دې وروستیو شپو پوري یې د وزیر سره ښه روابط درلودل، هم د یار محمد خان د وژلو د پاره په دسیسه کې ناکام سو. یار محمد خان دغه ټول اقدامات او دسیسې د انګرېزانو څخه بللې او د هغوی سره یې ورځ په ورځ بد بیني زیاتېدله.

انګرېزانو د کال ۱۸۳۹ م د اګسټ تر میاشتې پورې په هرات کې شپږ لکه روپۍ شپېته زره پونډه، لګولي وه. مګر د انګرېزانو دې ټول سخاوت د یار محمد خان په نظر کې تغیر رانه ووست او هغه تر پایه پورې انګرېزانو ته د دښمنانو په سترګه کتل. انګرېزان بالاخره خبر سول، چې یار محمد خان د ایران پاچا محمد شاه ته یو لیک استولی او په هغه کې یې د انګرېزانو څخه ژوره ګرکه ښودلې او ورته لیکلي یې دي، چې دی حاضر دی، خپل خان او حکومت د هغه لمنې ته واچوي.

هم جګړن ټاډ په دې پوه سو. چې د هرات څخه په دغه توګه استفاده نه سي کولای، او هم یار محمد خان په دې خبر سو، چې انګرېزانو ته دده او د ایران د دربار ترمنځ د لیکونو رپورټ رسېدلی دی. د انګرېزانو استازي ته دا معلومه وه، چې یوازې د زیاتو پیسو د لګولو دلارې کولای سي، خپل خان او ملګري په هرات کې وساتي او د کال ۱۸۴۰ م د جنوري په میاشت کې یې لس لکه روپۍ شاه کامران، د ده وزیر او د هرات لخو لېږو خلکو ته په کومک کې ورکړي. مګر یوه میاشت لا نه وه تېره سوې، چې یار محمد خان د ایران شاه ته یولیک واستاوه او په هغه کې یې خپل ځان د ایران د شاه وفادار ملګری بللی او ورته لیکلي یې و، چې انګرېزانو ته یې صرف د یوه نزاکت په اساس په هرات کې د اوسېدلو اجازه ورکړې ده. په همدغه وخت کې په تهران کې د روسیې سفیر ته یو لیک واستاوه او له هغه څخه یې وغوښتل چې خپل یو استازی هرات ته واستوي. د جګړن ټاډ حوصله نوره ختمه سوه او دونه په قار سو، چې یار محمد خان یې په توپنچه تهدید کړ، مګر ګورنر جنرال لارډ اکلینډ جګړن ټاډ ته ولیکل، چې د یار محمد خان سره باید د روغې جوړې د لارې پر مخ ولاړ سي او په هرات کې د ایرانیانو په مقابل کې د ده مقاومت او خدمتونه هېر نه کړي او یار محمد خان ته باید د غوریان د قلا د ترمیمولو د پاره هم پیسې ورکړل سي. برتانوي هند په دې توګه په هرات کې د کال ۱۸۴۱ م تر جنوري پورې، یعنې په څه باندې یو نیم کال کې، د هرات خزانې ته تقریباً درې سوه زره پونډه مالي مرسته ورکړه، مګر تر پایه پورې یې یار محمد خان د ځان نه کړ. په هرات کې چې انګرېزانو هرڅه زیاتې پیسې لګولې په هغه اندازه د یار محمد خان تمه زیاتېدله، حتٰی د جنوري په میاشت کې یار محمد خان د ایران صدراعظم ته ولیکل، چې ده ته د ګرشک د نیولو د پاره یو څه پیسې ورکړي.

دا لیک د انګرېزانو لاسته ورغی او د دې لیک سره نور د جګړن ټاډ حوصله تنګه سوه. هغه لومړی د هرات دربار ته د پیسو ورکول بند کړل او بیا یې نو هند ته د تللو فیصله وکړه .(۱۴)

یار محمد خان نه د ایرانیانو تهدیدونو او محاصرو پر ګونډو کړ او نه د انګرېزانو پیسو او طلاو د هغه په اراده او نقشو کې تغیر راووست. د یار محمد خان حرص، خود خواهي، وسعت طلبي او د استقلال غوښتني حس سرحد نه پېژانده. هغه هر څه د خپلې نقشې سره سم او تول د ځان

د پاره غوښتل. محمود محمود د یوه انګلیسي مامور ایدوارډ لډویچ میټفورډ Edward ledwich Mitford له قوله، چې د هرات د محاصرې څخه وروسته په خفیه ډول ایران او افغانستان ته تللی او یار محمد خان یې پخپله لیدلی دی داسې لیکي" په دې کې شک نشته، چې یار محمد خان ډېر هوښیار او زیرک سړی دی او د ده دغه هوښیاري له هغه څخه زموږ په مقابل کې یو خطرناک دښمن جوړ کړی دی. دا سړی په هندوستان کې زموږ د عملیاتو څخه خبر دی او پوهیږي چې موږ هلته څه کوو. دې په دې پوهیږي، چې زموږ د دوستۍ او حمایې وروستۍ نتیجه د خاورې اشغال او تصرف دی. دی بیریږي چې مبادا لاسته راوړي اقتدار او نفوذ له لاسه ورکړي، نو په دې لاره کې هر کار ته حاضر دی او حتی د دې د پاره چې موږ هرات ورڅخه ونه نیسو هغه دې ته حاضر دی، چې دغه ښار بېرته ایران ته وسپاري"(۱۵)

محمود محمود بیا هم د انګریزانو د همدغه مامور، میټفورډ له قوله لیکي، دا چې یار محمد خان فعلاً نه غواړي زموږ پر ضد اقدام وکړي، علت یې دا دی، چې زموږ پیسو ته محتاج دی. موږ په دې لږ وخت کې هغه ته شپږ دیرش لکه روپۍ ورکړي دي، زه په دې عقیده یم چې موږ دا ټولې پیسې ببځایه لګولي دي، ځکه چې هر وخت موږ ته ستونزه راپېښه سي، یار محمد خان به زموږ پر ضد قیام کوي او خپله واقعي څېره به ښکاره کوي.(۱۶)

په زړه پورې خبره دا ده، چې محمود محمود او نور ایراني لیکوالانو او مورخینو په هغه وخت کې ټولې دغه راز لیکلې سوې سفرنامې لوستي دي او د یار محمد خان او نورو افغاني مشرانو د شخصیتونو سره ښه اشنا دی او په دې خبرې ټول ښه پوهیږي، چې د افغانستان مشرانو او واکدارانو صرف د خپلې خاورې او قدرت د خوندي کولو د پاره کله ایران او کله انګریزانو ته مراجعه کړې ده او په حقیقت کې یې له یوه سره د زړه له کومې صمیمیت نه درلود، مګر ایراني لیکوالان ، په تېره بیا محمود محمود، بیا هم ادعا کوي، چې یار محمد خان د ایران د دربار او د ایران د شاه د زړه له کومې دوست و او هر وخت یې غوښتل چې هرات د ایران شاه ته تسلیم کړي. په داسې حال کې چې همدغه وزیر یار محمد خان د ایران له خوا د هرات د لس میاشتنۍ محاصرې په جریان کې د ایران شاه ته د سر په کاسه کې اوبه ورکړې او د ایران د شرمونکي

ماتې یــو علــت تــر ډېره ځایــه پــورې د یــار محمــد خــان تېنــګار او سـخت دریــخ
و.

## یار محمد خـــان


۱. Ferrier p 174
۲. عـین الو قـایع ص ۲۵
۳. Ferrier p 176
۴. سـراج التواریـــخ ص ۱۹۰
۵. عـین الوقـــایع ص ۴۸
٦. Kaye p 207-209
۷. Ferrier p 18
۸. هغـه کتـــاب ص ۱۷
۹. هغـه کتـــاب ص ۹-۱۰
۱۰. هغـه کتـــاب ص ۲۱
۱۱. هغـه کتـــاب ص ۹-۱۱
۱۲. هغـه کتـــاب ص ۲۵۸-۲۵۹
۱۳. محمـود محمـــود ص ۵۷۱
۱۴. Ferrier p 405-418
۱۵. محمـود محمـــود ص ۴۵۱
۱٦. محمـود محمـــود ص ۴۸۴

# ایران

د افغانستان پر خاوره، خصوصاً پر هرات باندې د ایرانیانو د نولسمې پېړۍ د حملو علت د قاجاري شاهانو وسعت طلبي او د فرانسویانو، روسانو او انګرېزانو تحریکات وه.

انګرېزانو د اتلسمې پېړۍ په پای کې پر هند باندې د افغانستان د پاچا زمان شاه د حملو د مخنیوي د پاره ایران دې ته تشویق کړ، چې پر هند باندې د هغه د حملې په صورت کې سمدستي د افغانستان پر خاوره باندې حمله وکړي. ایران، چې پخوا یې هرات او د افغانستان ډېرې زیاتې سیمې خپل ملکیت بللې، پر افغانستان باندې د دغه راز حملې بلنه د خدایه غوښته او په ډېره لېوه موده کې یې د انګرېزانو په مرسته د شاه زمان د دولت د سقوط عوامل برابر کړل. د شاه زمان د سقوط سره د انګرېزانو اندېښنې، لږ تر لږه د لنډ وخت د پاره، ختمې سوې او نور چنداني د افغانستان په غم کې نه وه.

د شاه زمان د سقوط په وخت کې او له هغه نه وروسته د څه باندې لسو کالو د پاره په هرات کې حاجي فیروز الدین والي و او کله کله به یې د ایران د پاچا په نامه خطبه ویله او د هرات مالیات یې د ایران خزانې ته لېږل. د ایران دربار نه غوښتل چې په دغه راز مساعدو شرایطو کې، چې هر څه یې پر زړه برابر وي، بیا هم د هرات په مستقیم اشغال سره ځانته اضافه ستونزې پیدا کړي، ځکه یې نو د هرات د اشغال او په مستقیمه توګه د ایران په خاوره پورې د هغه د الحاق مسئله مناسب فرصت ته پرې ایښې وه. د بلې خوا ایران د شمال د لورې د خپل زورور ګاونډي روسیې د حملو له خطر سره مخامخ و. روسیې په خپل نوبت د ایران په خاوره دعوه درلوده او دې سرحدي خطر د ایران توجه ډېره زیاته خپلې خوا ته اړولې وه.

# د روسیې له خوا د ایران د خاورې نیول او د فرانسې ډیپلوماتیک فعالیت

245

روسیې په کال ۱۸۰۳ م کې پر ګرجستان باندې حمله وکړه او هغه یې اشغال کړ. د ایران پاچا فتح علي شاه قاجار، چې د روسانو په مقابل کې یې د مرستې لپاره د انګریزانو څخه مساعد جواب ترلاسه نه کړ، د فرانسې څخه د مرستې غوښتنه وکړه. (۱)

د فرانسې امپراتور ناپلیون فتح علي شاه ته دوه لیکونه واستول او په هغو کې یې د روسانو او برتانوي هند په مقابل کې د ایران او فرانسې د دوستۍ پر ضرورت باندې ټینګار وکړ. فرانسې ایران ته الیکزانډر رومیو Alexander Romieu د سفیر په حیث واستاوه. البته دې سفیر صرف د ناپلیون خط د ایران پاچا ته ورساوه. سفیر په کال ۱۸۰۷ م کې د فرانسې د امپراتور سره په فینکینشتاین کې ولیدل او د مې په میاشت کې یې یو تړون ورسره لاسلیک کړ. د دې تړون په اساس فرانسې دا ومنله چې ګرجستان د ایران خاوره ده او فرانسه به د ګرجستان څخه د روسانو په ایستلو کې هره لازمه مرسته وکړي. فرانسې په دې تړون کې دا ومنله چې د ایران او روسیې ترمنځ به د سولې په ټینګولو کې مرسته کوي او دغه راز به ایران ته وسلې او پوځي مشاورین ورکوي. (۲)

ناپلیون جنرال ماتیو ګارډان General Claure Mathieu Gardane د ایران دربار ته واستاوه او هغه ته یې د نورو هدایاتو په ضمن کې دا هدایت ورکړ، چې ایران، روس خپل ریښتوني دښمن ګڼي او روسیې د ایران بهترین ایالتو نه تهدید کړي او نیولي دي.

د قاجاریانو سلطنتي سلسله یې په رسمیت نه ده پېژندلې او د دغې سلسلې د تاسیسېدلو د وخت څخه په جګړه ورسره لګیا ده، نو جنرال ګارډان باید دا ټولې دښمنۍ ایرانیانو ته ورپه زړه کړي. د هغوی او روسانو ترمنځ د دښمنۍ اور لا هم تازه کې او د ایران خلک د روسانو په مقابل

کې د ښمني او ټينګار ته تحريک کړي او د روسانو څخه د خپلو خاورو د ترلاسه کولو په لاره کې د مرستې وعده ورسره وکې. جنرال ګاردان ته هدايت ورکړه سوی و، چې بايد کوښښ وکړي، چې د ايران او عثماني ترکيې ترمنځ اتحاد ايجاد کړي، څکه چې روسيه د دواړو مشترک دښمن دی او روسيې د خپلو جنوبي ګاونډيانو مځکو ته سترګې خړې کړې دي. ناپليون جنرال ګاردان ته څو ځله توصيه کړې وه، چې د انګرېزانو او ايرانيانو ترمنځ دښمني زياته کړي او د ايرانيانو توجه د روسانو او انګرېزانو پراختيا غوښتنې ته واړوي.(۳)

ګاردان ته خپل حکومت اجازه ورکړه، چې د ايران سره نظامي تړون لاسليک کړي او تر لسو زرو توپکو او دېرشو توپونو ورکولو پورې وعده ورسره وکړي. د دې وسلو سره بايد صاحب منصبان او بېړۍ هم حرکت وکړي او د ايران پاچا بايد د دغو قواو د پياده کېدلو ځای وښيي او دغه راز بايد د فرانسې عسکرو ته يو څه مدد معاش ورکړي.(۴)

ناپليون د دې څخه مخکې د ډېرې ځوانۍ په کلونو کې پر هند باندې د لښکر کښۍ خوبونه ليدل. هغه غوښتل چې هند فتح کړي او که يې چېرې يوازې فتح نه کړای سي، نو بيا چې د هر چا په مرسته چې کيږي ويې نيسي. هغه غوښتل چې پر هند باندې د لښکر کښي په لاره کې يو ځل مصر ونيسي او کله چې يې دا پروژه ناکامه سوه او د مديترانې او سرې بحيرې د لارې يې هند ته د رسېدلو مخه بنده سوه، نو ئې د روسيې په مرسته پر هند باندې د حملې پلان طرح کړ. د دې پلان په اساس بايد ۳۵ زرو فرانسوي او ۳۵ زرو روسي عسکرو پر استرآباد باندې حمله کړې وای او د هرات او کندهار د لارې يې ځانونه هند ته رسولي وای. تر دې دمخه په کال ۱۷۹۱ م کې د سينټ جيمز په نوم يوه فرانسوي مهاجر د روسيې ملکې کاترين ته پېشنهاد کړی و، چې هند له برتانيې څخه فتح کړي او قدرت بېرته د مغولو امپراتوري ته وسپاري. ملکې کاترين دا مفکوره رد کړه او هغه يې يو خيالي پلان وباله. کله چې پاول د روسيې پاچا سو، هغه د اينګلينډ سره ډيپلوماتيک روابط وشلول او دغه پروژه يې جدي ونيوله. په دې وخت کې ناپليون په اروپا کې په جګړو لګيا وه او پاول په ځانګړې توګه د دې پلان تعقيبولو ته ملا وتړله.(۵)

البته د روسيې او فرانسې ترمنځ دوستي، لکه چې انتظار يې کېدی ايستل کېدی ډېره لنډه وه او فرانسې ټولو هغو قدرتونو ته د دوستۍ غېږه خلاصه

کړه ، چې د روسيې او برتانيې سره يې دښمني درلوده. فرانسوي جنرال ګاردان د يوه مهم هيأت سره ايران ته ورسېدی. په ايران کې داسې اوازې خپرې سوې، چې دغه جنرال ايراني پوځيان روزي او په ګډه د افغانستان د لارې پر هند باندې د حملې کولو خيال لري.(٦)

# د فرانسې د هيأت ناکامي

جنرال ګاردان او د هغه ورسره هيأت د کال ۱۸۰۷ م د ډسامبر په نيمايي کې ايران ته ورسېدل او د ايران شاه او درباريانو يې ډېر ښه استقبال وکړ، مګر مخکې له هغه چې دغه هيأت ايران ته ورسيږي، د ناپليون په شرقي سياست کې تغير راغلی و او هيأت نه پوهېدی چې څه وکړي؟ ګاردان او د هغه پوځي انديوالانو د ايران د عسکرو په روزلو، توپونو جوړولو، د قلاګانو په ترميمولو او مستحکمولو کې ډېره ښه مرسته وکړه ، مګر د هيأت هدف پر ګرجستان باندې، چې مخکې روسيې له ايران څخه اشغال کړی و، د ايران او فرانسې ګډ عمليات وه او په هغه برخه کې جنرال ګاردان هېڅ نه ويل، ځکه چې ګاردان لا په لاره کې و، چې فرانسې او روسيې جنګ سره وکړ. روسيې ماته وکړه، دواړو هېوادونو د تيلسټ موافقتنامه سره لاسليک کړه او د ناپليون او د روسيې د پاچا ترمنځ روابط بهتر سول. دا وخت روسانو له يوې خوا د ناپليون سره د تيلسټ موافقتنامه لاسليک کړې او هم يې د ناپليون په منځګړيتوب د عثماني ترکيې سره سوله کړې وه او نور نو په بېغمه زړه د ايران د شمالي سيمو لاندې کولو ته ورخوشې وه، خو ايرانيانو تل دا تمه درلوده، چې ناپليون به نن وي که سبا وي، روسان يا په زور او يا په سوله د ګرجستان څخه وباسي او دا خاوره به بېرته د ايران لاسته ورسي، خو کله چې ايران له فرانسې څخه هېڅ حصول نه کړه، نو د فرانسې له هيأت څخه يې وغوښتل چې د هغه هېواد له خاورې څخه ووزي.

جنرال تره زل، چې د دغه هيئات يو غړی ؤ ليکي، چې د ايران د اشرافو ډېر لوی عيب، چې د هغه ليرې کول ډېر مشکل کار دی، د دوی حرص دی. په دې مملکت کې پيسې د ملي معبود حيثيت لري، هرڅومره ښه طرح چې د کوم وزير د شخصي ګټو سره ټکر وکړي، هغه ځای پر ځای



ناپلیون بناپارت



سرجان ملکم

ناکامه ده او جنرال ګاردان پخپله لیکي، چې د ایران خلک فوق العاده پول پرست دي.(۷)

# انګرېزان د ایران د سیاست په میدان کې

د کال ۱۸۰۸ م په پسرلي کې د لندن حکومت فیصله وکړه، چې د ایران میدان باید فرانسویانو ته خالي پرې نه ږدي. برتانیې هر فرډ جونز ته وظیفه ورکړه،چې ایران ته ولاړ سي. په دغه وخت کې شرق الهند کمپنۍ جان مالکم ته دوهم ځل بیا وظیفه ورکړه، چې ایران ته ولاړ سي او د هغه هېواد حکومت دې ته تشویق کړي، چې فرانسویان له خپلې خاورې څخه وباسي، مګر دا وخت لا فرانسویانو په ایران کې بشپړ نفوذ درلود او د ایران شاه ډېر ورڅخه خوښ و. د مالکم سره په ایران کې ډېر ښه سلوک ونه سو او هغه وخت یې خصوصاً اعصاب خراب سول، چې د ایران مقاماتو تهران ته د تللو اجازه ورنه کړه. دې سمدستي هند ته ستون سو او ګورنر جنرال ته یې مشوره ورکړه، چې ایران ته قواوې واستوي او د خارګ ټاپو اشغال کړي.(۸)

ګورنر جنرال لارډ مینټو د جان مالکم د نظریاتو سره موافق و، مګر مخکې له هغه چې ده ته د جان مالکم یاداشت ورسیږي، هغه سر هارفورډ جونز ته وظیفه ورکړې وه، چې ایران ته ولاړ سي او د ایران حکومت د برتانیې سره دوستي ته تشویق کړي. په دغه وخت کې جونز د ورسپارل سوي وظیفې په اساس د امر سره سم حرکت کړی و. هار فورډ جونز په داسې وخت کې ایران ته ورسېدی، چې نور نو د ایران دربار د فرانسې د کومکونو او د ایران د پاره د ګرجستان د اخیستلو په لاره کې د فرانسې له مرستې څخه لاس پرېولی و او د انګرېزانو سره د دوستي کولو ته تیار ناست وه په ایران کې هارفورډ جونز ډېر ښه استقبال سو او د فرانسوي هیات وظیفه ګواکی بې نتیجې ختمه سوه.

کله چې د کال ۱۸۰۹ م د فبروري په میاشت کې هار فورډ جونز تهران ته ورسېدی، نو ده ولیدل چې د ایران شاه د روسانو له خوا تهدید احساسوي. ده صرف په یوه میاشت کې د ایران سره نوې موافقه لاسلیک کړه. د دې نوې موافقې د موادو په اساس، ایران له اروپایي قدرتونو سره خپل ټرونونه فسخ کړل او موافقه یې وکړه، چې د هر هغه اروپایي قدرت

سره به مقابله کوي، چې غواړي د ایران په خاوره کې هند ته تېر سي. برتانیې په مقابل کې ژمنه وکړه، چې که هر اروپایي قدرت پر ایران حمله وکړه، نو د ایران سره به مالي او پوځي مرسته کوي ، که چېرې هغه هېواد د برتانیې سره سوله ایز روابط درلودل، نو برتانیه به کوښښ کوي، چې د هغه اروپایي هېواد او ایران ترمنځ سوله ټینګه کړي. که چېرې دغه راز هلو ځلو کار ورنه کړ، نو بیا به برتانیه ایران ته پوځي مرسته ورکوي. که چېرې د افغانستان او ایران ترمنځ جنګ ونښلي برتانیه به، تر هغه وخته پورې، چې دواړو هېوادونو د مداخلې غوښتنه نه وي ورځخه کړې، مداخله نه کوي.

برتانیې په کال ۱۸۱۲ م کې دغه تړون تعدیل کړ او په هغه کې راغلي وه، چې ایران به هېڅ اروپایي قدرت نه پرېږدي، چې د دغه هېواد په خاوره کې تېر سي او پر هند باندې حمله وکړي او که چېرې کوم اروپایي هېواد پر ایران باندې حمله وکړي، نو برتانیه به ایران ته پوځي مرستې او پیسې ورکوي. د کال ۱۸۱۲ م پېښو ثابته کړه، چې دې تړون هم چندانې کار ورنه کړ. په دغه کال ناپلیون پر روسیې باندې یرغل وکړ او برتانیې د سویډن او روسیې سره موافقې لاسلیک کړې. کله چې په همدغه کال د روسیې او ایران ترمنځ جنګونه پیل سول، برتانیې د ایران سره د خپل وروستي تړون په خلاف، د دغه هېواد سره هېڅ مرسته ونه کړه. ایران بالاخره مجبور سو، چې د ګرجستان په شمول ځینې سیمې روسیې ته پرېږدي او د کسپین په اوبو کې د کښتۍ چلولو حق روسیې ته ورکړي. له دې څخه وروسته تر کال ۱۸۲۶ م پورې د ایران او روسیې په سرحد کې یو ډول کراري وه.(۹)

کله چې په دغه مناسبت د سرجان مالکم وینا لولو، نو پوهیږو، چې دغه راز تړونونه د لوبه سره اصلاً اهمیت نه لري. دغه راز قرار دادونه لوی قدرتونه صرف د خپلو ځانونو د ساتلو او ښغمه کولو لپاره کوي او کله چې د سیل او توپان خطر رفع سي او بحران له منځه ولاړ سي، نو بیا قرارداد هم په خپله مخه ځي. مشهور انګریز مورخ سرجان کی وایي د تېرې پېړۍ په وروستیو کلونو کې هند د افغانستان له خوا تهدیدېدی، مګر اوس هغه هېواد د یوه قدرت په حیث وجود نه لري. موږ مخکې کوښښ کاوه، چې له یوې خوا د افغانستان او د بلې خوا د فرانسې په مقابل کې د ایران سره د دوستۍ په ټینګولو په هند کې خپلې ګټې وساتو اوس نو زموږ پالیسي دا

ده، چې هم په ایران کې خپل نفوذ وساتو او هم ځان جنګ ته ورسره تیار وو او غواړو، چې د غرب څخه د حملو او یرغلونو په مقابل کې د افغانستان او سیند څخه د دیوال او مانع په حیث کار واخلو. موږ په عین وخت کې کوښښ کوو، چې د خپل امنیت او مصؤنیت د زیاتولو لپاره د فرانسې او ایران په مقابل کې د سیکهانو سره دوستي ټینګه کړو. دې نوی او عجیب نژاد، د درانې امپراطورۍ د اضمحلال سره سم د اباسین پر غاړه یو زورور طاقت تشکیل کړی و او موږ سمدستي دا لازمه وبلله، چې د دغه راز قوي نژاد څخه چې په دغسې مناسب ځای کې پروت دی او د مسلمانانو سره عمیقه دښمني ولري، دوستي ټینګه کړو او په دغسې بحراني حالت کې ګټه ورڅخه واخلو.(۱۰)

سرجان کې لا تر یوې اندازې تر غاښ لاندې خبرې کوي، مګر جورج کمپبل د زورورو او کمزورو هېوادونو یا د هغه په اصطلاح د متمدنو او نیم متمدنو هېوادونو ترمنځ د قرارداد د ماتېدلو یا رعایت نه کېدلو لپاره ډېر څرګند دریځ لري. دې وایي چې د افغانستان په شان نیمه وحشي ملکونو سره په روابطو کې موږ د بین المللي قانون د څرګندو مقرراتو په رعایت کولو مجبور نه یو. دا هغه مقررات دي، چې موږ یوازې د نړۍ د متمدنو ملتونو په مقابل کې د هغوی رعایت کولو ته مجبور یو.(۱۱)

انګرېزانو او روسانو په آسیا کې په خپل ټول تاریخ کې د دغه فارمول په اساس عمل کړی او هیڅ وخت یې د هېڅ قرار داد او تړون مراعت نه کاوه، ځکه چې هغوی آسیايي ملتونو ته د وحشیانو او خپلو ملتونو ته د متمدنو په سترګه کتل.

## انګرېزان د ایران سره د قرارداد رعایت نه کوي

د روس او ایران په سرحدونو کې تقریباً څوارلس کاله کراري وه او څه مهمه پېښه منځته رانغله. په کال ۱۸۲۶ م کې د ایران او روسیې ترمنځ سرحدي اختلافات پېښ سول. د ایران سرحدي مقاماتو کوښښ وکړ، چې دا شخړې په سوله ایزه طریقه حل کړي او د روسیې مقاماتو ته قناعت ورکړي، مګر د روسیې مقاماتو د ایران د شمالي سیمو د لاندې کولو فیصله کړې وه او په دلایلو نه قانع کېدل. په داسې حال کې چې ایران د روسیې په مقابل کې په هیڅ توګه جنګ ته تیاری نه درلود او پوځ یې بې اندازې

کمزوري او غیر منظم و، بیا هم مجبور سو، چې د روسیې په جنګ ورسي، خو د جنګ د لومړۍ مرحلې څخه معلومه وه، چې د روسیې د منظمو پوځونو سره د ایران مقابله غیر ممکنه ده او د جنګ نتیجه معلومه وه. په دې جنګونو کې د ایران د قواو د ماتې یو علت د ایران د دولت بې کفایتي ګڼله کیږي، ځکه چې د ګلستان د معاهدې څخه وروسته خوارلس کاله تېر سوي وه او ایران په دې څوارلسو کالو کې د خپلو قواو تنظیمولو او سمبالولو ته متوجه نه سو. د تبریز خلک د ایران د حکومتي مقاماتو د فساد څخه دومره په تکلیف وه، چې خلکو او حتیٰ مذهبي علماو او ملایانو روسانو ته د دغه ښار د اشغالولو بلنه ورکړه. کله چې د دغه ښار شاوخوا ته د روسانو پوځیان راورسېدل، نو د ایران عسکرو د ایران د پاچا زوی شهزاده عباس میرزا چې د ټولو قواو قوماندان و، پر سپین مېدان پرې ښود او ټول وتښتېدل. د ایران د پاچا فتح علي شاه قاجار پیسه پرستي هم د ایران د قواو د ماتې یو لوی علت ګڼل کیږي. د جنګ په جریان کې هغه حاضر نه سو، چې د خپلو پوځیانو د اکمالولو لپاره جبهې ته پیسې واستوي او ایله د جنګ په پای کې یې صرف لس زره تومنه جبهې ته ولېږل. په داسې حال کې چې د جنګ د ختمېدلو وروسته روسانو سل میلیونه تومنه د جنګ تاوان ورباندې حواله کړ او شپېته میلیونه تومنه یې نغد ورڅخه واخیستل.(۱۲)

په دې وخت کې سر جان میک ډانلډ Sir John McDonld په ایران کې د انګریزانو سفیر و او سره له هغه چې د ایران سره د انګریزانو په ټولو قراردادونو پوره خبر و، د روسیې او ایران ترمنځ په مذاکراتو کې یې یوه د انصاف خبره ونه کړه. د جنګ په پای کې ایران د روسیې سره د ترکمان چای موافقه لاسلیک کړه او د دې موافقې په اساس ایران نوري خاورې هم له لاسه ورکړې او د کسپین د بحیرې په اوبو کې د بېړۍ چلولو حق یوازې روسانو انحصار کړ. د ایران شاه په دغه جنګ کې د برتانیې څخه د ډېر زیات ملاتړ تمه درلوده، مګر برتانیې تقریباً هېڅ ورسره ونه کړه او د برتانیې استازي صرف کوښښ وکړ، چې د سولې شرایط یو څه نرم کړي. کله چې د انګریزانو څخه پوښتنه وسوه، چې ولې یې د ایران ملاتړ ونه کړ؟ هغوی وویل چې دا جنګ ایرانیانو پیل کړی دی. که

خه هم چې روسانو د ایرانیانو پر خاوره تجاوز وکړ. مګر هغوی حمله نه ده پیل کړې، بلکې د حملې پیل کولو ته مجبور سوي دي.(۱۳)

د ایران او روسیې ترمنځ د ترکمان چای د معاهدې څخه وروسته، ایرانیانو د روسانو سره مقاومت بېځایه باله او مجبور سول، چې په تهران کې یې د روسانو د استازي د وژل کېدلو له امله د سینټ پیترز بورګ دربار ته د معافي غوښتلو لپاره یو معتبر سفیر واستاوه او دا ډیپلوماتیک توهین یې قبول کړ. کله چې روسانو د ایرانیانو څخه درې میلیونه پینځه سوه زره پونډه د سولې قیمت وغوښت، د ایران دربار یوې خوا ته مخ نه سو اړولای. هغوی د برتانیې څخه د کومک تمه نه سوه کولای، ځکه چې هغوی هرڅه په سترګو لیدل او مرسته یې نه کوله. په داسې حال کې چې هغوی د ایران سره د لاسلیک کړو قراردادونو په اساس لږ تر لږه په دغه راز مواردو کې د مرستې کولو تضمین کړی و. برتانیې بالاخره په کال ۱۸۱۴ م کې د ایران سره یو بل تړون لاسلیک کړ او په مخکني تړون کې یې د مغلقو او پېچلو موادو د منځه وړلو په بدل کې ایران ته دوه سوه پنځوس زره پونډه تاوان ورکړ. ایران په دې وخت کې دونه محتاج و، چې اعتراض یې کولای نه سو او چې هرڅه برتانیې ویل هغه یې منل.(۱۴)

# انګرېزان بېرته د ایران سره دوستي کوي

د ترکمان چای د معاهدې څخه وروسته یو ډول کراري سوه. روسیې نورې خاوري تر لاسه نه کړې، مګر د ایران د مشرانو او درباریانو په مغزونو کې یې نفوذ کولو ته دوام ورکړ. روسانو غوښتل چې خپلې نقشې د بل چا په مالي او بشري مصرف عملي کړي. ایرانیان په تېره بیا ولیعهد میرزا عباس، یې په دې قانع کړ، چې د خراسان په سیمه کې لښکر کشي وکړي. دوی دغه راز میرزا عباس دې ته تشویق کړ چې پرخپوا باندې، چې ډېر زیات ایرانیان یې تښتولي او د غلامانو په بازارونو کې یې خرڅ کړي دي، لښکر کښي وکړي. داسې ویل کېدله، چې د روسیې همکاري بنایي په دې دواړو اقداماتو کې ډېره څرګنده سي. د روسیې پالیسي دا وه، چې نه یوازې د خراسان په نیولو او تابع کولو، بلکې د افغانستان او د بمبئ د بازارونو په نیولو کې د ایران مرسته ترلاسه کړي. ټولو خلکو ویل، چې د

دواړو هېوادونو لښکرې پر خراسان بیا پر هرات او بیا پر هند حمله کوي او ټولو خلکو عموماً دا خبره منله.

د ایران په پوځ کې د کپتان شي Shee په نوم یوه انګرېز صاحب منصب عباس میرزا د خبوا پر اوزبکانو باندې د حملې کولو څخه منصرف کړ او داسې فیصله وسوه، چې پر اوزبکانو باندې یرغل دی بل وخت ته پرې شودل سي او اوس عاجل باید تېرى کونکو افغانانو ته سزا ورکړه سي.(۱۵)

ایران په دغه وخت کې پر هرات باندې د حملې کولو یو پلان جوړ کړ، مګر په ایران کې د برتانیې سفیر مکنایل په ډېره هوښیارۍ مداخله وکړه او دا حمله وځنډېدله. البته ایراني پوځیان خراسان ته ننوتل او په خراسان کې د ولیعهد شهزاده عباس پوځي عملیات ښه بریالي وه. البته عباس میرزا نه سو کولای، چې د خراسان د ازادۍ غوښتنې تحریکونه دې د انګرېزي صاحب منصبانو له مشورو او فعالیتونو پرته وځپي. عباس میرزا په ډېره خوښي د خپلو انګرېزي صاحب منصبانو کپتان شي، ښاغلی بیک Mr Beek او دغه راز پولینډي صاحب منصب ایم بیروسکي M.Berowsky د مرستو او خدمتونو یادونه کوله. د کوچان د ښار په محاصره کې د بمبئي د سپرې توپخانې صاحب منصب واش بروک د توپچي حملې رهبري کولې او زیاتره د ده د قطعاتو په زور دغه ځای فتح سو.(۱٦)

انګرېزانو په دې وخت کې کوښښ کاوه، چې د ایران د ترکمان چاى د موافقې څخه وروسته سرحدات ورته تقویه کړي او ایران دونه کمزوری نه سي، چې په بله حمله کې یې روسان نور ولایتونه ورڅخه لاندې کړي (البته د انګرېزانو سره د ایران غم نه و، بلکې د هند خاورې ته د هغوی د ګام په ګام نیژدې کېدلو څخه بېرېدل) انګرېزانو دغه راز د ایران د پوځ سره د خراسان د ښورښونو په ځپلو کې مرسته کوله، مګر دونه یې نه تقویه کاوه، چې سبا یا د روسانو په ملګرتیا او یا پخپل زور د هرات د نیولو تکل وکړي.

ایراني مورخ محمود محمود د فرېزر د سفر نامې په حواله لیکي" عباس میرزا په تبریز کې د مکنایل سره د خپلو آینده نقشو په باره کې صحبت کاوه. په دغه وخت کې چې عباس میرزا د سرخس قلا فتح کړې

وه او بېرته را روان ؤ په لاره کې د مکنایل سره، چې د عباس میرزا پوځ ته روان و، مخامخ سو. شهزاده عباس د هغه ډېر تود هر کلی وکړ او ورته وې ویل چې ستا په یاد دي ، چې کله کله به مې په تبریز کې ستا سره په خصوصي مجلسونو کې د خراسان د امنیت نقشې جوړولې او په خبرو کې مې سرخس ته اشاره کوله، چې غلو او داړه مارانو ځای په کې نیولی او د خلکو لوټ سوي مالونه په کې جمع سوی دی. ما درته وویل چې هلته خورجین خورجین طلا ده او زه به یوه ورځ دغه ځای فتح کوم. دا به ښه وي، چې تاسې‌هم خراسان ته راسره ولاړ سئ او د هغه ځای د قیمتي مالونو او پریمانو طلاو څخه په ګډه استفاده وکړو. تاسې تنبلي وکړه. ما هلته یو څو ورځې نور هم ستاسې انتظار وایستی، او تاسې رانه غلاست. ما هغه ځای یوازې ونیوی او د ټولو شته منیو مالک سوم.»(۱۷)

محمود محمود چې په ایران کې یې د نولسمې پېړۍ د پېښو په باره کې اته جلده هر اړخیز کتاب لیکلی دی او ایرانیانو ته یې ډېر ښه میراث پرې ایښی دی، خو د خراسان او خصوصاً هرات په باره کې چې خبرې کوي، کله کله پرتی وایي. داسې ښکاري، چې ځینې وخت یې خپله لیکنه دوهم ځل نه وي لوستې او چې هرڅه یې پرخوله ورغلي دي هغه یې لیکلي او چاپ کړي دي. کله کله یې یو پراګراف د بل سره نقاضت لري او ده هم چندانې چرت نه وي په خراب کړی. دې د خراسان او هرات په باره کې یو ځای لیکي:

" اما د ایران دولت په دغه تاریخ کې د هرات نیولو ته مجبور و ، ځکه چې د هرات حکومت یا د خارجیانو په تحریک یا د نورو عواملو په اساس د خراسان د فساد په مرکز تبدیل سوی و. دا د هرات حکومت و، چې د ایران او روسیې د ټول جنګ په دوران کې یې د خراسان او خوارزم امیران تحریکول او هغوی ته یې د خراسان د نیولو بلنه ورکوله. پر دې برسېره هرات د خراسان یوه برخه ده او هیڅ وخت د ایران څخه بېله نه وه او د مرولار همېشه پر هرات سپره وه او د دغې لارې د غلو او داړه مارانو مخه نیوله کېدله.

فقط د نادر شاه له مرګ څخه وروسته، د ایران د هرج مرج په دوران کې هرات یو څه وخت د احمد خان دراني تر لاس لاندې سو او نور نو هر وخت د هغه ښار امیران د ایران ترلاس لاندې وه او د ایران په خوښه مقررېدل ( د تیمور شاه دراني شل کلنې دورې او د شاه زمان پاچاهي ته.

چې د مشهد په شمول ټول خراسان د کابل څخه اداره کېدی،هیڅ اشاره نه کوي) او کله چې په ایران کې امنیت ټینګ سو، افغانستان او هرات بېرته د ایران سره علاقه ونښودله.

که چېرې د فتح علي شاه د دربار غلط سیاست نه وای او هغه د خارجیانو سیاسي چالونو غولولی نه وای او د سرجان مالکم طلاو د هغه د درباریانو سترګې ړندې کړې نه وای او د زمان منطق یې اوربدلی وای، نو بې د لیوني محمود او شیاد فیروز (شاه محمود او حاجي فیروز الدین) سره مادي او معنوي مرسته نه کوله او هغوی بېیې د زمان شاه په مقابل کې نه تقویه کول، نو به نه په افغانستان کې دا ټوله شورشونه منځته راغلي وای او نه به د ایران دولت د خراسان د امیرانو د بغاوت سره مخامخ سوی وای. د محمد شاه په زمانه کې د هرات جنګ، چې د ایران د دولت د تحقیر او سپکوالي سبب سو، نه کېدی. وروستیو پېښو افغانستان او ایران ته ثابته کړه، چې دواړه هبوادونه غولیدلي وه او دواړو په خپلو غلطو سیاستونو سره د خپلو ملتونو د کمزوري کولو او مملکتونو د تباه کولو زمینه برابره کړه.(۱۸)

دا چې ایران به غولیدلی وي او بېګانه لویو قوتونو به د هرات محاصره کولو او د افغانستان د خاورې لاندې کولو ته تشویق کړی وي، دا د محمود محمود او د ایرانیانو او د هغوی د پاچاهانو او حکومتونو کار دی، مګر د افغانستان خلک د خپلې آزادۍ څخه په دفاع کې هیڅ وخت نه دی غولېدلي. د ایران، انګریز، روسیې او بل هر استعماري طاقت سره یې ډغرې وهلې او د خپلې خاورې دفاع یې ورڅخه کړې ده. ایران به غولیدلی وي، خو افغانستان نه دې غولیدلی او دا چې هرات د چا خاوره ده، په دې باره کې موږ نه د چا سره دلایل وایو او نه د چا قانع کولو ته ضرورت لرو، ځکه چې هرات لږ تر لږه د دوه نیمو پېړیو راهیسې د معاصر افغانستان نه بېلېدونکی برخه ده او له هغه څخه مخکې هرات د داسې امپراتوریو مرکز او یا یو مهم ښار و، چې د هغوی ټولو مرکزونه یا په اوسني افغانستان کې وه( لکه صفاریان، غزنویان، غوریان، کرتان، تیموریان) یا د اوسني افغانستان او ایران دواړو څخه بهر وه( لکه سامانیان، خوارزمشاهیان او سلجوقیان) او یا هرات د عربو او ایلخانیانو له خوا اداره کېدی، چې پخپله ایران ته هم بېګانه وه او ایران یې هم تر لاس لاندې و.

دلته مور د محمود محمود خبرې صرف د دې لپاره رانقلوو چې د افغانستان په برخه کې ځانونه د ایران د مورخینو او سیاستمدارانو په نیتونو او نظریاتو خبر کړو. محمود محمود خپلې دې خبرې ته هیڅ توجه نه کوي، چې وایي که فتح علي شاه قاجار او د هغه درباریانو د بېګانه ګانو په تحریک او لمسون د افغانستان په چارو کې مداخله نه وای کړې او د سر جان مالکم رشوتونه یې نه وای اخیستی او د محمود او فیروز په شان لېونیان او کمزوري شخصیتونه یې تقویه کړې نه وای، که ایران رښتیا هم دغه ناځواني نه وای کړې، نو بیا خو به د زمان شاه سلطنت ټینګ سوی وای او په نتیجه کې به نن ورځ ټول خراسان او سیستان او تر اټکه پورې ټوله پښتونخوا د کابل ترکنټرول لاندې وای او د افغانستان ښارونه به ورباندې آباد وای، ځکه چې زمان شاه خو د خپل پلار تیمور شاه په قلمرو لا قانع نه و، هغه د خراسان پر سر د ایران سره دعوې درلودې او ښېله دې چې د ایران د پاچاهانو په خیر دې د انګرېزانو او بېګانه په تحریک او طلا عملیات وکړي، انګرېزان او بېګانه ګان د هغه له تحریکاتو څخه په عذاب وه او که ایران د افغانستان د کمزوري کولو لپاره دسیسې نه وای کړې، دا لا معلومه نه ده، چې د شاه زمان جانشینانو به څه کړي وای او د افغانستان نقشې به اوس څه رنګ او مساحت درلودلای؟ خو سړی دونه په یقین سره ویلای سي، چې لږ تر لږه ټول سیستان به د افغانستان په خاوره کې شامل وای او د ډیورنډ ظالمانه کرښې به وجود نه درلودلای. محمود محمود او د هغه نور اندیوالان باید له برتانیې څخه په دې خوشاله وي، چې د ایران او انګرېزانو د مشترک دښمن (پښتون قام) په ملاماتولو کې یې تر ایران دو چنده زیاته برخه واخیستله. افغانانو ته یې په سرحد کې دننه او د سرحد څخه دباندې ټوله خاوره داسې سره تبۍ کړه، چې تر ننۍ ورځې پورې یې بیا د آرام خوبونه نه دي کړي.

# ایران

1. The Combridge history of Iran vol 7 p 380
2. هغه کتاب ص ۳۸۰-۳۸۱
3. محمود محمود ص ۷۰-۷۲

۴. هغه کتاب ص ٧٦
۵. Russia and Asia p 100
٦. Afghanistan and British India p 26
۷. محمود محمود ص ۷۸-۷۹
۸. Afghanistan and British India p 28
۹. The Cambridge history of Iran vol 7 p 385
۱۰. Kaye vol 1p54
۱۱. The Eastern Question p 274-75
۱۲. محمود محمود ص ۲٦۷-۲٦۸
۱۳. The Cambridge history of Iran vol 7 p 389
۱۴. هغه کتاب ص ۳۹۰
۱۵. Kaye vol 1 p 150-151
۱٦. هغه کتاب ص ۱۵۱
۱۷. محمود محمود ص ۳۲۷
۱۸. هغه کتاب ص ۳۲۹

# ستره لوبه

انګرېزي صاحب منصب ارتر کانولي Arthor Conoly، چې د مرکزي آسیا په برخه کې د ستراتیژیکو اطلاعاتو د راغونډولو لپاره هغې سیمې ته لېږل سوی و، په کال ۱۸۳۱ م کې د قراقروم او د ایران د لارې په هرات او کندهار کې له تېرېدلو وروسته، په هند کې انګرېزي مقامات پر هند باندې د روسیې د حملې د نیت څخه خبر کړل او ورته ویې ویل،چې روسان پر هند باندې د حملې لپاره دوې لارې لري. یا به لومړی خیوا نیسي، بیا به بلخ ته ځي او د سکندر کبیر په څېر به په هندوکش کې تېرېږي او کابل ته به ځان رسوي. له هغه ځایه به جلال آباد او بیا د خیبر د لارې پېښور ته ځي او بیا به له اباسین څخه پورې وزي او هند ته به رسیږي. کانولي وروسته لیکي، چې د خیوا نیول او بیا ځان هند ته رسول یوه له مشکلاتو ډکه لاره ده او دوو درېو کالو جګړو ته ضرورت لري. کانولي وایي دوهمه لاره چې روسي جنرالانو ته خلاصه ده، هغه دا ده، چې هرات به نیسي او هلته به پوځونه ډېره کوي. دوی باید له هغه ځایه کندهار ته ولاړ سي او د کندهار څخه د بولان د درې له لارې کوټې ته او هند ته داخل سي.

کانولي وایي کېدای سي، چې روسان له ځان سره ایران ملګری کړي او د وچې له لارې ځانونه هرات ته ورسوي او یا دا چې د کسپین د بحیرې له لارې استرآباد او بیا هرات ته ولاړ سي. کله چې یو ځل هرات د روسیې او یا د روسیې د متحد ایران لاسته ولویدی، بیا نو دوی کولای سي، چې په دغه ښار کې کلونه کلونه خپل عسکر ډېره کړي او بیا چې یې څه مواد په کار وي هغه د دغه ښار او ددغه ښار له اطرافو څخه لاسته راوړي. کانولي وایي څوک چې پر هند د حملې کولو فیصله وکړي، نو کولای سي، چې د دغو دواړو لارو څخه استفاده وکړي، مګر د دغه یرغل په مخ کې په هر صورت یو لوی خنډ پروت دی، چې هغه افغانستان دی.

کانولي وايي افغانان د روسانو څخه چنداني د خير تمه نه لري او له شر څخه يې ببريږي او د هغوی له متحدينو، ايرانيانو، سره سخت مذهبي تعصب لري.(۱)

کانولي دغه ليکنه څه باندې يوه نيمه پېړۍ پخوا، هغه وخت چې دې ايله پېنځه وېشت کلن ضابط و، کړې ده، څه چې ده هغه وخت ويلي او پيش بيني کړې وه، هغه څه باندې يوه نيمه پېړۍ وروسته په سلو کې سل رشتيا سول. دې وايي که افغانانو د يوه ملت په حيث د يرغلگرو سره د مقابلې کولو فيصله وکړه، نو غليمان به يې دونه مشکلات ووينې، چې اندازه لگول يې گران دي. دوی به د خپلو وينو تر وروستي څاڅکي پورې وجنگيږي، د خپلو غرنيو مرکزونو څخه به د روسانو پر کتارونو پرله پسې حملې کوي. د هغوی د خوراکي موادو ذخيرې به تباه کوي، د يرغلگرو د ارتباط خطونه به قطع کوي او ژر به عقب نشيني کوي او بلې حملې ته به ځان تياروي.

کانولي وايي که افغانان سره بې اتفاقه وي، نو روسان کولای سي، چې يو مشر د بل مشر په مقابل کې استعمال کړي او يا يې توجه د هند خوا ته واړوي او خپل کار ورباندې وکړي، نو په دې حساب د برتانيې دا ډېره په گټه ده، چې افغانستان بېرته په متحد شکل د کابل څخه اداره سي او د يوه قوي مشر تر کنټرول لاندې سي.(۲)

البته کانولي له خپلو امرانو څخه غواړي، چې د هرات کامران شاه د کابل پر تخت کښېنوي. دې وايي که څه هم چې د کامران شاه بې خونده شخصيت به چنداني د زغملو او منلو وړ نه وي، مگر برتانيه د هغه سره په يوې موضوع کې مشترک نظر لري او هغه دا چې دې نه غواړي هرات دې يا د ايرانيانو لاسته، چې د ډېره وخته د هغه د ملکيت دعوه کوي، ورسي او يا دې د روسانو لاسته ولويږي. کانولي وايي په هرات کې ټولو خلکو ته دا معلومه ده، چې کامران غواړي د انگرېزانو سره لاس يو کړي او که چېرې هغه په هرات کې پرېښودل سي، چې له خپله ځانه څخه پخپله دفاع وکړي، نو هرات به نن وي که سبا وي سقوط وکړي او د روسانو لپاره به د هند لاره خلاصه سي.(۳)

کانولي ډېره پر ځای او معقوله پېش بيني کړې وه، خو ده بايد د روسانو په عوض کې د هر بېگانه لښکر په برخه کې دغه راز پېش بيني کړې وای، ځکه هغه چې په افغانستان کې د روسانو پوځونو ته يوه نيمه پېړۍ

وروسته ورپېښه سوه، د انګرېزانو پوځ ته د ده له پيش بينۍ څخه صرف څه باندې لس کاله وروسته ورپېښه سوه او د دې نېستمن هېواد په غرونو کې يې داسې شرمونکې ماته وخوړه، چې په خپل تاريخ کې يې نه وه ليدلې.

# شاه شجاع د سترې لوبې په پيل کې

د کال ۱۸۳۲ م د سپټامبر په مياشت کې شاه شجاع، چې دا وخت په لوديانه کې اوسېدی، ګورنر جنرال لارډ ويليم بينتينک *Lord William Benthink* ته په يوه ليک کې وليکل، چې د ايران وليعهد شهزاده عباس ميرزا هرات ته تللی دی او غواړي، چې هغه ښار ونيسي. که برتانيه له ده سره مرسته وکړي، نو دې به هغې سيمې ته ورسي او د خراسان او ازبکو څخه نيولې د سمندر تر پولو پورې ټوله سيمه به د ده لاس ته ورسي او دا سيمه به ټوله له انګرېزانو سره دوستانه روابط ولري. شاه شجاع په دغه ليک کې وروسته د خپلو مالي مشکلاتو په باب ګور جنرال ته ليکلي وه او په دغه برخه کې يې د هغه توجه غوښتې وه.(۴)

شاه شجاع د همدغې مياشتې په پای کې ګور جنرال ته بيا وليکل،چې څه وخت مخکې ده ته خبر ورسېدی، چې عباس مېرزا د روسانو په تحريک خراسان ته روان دی. ده ليکلي وه، چې د دغو خبرونو د ريشتيا او دروغو د معلوملو لپاره يې سمدستي خپل سړي هرات ته واستول. څرنګه چې شهزاده کامران د ده دوست دی او ده ته هغه د اولاد حيثيت لري، نو يې ورته ليکلي دي، چې که شهزاده عباس خراسان ته ورسېدی د هغه د شړلو لپاره دې خپل ټول وس تمام کړي او پر ده دې تکيه وکړي، دې به د خپلو پوځونو سره هغې سيمې ته ورسيږي. شاه شجاع وروسته ليکي جلالتمابه! ما د مختلفو ځايونو څخه راز راز رپوټونه اورېدلي دي، چې ځينې يې ښايي غلط وي، مګر دا يوه خبره صحيح ده او هغه دا، چې عباس ميرزا د هرات د نيولو لپاره را روان دی. تاسې جلالتماب ته معلومه ده، چې عباس ميرزا به که څه هم چې سمدستي هرات ونه نيسي، مګر د هغه سره دونه قوه ده، چې بالاخره دغه ښار فتح کولای سي. په هرات کې د کامران سره ډېره قوه نسته، که څه هم چې دې به ډېر کوښښ وکړي، چې په لومړي سر کې هغه پر شا کړي، مګر بېله کومکه مقاومت ته دوام نه سي ورکولای. شاه شجاع وروسته ليکي ، چې د افغانستان دراني

او غلجي قبايل ده ته منتظر دي او دى هيواد ته د تللو او د تخت د نيولو لپاره د انګريزانو مرستې ته ضرورت لري. كه چېرې دې تخت ونيسي، نو انګريزان بايد په كابل كې يو دايمي نماينده ولري او ده ته د توپچي پياده او سپرو قواو لپاره درې صاحب منصبان وركړي، څو دې او د برتانيې د حكومت دوستان د هغوى په حمايه ځانونه ټينګ كړي.(۵)

ګورنر جنرال ده ته په جواب كې وليكل، چې د خراسان په باره كې په رپوټونو چندانې اعتبار ونه كړي، ځكه چې خلك راز راز اوازې خپروي او اكثرې غلطې وي. ګورنر جنرال شاه شجاع ته وليكل، چې تاسې د شهزاده عباس د پوځونو په مقابل كې د مرستې غوښتنه كړې وه، خو زه بايد درته ووايم، چې د برتانيې حكومت په مذهبي لحاظ ځانته اجازه نه وركوي، چې تر څو ممكنه وي، د خپلو ګاونډيانو په چارو كې لاس ووهي او كه چېرې شاه شجاع ته مرسته وركړي، نو بيا د دوى بېطرفي پاليسي ته صدمه رسيږي.(٦)

البته د افغانستان او د سيمې تاريخ شاهد دى، چې د انګريزانو دې مذهبي پرهيزګاري صرف د لنډ وخت لپاره كار وركړى دى. د دې ليك څخه تقريباً دوه كاله وروسته د برتانيې هغه حكومت، چې د نورو هيوادونو په چارو كې مداخله يې د خپلو ټولو اصولو خلاف كار باله، د شاه شجاع ملاتړ وكړ او هغه د ۱۸۳۴ م كال د سپټامبر په مياشت كې د انګريزي پوځيانو په مرسته، پر كندهار باندې حمله وكړه او ښار يې محاصره كړ. د شاه شجاع لښكرو د كابل د امير دوست محمد خان او د كندهار د حاكم كهندل خان د پوځيانو په مقابل كې ماته وكړه او دوست محمد خان ته دوولس توپونه،اسونه، اوښان او نور جنګي مهمات او دغه راز انګريز توپچي صاحب منصب كيمپبل *Campbell* ،خيرالدين خان رساله دار، فتح خان، جسيم خان او حالي بخش بنديان په لاس ورغلل. دوست محمد خان كمپبل ته په پوځ كې د توپچي كنډك قوماندانې وركړه، خو خبيرالدين خان او د هغه ملګرو د دوست محمد خان په پوځ كې خدمت كول ونه منل او غوښتل يې چې بېرته له شاه شجاع سره يوځاى سي.(۷)

# دوست محمد خان او انګرېزان



د انګرېزانو د دغې څرګندې مداخلې څخه دوه کاله وروسته په کال ۱۸۳۶ م کې لارډ اکلېنډ Lord Auckland د هند ګورنر جنرال سو. امیر دوست محمد خان هغه ته مبارکي وویله او ضمناً یې د سیکهانو په مقابل کې له هغه څخه مرسته وغوښتله. لارډ اکلېنډ په جواب کې ورته ولیکل، چې زما دوسته تاسې پوهیږئ، چې د برتانیې حکومت د مستقلو هېوادونو په چارو کې مداخله نه کوي. مشهور مورخ ویلیم کې وایي، کله چې د دې لیک څخه درې کاله وروسته د برتانیې لښکرو د امیر د پایتخت پر لور مارش کاوه، نو هغه ته به حتماً د لارډ اکلېنډ دغه کلمات ور یاد سوي وي او بیا نو د امیر په تصور پوهېدل څه ګرانه خبره نه ده.(۸)

انګرېزانو په کال ۱۸۳۹ م کې پېنځه وښت زره پوځیان افغانستان ته د دې لپاره واستول، چې په کابل کې ناست امیر دوست محمد خان، چې دوی ته یې هېڅ ډول تاوان نه و رسولی، له تخته لیرې او پر ځای باندې یې شاه شجاع کښېنوی. ښایي هغه د ګاونډیانو په چارو کې مداخله نه وه او انګرېزان مداخله په بیل مفهوم اخلي. انګرېزانو په ۱۸۷۹ م کال کې یو ځل بیا په افغانستان کې خپلې موټې وازمیېلې او بیا یې د خپلې بېطرفۍ د اصولو او مذهبي پرنسیپونو په خلاف مداخله وکړه او یو ځل بیا یې د افغانستان په غرونو او دښتونو کې شرمونکې ماته وخوړه.

# د هرات او سیمې په برخه کې د برتانیې پالیسي

د برتانیې حکومت په دې خبره ډېر ښه پوهېدی، چې ایران د افغانستان د خاورې په یوه زیاته برخه دعوه لري او تجربې ورته ثابته کړې وه، چې هر وخت یې زړه وغواړي ایران پر افغانستان باندې حملې ته تشویقولای سي. برتانیې ته د ایران پوځي زور هم ور معلوم و، او په تیره بیا د روسیې په مقابل کې په وروستیو شکستونو کې یې ښه درک ور معلوم سوی و. برتانیه په دې پوهېده، چې دوی په ایران کې خپل دښمنان تهدیدولای سي، مګر پخپله د ایران له پوځي قوت څخه ویره ورته په کار

نه ده. د بلې خوا برتانيه په دې پوهېده، چې روسيه په خپلو جنوبي سرحداتو قانع نه ده او د فرانسې په خبر. هغه هم غوارې، چې په هره توگه کيږي ځان د هند سمندر ته ورسوي. د برتانيې حکومت په مرکزي آسيا کې د روسيې پرمختگ په احتياط سره څاره او د دې پېښو انعکاس په لندن کې مقامات سخت وارخطا کړې وه. د لندن د حکومت او مقاماتو د وارخطايي اندازه د هغو کتابونو او رسالو څخه لگول کېدلای سي، چې په هغه وخت کې په برتانيه کې خپرېدل. د برتانيې لوی سياستمدار او ليکوال سر هنري راولنسن *Sir Henry Rawlinson* نظر ورکړ، چې روسيه د هند پر لور داسې پرمختگ کوي، لکه پوځ چې يوه قلا فتح کوي. ده وويل روسيې لومړی خط د اورينبرگ ارتش *Orenboug-Irtysh* سره جوړ کړی دی، بل خط يې د کراسنووودسک *Krasanovodsk* تاشکند خط دی او دې ته تياری کوي، چې بل خط د هرات څخه تر کابل پورې سيمه کې جوړ کړي.(۹)

سر هنري راولنسن په دې نظر و، چې کندهار بايد د برتانيې ترکنټرول لاندې وي او موږ بايد په دې توگه هرات ته نيژدې پراته يو. دې پر خپله دې عقيده کلک ولاړ و، چې روسيه به د آسيا پر لور پرمختگ کوي او د کسپين او مرو د لارې به پر هرات باندې را دمخه کيږي. دې په دې عقيده و، چې برتانيه بايد لويديځ افغانستان تر خپل تسلط لاندې راولي او چې ترڅو پورې په سيمه کې وضع سمه نه وي، بايد چې په موقتي توگه يې د پوځي قواو په زور اشغال کړي. له دغه ځايه بايد د روسيې پرمختگ وڅارو او د آينده اقداماتو پېښ بيني يې وکړو او چې روسيې د آسيا پر لور پرمختگ پيل کړ، موږ بايد د هند کيلي يعنې هرات سمدستي اشغال کړو.

هنري راولنسن فکر کوي، چې کېدای سي هرات د يوه موقتي اقدام په توگه ايران ته وسپارل سي او که چېرې روسيې ايران تهدېداوه، برتانيه به د ايران د تقويې لپاره يو څه پوځيان ورليږي او د روسيې د تهديد دفع به کوي. دې وايي کندهار بايد تر هغه وخته پورې د برتانيې په اشغال کې وي، چې برتانيه د سکهر، پښين، سيبي، کوټې او چمن د اورگاډي خط بشپړ کړي او وروسته نو باقي پاته افغانستان پرې ښودل سي، چې په خپلو داخلي جگړو اخته وي او يو د بل غوښې سره وخوري او يا دې حتلی د روسيې منگولو ته پرې ښودل سي، ځکه چې د روسيې پوځونه نه سي

کولای. چې د ختیځ افغانستان له غزنیو سیمو څخه راتېر سي او هند ته خطر متوجه کړي.(۱۰)

روسیه مجبوره وه. چې په افغانستان کې خپلې قواوې په وچ کلک زور تېرې کړي او که یې چېرې خپلې قواوې. فرض محال په افغانستان کې تېرې کړې وای، نو بیا به سرماتی او لیچ ماتی د انګرېزانو د قواو سره مخامخ کېدلای او په دغو ماتو ګوډو پوځونو به یې هند ورڅخه لاندې کولای. دا کار د روسې لپاره په هر صورت غیر ممکن و او یوازینی لاره، چې روسیې ته پاتې وه، هغه له ایران سره متحد کېدل او په ګډه د عملیاتو پیل کول وه. په دې صورت کې به نو ایران د خپلې غوښتنې او همېشګې آرزو سره سم د افغانستان ډېرې پراخې سیمې لاندې کړې وای او روسیه به د ایران په ملګرتوب یو قدم خپل هدف ته نیژدې سوې وای.

دا یوازې د اته لسمې او نولسمې پېړۍ خبرې نه دي، بلکې د ایران د مورخینو د لیکنو څخه ښکاري، چې ایرانیانو په شلمه پېړۍ کې هم د هرات او کندهار د ملکیت خوبونه او خیالونه له سره نه دي ایستلي او دا سیمه د ایران څرګند حق بولي.(۱۱)

البته برتانیه په دې پوهېده، چې روسیې ایران ته داسې ګوزارونه ورکړي او داسې شرمونکي قراردادونه یې ورباندې تحمیل کړي دي، چې د دوی ترمنځ دوامداره دوستي هېڅ امکان نه لري او که چېرې روسیه او ایران سره دوستان سي، نو د پرمختګ او پوځي عملیاتو د مخنوي لپاره یې په افغانستان کې دننه او د افغانستان له سرحد څخه هاخواته دونه خنډونه پراته دي، چې هروخت یې د عملیاتو او دسیسو د شنډولو لپاره استفاده ورڅخه کېدلای سي.

# ایران او د سیمې د ملکونو وضع

د برتانیې په غربي ګاونډ کې له سیند، بلوچستان، افغانستان او ایران پورې ورو او لویو ګاونډیانو دا وخت دونه مشکلات درلودل، چې برتانیه تر ډېره ځایه پورې د خیر پر غونډۍ ورته ناسته وه او د خپلو دسیسو په عملي کولو لګیا وه. برتانیې له هیڅ ډول تلوار څخه کار نه اخیست، هیڅ ډول عجلې ته مجبوره نه وه او په پوره صبر او حوصله یې حرکت کاوه. ستره

لوبه پیل سوې وه او د لوبې په میدان کې د برتانیې لاس په هر ځای کې بر و.

په کال ۱۸۳۳ م کې د ایران د پاچا فتح علي شاه قاجار ولیعهد شهزاده عباس میرزا، چې تر مرګه یې پر هرات باندې د لښکر کشیو او د هرات د نیولو عزم فسخ نه کړ، وفات سو. د ایران پاچا د عباس میرزا مشر زوی محمد میرزا، چې هغه هم د خپل پلار نقشې تعقیبولې، ولیعهد وټاکه. څه کم یو کال وروسته فتح علي شاه قاجار وفات سو او محمد میرزا د محمد شاه قاجار په نوم پر تخت کښېناست او په خلاص لاس یې د افغانستان د لویو ښارونو د لاندې کولو لپاره پوځي ترتیبات پیل کړل. د محمد شاه قاجار سره تل د افغانستان د دولت د له منځه وړلو مفکوره ورسره وه او په محافلو کې یې په علني توګه په دغه باره کې خبرې کولې. هغه د عملي اقدام لپاره یوه جزیي محرک ته ضرورت درلود. روسان د هغه تحریکولو ته حاضر وه او هر وخت به یې ورته ویل، چې دا کار چنداني مشکلات نه لري. روسانو غوښتل، چې د ایران څخه لاندې کړې ځمکې وساتي او په عوض کې ایران ته په آسیا کې د نورو ځمکو د فتح کولو وعده ورکړي، نو ایران به یې هر وخت د خپل مملکت د شرقي برخو اشغالولو ته تشویقاوه.(۱۲)

# برتانیه د ایران په مقابل کې

په کال ۱۸۳٦ م کې د ایران پوځونه پر حرکت راغلل او ایران د هرات، غوریان او شاوخوا سیمو د اشغالولو د پلانونو عملي کولو ته ملا وتړله. د برتانیې خارجه وزیر ویسکونټ پالمرسټن ***Viscount Palmerston*** په تهران کې خپل سفیر ایلیس ***Ellis*** ته ولیکل، چې ایران پر افغانستان باندې له حملې کولو څخه منع کړي او ورته ووایي، چې که چېرې دوی په دې جنګونو کې بریالي سي او یا نه سي، هغوی ته به ډېر زیات مالي تاوان ورسیږي او دفاعي قوه به یې ډېره کمزورې سي.(۱۳)

ایلیس پالمرسټن ته ولیکل، چې د ایران شاه او د هغه خلک داسې فکر کوي، چې هرات او کندهار د ایران خاوره ده او غواړي، چې د ایران قلمرو د صفوي دولت سرحداتو ته ورسوي.

ایلیس لکي، چې د ایران صدراعظم حاجي میرزا اقاسي او خارجه وزیر پر افغانستان باندې د حملې کولو او نه کولو موضوع بیخي د ایران داخلي مسئله بولي او افغانستان اصلاً د یوه مستقل هېواد په حیث نه پېژني. هغوی د ایران سرحد غزني تاکلی دی. د هرات نیول لومړی قدم او د کندهار اشغال او په ایران پورې د هغه تړل دوهم ګام بولي.(۱۴)

ایلیس وروسته د برتانیې خارجه وزیر ته ولیکل، چې ما ته پرون په تهران کې یوې باوري منبع وویل، چې په تهران کې د روسیې سفیر شاه ته ویلي دي، چې وخت ضایع نه کړي او ډېر ژر پر هرات باندې حمله پیل کړي او که چېرې ژر حمله ونه کړي، نو د برتانیې حکومت به هغه له دې کار څخه منع کړي، ځکه چې برتانیه غواړي د افغانستان شاهي نظام بېرته پر پښو ودریږي. ایلیس وایي ما د ایران صدراعظم او خارجه وزیر ته وویل دا چې ایران غزني خپل سرحد اعلانوي، زه باید ذوی ته ووایم، چې د برتانیې حکومت به د دوی د دې کار څخه سخت ناراض وي او دا زما وظیفه ده، چې مخکې له هغه چې ایران په دې لاره کې کوم عملي اقدام وکړي باید د خپل حکومت نظر ورته ووایم.(۱۵)

ایلیس وروسته د هرات حکمران شهزاده کامران ته یو لیک واستاوه او ورته وې ویل، چې د ایران پاچا پر هرات باندې د حملې خیال لري. که چېرې شهزاده کامران هغه موافقتنامې، چې د ایران د فقید شهزاده عباس میرزا سره یې کړي دي رعایت کړي او خپل یو استازی د ایران دربار ته واستوي، چې هم د ایران شاه ته د پاچا کېدلو مبارکي ووایي او هم د موافقتنامو د رعایت کولو وعده ورسره وکړي، نو زه یقین لرم، چې د ایران شاه به پر هرات او د هغه پر شاوخوا سیمو باندې د حملې کولو څخه منصرف سي.(۱٦)

# د کندهار سرداران او ایران

په دغو شپو ورځو کې د کندهار سردارانو خپل یو استازی عزیز خان د ایران دربار ته واستاوه. عزیز خان د ایران د دربار سره یو دفاعي تړون لاسلیک کړ او د ایران دربار ته یې وعده ورکړه، چې پر هرات باندې په حملې کې به ملاتړ ورسره وکړي. د کندهار سردارانو د ایران څخه د داخلي استقلال غوښتنه کړې وه او پوازې په خارجي چارو کې یې د

ایران د واکدارۍ د منلو وعده کړې وه. ایران د عزیز خان ډېر قدر وکړ. د دوستۍ فرارداد یې ورسره لاسلیک کړ او په ډېر عزت یې رخصت کړ.(۱۷)

په تهران کې د ایران سفیر ایلیس د برتانیې خارجه وزیر پالمرسټن ته ولیکل، چې عزیز خان ده ته وویل، چې پرته له هرات څخه ټول افغانستان دې ته تیار دی، چې ایران ته تسلیم سي او لکه څرنګه چې یې د نادر شاه افشار سره د هند په نیولو کې مرسته کړې وه.دغه راز به د ایران له شاه سره هم ملګری سي او د هند پر لور به حرکت ورسره وکړي، مګر ایلیس وایي کله چې ما د عزیز خان سره د ډېر معتمد سړي له لارې تماس ونیوی، نو داسې راته معلومه سوه، چې د ایران دربار ته د هغه د راتګ یوازینی هدف دا و، چې د ایران په مرسته کندهار د هرات د کامران میرزا له تهدید څخه وساتي او دغه راز ځانونه د سیکهانو له ګوابن څخه په امان کړي. د کندهار سردارانو په هیڅ توګه نه غوښتل، چې ځانونه د ایران دربار ته تسلیم کړي او په حقیقت کې یې له برتانیې سره ملګرتوب ته ترجیح ورکوله. ایلیس عزیز خان ته وویل، چې د برتانیې حکومت غواړي د افغانستان او ایران ترمنځ دغه اوسني سرحدات پر خپل حال پاته وي؛ هغه عزیز خان ته دا خبره وکړه، چې دغه کار هم د ایران د پاچا او هم د کندهار د سردارانو په ګټه دی. ایلیس دغه راز داهم ورته وویل، چې د افغانستان داخلي آرامي او د افغانانو ښېګنه د انګرېزانو په ګټه ده او په دغه اندازه یې له ناکراریو څخه اندېښمن دی. ایلیس په دې عقیده و، چې که برتانیه د ایران مخه ونه نیسي، نو ایران په هر صورت په نیت کې لري، چې پر هرات باندې حمله وکړي. ده ته اطلاع رسېدلې وه، چې روسانو د ایران پاچا د هرات او کندهار فتح کولو ته تشویقاوه او که چېرې هرات او کندهار د ایران لاس ته ورسي، نو به روسیه پر هند باندې د یرغل کولو هدف ته یو ګام نیژدې سي. ایلیس څه کم دوې میاشتې وروسته په یوه بل لیک کې د برتانیې خارجه وزیر ته ولیکل، چې دی د خراسان د والي شهزاده کامران میرزا دربار ته ورغی او هلته یې ولیدل، چې د روسیې هیات ناست و او هغه زما په مخکې د خراسان والي ته وویل، چې که د ایران شاه ده ته امر وکړي، چې د هرات په سفر کې ورسره ملګری سي، نو تر هغه ځایه پورې چې د آسونو ګاډي تللای سي، دې به له هغه سره ملګرتوب وکړي. شهزاده مخکې ده ته ویلي وه، چې له تهران څخه تر هرات پورې د آسونو ګاډي تللای سي.(۱۸)

په تهران کې د برتانيې نماينده د روسيې سفير ته وويل، چې برتانيه غواړي، چې افغانستان د برتانوي هند سرحد وګڼل سي او برتانيه نه غواړي، چې هيڅ اروپايي قدرت له افغانستان سره يا اقتصادي او يا سياسي اړيکې ټينګې کړي.(۱۹)

البته برتانيې پخپله هم خپل ټاکلی سرحد رعايت نه کړ او چې څه باندې درې کاله وروسته يې زړه سو او ستراتيژيکو او سياسي ګټو او اهدافو يې ايجاب وکړ، نو د خپلو لښکرو سره د افغانستان خاورې ته ننوته او د خپلې امپراتورۍ پولې يې عملاً د مرکزي آسيا سرحداتو ته، چې روسيې د خپل نفوذ سيمه ګڼله، ورسولې.

# ايرانيان د هرات په لور

په داسې حال کې چې د ايران پاچا د روسيې په تشويق او مرسته، پر هرات باندې د حملې لپاره تياری پيل کړی و، د هرات واکدار کامران ميرزا او د هغه وزير يار محمد خان الکوزی د ايران پر قلمرو باندې له حملو څخه لاس نه اخيست او د هرات او اوزبکو ترمنځ د ايراني غلامانو تجارت روان و. يو ځل خو د کامران قواو د سيستان څخه پر خراسان باندې حمله وکړه او دولس زره ايرانيان يې د غلامانو په حيث ورسره بوتلل او د مرکزي آسيا په بازارونو کې يې خرڅ کړل. کامران ميرزا د خراسان د دوو ښارونو قاين او خاف حاکمان مجبور کړل، چې د هرات حکومت ته خراج او ماليات ورکړي. هغوی سمدستي د ايران پاچا ته استازي واستول او ورته وې ويل، چې که شاه سمدستي مرسته ور ونه ليږي، دوی مجبور دي، چې کامران ميرزا ته تسليم سي.(۲۰)

د ايران پاچا د هرات پر لور د لښکرو استولو عزم وکړ. البته په ايران کې د برتانيې هيأت څو ځله د ايران شاه او درباريانو ته مشوره ورکړه، چې د هرات سره خپل اختلافات د مذاکراتو له لارې حل کړي.(۲۱)

خو د ايران پاچا ته د روسيي سفير کونټ سيمو نيچ *Count Simonich* د دومره مرستو وعده ورکړې وه او دومره يې پر افغانستان باندې حملې ته تشويق کړی و، چې هغه بېله دې چې ژر يا وروسته پر هرات او بيا د افغانستان پر باقي پاته خاوره باندې د حملې پلانونه جوړ کړي بل فکر نه سو کولای. بالاخره د برتانيې خارجه وزارت په ماسکو کې

خپل سفير ته هدايت وركړ، چې د روسيې له حكومت څخه پوښتنه وكړي. چې ايا تاسي رښتيا د ايران حكومت پر هرات باندې حملو ته تشويقوئ او كه دا كار كوئ، نو دا خو د ايران لپاره په هر صورت زيانمن اقدام دى او د ايران دوستان بايد هغه هڅواد له دې كار څخه منع كړي. دلچسپه خو دا ده، چې د روسيې خارجه وزير كونټ نيزلروډ Nesselrode Count د برتانيې سفير ته وويل، چې د روسيې حكومت په ايران كې د خپل سفير په دغو اقداماتو هيڅ خبر نه دي او كه يې چيرې دغه راز اقدامات كړي وي، نو د روسيې دحكومت د هداياتو په خلاف يې عمل كړى دى. د روسيې خارجه وزير وويل دې يقين لري، چې د برتانيې حكومت ته غلطه اطلاع رسېدلې ده او زموږ سفير پر افغانستان باندې د ايران د لښكر كشي په موضوع كې هېڅ ډول لاس نه لري. كونټ نيزلروډ وويل دې د برتانيې د حكومت په شان په دې عقيده دى، چې د ايران شاه په افغانستان كې د حملې كولو په برخه كې مطلقه غلطه پاليسي اختيار كړې ده.(۲۲)

تاريخي پېښو وروسته ثابته كړه، چې د ايران شاه پر هرات باندې حمله او په افغانستان كې نور زياتره تيرې كونكي عمليات د روسيې په ټونګ او تحريک كول او د روسيې دولت په دې ټولو عملياتو خبر و. د ۱۸۳۷ م كال د جون په مياشت كې د ايران شاه كوښښ وكړ، چې د هرات سره مذاكرات وكړي او دغه بحران په يو ډول حل كړي. د ايران شاه ښايي په دې پوه سوى وي، چې برتانيه په هېڅ صورت د هرات په موضوع او د افغانستان پر نورو سيمو باندې د ايران د يرغل په صورت كې بېطرفه نه سي پاتېدلاى او له بلې خوا ښايي دا ورته معلومه سوي وي، چې د هرات نيول او د صفوي امپراتوري حدودو ته د ايران بېرته رسول څه آسانه كار نه دى او يوازې په خوب او خيال كې ممكن كېدلاى سي. د ايران شاه د هرات حكومت ته د سولې پېشنهادونه ولېږل او په هغوى كې يې دا ليكلي وه، چې د هرات حكومت بايد د ايران دربار ته دايمي يرغمل واستوي، چې د ايران حكومت د هرات له خوا ډېغمه كړي. د هرات والي يار محمد خان الكوزي د ايران د شاه ليک ته دونه سخت جواب وركړ، چې ايران ته بېله جنګه بله لاره پاتې نه سوه.

يار محمد خان د ايران شاه ته وليكل، چې ته يرغمل غواړې، موږ نه د ايران د فقيد پاچا په وخت كې چاته يرغمل لېږلي دي او نه اوس چا ته يرغمل لېږلاى سي. ته وايې د هرات حكومت دې ايران ته تحفې

واستوي، مور به د خپل وس سره سم ډېرې لويې تحفې در واستوو. که شاه په دغو تحفو قانع نه سو او پر مور باندې يې د حملې کولو فيصله وکړه، نو زه وايم پرېږده. چې راسي. مور به تر هغه چې وس مو وي د خپل ښار څخه دفاع وکړو. که چېرې مور مات سو او تاسې مور له ښاره وايستلو، نو په دې کې شک نسته، چې دا ښار به تر هغه وخته پورې ستاسې په لاس کې پاتې سي، چې مور بيا وسايل او اسباب پيدا کوو او بېرته يې درڅخه اخلو.(۲۳)

# هرات د ايران د قواو په مقابل کې

د ايران پاچا په دغه وخت کې خپله زياته قوه ترکمنانو او اوزبکانو ته، چې پر قزاقستان باندې يې حملې کولې او هم يې ايرانيان نيول او د غلامانو په بازارونو کې يې خرخول، متوجه کړې وه. د خېوا اوزبکانو د ايران د پاچا په مقابل کې ډېره زياته قوه راغونډه کړې وه او د مشترکې دفاع لپاره يې ترکمنانو او د هرات د افغانانو څخه مرسته وغوښتله. د ايران شاه خو هفتې د استرآباد په ګاونډ کې پاته سو او هيڅ پرمختګ يې ونه کړ. د شاه په کمپ کې د خوراکي موادو دونه قحطي راغله، چې حتی عسکرو هغه خوراکي مواد چور کړل، چې پاچا ته وړل کېدل. ترکمنانو له سهاره تر ماښامه د ايران پر قواو باندې د خرپ او ترپ حملې کولې او شاه بالاخره دومره زړه تنګی سو، چې فکر يې نه کاوه بري به ترلاسه کړي. البته د هرات افغانانو د ايران د پوځ دغه کمزوري او مشکلات ليدل او دغه علت و، چې د ايران شاه ته يې دونه سخت جواب ورکړ. د ايران شاه بالاخره مجبور سو، چې د ترکمنانو، اوزبکانو او د هرات د افغانانو په مقابل کې له عملياتو څخه لاس واخلي او بېرته تهران ته ولاړ سي.(۲۴)

د ايران شاه په کال ۱۸۳۸ م کې بيا د هرات پر لور روان سو اته زره تکړه پياده عسکر، يو زر پېنځه سوه سپاره عسکر او ډېرش توپونه يې مخکې له مخکې سبزوار ته ولېږل. د هرات حکومت چې د ايران د شاه د حرکت څخه خبر سو. د ښار څخه د دفاع لپاره يې هرې وسيلې ته لاس واچاوه. په ښار کې دننه او د ښار څخه دباندې چې څه خوراکي مواد پيدا کېدل هغه يې عسکري قشلو ته نقل کړل او هغه مواد ، چې دوی نه سو وړلای هغه يې ټول وسوځول. د هرات حکومت حتی چمنونو ته اور واچاوه او د

ښار په دوولس ميلي کې يې ټول کلي تباه کړل. د کليو اوسېدونکي يې يا قلاګانو او ياليرې ځايونو ته واستول. لسو زرو سپرو ته يې امر وکړ، چې د ايران د پوځ په مقابل کې د جنګ په مېدان کې ودرېږي او باقي پاتو ته يې وظيفه ورکړه، چې د ښار او شاوخوا سيمو ساتنه وکړي. د ايران پوځ د ژمي په دونه سخت موسم کې حرکت کړی و، چې د پرمختګ په وخت کې د سختو مشکلاتو سره مخامخ سو او حتلی د ايران شاه پخپله نه سو کولای، چې له خپلې خيمې څخه تر خپلې ګاډۍ پورې ولاړ سي، مګر د ايران شاه خپل عزم فسخ نه کړ او د پوځ سره يې پخپله حرکت کاوه. هغه نورو قطعو ته امر کړی و، چې د غوريان پر لور حرکت وکړي او يو څه قوه يې د ترکمنانو او هزاره ګانو مقابلې ته ولېږل.(٢٥)

هرات د شاوخوا مشرانو او قومي خانانو په مرسته ځان ښې مقابلې ته تيار کړی و او دفاعي حالت يې تربل هر وخت بهتر و. د هرات څه شيعه ګان چې ايران يو څه حساب وربانديې کولای سوای مجبور سول، چې يا له ښار څخه ووزي او يا يې د هرات حکومت شته مني ورڅخه غصب کړه. په هرات کې چې د جنګ څه عسکري ترتيبات لازم وه هغه نيول سوي وه. حکومت د ښار څخه د دفاع په منظور پر خلکو باندې ډېر درانه ماليات حواله کړل.(٢٦)

د هرات د ښار څخه د دفاع لپاره د ټولو نظامي ترتيباتو نظارت يار محمد خان کاوه کامران له سهاره تر ماښامه د شرابو په نشه کې ډوب پروت و او چندانې يې جدي کارونو ته توجه نه سوه اړولای. يار محمد خان د هرې لارې او په هره پلمه د قدرت نيولو ته ځان جوړاوه او خپل ټول رقيبان يې يو په بل پسې له منځه يوړل. يار محمد خان د هرات ښار دونه تقويه کړ، چې البته د اروپايي قواو حملې ته به يې ځان نه وای ټينګ کړی، مګر د ايران په شان يوه هېواد حملې ته يې بشپړه تياري درلوده. په دغه وخت کې هرات ته يو ځوان انګرېز صاحب منصب ***Eldrer Pattinger*** ايلډرډ پاټينجر را ورسېدی. هغه په ټول افغانستان کې په افغاني جامو کې تير سوی او ځان يې هرات ته رسولی و او کله چې هرات ته ورسېدی، ځان يې يار محمد خان ته معرفي کړ. يار محمد خان پوهېدی، چې د دغه انګرېز توپچي صاحب منصب څخه څرنګه کار واخلي او سمدستي يې د هرات د قلا څخه د دفاع او د سنګرونو د جوړولو کارونه ور وسپارل.(٢٧)

دا وخت په هرات کې افغانانو خانونه مقاومت ته تیار کړي وه. د کندهار سرداران د یوې خوا د دوست محمد خان له احتمالي حملې څخه په وهم کې وه، له بلې خوا هر وخت د انګرېزانو تر حمایې لاندې د شاه شجاع د حملې خطر تهدیدول او په دې وخت کې داسې آوازې خپرې سوې وې، چې یار محمد خان پر کندهار باندې د حملې لپاره تیاری کوي.(۲۸)

د کندهار د حاکم کهندل خان لپاره په دغه وخت کې یوه لاره پاته وه او هغه د ایران له پاچا څخه د مرستې تر لاسه کول و. سردار کهندل خان د خپل استازي عزیز محمد خان په لاس د ایران پاچا ته مکتوبونه واستول، ځان یې د محمد شاه د پښنو خاورې او نوکر وباله او هغه ته یې ولیکل، چې د ایران د شاه د یوه نوکر په حیث هر راز خدمت ته حاضر دی.(۲۹)

د ایران شاه د سردار کهندل خان خدمت او وفاداري وستایله او هغه ته یې ولیکل، چې موږ په ډېره نیژدې آینده کې پر هرات باندې د حملې خیال لرو او په کار ده، چې سردار کهندل خان د خپلو مرستیالو قواو سره هلته حاضر وي.(۳۰)

# د هرات محاصره

د ایران شاه د ۱۸۳۷ م کال د نوامبر په میاشت کې د هرات پر ښار باندې د بشپړې حملې لپاره تیاری پیل کړ. کله چې د هغه پوځیان د هرات د ښار شاوخوا ته ورسېدل او وې لیدل، چې د هرات د شاوخوا کلي د هر راز موادو څخه خالي سوي دي، نو سخت وارخطا سول او د جنګ د لومړیو شپو څخه د سختو مشکلاتو پېش بیني کېدلای سوای. د ایران عسکرو د هرات ښار محاصره کړ او د محاصرې د لومړیو ورځو څخه یې د کلیو په چورولو پیل وکړ.

انګرېز مورخ واټسن لیکي، چې ایرانیانو پر هرات باندې د حملې په وخت کې د هېڅ ډول مدني قوانینو احترام ونه کړ او چې څه ظلم او تیری یې له وسه پوره وه، هغه یې وکړ. ایرانیانو حتی د شیعه سیدانو د یوه کلي دېرش تنه نارینه په یوه ورځ ووژل او بیا نو دغه کلي ته ورننوتل او هر راز ظلم او ناروا یې وکړه. د ایران شاه پخپله د محاصرې سختیو او فشارونو

او د هرات د خلکو مقاومت د لېونتوب سرحد ته رسولی و. یوه ورځ یې د خپلې خیمې مخې ته یو افغان او درې تنه ترکمنان د خدای په رضا اعدام کړل او بیا نو خپلې خیمې ته ننوت او د قرآن شریف په تلاوت لګیا سو.(۳۱)

د هرات د ښار د قلا پر برجونو باندې د ایران د توپچي قواو ټولې حملې بې نتیجې وې او د ښار مستحکمو دېوالونو ته یې هېڅ ډول صدمه نه سوه رسولای. بالاخره د ایران صاحب منصبانو فیصله وکړه، چې د ښار پر شاوخوا باندې د کیندل سوي خندق او به یوې خوا ته روانې کړي. خندق تش کړي او قلا ته د نیژدې ورتللو او خندق څخه د تېرېدلو مجال پیدا کړي. ایراني صاحب منصبانو د خندق اوبه وچې کړې، مګر ګټه یې د هرات قواو ته ورسېده هغوی پخپله د دغو اوبو سره مشکل درلود او د ایران پر پوځیانو باندې یې پرته له دروازو څخه، چې ټولې بندې وې، د حملو لپاره بله لاره نه درلوده. له دغې نېټې څخه وروسته افغانانو وخت په وخت پر ایرانیانو باندې ناڅاپي حملې کولې او ډېر درانه تلفات یې ور اړول. البته د دغو بریالیو حملو زمینه افغانانو ته خپلو دښمنانو برابره کړه.(۳۲)

د ایران په کمپ کې د انګرېزانو استازی مکنایل د ایران شاه او درباریانو ته خوشحاله وویل، چې که د هرات محاصره پرېږدي، ښه به وي او بالاخره یې ورته وویل، چې انګرېزان د هرات محاصرې ته ترقیامته لاس تر زني نه سي کېښېنستلای. د ایران دربار د انګرېزانو استازي ته داسې جوابونه ورکول، چې د انګرېزانو حکومت ته د منلو وړ نه وه. د بلې خوا روسانو د ایران شاه پر هرات باندې حملو ته تشویقاوه او یو ځل یې د ایران شاه ته وویل، چې که هرات ونیسي، نو روسیه به ایران ته تر ټولو پورونو ورتېره سي.(۳۳)

## شهزاده کامران او یار محمد خان د محاصرې په وخت کې

په دې ترځ کې د هرات حکمران شهزاده کامران د پاتینجر په لاس د ایران شاه ته یو لیک واستاوه او له هغه لیک څخه ځرګندېږي، چې د افغانستان تر ټولو کمزورو شهزاده ګانو او سردارانو د ایران په مقابل کې

څه راز دریځ درلود. شهزاده کامران په هغه خط کې لیکلي وه، چې زما یاغي اتباعو زما له اتیا ښارونو څخه صرف دغه یو ښار ماته پرې ایښی دی. دا ستاسې له خوا ډېر غیر سخاوتمندانه عمل دی چې اوس زما څخه دغه یو ښار هم اخلئ. ستاسې خدای بخښلي نیکه زما پلار ته د ورور په سترګه او ماته د زوی په سترګه کتل. خو تاسې خپله ورور ګلوي هېره کړې ده. خپل نور اویا ښارونه مو پرې ایښي دي او دلته د یوه تش ښار د نیولو لپاره راغلي یاست. په داسې حال کې چې یو افغان ژوندی وي تاسې به ددغه ښار په نیولو بریالي نه سې. ما دغه ښار ته د دې لپاره پناه راوړې ده، چې ستاسې د خدای بخښلي نیکه قلمرو ته نیژدې وو. ما ویل هغه به د یوه ښه ګاونډي په حیث زما سره د لاسه وتلې قلمرو په بېرته نیولو او د خاینانو په ایستلو کې مرسته وکړي، مګر وګوره، چې اوس زما ګاونډي راغلی دی او ماله خپله وروستي پلرنی ملکه باسي.

تاسې دغه اوسنی ځمکې ټولې زما د کورنیو جګړو په وخت کې تر لاسه کړي دي او اوس راغلي یې دا وروستی ښار هم راڅخه لاندې کوئ. دا د پاچاهانو سره نه ښایي چې د خاینانو سره لاس یو کړي. ته وګوره چې ما ستا د نیکه فتح علي شاه د مرګ په وخت کې ستاسې په مقابل کې څومره ښه سلوک غوره کړ. آیا په هغه وخت کې ټول خراسان یاغي سوی او یاغي کېدلو ته تیار نه و؟ د خراسان ټولو مشرانو ماته بلنه راکړه، چې له هغوی سره مرسته وکړم او ستا له واکدارۍ څخه یې خلاص کړم. ما په هغه وخت کې لس زره سپاره عسکر درلودل او که مې پرخراسان باندې حمله پیل کړې وای، نو زما د سپرو قواو شمېر به دوه چنده سوی وای. تاته نیشاپور یاغي و او په مشهد کې دې ډېره لږه قوه درلوده. زما او د تهران ترمنځ هېڅ بله قوه نه وه پرته. ما په دغه راز شرایطو کې ستا له کورنیو اختلافاتو څخه هېڅ استفاده ونه کړه. ما په هغه وخت کې خپلې قواوې د خپلو یاغي اتباعو په مقابل کې د جګړې لپاره تیارې کړې. ما فتح محمد خان د دې لپاره در واستاوه، چې تاته د تخت د کښېنستلو مبارکي ووایي او دغه راز ستا څخه وغواړي، چې زما سره د لاسه وتلو مځکو په بېرته نیولو کې پوځي مرسته وکړي. ما ویل که زه خپل د لاسه وتلی نور قلمرو بېرته ونیسم، نو لاس به تاته درکړم. ستا جواب څه دی. ته خپل قضاوت ته وګوره وګوره چې ستا ګاونډیان څوک دي؟ زه ستا تر ټولو نږدې ګاونډي یم. تا ځکه خپلې قواوې دلته راوستلي دي، چې ما د خپلو اتیا ښارونو له

وروستي ښار څخه محروم کړې. ما ستا څخه د مرستې غوښتنه وکړه او تا په تـوپـونـو جـواب راکـړ. یـو څه لـه قضاوت څخـه کـار واخلـه، دهـرات محـاصره پرېږده قواوې دې پر شا کړه، ماته هغومره د پوځي مرسته او تـوپـونـه چـې زه یې غوارم راپرېږده او کله چې ما خپل دلاسه وتلي قلمرو بېرته تر لاسه کړ، زه به ستا سیمه دروسپارم. دغه راز هغه خاین افغانان، چې ستا کمپ ته درغلي دي، هغه وشړه. که ته دغو اوسنیو حملو او د هرات محاصرې تـه نـور هـم دوام ورکـړې، نـو آینـده نسلونه بـه دې داسې داړه مـار وبـولي، چـې پر بوډاګانو او بې وزلانـو بـاندې یـې حملې کولې. کـه تـه لـه قضاوت څخـه کار وانـه خلې، نـو خـدای لـوی دی او زمـوږ تکیه هغـه تـه ده. مـوږ اوس هـم تورې پـه لاس ولاړ یـو.(۳۴)

شهزاده کامران د افغانستان د تاریخ یـو لـه تـر ټولـو ضعیـف النفسـو او فاسدو شهزاده ګانو څخـه و، مگر د ایـران د لیکوالانـو محمـود محمـود، مـهدي فـرخ او نـورو د ادعـاو پـه خـلاف یـې هـېڅ وخـت د ایـران د پـاچاهـانو واکمنـي نـه منلـه او د هغـه دغـه پورتنـی لیک، کـه څه هـم چـې ډېر کمـزوري عبارات پـه کـې استعمال سـوي دي، د دې حقیقت ښه ثبـوت دی.

دغـه راز یـار محمـد خـان هـم پـه دغـه وخـت کـې د پـاټینجر پـه لاس د ایـران صدراعظـم حـاجي مـیرزا اقاسـي تـه یـو پېغـام ورواسـتاوه او ورتـه وې ویل، چې مـا خـو تاتـه د پـلار پـه سترګه کتـل، مـگر **تا** د ایـران شـاه د هـرات محـاصرې لپـاره راووست. اوس زه د خپـل زاړه ملګرتیـا پـه اسـاس مجبـور یم، چې د هـرات څخـه دفـاع وکـړم. خـو کـه چېرې دوی د هـرات محـاصره پرېږدي او بېرتـه ایـران تـه ولاړ سـي، نـو زه بـه هـم هلتـه ورسـم او د دوی اطـاعت بـه وکـړم او دغـه راز هغـه تـه ووایـه، چـې کـه زه افغانـانو تـه هـرڅه ووایم هغـوی زمـا پـه خولـه نـه کـوي او د هـرات ښار ایرانیـانو تـه نـه تسلیموي او زه هـم دا جـرأت نـه سـم کـولای، چـې هغـوی تـه د ښار د تسلیمولو پیشنهاد وکړم او موږ ټول په دې خـبر یـو، چې هر افغـان چې د محمـد شـاه کمپ تـه ورغلـي دي او د هغـه سـره ملګري سـوي دي، نـو ډېر بـد سـلوک ورسـره سـوی دی، ځکـه نـو اوس څوک د هغـه ملګرتیـا تـه زړه نـه ښه کـوي. هغـه کتـاب ص (۲۳۴)

پـاټینجر د وزیـر یـار محمـد خـان او کـامران لـه پیغـامونو سـره د ایرانیـانو کمـپ تـه ورغـی. هغـه د وزیـر یـار محمـد خـان مکتـوب د هغـه صدراعظـم حاجي میرزا اقاسـي تـه ورکـړ، خـو صدراعظـم پـاټینجر تـه وویـل، چـې هـرات د

ایران خاوره ده او دا خبره پخپله انګرېزانو هم پخوا منلې ده. البته پاټینجر میرزا اقاسي ته ثابته کړه، چې انګرېزانو هیڅ وخت هرات د ایرانیانو خاوره نه وه ګڼلې. وروسته له هغه چې د ایران د صدراعظم او پاټینجر خبرو چنداني نتیجه ور نه کړه، پاټینجر د ایران د پاچا محمد شاه قاجار خیمې ته ورغی. د ایران شاه د پاټینجر ښه عزت او قدر وکړ او په لومړي سر کې یې د هرات د واکدار کامران څخه په شکایتونو بنا وکړه. هغه یې دروغجن او خاین وباله خو وروسته یې پاټینجر ته وویل، چې ترڅو پورې ایرانیانو هرات نیولی نه وی او په هرات کې د ایرانیانو عسکري قوه اچوله سوې نه وي، تر هغو پورې به ایران د هرات له محاصرې څخه لاس وانه خلي.(۳٦)

پاټینجر د ایرانیانو له کمپ څخه بېرته هرات ته ستون سو او د ایران له خوا مایوسونکي جوابونه یې د هرات مشرانو ته ورسول. ایرانیانو د هرات د قلا د خرابولو لپاره اته شپېته پونډه توپ راوړ او داسې حساب یې کړی و، چې د هرات قلا او دفاعي سنګرونه به د ښېښو په څېر ټوټې ټوټې کړي، مګر توپ یې دونه خراب ځای کې درولی و، چې پېنځه شپږ ډزه وروسته یې عرابي ماتې سوې او پر سینه پرېووت.(۳۷)

ایرانیانو د هرات د نیولو لپاره هم د روسانو سره دسیسې کولې، هم یې د خپلو غلطو او بېځایه ادعاو د اثبات لپاره تاریخي او جغرافیایي اسنادو ته مراجعه کوله او چې هغو به هم کار ور نه کړ، نو بیا به یې حملو ته زور ورکړ او کله چې به یې حملې هم د سخت مقاومت سره مخامخ سوې، نو بیا به یې حیلو او تیر ایستلو ته لاس واچاوه. ایرانیان د هرات او شاوخوا سیمو د نیولو او خپلولو په لاره کې نه د دسیسو څخه ستړي او نه یې د حملو څخه لاس واخیست. په دې لړ کې یې د پاټینجر د ماموریت د بې نتیجې ختمېدلو او پر هرات باندې د خپلو سختو توپچي حملو د ناکامېدلو څخه وروسته هرات ته یو استازی واستاوه، چې د دغه ښار د خلکو او مشرانو سره خبرې وکړي او د هرات په برخه کې یې د ایران د پاچا په ښو نیتونو خبر کړي. دې استازي ته د ایرانیانو له کمپ څخه روسي جنرال سامسن *samson* او صدراعظم میرزا اقاسي هدایت ورکړی و، چې د هرات خلک د محمد شاه د شرایطو منلو ته تشویق کړي. دې استازي د هرات خلکو ته ویل، چې که موږ په خپلو منځونو کې اختلافات سره لرو، نو بهتره دا ده، چې دا اختلافات پخپله سره حل کړو او د کافرانو منځګړتوب او مداخلې

ته ضرورت پېدا نه کړو. د ایران استازي خلکو ته وویل، چې د انګرېزانو په وعدو او خبرو ونه غولېږئ، ځکه چې هغوی د هندوستان د دوستي او تجارتي مناسباتو د ټینګولو په پلمه بالاخره د هغوی ټول هېواد ورځخه لاندې کړ. د ایران استازي خلکو ته وویل، چې د ایران پاچا محمد شاه قاجار نه غواړي، چې د هغوی په داخلي چارو کې مداخلې وکړي، بلکې غواړي، چې هرات دې د ایران پوځ ته په داسې توګه عسکر ورکړي، لکه د نادر افشار په وخت کې چې یې ورکول. د ایران استازي خلکو ته وویل، چې د ایران دغه وروستي پوځي عملیات د هرات د نیولو په منظور نه دي، بلکې د هندوستان د نیولو لپاره دي او باید چې په دې لښکر کښې ټول ریښتوني مسلمانان د ایران د شهنشاه سره ملګري سي. ټول د اسلام د لوی مدافع تر بېرغ لاندې راټول سي او هغه به یې د هند او ترکستان د فتح کولو او چورولو په جنګونو کې رهبري کړي، خو د هرات مشرانو د ایران استازی یوه ورځ وروسته رخصت کړ او ورته یې وویل، چې که د ایران پاچا ریشتیا هم سوله غواړي، نو د خپل صداقت د اثبات لپاره دې تر هر څه اول خپله قوه پر شا کړي، نورې خبرې به بیا وروسته کوو.(۳۸)

# د هرات شاوخوا خلکو سره د ایراني قواو او د پاچا سلوک

د هرات په شاوخوا کې د ایران محاصره کوونکي عسکر او د محمد شاه قاجار کمپ د سختو مشکلاتو سره مخامخ و. له یوې خوا سخت ژمی او بارانونه وه او له بلې خوا د هرات واکدارانو د ښار ځخه د دفاع په منظور د هرات ټول شاوخوا کلي له مالونو او سړیو ځخه خالي کړي وه او د ایران شاه په دومره ساړه او باراني ژمي کې د خپلو قواو د اکمالاتو په لار کې بې وسه و.

د ایران شاه او د هغه محاصره کونکو قواو، د خپل عادت سره سم د هرات په شاوخوا کې دلیري پر توکلیو او ښار ګوټو د چورولو او د خلکو آزارولو ته لاس واچاوه او په دې لار کې یې هیڅ سرحد رعایت نه کړ. انګرېز مورخ واټسن لیکي" د شاه پوځ په دغه سخت ژمي کې ځانونه صرف

د ښار ښځه د لیرې لوېدلو کلیو په چورولو ژوندي ساتل او هر ځل یې د کلیو د چورولو لپاره زیاتې قواوې استولې. دې عسکرو د دونه ظلم او قساوت ښځه کار اخیستی، چې حتیٰ کله کله به د ایراني عسکرو زړونه هم وسوځېدل. د کلیو ټول هغه نارینه چې د خپلو ښځو، ماشومانو او مالونو د ساتلو لپاره پاته وه، په ډلو ډلو قتلېدل او د هرات خلک بې عفته کېدل.
حتیٰ ډېر واړه ماشومان د مرګ او وهلو څخه په امان نه وه. مایو ځای لوستي دي، چې دغو ماشومانو به په خپلو کوچنیو لاسونو کې قرآنونه را اخیستې وه او د ایران عسکرو ته به یې شفیع کول، چې ګوندې د هغوی زړه ورباندې وسوځي او د یرغلګرو عسکرو په سینو کې به یو څه د انسانیت جذبه راوېښه کړي، مګر پر دې عسکرو باندې نه قرآن اثر درلود او نه یې په زړونو کې د انسانیت جذبه موجوده وه. دوی به دغه ماشومان وهل او وژل او له ښځو څخه به یې ټول کالي وایستل او هرڅه به یې ورڅخه واخیستل. دوی حتیٰ دونه بې ارزښته شیان لوټل، چې حتیٰ یو یهود به په یوه پیسه نه وای اخیستی. ایراني عرب علي خان، چې ماته یې دغه معلومات راکړي دي، پخپله د ایران له خوا د هرات د محاصرې په وخت کې حاضر و. هغه ویل چې که د لوږې و مرې بیا به د چور او تالان د دغو ډلو سره ملګرې نه سي او بیا به دغه ظلمونه ونه ګوري. هغه ویل خدای دی د دې ټولو سربازانو پلرونه په دوزخ کې واچوي. د ۱۸۳۷ م کال د ډسامبر په اته وېشتمه دوه سوه تنه، چې نه یې په تن کې جامې درلودې او نه یې د خوړلو څه درلوده او ویل یې چې ټول د غورات څخه راغلي سیدان دي، د شاه کمپ ته ورغلل او له هغه څخه یې د مرستې غوښتنه وکړه. د مذهب مدافع اعلیحضرت د دوی سره نېژدې تېر سو او د دوی خوا ته یې حتیٰ یو وار هم ونه کتل". (۳۹)

## روسان او انګرېزان د ایران د پاچا په کمپ کې

دا وخت په تهران کې د روسانو سفیر کونټ سیمونیچ او د انګرېزانو سفیر سر جان مکنایل، دواړه په شاهي کمپ کې اوسېدل. دوی رسماً داسې ښودله، چې ګواکې بېطرف څارونکي دي، مګر په عمل کې دواړو د یوه بل د پلانونو د شنډولو لپاره فعالیت کاوه. مکنایل کوښښ کاوه، چې شاه د هرات د محاصرې پرېښودلو ته تشویق کړي او سیمو نیچ کوښښ

کاوه، چې داسې لار پیدا کړي، چې دغه ښار ژر تسلیم سي. د مکنایل د رپوټ په اساس د ایرانیانو روحیات ډېر کمزوري سوي وه. د خوړلو لپاره یې څه نه درلودل او اکثر وختونه به یې واښه او بوګونه خوړل. نه څیرو ورته رسېدله، نه یې کالي درلودل او په سړه ژمي کې به هر وخت تر زنګنونو پورې په ختو کې ډوب وه.

البته پخپله په هرات کې د خلکو او دښار د مدافعینو وضع تر دې چنداني ښه نه وه. په ښار کې دننه هم خوراکي مواد او هم د سون مواد ډېر سخت کم وه او د محاصرې د هرې ورځې په تېرېدلو سره یې نور کمبود هم احساسېدی. خلکو د سون د لرګیو لپاره د کورونو چتونه نړول او د خوړلو لپاره یې د سورلې اسونه حلالول. د ورځې چې هر څونه کسان د ایران د توپخانې د لاسه وژل کېدل په هماغه اندازه د لوږې او ناروغیو د لاسه مړه کېدل. د ښار په هره ناحیه کې انبارونه او چټلي کوټه وې او د ښار خلک نور د خپلو مړو په ښخولو نه رسېدل. مړي په کوڅو کې ورستېدل او بوي او چټلیو ورځ په ورځ د خطرناکو ناروغیو د خپرېدلو خطر زیاتاوه. د هرات واکدارانو فیصله وکړه، چې د ښار ځینو خلکو ته اجازه ورکړي، چې د باندې ولاړ سي او په دې توګه د هرات نفوس یو څه کم او د ستونزو چاره وسي. په دې برخه کې البته د محاصره کونکو قواو سره هیڅ مشوره نه وه سوې او د ښار څخه یو ناڅاپه شپږ سوه ښځې، زاړه خلک او ماشومان د دروازو څخه ووتل او د ایران د قواو پر لور ور رهي سول. د ایران قواو دې ته هېڅ توجه ونه کړه، چې دا څوک دي او سمدستي یې ډزې ورباندې وکړې. وروسته چې پوه سول بیا یې نو د لرګیو ګوزارونه او د ډبرو باران ورباندې پیل کړ. خلکو بېرته مخ پر ښار ونیوی او د دې خوا څخه د قلا د سره څخه ډزې ورباندې پیل سوې او تر ایرانیانو دوی زیات ووژل ، بالاخره د ایران محاصره کونکو قواو هغوی ته د تېرېدلو اجازه ورکړه.(۴۰)

د ایران شاه د هرات د خلکو پر اراده باندې دونه حساب نه و کړی. هغه فکر نه کاوه، چې دا ښار دې په یوازې سر د ایران د ټول دولت له پوځ او توپخانې سره دونه مقاومت وکړي. هغه دا فکر نه و کړی، چې ایران او روسیه دواړه به د هرات په نیولو کې ناکامېږي، په داسې حال کې چې د هرات سره لږ تر لږه د کندهار سرداران هم ملګري نه وه او لا

هغوی پرله پسې د ایران شاه ته د هرات په نیولو کې د مرستې وعدې ورکولې.

د ایران په کمپ کې د انګرېزانو سفیر مکنایل د وخت خارجه وزیر پالمرستن ته په یوه لیک کې د هرات د محاصرې په وخت کې د ایراني پوځ د تلفاتو او افغانانو د مقاومت په باب لیکي، چې " ایرانیانو خپل زیاتره مهمات مصرف کړي دي او اوس د پخوا په شان ډېرې ډزې او حملې نه سي کولای. افغانان پر آسونو باندې راوزي او د ایران د شاه د اکمالاتو پر لارو باندې حملې کوي. دوی هغه کاروانونه ونیول، چې له خراسان څخه یې د ایران د پاچا کمپ ته خوراکي مواد وړل او د کاروان محافظین یې ووژل. د ایراني پوځ تلفات په ورځ کې په اوسط ډول دېرشو تنو ته رسیږي، په داسې حال کې چې د افغانانو له لوري په ورځ کې ایله یو تن ووژل سي. د کندهار واکدارانو له دې ویرې د شاه کمپ ته پوځیان نه دي لیږلي، چې وایي هغه به اعتماد ورباندې ونه کړي او داسې فکر به وکړي، چې دوی د کامران سره د مرستې لپاره راغلي دي. دغه راز ګاونډیو قبایلو له کامران سره هم هېڅ مرسته نه ده کړې، نو تر دغه ګړیه پورې د مقابلې یوې خوا ته د ایران شاه او بلې خوا ته د هرات د ښار خلک ولاړ دي".(۴۱)

مکنایل په همدغه لیک کې زیاتوي، چې د ده په نظر هرات د هند د ارامۍ او ثبات لپاره بې اندازې زیات اهمیت لري، مګر هېڅکله یې دا تصور نه و کړی، چې دا ښار به دونه مستحکم وي او په دغه اندازه قوي دفاع به وکړي. دې وایي که چېرې هرات د کوم دښمن هېواد لاسته ولوېږي، نو د هند لپاره به یې اهمیت له هغه څه نه زیات وي، چې ده یې تر اوسه پورې فکر کړی و. مکنایل وایي د ایران شاه د څه باندې دوو میاشتو راهیسې د خپلو خلوېښتو زرو عسکرو سره د دغه ښار په شاوخوا کې ورته پروت دی او سره له هغه، چې د هرات حکومت د دغې محاصرې د پیل کېدلو څخه ډېر مخکې د شاوخوا سیمو ټول حاصلات له منځه وړي او کلي یې له خلکو خالي کړي دي بیا هم د ایران د شاه پوځ ته مواد رسیږي. د دې څخه سرې د دې ښار او د هغه د اطرافو د سمسورتیا او پریماني اټکل کولای سي او دا فکر کولای سي، چې که چېرې دا ښار د دونه نعمتونو او منابعو سره د کوم دښمن قوت لاسته ورسي، نو د هند لپاره به یې مانا څه وي.(۴۲)

د انګرېزانو سفير مکنايل د ايرانيانو د کمپ څخه په هند کې د برتانيې وايسرا لارډ اکلينډ *Lord Auckland* ته په يوه ليک کې وايي"... هرات ماته د ټول افغانستان اهميت لري. که دغه ښار سقوط وکړي او هغه د ژغورلو لپاره مور کوښښ نه کوو، نو زه يقين لرم، چې دا پېښه به په سيمه کې د ټولو هېوادونو د خلکو پر روحياتو باندې منفي اغېزه وکړي او زموږ په باب به يې عقيده تغير وکړي، ځکه چې دا خبره اوس هر چا ته معلومه ده، چې د برتانيې حکومت نه غواړي د هرات ښار سقوط وکړي او په مقابل کې روسيه هلې ځلې کوي، چې هغه د ايرانيانو لاسته ورسي. ټوله مرکزي آسيا په دې پوهيږي، چې دا د لويو قدرتونو ترمنځ جګړه ده. ما چې له تهران څخه تر دغه ځايه پورې د هر کليوال سره خبرې کړي دي، هغه راته ويلي دي، چې د هرات د محاصرې او جګړې په موضوع کې روسان د ايران د شاه طرفدار او برتانيه يې مخالفه ده.(۴۳)

برتانيې په هرات کې د دومره زياتو ګټو او علاقې درلودلو سره سره بيا هم نه غوښتل، چې هرات د دوی لپاره ډېر ګران پرېوزي. دوی غوښتل چې د هرات خلک د خپل ښار او د خپلې خاورې له تماميت څخه د خپلو سرونو او مالونو په بيه دفاع وکړي او ګټه او افتخار يې برتانيې ته ورسيږي. مکنايل کوښښ کاوه، چې د ايران شاه د مذاکراتو له لارې دې ته راولي، چې د هرات د ښار محاصره پرېږدي، يو ځل خو نېژدې په خپل مقصد کې کامياب سوی و، چې د ايران شاه ته د کندهار د سردار کهندل خان ليک ورسېدی. هغه په خپل ليک کې د ايران له شاه سره د هر راز مرستې وعده کړې وه. کهندل خان د ايران شاه ته ليکلي وه، چې که نور هېڅ نه وي، نو په عمومي صورت خو خدمت ته حاضر دی. هغه ليکلي وه، چې خپل زوی محمد عمر خان به د قواو سره د ده کمپ ته واستوي. د کهندل خان قاصد دا هم ووېل، چې د هرات مرستې ته نه د کابل لاس رسيږي او نه نور افغاني قبايل ورته راځي.(۴۴)

دې ليک د ايران شاه ببرته زړه ور کړ او د محاصرې د پرې ښودلو نيت يې واړاوه او مذاکرات په داسې حال کې ناکام سول، چې امکان يې درلود يو څخه ورڅخه ترلاسه سي.



لارڈ اکلیڈ



پاتنجر

# د محاصرې په جریان کې د روسیې موقف



روسانو په دې وخت کې یوازې د ایران دربار تر خپل نفوذ لاندې نه و راوستلی، بلکې د هرات مشران، چې د برتانیې له دوستي څخه مایوس سوي وه، هم دې عقیدې ته رسېدلي وه، چې که له روسیې څخه وسلې واخلي او له هغه هېواد سره دوستي وکړي، ښایي د هرات محاصره ختمه سي. د هرات مشرانو په یوه جرګه کې فیصله وکړه، چې که روسانو ته پېشنهاد وکړي، چې هرات به د هغه هېواد تابع وي، نو بیا به نه ایران د محاصرې د دوام قدرت ولري او نه به برتانیه د مداخلې جرات وکړای سي.

د هرات د مشرانو د دغې فیصلې په سهار، د انګرېزانو د سفیر مکنایل استازی هرات ته ورسېدی او مشرانو ته یې زیری ورکړ، چې د برتانیې حکومت د ایران شاه تهدید کړی او ورته ویلي یې دي، چې که هرات د ایرانیانو لاسته ورغی، نو برتانیه به یې د هغه هېواد څخه د وسلې په زور وباسي. د انګرېزانو د سفیر استازی دغه راز مشرانو ته ویل، چې هغه مېجر ټاډ *Major Todd* هند ته لېږلی دی او له ګورنر جنرال سره په دې باب خبرې کوي، چې د هرات له محاصرې څخه وروسته د ښار له خلکو سره څه راز مرستې وکړي. دې خبرې د هرات د مشرانو عقیدې ته تغیر ورکړ. البته شپږ ورځې لا نه وې تېرې سوې، چې سفیر مکنایل په هرات کې پاټینجر ته ولیکل، چې د هرات مشرانو ته یې ډېرې زیاتې وعدې ورکړې دي او په دې برخه کې یې پښې له خپلې کمبلې څخه اوږدې کړې.

د انګرېزانو سفیر پاټینجر ته لیکلي وه، چې نور باید په خپل سر اقدامات ونه کړي. پاټینجر هم د هرات د مشرانو د غونډې په ترڅ کې هغوی ته اعلان وکړ، چې د سفیر مکنایل په پیغام کې ډېره زیاته مبالغه سوې ده او انګرېزان ښایي د دوی د انتظار په خلاف دونه زیاتې مرستې ورسره ونه کړي. دې پیغام د هرات مشران دونه په قار کړل، چې پاټینجر، مکنایل او د برتانیې حکومت ته یې په واړه خوله ښکنځل پیل کړل او نیږدې وه، چې بېرته له روسیې سره د تماس ټینګولو فیصله وکړي. البته پاټینجر وکړای سول، چې مشران په تېره بیا یار محمد خان په دې قانع

کړي، چې دې به ېبرته لــه خپل حکومت سره تماس ټینګ کړي او شیان پر دغه حال نــه پاتېږي.(۴٦)

# د انګرېزانو، روسانو او افغانانو درېځونه

مکنایل هـم د ایران شاه پـه دې قـانع کـړ، چې د مذاکراتــو لــه لارې د هـرات د محاصرې مسئله حـل کـړي. د ایـران شـاه سـفیر مکنـایل د بشپړ صلاحیت سره د هـرات ښار تـه واستاوه او ورتـه وې ویـل، چې تـر څو پـورې کامران د ایران د شاه تـابع سوی نـه وي او د هغـه کمپ تـه شخصاً ورغلـی نـه وي او هـرات یې د ایـران خـاوره ګڼلې نـه وي، تـر هغـوی پـورې بـه جنـګ دوام لـري. مکنـایل لـه دغـه پیغام سره هـرات تـه ورسېدی او کله چې یې د افغانانو دفـاعي سنګرونه او د هغـو عـالي روحیـات ولیـدل، نـو ورتـه حیران سو او پـر دې خبرې یې یقین راغـی، چې افغانـان تـر ایـران لــه بـهترو او زورورو پوځیانو سره جنګ تـه تیاری لـري. مکنـایل ټولـه شپه لـه یـار محمـد خـان سره په خبرو تیره کړه او د یــوه تـړون مسوده یې ترتیب کـړه، چې ېبلـه د هـرات د خپلواکـي د لـه منځه تللـو، نـورد ایـران د شاه ټولې غوښتنې پـه کـې شـاملې وې.

مکنـایل سـهار د زاړه او کمزوري سوي کـامران سره خبرې وکـړې. هغـه یې پـه دې قـانع کـړ، چې د ایـران د شاه د غوښتنې سره سم د شـاهي لـه لقب او مقـام څخـه تـېر سـي، خـو دې وایـي، مـا چـې د هغـه د نیکونـو عظمـت او شهرت را په یاد کـړ او بیـا مـې د ده کمزوري حـالت تـه وکتـل، نـو دونـه مـې زړه ورباندې وسو ، چـې دا جـرأت مـې ونـه کـړ، چې د ایـران د شاه پـه کمـپ کې د حـاضرېدلو پېشنهاد ورتـه وکـړم.(۴۷)

په هماغــه ورځ د روسـانو سـفیر کونـټ سیمونیچ د ایـران شـاه تـه د هـرات د ښار د محـاصرې د سختولو مشورې ورکـړې او یـو څه پیسې یـې هـم ورکـړې وې، چې پر خپلـو عسکرو یـې ووېشـي. د روسیې د سـفیر مشـورو، وعـدو او پیسـو د ایران پاچا دونه زړه ورکـړ، چـې ویـل یـې ېبلـه دې چـې هـرات تسلیم سـي د جنګ د ختمېدلـو بلـه هېڅ لاره نسته. د ایـران شـاه د برتانیې سـفیر تـه وویـل، چې د هـرات د افغانـانو هېڅ شـرط نـه سـي منلای او هغـوی بـاید چې ېبلـه قید او شـرطه تسلیم سـي.(۴۸)

د برتانیې سفیر مکنایل یار محمد خان ته ولیکل، چې د ایران شاه وایي، یا دې د هرات ټول خلک هغه ته بیعت ورکړي او یا به هغه د قوې په زور د هرات ښار ونیسي او خلک به په زور تابع کړي.(۴۹)

یار محمد خان مکنایل ته په جواب کې ولیکل، چې موږ د هرات د محاصرې د موضوع د حلېدلو مسئله ستاسې قضاوت ته پرې ایښې وه او اوس هم دا تمه لرو، چې تاسې به په دغه موضوع کې له عدالت څخه کار واخلئ. که ایرانیان ستاسې پر خبرو غوږ نه نیسي، نو موږ د خپلو سرونو بازلو ته تیار یو او فیصله به خدای ته پرېږدو. ته مایوسه کیږه مه، موږ ته اوس هم ښځې ډېر تاوانونه رسېدلي او ښځې ډېر مړي مو ورکړي دي. موږ ډېر وخت د خپلو کارونو او کروندو څخه پاته سوي یو. موږ دونه تاوانونه لیدلي دي، چې باید نه مو وای لېدلی، نو اوس لوخ له اوبو نه بېرېږي.(۵۰)

ایرانیانو ته بله لاره پاته نه سوه. د ایران شاه ته د خپل حیثیت سوال مطرح و او بله نتیجې یې د هرات محاصره پرېښودلای نه سوه. روسانو هغه پرله پسې تشویق کړي او د ښو مرستو وعده یې ورسره کړې وه. د کندهار د سردارانو د مرستو وعدو هغه زړه ور کړي او په دې مطمئن کړي و، چې د هرات جنګ به بالاخره د ده په ګټه پای ته رسیږي. نه یوازې به یې هرات بلکې کندهار او د افغانستان نورې سیمې هم لاسته ورسي او د صفوي امپراتورۍ د بېرته ژوندي کېدلو خوبونه به یې ریشتیا سي.

که څه هم چې انګرېزانو ته دا خبره یو ډول غیر ممکنه ښکارېدله، چې د روسانو قواوې به یو وخت تر هراته ورسیږي، مګر په تهران کې د روسانو سفیر کونټ سیمونیچ لږ تر لږه د یار محمد خان استازی محمد امین تهدید کړی او ورته ویلي یې وه، چې که هرات د ایران شاه ته تسلیم نه سي، نو دې به د روسي پوځونو په زور هغه ښار لاندې کړي.(۵۱)

کونټ سیمونیچ د هرات په نیولو دونه باوري و، چې د ایران شاه ته یې مشوره ورکړې وه، چې د هرات له نیولو څخه وروسته د سیند خوا ته توجه وکړي.(۵۲)

محمد شاه قاجار په دې خبر و، چې په هرات کې نه د انګرېزانو عسکر او نه توپونه سته او مخکې له هغه چې د انګرېزانو قواوې د دغه ښار د ژغورلو لپاره راورسیږي، دې به د روسانو او کندهار د سردارانو د قواو په مرسته هرات ونیسي او انګرېزان به د یوه انجام سوي عمل سره مخامخ

کړې. هغه غوښتل، چې د هرات محاصره ژر نتیجه ورکړي او ښار ژر تر ژره د ایرانیانو د قواو لاسته ورسي.

# پر هرات باندې حمله

د ایران قواو بالاخره د جون د میاشتې پر څلېروېشتمه پر هرات باندې یوه سخته حمله پیل کړه. د ایران توپخانې پر هرات باندې د څلورو خواو ډزې پیل کړې. د ایران قواوې ډېر ژر له پنځو خواو څخه د هرات پر ښار باندې رادمخه سوې. د هرات قواو په څلورو خواو کې د ایران د پوځیانو حملې پر شا کړې. د هرات د ښار د ارګ پر دروازه باندې د ایرانیانو حمله ډېره سخته ناکامه سوه. د ایرانــي قــواو جـنرال ولي خــان ووژل ســو او د روسانو جنرال سامسن ډېر سخت ټپي سو او ایرانـي عسکر وتښتېدل. افغاني عسکرو د جنګ په سبا د ولي خان سر د هرات ښارته یووړ او د هغه په جامو کې یې د ایران د شاه په امضا دوه لیکونه پیدا کړل، چې یو یې پخپله ولي خان او بل یې صدراعظم میرزا اقاسي ته لیکلي و او دواړو ته یې هدایت ورکړی و، چې په جنګ کې د روسـي جـنرال سامسـن د اوامـرو اطـاعت وکړي.(۵۳)

البته په یوه ځای کې د ایرانیانو د قواو حمله دونه سخته وه او افغاني مدافعینو ته یې دونه درانه تلفات واړول، چې افغاني عسکرو خپل روحیات له لاسه ورکړل او اکثرو یې غوښتل، چې له میدان څخه وتښتي. ویلیم کې د پاټینجر د خاطراتو په حواله لیکي، چې حتی یار محمد خان، چې ده هیڅ وخت د هغه بې زړه توب نه و لیدلی، دونه روحیات بایللي وه،چې نه یې غوښتل د هغه برج دفاع پر خپله غاړه واخلي، چې ایرانیانو نیولی او له هغه ځایه د هرات د ښار د سقوط خطر لیده کېدی. یار محمد خان حتی خو ځله په لار کې کښېنستی او نه پوهېدی، چې څه وکړي. بالاخره په دې پوه سو، چې دا د ده او د هرات د ښار لپاره د مرګ او ژوند جګړه ده او که نن هم مړانه نه کوي، نو هرڅه له لاسه وزي. یار محمد خان خپلې هغه قواوې چې تازه یې روحیات بایللي و او په تېښته کې وې په زور او تهدید بېرته راغونډې کړې او پر ایرانیانو باندې یې د لمونو په څېر وروځغستل. ایرانیان د افغانانو دې هجوم دونه وارخطا کړل، چې تر لږ مقاومت وروسته

یې سنګرونه خوشې کړل او مخامخ وتښتېدل. د ایراني قواو د دې تېښتې سره یو ځای بحران هم پای ته ورسېدی او هرات وژغورل سو.(۵۴)

ایرانیانو ته په دې جنګ کې ډېر سخت تلفات ورسېدل. ویل کیږي، چې د ایراني قواو څخه تقریباً اته لس سوه تنه مړه او زخمیان سول. د عمومي تلفاتو په تناسب عالي رتبه صاحب منصبان ډېر زیات ووژل سول. د ایران د شاه پوځ ته تر ټولو کسانو د پولینډي صاحب منصب تورن جنرال مونسیور پیروفسکي *Monsieur Perofsky* وژل کېدلو ډېره سخته صدمه ورسوله. ویل کیږي، چې د ایران پوځ ډېرې زړه ورې حملې وکړې او درې ځله یې د قلا پر نړېدلي برج باندې د ایران بېرغ پورته کړ، مګر دا برج یې ونه ساتلای سو. افغانانو پر هغوی باندې توره په لاس ډېرې سختې حملې وکړې او د ښار شاوخوا خندق یې د هغوی په مړو ډک کړ. ویل کیږي، چې د وژل سویو ایرانیانو د څلورو څخه درې تنه په توره وهل سوي وه. د دې حملې پلان په تهران کې د روسیې سفیر کونټ سیمونیچ جوړ کړی و او دا د هرات د ښار د محاصرې ډېره ستره پېښه وه.(۵۵)

# د هرات جنګ چا وګاټه؟

په دې کې شک نسته، چې روسي، پولینډي او ترکي صاحب منصبانو به د ایران شاه ته د هرات د ښار د محاصره کولو او نیولو ډېرې ښې نقشې ورکړې وې او انګرېز صاحب منصب ایلډرډ پاټینجر به د هرات د ښار څخه د دفاع لپاره د هرات مشرانو ته معقول پیشنهادونه کړي وي، مګر دا چې انګرېز صاحب منصب پاټینجر د هرات قهرمان بلل کیږي او په غربي او په تېره بیا انګریزي ادبیاتو کې د دې ښار څخه د دفاع افتخار هغه ته ورکول کیږي، نو دا قضاوت ظالمانه دی. روسانو دهرات د ښار په نیولو او انګرېزانو د دغه ښار څخه د دفاع لپاره خپلې خپلې ګټې درلودلې او د خپلو ګټو څخه یې ښه دفاع وکړه، مګر د جنګ میدان د ایرانیانو او افغانانو ترمنځ و او په دې میدان کې، د زیاترو نورو وختونو په څېر فتح د افغانانو په نصیب سوه. همدغه پاټینجر د خپلو تقریباً پینځه ویشتو زرو هندي او انګریزي پوځونو، عصري وسلو او بې شمېره طلاو سره په کابل

کې حاضر و، چې انګریزانو د افغانانو په مقابل کې د خپل تاریخ تر ټولو سخته او شرمونکې ماته وخوړه. د انګریزانو د عظیم او په وسلو سمبال پوځ ځخه یوازې ډاکټر برایډن، د افغانانو د غضب له اور ځخه ژوندی خو مړ ژواندی خلاص سو. په دغه وخت کې ولي د پاټینجر لاسونه تړلي وه؟ ولي یې مشورې ګونګې وې؟ ولي یې تدبیر نتیجه ورنه کړه او دغه حقیقت زموږ د دې ادعا ثبوت دی، چې هرات د هغه ښار وطن پرستانو له ایراني یرغلګرو ځخه وساته او له دې ځخه وروسته یې په نورو جنګونو کې هم دا ثابته کړه، چې افغانان د خپلې خاورې ځخه د دفاع لپاره ښه توان او توده وینه لري.

البته نه کامران د دې شخصیت او اهلیت درلود، چې د هرات له ښار ځخه دفاع وکړي او نه یار محمد خان د هرات او یا د هغه د شاوخوا سیمو سره د وطن او خاورې په حیث علاقه درلوده. کامران له ډېره وخته قدرت له لاسه ورکړی او د خپل هوښیار او قدرت غوښتونکی وزیر د لاس ګوډاګی و. هغه له سهاره تر ماښامه نشه و او د اقدام او عمل کولو اراده یې له لاسه ورکړې وه. وزیر یار محمد خان یوازې له خپل شخصیت، خپلو ګټو او خپل قدرت سره مینه درلوده. هغه د قدرت د ساتلو لپاره د ایران، روس، انګلیس او هر داخلي او خارجي قدرت سره روغې جوړې او دسیسې کولو ته حاضر و.

یار محمد خان فطرتاً حریص او مستبد سړی و. دغه علت دی، چې پر هرات باندې د ایرانیانو د جون د څلېروېشتمې د حملې د ناکامېدلو سره د هرات د خلکو کړ او ختم نه سو، بلکې نور هم زیات سو. غریبان له لوږې مړه کېدل او خانان د واکدارانو په شکنجو کې وژل کېدل. هر ځای د یار محمد خان عسکر لکه د نیمې شپې بلاوې ولاړ وه. په هر کور او په هر غار ننوتل او پیسې او طلاوې یې لوټلې، چا چې به پیسې ورکړې، نورې یې ورځخه غوښتلې او تر هغو به یې وهل، چې نفس به په کې و. د وزیر عسکرو به په شکنجو کې د وژلو خلکو مړي په یوه زړه شړې کې پېچل او د کورونو مخې ته به یې غورځول. حتی د لویو کورونو ښځو ته یې هم شکنجې ورکولې او په دې سلسله کې یې پخپله د کامران د کور ښځې هم تهدیدولې.(۵۶)

# د انګرېزانو له خوا د ایران د خاورې نیول او د ایران تهدید

283

د هرات خلکو د یار محمد خان په شکنجو کې شپې سبا کولې او له هر څه بې خبره وه، خو د دې ښار څخه ډېرې لیرې د هرات د محاصرې په ارتباط ډېر لوی انکشافات روان و. د برتانوي هند ګورنر جنرال لارډ اکلینډ د فارس خلیج ته جنګي بېړۍ واستولې او د خارک ټاپو یې ونیوله. په ایران کې د انګرېزانو سفیر مکنایل ډګروال سټوډارټ *Colonal Stoddart* ته هدایت ورکړ، چې د ایران شاه ته ووایي، چې برتانیه به د ایران له خوا د هرات او د افغانستان د هرې سیمې اشغال د څان په مقابل کې خصمانه عمل وګڼي. ډګروال سټوډارټ د ایران شاه ته وویل، چې د برتانیې سمندري قواو د خارک ټاپو نیولی دی او که هغه غواړي، چې وضع نوره هم خرابه نه سي، نو سمدستي باید د هرات څخه خپلې قواوې پر شا کړي.(۵۷)

د ایران شاه د انګرېز نماینده ته وویل، چې که سفیر هغه ته رسماً ولیکي، چې د هرات د محاصرې دوام د برتانیې د قهر او غوسې د پارولو سبب کیږي، نو دا به ښه وي، ځکه چې ایران غواړي په دې توګه دا ثابته کړي، چې د هرات محاصره یې د سترې برتانیې په غوښتنه ختمه کړې ده. څرنګه چې د ایران شاه پخوا د انګرېزانو د استازو سخاوت لیدلی و، نو د برتانیې له سفیر څخه یې د ښو زیاتو پیسو غوښتنه هم وکړه، مګر د برتانیې سفیر د هغه غوښتنه رد کړه.(۵۸)

د ایران شاه سفیر مکنایل ته وویل، چې زه په دې پوهیږم، چې که هرات ونیسم ساتلای یې نه سم، نو زه به دغه ښار یو ځل ونیسم او بیا به کهندل خان ته د هغه قرارداد په اساس وسپارم، چې د روسیې په تضمین موږ سره لاسلیک کړی دی. د انګرېزانو سفیر د ایران د شاه دا غوښتنه هم رد کړه. شاه ورته وویل چې زه به خپلو خلکو ته ووایم چې که مې د هرات محاصرې ته دوام ور کړی وای، نو برتانیې حمله راباندې کوله. سفیر مکنایل ورته وویل، چې د هرات د محاصرې د ختمولو لپاره یې هر ډول کلمات، چې زړه غواړي انتخابولای سي.(۵۹)

محمود محمود وايي، چې انګرېزانو د ايران پاچا ته اخطار ورکړ، چې که د هرات محاصره خوشې نه کړي، نو د جنګ اعلان به ورکړي(۶۰) په داسې حال کې چې د ايران شاه د خپل شاهنشاهي وقار او عزت د ژغورلو او ځانته لږ تر لږه د اوړو د پزي د جوړولو لپاره د برتانيې له سفير څخه پخپله وغوښتل، چې که نور هېڅ نه وي، نو برتانيه خو دي ايران ته يو ليکلی اخطار ورکړي، چې که د هرات محاصره خوشې نه کړي، نو برتانيه به حمله ورباندې وکړي. هغه به دا ليک خلکو ته وښيي او ورته وبه وايي، چې هرات يې د برتانيې د فشار له امله خوشې کړی دی.(۶۱)

د اګسټ د مياشتې پر يوولسمه، ډګروال سټوډارټ د ايرانيانو کمپ ته ورغی او سمدستي د شاه خيمې ته ولاړ. هلته د شاه په خيمه کې د کندهار د مشر کهندل خان زوی او څو تنه نور افغانان ناست و. د ايران شاه د ډګروال سټوډارټ څخه پوښتنه وکړه، چې که زه هرات پرې نه ږدم، نو برتانيه به زما سره جنګ کوي؟ سټوډارټ ورته وويل، چې بلې جنګ به کوي. وروسته يې د ايران شاه ته په انګرېزي ليکلي پيغام ورکړ او هغه د پيغام له اورېدلو وروسته وويل دا هغه څه دي، چې ما غوښتل.

په پيغام کې ليکل سوي و، چې د هرات د محاصرې دوام او د هرات اشغال د برتانيې په مقابل کې خصمانه عمل ګڼل کيږي. شاه د برتانيې استازي ته وويل، چې موږ د برتانيې سره جنګ نه کوو او که د برتانيې خاطر نه وای، موږ به هېڅکله د هرات محاصره پرې ايښې نه وای او که چېرې په دې پوهېدلای، چې د هرات د محاصرې په وجه به زموږ څخه برتانيه خپه کيږي، نو موږ به بيخي دلته راغلي نه وای.(۶۲)

# د هرات د محاصرې په وخت کې د ايران د پوځ وضع

سر ويليم کې د هرات د محاصرې په وخت کې د ايراني پوځ د ناکامېدلو په باب داسې وايي" د ايران پوځ د خپل پاچا تر سترګو لاندې په داسې حال کې چې د روسي انجنيرانو او د روسيې د سياستمدارانو عقل ورسره ملګری و، ونه شو کړای، چې په لسو مياشتو کې هغه ښار ونيسي، چې زه بيله ملي غرور څخه ويلای سم. چې د انګرېزانو په ښو

وسلو سمبالو عسکرو هغه په لسو ورخو کې نیولای سوای. د ایران د دغه پوځ د ناکامي اصلي علت په عمومي صورت معلوم نه دی. حقیقت دا دی، چې د هرات د محاصرې په وخت کې د ایران په پوځ کې وحدت موجود نه و. د محمد شاه تر رهبرۍ لاندې سردارانو او جنرالانو، چې د محاصرې د عملي کولو او ښار د نیولو وظیفه ورکړه سوې وه، د دې پر ځای چې د عملیاتو یو ګډ او منظم پلان تعقیب کړي، د مستقلو قوماندانانو په حیث عملیات کول او هر یوه خپل پلان تعقیباوه. مشرانو له یوه بل سره دونه حسد او کینه در لوده، چې منظم او ګډ پلان یې تعقیبولای نه سو. یوه د بل امر ته غاړه نه ایښودله او نه یې په عملیاتو کې د خپلو ورونو حمایه کوله. هر یوه خپله مستقله حمله کوله او کله چې به د هرات قواو پر دوی باندې په مورچو کې حملې کولې، نو دوی به د یوه بل ملاتړ ته نه درېدل. یوازې د جون پر دروېشتمه، چې محمد شاه پر ګډې حملې باندې ټینګار وکړ او د روسیې سفیر عملاً د هغو عملیاتو رهبري کوله، د دوی ترمنځ نظم او یووالی موجود و، نور نو هر یوه خپله لوبه کوله او د دې پر ځای، چې د خپلو ورونو په ناکامي خواشینی سي، خوشالي به یې کولې. دا ممکنه نه وه، چې د دې عملیاتو څخه دې بله ناکامي بله نتیجه ترلاسه سي".(۶۳)

بېګانه مورخین او سیاستمداران، چې هرراز تحلیل کوي، هغه د دوی کار دی، خو نتیجه یوه ده او هغه دا، چې د ایران او روسیې یرغلګرې قواوې د هرات په نیولو کې ناکامې سوې او بری د هرات د مبارزینو او اولس په برخه سو. په داسې حال کې چې د برتانیې په دولت کې د هنري راولنسن په سطح مشهور او مقتدر سیاستمداران، چې د لومړۍ ورځې یې د هرات د محاصرې په وخت کې د دې سیمې په سیاست کې لاس درلود، د هند پر لور د روسیې د پرمختګ څخه بېرېږي او وایي، چې هرات باید ایران ته پرېښودل سي. برتانیه باید د تل یا د لنډ وخت لپاره کندهار یښا اشغال او یا د هند په خاوره پورې وتړي، خو له دغه ځایه څخه په لازم وخت کې د روسانو له خوا د هرات د اشغال مخنیوی وکړای سي او د ښې قوې سره ځانونه هرات ته ورسوي. راولنسن وایي کله چې یو ځل هند د روسانو د چپاو څخه مصؤن سي، بیا نو باید افغانان خپل سر ته پرېښودل سي، چې په خپل غم اخته وي، بیا نو که ځانته یو امیر ټاکي، که

شپږ اميره ټاکي او کـه ټول هېواد پـه انارشـی او ګډوډي کـې سـوځي هغـه د برتانيې کـار نـه دی.(٦۴)

# د هرات د محاصرې ماتېدل او د ايران بشپړه ناکامي

د سپټامبر پـه نهمـه د هـرات محـاصره رسـماً ماتـه سـوه. د ايـران شـاه پـه ټيټ سر او زخمـي زړه د محـاصرې لـه ميـدان څخـه د خپـل هـېواد پـر لـور روان سو. نـه يې د هـرات پـه اشـغال ارمـان وخـوت او نـه يـې د دغـه ښار لـه مشرانو څخه لږ تر لږه دونه وعـده تـر لاسـه کـړه، چـې ځانتـه يـې يـوه د اوړو پـزه جـوړه کـړې وای. البتـه هغـه د ايرانيـانو د هميشـګي عـادت سـره سـم، د مـاتې پـه وخت کې هـم يـوه د لاپـو او دروغـو ډکـه اعلاميـه صـادره کـړه. خپـل درانـه تـوپونـه يـې، چـې د جنګ مـېدان تـه يـې راوړي او د وخـت د تنـګ والي لـه املـه يـې ورسـره وړلای نـه سـول، د جنګ پـه مـېدان کـې تباه کـړل او مخ پـر خپل پـايتخت روان سـو.

محمد شـاه قاجـار پـه خپلـه وروسـتي اعلاميـه کـې وويـل چـې" د ده بريـاليو پوځونـو د غوريـان د ښار د نيولـو څخـه وروسـته د هـرات ښار محـاصره کـړ. پـه دغـه وخـت کـې د کـابل امـير دوسـت محمـد خـان د کندهـار سـردار کـهندل خـان د هـزاره مشـرانو، د سيسـتان حـاکم، د لاش او جويـن مشـرانو او نـورو هـر يـوه د هغـه اطـاعت وکـړ او د ده چـارچـوب تـه يـې غـاړه کـېښوده." د ايـران پاچـا پـه دغـه فرمـان کـې پـه لـس هـاو قومونـه او مشـران پـه نامـه يـادوي او وروسـته نـو د هـرات پـه لـس مياشـتنې محـاصره کـې د مـاتې خوړلـو او زرهـاو عسکرو او جنرالانو د تلـف کېدلـو سـره سـره وايـي، چـې " د هـرات شـهزاده کـامران څو څو ځلـه د ښار مذهبـي علمـا او خـارجي حکومتونـه راتـه واسـطه کړل او موږ ته يې وويـل، چـې هـم بـه پيسـې درکـړو، هـم بـه يرغمـل در کـړو او هـم بـه ستاسـې اطـاعت تـه غـاړه کـېږدو، خـو تاسـې فقـط د هـرات حکومـت موږ ته راوسپارئ او زمـوږ لـه خطـا تـېر سـئ، زمـوږ ګناهونـه راتـه معـاف کـړئ او موږ به دعا درته کوو، خو مـوږ د هغـه غوښتنې ورسـره قبـولي نـه کـړې. پـه پـای کـې چـې د هـرات ښار تـه تش نـوم پاتـه و او د کـامران حکومـت تـه صـرف څلـور دېوالونـه پاتـه وه، د برتانيـې حکومـت د ايـران سـره د خپلـو ټولـو

پخوانیو قراردادونو او تړونو باوجود ایران ته د هرات پرسر د جنګ اعلان ورکړ او د فارس خلیج ته یې خپلې سمندري قواوې واستولې."
د ایران شاه د هرات د لس میاشتنۍ محاصرې په جریان کې د خپلو لښکرو وحشت او بربریت، د بېګناه خلکو وژلو او د کلیو چورولو او د ښځو بې عفته کولو ته هېڅ اشاره نه کوي او وايي چې " موږ نه غوښتل د هرات ښار زموږ د توپونو له زوره خراب سي او په ښار کې دننه خلک له قحطي څخه مړه سي، نو محاصره مو پرېښودله او د ښار د شاوخوا تقریباً پنځوس زره کورنۍ، چې د یار محمد خان او د کامران سره یې ژوند نه سو کولای، زموږ سره ملګرې سوې او موږ هغوی ته په قاین او خراسان کې ځایونه ورکړل."
د ایران شاه په دغه اعلامیه کې وروسته په ډېر غرور سره وايي" د ختیځ سرحد (هرات) موضوع په ډېره ښه توګه حل سوه او نور نو داسې قدرت پاتې نه دی، چې زموږ د ارادې په مقابل کې دې سر اوچت کړي."(٦٥)
قلم او کاغذ د ایران د شاه په اختیارکې و. هغه کولای سوای، چې څه یې زړه غوارې هغه ولیکي او چې څه یې زړه غواړي، هغه ووايي، خو که چېرې د ده هغه خبرې، چې د هرات د ښار د محاصرې د پرېښودلو په وخت کې یې د برتانیې استازي کرنل ستوډارټ ته وکړې، راواخلو نو څرګنده ده، چې د ایران شاه نه یوازې دا چې د هېڅ افتخار احساس یې نه کاوه، بلکې کافي اندازه زړه شینی و. هغه د برتانیې استازي ته وویل، چې موږ له برتانیې سره جنګ نه کوو، موږ د هغه حکومت ټولې غوښتنې منو او که چېرې د برتانیې سره د دوستۍ سوال نه وای، نو موږ به هېڅکله د هرات محاصره پرې ایښې نه وای.(٦٦)
د ۱۸۳۸ م کال د سپتامبر پر نهمه د ایران زړه ماتی شاه پر آس سپورسو او د ایران پوځ، چې هېڅ یې نه وه ترلاسه کړي، د هرات له ښار څخه پر شا سو.(٦٧)

## په کابل کې د سترې لوبې بله صحنه

د هرات څخه د ایران د قواو د پر شاکېدلو سره د سترې لوبې یوه لویه ډرامه پای ته ورسېده، مګر د دې ډرامې د ختمېدلو څخه مخکې انګرېزانو پخپله پر افغانستان باندې د یوه لوی یرغل پلان جوړ کړی و. انګرېزانو په

افغانستان کې د هند د خاورې په خلاف، تقریباً هېڅ ډول اقتصادي او تجارتي ګټې نه درلودلې. د هغه لپاره افغانستان صرف ستراتیژیک اهمیت درلود او غوښتل یې، چې د هغه هېواد او د هغه هېواد د خلکو څخه د ایران، فرانسې او روسیې د پوځي پرمختګونو په مقابل کې د یوه ټینګ دیوال په توګه کار واخلي.

د هرات د محاصرې د ختمېدلو سره، د هند خاورې ته دغه متوجه سوی خطر رفع سوی و، خو برتانیې پر هغو خلکو باندې چې دوی ته یې هیڅ ډول تاوان نه و رسولی د حملې فیصله کړې وه. د هند برتانوي حکومت یو ځل فیصله کړې وه، چې شاه شجاع به د کابل پر تخت کښینوي او دوست محمد خان به، چې د دوی په نظر د روسانو سره نږدې سوی و، له قدرته لیرې کوي. سرپرسي سایکس لیکي" د محمد شاه له خوا د هرات محاصره او په کندهار باندې د هغه دعوې په هند کې د برتانیې ګټو ته خطر پېښ کړی و او دا څرګنده وه، چې دوست محمد خان په دغه وخت کې تر ټولو بهتر شخصیت و، چې باید حمایه سوی وای او پیسې ورکړه سوی وای، مګر د برتانوي هند حکومت دا کار ونه کړ"(۶۸)

پر افغانستان باندې د برتانیې له حملې څخه په څرګنده ښکاري، چې لوی قدرتونه خپل تصمیمونه په خومره غرور او سرتمبه ګي نیسي او چې یو ځل یې فیصله وکړه، بیا نو د شرایطو تغیر ته هم نه ګوري او په اصطلاح د مېړه یوه خبره ده، خو په زور کلي نه کیږي او د همدغه اصل په اساس لکه څرنګه، چې پر هرات باندې د ایرانیانو او روسانو یرغل ناکام سو او د ایران شاه د خپلو خارجي نظامي او سیاسي مشاورینو او درنو توپونو سره په تېښت سر ورڅخه روان سو، همداسې پر کابل باندې د انګرېزانو یرغل هم ناکام سو. البته د انګرېزانو تلفات تر ایران لس چنده زیات و، د پیسو او وسلو تاوان یې تر سل چنده واوښت او داسې ماته یې وخوړه، چې تر ننې ورځې پورې یې نه هېره کړې او نه یې له خاطراتو څخه ایستلې ده. حتیٰ ویل کیږي، چې په ۱۹۷۹ م کال کې چې د شوروي اتحاد لښکرې افغانستان ته ننوتلې او د نورو ټولو بېګانه قوتونو په څېر د خلکو د مقاومت سره مخامخ سوې او د نورو ټولو بېګانه ګانو په څېر یې هره ورځ عسکر او افسران وژل کېدل، نو د برتانیې سیاستمدارانو ویل، چې دوی خو به یو ځل زموږ سره سلا کول. سر پرسي سایکس د افغان او انګلیس د لومړي جنګ په برخه کې د سرهنري ډیورینډ له قوله لیکي" د دې لپاره چې د

روسیې د یرغل سیوری مو شاته کړی وي، موږ فیصله وکړه، چې کمزوری او بې ارزښته شاه شجاع، چې زموږ سره یې د یوه تبعیدي په حیث ژوند کاوه، د افغانستان پر هغو خلکو باندې په زور تحمیل کړو، چې تردغه ګړی پورې زموږ دوستان وه او دغه لویه بې عدالتي مو، چې په افغانستان کې زموږ د ټولو راتلونکو ستونزو سبب سوه، باید چې د پوځي اقداماتو په وسیله عملي کړې وای. موږ دونه له زوره کار واخیست او داسې اشتباه مو وکړه، چې سړی اوس ورته ګوري، نو اصلاً باور نه سي کولای.(۶۹)

د ۱۸۳۸ م د سپټامبر پر نهمه نېټه د ایران شاه د هرات د شاوخوا څخه خپل زړه ماتی او سرماتی پوځ وایستی او د اکتوبر پر لومړۍ نېټه د برتانوي هند ګور جنرال، لارډ اکلینډ د سملې اعلامیه خپره کړه. ګورنر جنرال په دې اعلامیه کې ویلي وه، چې" د افغانستان امیر دوست محمد خان د انګرېزانو له دښمنانو سره لاس یو کړی دی، د انګرېزانو د دوست مهاراجه رنجیت سینګه پر قلمرو یې تېری کړی دی، د افغانستان له پاچا شاه شجاع څخه یې د کابل تخت لاندې کړی دی، انګرېزان د خپل امنیت د تامینولو، د خپلو دوستانو سره د مرستې کولو او شاه شجاع ته، چې د انګرېزانو دوست دی، د کابل د تخت د بېرته نیولو په منظور افغانستان ته پوځونه لېږي".انګرېزانو په دې توګه د افغانستان خلکو ته د جنګ اعلان ورکړ او د خپل استعمار د ظالمانه تاریخ یو له تر ټولو ظالمانه ګامونو څخه یې پورته کړ. د سیملې اعلامیه د افغانستان د مظلومو خلکو پر حقوقو باندې دومره ناروا او بېځایه تېری و، چې پخپله د برتانیې سیاستمدارانو، جنرالانو او مورخینو هم په هغه وخت کې او هم له هغه څخه وروسته محکومه کړه. په برتانیه او هند کې د وخت په مطبوعاتو کې د دې بې اساسه او ظالمانه اعلامیې پر ضد یوه غوغا جوړه سوه. د برتانوي هند صاحب منصبانو هغه په وازه خوله غندله او ویل یې چې کشکې یې د برتانیې لپاره په یوه بل جنګ او یوه بل ځای کې توري را ایستلې وای. د برتانیې له پوهانو او سیاستمدارانو سره دا سوال طرح و، چې که چېرې تر پرونه پورې د ایران او روسیې د ګډو قواو له خوا د هرات د اشغال او د هند د امنیت اندېښنه موجوده وه، نو نن خو ایران خپل پوځونه پر شا کړي او د هرات د نیولو خطر رفع سوی دی. له هر چا سره دا سوال طرح و، چې که چېرې د برتانیې سره دا اندېښنه یا پخوا موجوده او یا اوس موجوده ده، چې کندهار او کابل به هم د ایران پاچا محمد شاه قاجار ته

تسلیم سي، نو دا خو موږ هغوی دې کار ته مجبور کړي او په زور مو له هغوی څخه خپل دښمنان جوړ کړي دي او ځانته مو په لوی لاس خطر پیدا کړی دی.(۷۰)

مشهور برتانوي مورخ او عالم مونستارټ الفینستون *Mounstuart Elphinstone* د برتانوي هند ګورنر جنرال ته په یوه شخصي لیک کې ولیکل، چې هغه حتی افغانستان ته د یوه انګلیسي سفیر د لیږلو له مفکورې سره مخالف و او تا اوس د هغه هیواد د ساتلو داسې مسئوولیت پر غاړه واخیست لکه هغه، چې د هند یوه برخه وي. الفینستون ګورنر جنرال ته لیکلي وه، چې تاسې به افغانستان ته اوه وېشت زره پوځیان واستوئ او زه شک نه لرم چې تاسې به کندهار او کابل ونیسئ، مګر د افغانستان په شان یوه غرني، ساړه، غریب، لیرې لویدلي او سرکښ هیواد کې د قواو ساتل ماته غیر ممکن ښکاري. دې وایي که چېرې تاسې بریالي سئ، بیا هم زه فکر کوم، چې د روسانو په مقابل کې به خپل دریځ کمزوری کړئ. دې وایي افغانان بې غرضه خلک وه، که تاسې د یرغلګرو په مقابل کې هغوی حمایه کړي وای، نو په پراخ تندي به یې ستاسې مرستې منلي وای او احسان به مو وربانديې باروای، مګر تاسې اوس هغوی آزار کړل او اوس به هغوی ستاسې د شړلو لپاره د بل هر یرغلګر سره ملګرې کیږي.(۷۱)

د الفینستون خبرې رشتیا سوې. انګرېزانو کندهار او کابل په ډېر لنډ وخت کې ونیول. شاه شجاع یې یو ځل په کندهار کې او بیا یې په کابل کې پر تخت کښېناوه، مګر په افغانستان کې یې ډېرې لږې ارامې شپې تېرې کړې.

د انګرېزانو پوځ د ۱۸۳۹ م کال د جولای په میاشت کې غزني د قوې په زور ونیوی او د اګسټ په میاشت کې کابل ته په داسې حال کې ننوتل، چې امیر دوست محمد خان مخکې له دغه ښار څخه د شمال پر لور تښتېدلی و. د کابل د نیولو څخه باندې دوه کاله وروسته د افغانستان لوی ښارونه او سیمې لکه کندهار، زمینداور، هلمند، غزني، قلات، لوګر، کابل او مشرقي پښتنو غازیانو پر سر اخیستې وه او الګزانډر برنس، چې د برتانوي هند په پوځ کې یو له تر ټولو زړه ورو او لایقو افسرانو او لیکوالانو څخه و، د دې عمومي قیام په لومړیو قربانیانو کې و. لږ وروسته د کابل ټولې لارې واورو بندې کړې او په کابل کې دېره برتانوي پوځ د افغانانو د غضب اور ته یوازې پاتې سو. د انګرېزانو توپونو، طلا او

تدبیر یـوه هـم کـار ورنـه کړ او پـه کـابل کـې دېره قـوه یـې ټولـه تباه سـوه. د الفینسټون پیش بیني رشتیا سوه، مګر په دې تفاوت چې افغانـانو د خپلـې خـاورې څخـه د انګرېزانـو پـه شړلو کـې د هـېڅ بېګانـه قـوت مرسـتې تـه ضرورت پېدا نـه کړ او د خپلې خاورې لـه دښمنـانو سره یـې حسابونه پخپلـه تصفیه کـړل.

تاریخي پېښې کلـه کلـه پـه عجیب شکل تکرارېږي. کـه څه هـم چې کلـه کلـه د پېښو لپاره نېټې پخپلـه انسانان ټاکـي، خـو وروستی پـېښې د لومړنیـو پېښو خـاطرات پـه دېر دلچسپ شکل تـازه کـوي. د ۱۸۳۸ م کـال د اکتوبـر پـه لومړۍ نـېټه ګورنـر جـنرال لارډ اکلینـډ پـه سیمله کـې د افغانستان د مظلومـو خلکو پر ضد یـوه لـه غـرور، دروغـو او غضب څخـه ډکـه مشهوره اعلامیـه خپره کړه او بیا یـې نـو د هغې اعلامیې پـه اساس پـه افغانستان کـې مداخلـه وکـړه. پـوره درې کالـه وروسـته د ۱۸۴۲ م کـال د اکتوبـر پـه لومړۍ نـېټه د برټانـوي هنـد بـل ګورنرجـنرال لارډ الینبرا *Lord Ellenbrough* پـه افغانسـتان کـې د جنګ او لـه هغـه هېواد څخـه د برټانیې د پوځونـو د را ایستلو پـه ارتباط پـه سیمله کې یـوه اعلامیـه خپره کـړه. دا اعلامیـه نـه یـوازې د سیملې د لومـړۍ اعلامیې پـه شـان لـه دروغـو ډکـه وه، بلکې ګورنرجـنرال پـه خپـل پـوځ او د خپـل هـېواد پـه استعماري سیاسـت داسې ملنـډې وهلې وې، چـې صـرف د برټانیې دښمنـانو بـاید وربـاندې وهلې وای. ګورنرجـنرال پـه دې اعلامیـه کـې وایي چې" موږ غوښتل پـه افغانسـتان کـې هغـه امیر، چـې زمـوږ دښمـن وُ، لـیرې کـړو او پـر ځای بـاندې یـې داسـې امیر ، چـې زمـوږ دوسـت وي کښېنـوو. دښمـن امیر مـو بنـدي کړ او دوسـت امیر مـو پـر تخت کښېناوه وروسـته هغـه امیر، چـې مـوږ فکـر کـاوه زمـوږ دوسـت دی، بـې لارې سـو او پـه خپـل هـېواد کې یـوه قـاتل وواژه. د ده لـه مـرګه وروسـته پـه افغانستان کـې ګډ وډې راغلـه. زمـوږ پـوځ بېرتـه افغانستان تـه داخـل سـو او د غزنـي او کـابل د قلاګانـو پـه نیولـو سره یـې د هغـو فـاجعو کسات واخیسـت، چـې زمـوږ پـوځ پـه افغانسـتان کـې ورسـره مخـامخ سـوی و." ګورنـر جنرال وروسـته لیکـي" مـوږ پـه دې تـوګه یـو ځل بیـا دا خـبره ثابتـه کـړه، چـې د برټانیـې پـوځ نـه مـاتېدونکی دی. افغانستان مـو د افغانستان خلکـو تـه پرېښود، پرېږده چې د هغې ګډوډي پـه جریـان کـې چـې د دوی د خپلـو جنایـاتو محصـول ده، خپـل ځانتـه حکومـت وټاکي". ګورنر جنرال له یـو څه لاپـو شـاپـو وروسـته وایـي، چـې اوس مـوږ خپـل پـوځي قوتونـه را پـر شـاه کـړي دي او کـه پـه غـرب کـې کـوم دښمـن موجـود

وي، نو د پنجاب او د سیند غرونه او د افغانستان وحشي قبایل به زمور او د دښمن ترمنځ حایل وي او نور به زمور پوځونه او وسلې د دښمن سره مستقیماً نه مخامخ کېږي.(۷۲)

ګورنر جنرال ایلن برا، چې د انګرېزانو د پوځ له خوا له افغانانو څخه د انتقام اخیستلو خبرې کوي او دونه ورباندې ویاړي، مقصد یې د غزني د بالاحصار نړول او د خلکو وژل، د کابل د چارچتې د بازار، چې د مکناټن مړی په کې ځړول سوی و، سوځول او د استالیف او کوهدامن د بېګناه او مظلومو خلکو قتل عامول دي. د افغانستان د خلکو د دې شانداري فتح او ملي پاڅون او د برتانوي استعمار د پوځونو د دې شرمونکې ماتې په باب مفصل بحث مو له خپلې موضوع څخه لیرې کوي او مجبور یو، چې بېرته خپل بحث ته وګرځو.

په هر صورت د سترې لوبې یوه ډرامه، چې پر هرات او غوریان باندې د ایران او روسیې د پوځونو په حملې سره پیل سوې وه او په کابل کې د انګرېزانو د لښکر په مداخلې سره اوج ته رسېدلې وه، په هرات کې د ایراني پوځ او د ایران د شاهنشاه په سپکېدلو او بشپړې ماتې او په کابل کې د برتانیې د امپراتورۍ د ماتې نه منونکي پوځ! په بشپړې ماتې او تباهۍ سره پای ته ورسېده.

البته دا د سترې لوبې یو فصل و او د افغانستان مظلوم او بې غرضه اولسونه، چې د ټولو خواو څخه د قوي او غلیمو ګاونډیانو په منځ کې محصور وه د حوادثو څخه د ډک تاریخ په لړ کې د نورو پېښو په انتظار کښېنستل. ستره لوبه نه وه ختمه سوې او د افغانستان په تېره بیا د هرات، په قسمت ډېرې نورې پېښې لا لیکلې وې.

# ستره لوبـه


۱. Great game p 130
۲. هغـه کتـــاب ص ۱۳۰-۱۳۱
۳. هغـه کتـــاب ص ۱۳۱
۴. Correspondents p 337
۵. هغـه کتـــاب ص ۳۳۸-۳۳۹
٦. هغـه کتـــاب ص ۳۳۹-۳۴۰
۷. هغـه کتـــاب ص ۳۷۹
۸. Kaye p 166
۹. Russia and England in the East p 161
۱۰. A memoire of Rawlinson p 280-281
۱۱. محمـود محمـــود ص ۳۹۱
۱۲. Kaye p 159
۱۳. Correspondents p 5
۱۴. هغـه کتـــاب ص ۵
۱۵. هغـه کتاب ص ٦-۷
۱٦. هغـه کتـــاب ص ۱۰
۱۷. هغـه کتـــاب ص ۱۱
۱۸. هغـه کتاب ص ۱۱-۱۲
۱۹. هغـه کتـــاب ص ۱۳
۲۰. هغـه کتـــاب ص ۱۴
۲۱. هغـه کتـــاب ص ۱٦
۲۲. هغـه کتـــاب ص ۲۳
۲۳. هغـه کتـــاب ص ۲۳
۲۴. Watson history of persia p 103
۲۵. هغـه کتـــاب ص ۲۹۷-۲۹۸
۲٦. Correspondents p 26

۲۷. Watson History of Persia p 208-209
۲۸. Correspondents p 26
۲۹. هغه کتاب ص ۳۰
۳۰. هغه کتاب ص ۳۱
۳۱. Watson history of Persia799-801
۳۲. Ferrier Afghanistan p 230
۳۳. Bilgrami p 88
۳۴. Kaye 230-231
۳۵. هغه کتاب ص ۲۳۴
۳٦. هغه کتاب ص ۲۳۹
۳۷. هغه کتاب ص ۲۳۹
۳۸. هغه کتاب ص ۲۴۰
۳۹. Watson history of Persia p 302-303
۴۰. Kaye p 259-260
۴۱. Correspondents p 98
۴۲. هغه کتاب ص ۹۹
۴۳. هغه کتاب ص ۱۲۲
۴۴. هغه کتاب ص ۱۳۰
۴۵. Kaye p 251
۴٦. هغه کتاب ص ۳۵۳-۳۵۴
۴۷. Correspondets p 127
۴۸. هغه کتاب ص ۱۲۷
۴۹. هغه کتاب ص ۱۳۳
۵۰. هغه کتاب ص ۱۳۴
۵۱. هغه کتاب ص ۱۸۷
۵۲. هغه کتاب ص ۱۸۷
۵۳. Kaye p 263
۵۴. هغه کتاب ص ۲٦٦
۵۵. Watson p 133
۵٦. Kaye 267-268
۵۷. هغه کتاب ص ۲۷۳
۵۸. Sykes history of Iran p 332
۵۹. Correspondents p 147

# هرات د ایرانیانو له ماتې څخه وروسته

295

په هرات کې د ایران د پاچا محمد شاه قاجار د ماتې سره د هرات د اشغال لپاره د ایران د دربار دسیسې ختمې نه سوې او دغه راز د یار محمد خان لوبې هم دوام درلود. یار محمد خان په پیسو مړېده نه درلوده او تر ممکنه حده یې له انګرېزانو څخه پیسې ترلاسه کړې او کله چې د انګرېزانو استازی جګړن ټاډ، د هغه ټولې غوښتنې نه سوای منلای، نو هغه بېرته محمد شاه قاجار ته، چې تر پرونه یې پر ده او د ده پر خلکو ګولۍ وورولې، د مرستې لپاره مخ واړاوه. هغه ته یې ولیکل، چې دوی د انګرېزانو څخه صرف خپله استفاده کوله، که نه نو په زړه کې د شهنشاه وفادار غلامان دي.(۱)

یار محمد خان په همدغه وخت کې پر کندهار باندې د حملې لپاره تیاری پیل کړ. البته کله چې په کابل کې د انګرېزانو د قواو د بریالیتوبونو څخه خبر سو، نو پر کندهار باندې د حملې پلان یې پرېښود او د زمینداور د مشهور مجاهد اختر خان سره یې تماس ټینګ کړ. هغه ټولو دراني مشرانو ته ولیکل، چې د اختر خان ملاتړ وکړي او د هرات څخه د ده مرستو او پوځیانو ته انتظار وباسي.(۲)

په دې صورت کې نو په هرات کې د انګرېزانو د پاره پاتېدل غیر ممکن و او ورځ تر بلې ورته خطرناکه کېدله. میجر ټاډ په بېړه له هرات څخه کندهار ته روان سو او په کابل کې د انګرېزانو د سفیر مکناټن خو دونه اعصاب خراب سول، چې د هرات د محاصره کولو او هغه ښار ته د لویو او درنو توپونو او وسلو د لېږلو پیشنهاد یې وکړ.(۳)

ګورنر جنرال لارډ اکلینډ هم په دې عقیده و، چې پر هرات باندې باید لښکر کښي وسي، مګر انګرېزان باید یو ځل ځانونه په افغانستان کې

ټینګ کړي، بیا به د هرات چاره وکړي. په داسې حال کې چې مکناټن په دې عقیده و، چې که هرات ونه نیسو تر هغه وخته پورې په افغانستان کې نه سو ټینګېدلای.(۴)

مکناټن پر هرات باندې د حملې کولو فرصت پیدا نه کړ.په کابل او شاوخوا علاقو کې ډېر ژر ملي قیام پیل سو او مکناټن خپل سر په کې بایلو امیر دوست محمد خان بېرته کابل ته ستون سو او کهندل خان د ایران څخه رخصت واخیست او په کندهار کې یې بېرته د چارواکي په لاس کې واخستلې.

یار محمد خان په هرات کې شهزاده کامران وواژه او مستقیماً یې د هرات اداره په خپل لاس کې ونیوله. یار محمد خان ته د شهزاده کامران له خزانې څخه د ۲۴۰ زره پونډه په ارزښت جواهرات لاسته ورغلل، مګر هغه واسکټ یې، چې ده د ډېره وخته سترګې ورته خړې کړې وې او ۱۶۰ زره پونډه ارزښت یې درلود، تر لاسه نه کړ. کامران دغه واسکټ خپلې یوې ښځې ته ورکړی و او هغې د یوه وفادار نوکر په لاس خراسان ته استولی و. یار محمد خان دغې ښځې ته بې اندازې زیاتې شکنجې ورکړې، مګر واسکټ یې د لاسه نه کړ.

# د یار محمد خان او دوست محمد خان اړیکې

یار محمد خان په کال ۱۸۴۶ م کې خپله لور د امیر دوست محمد خان زوی اکبر خان ته واده کړه او په دې توګه یې د کندهار د سردارانو په مقابل کې، چې هېڅ وخت یې د هرات د نیولو د نقشو څخه لاس نه اخیست، یو ښه متحد پیدا کړ.

یار محمد خان ښایي په دې پوهېدی، چې ایران د یوه قوي ګاونډي په حیث هر وخت د ده قدرت ته خطر متوجه کولای سي او برتانیه، چې د لیرې څخه راغلې قوه ده، صرف د یو څه وخت لپاره په سیمه کې بقا لري. هغه ځکه د خپل غلیم ګاونډي د ایران د قاجاریانو په مقابل کې د انګرېزانو څخه مرستې واخیستلې، هغوی یې تر ممکنه حده ولوشل او کله چې نور هغوی د ده د پاره د استفادې وړ نه وه، نو بېرته یې د خپل زړه د

بغمه کولو لپاره خپل ګاونډي ته د دوستۍ لاس اوږد کړ. یار محمد خان او اکبر خان، چې تازه یې دوستي سره کړې وه، د ۱۸۴٦ م کال په پای کې د ایران پاچا محمد شاه قاجار ته ګډ لیک واستاوه او هغه ته یې ولیکل، چې له دوی سره د انګریزانو په مقابل کې لاس یو کړي. محمد شاه قاجار د دوی د استازو ډېر تود هر کلی وکړ او دوست محمد خان او اکبر خان ته یې مرصع تورې او تحفې واستولې.(٦)

یار محمد خان په هرات کې د خپل قدرت د ښه ټینګولو وروسته، په شمال کې پر میمنه، سرپل، شبرغان، اندخوی او آقچه باندې حملې وکړې او ټولې سیمې یې د هرات سره وتړلې. یار محمد خان پر هزاره جات باندې هم حمله وکړه او د هغې سیمې اته زره کورنۍ یې د هریرود غاړې ته وکوچولې.(۷)

په کال ۱۸۴۸ م کې محمد شاه قاجار وفات سو او د هغه شپاړس کلن زوی، ناصر الدین شاه قاجار، چې دا وخت په تهران کې و، د خپل پلار پر ځای پاچا سو. محمد شاه قاجار ته د پاچاهۍ په وروستیو کلونو کې په مشهد کې د سالار په نوم یو ځوان قاجار یاغي سوی او ښار یې اشغال کړی و. د هغه سره د خراسان ډېر نور مشران او خانان هم ملګري سوي وه او د محمد شاه حکومت د هغه د عمر په وروستیو کلونو کې دونه کمزوري سوي و، چې د مشهد د ښورښ د ځپلو توان یې نه درلود. د ناصرالدین شاه قاجار د پاچا کېدلو سره د سالار ښورښ نور هم زور واخیست. په مشهد کې د ایران ګورنر حمزه میرزا د یار محمد خان څخه مرسته وغوښتله او د مرستې په عوض کې یې د شلو توپونو او دوو سرحدي پوستو د ورسپارلو وعده ورسره وکړه. یار محمد خان د خپلو قواو سره مشهد ته ورغی، مګر د سالار سره یې زور برابر نه و او حمزه میرزا هم د ده خبره ومنله، د مشهد څخه راووت او د غوریان سره نیژدې د برناباد په سیمه کې دېره سو.(۸)

په دغه وخت کې له تهران څخه د سلطان مراد میرزا حشمت السلطنه په رهبرۍ شپږ زره پیاده قوه خراسان ته ورسېده. د هرات څخه حمزه میرزا، د خراسان پر لور حرکت وکړ او مشهد یې له اته لسو میاشتو محاصرې څخه وروسته ونیوی. سالار د ایران قواو ته ژوندی په لاس ورغی او له وحشیانه شکنجو وروسته یې په زینده مړ کړ.(۹)

یار محمد خان په کال ۱۸۵۰ م کې لاش وجوین فتح کړل او هرات ته روان و، چې په لاره کې ناروغ سو او وفات سو. د یار محمد خان د وفات

ځخه وروسته د هغه زوی، سعید محمد خان، چې چندانې په سد کې نه و. د هرات د چارواکي په لاس کې واخیستلې. د ایران دربار د هغو ښو روابطو له مخې چې د هغه له پلار یار محمد خان سره یې درلودل او هغه ته یې د ظهیرالدوله لقب ورکړی و، د سعید محمد خان د حکومت ملاتړ وکړ او هغه ته یې د پلار لقب ور انتقال کړ.

## سعید محمد خان او د کندهار سرداران

د کندهار حکمران سردار کهندل خان خپل وراره سردار میر افضل خان د فراه پر لور واستاوه. فراه یې د سعید محمد خان د قواو ځخه ونیوله او د هرات پر لور یې حرکت وکړ. په دغه وخت کې د هرات اکثرو مشرانو، چې د خپل لیوني حکمران د ظلمونو ځخه په عذاب سوي وه او دغه راز د ایران دربار ته د هغه د ښکاره تسلیمېدلو موضوع په غوسه کړې وه سردار کهندل خان ته د هرات د نیولو بلنه ورکړه. سردار کهندل خان هم د دوولسو زرو پیاده او څلورو زرو سپرو سره د هرات پر لور حرکت وکړ. سردار سعید محمد خان،چې پخپله یې د کندهار د قواو سره د مقابلې توان نه درلود، د ایران دربار ته عریضې او سوغاتونه واستول او د مرستې غوښتنه یې ورځخه وکړه. د ایران پاچا د سعید محمد خان مرستې ته د حسام السلطنه سام خان ایلخاني تر مشرۍ لاندې یو فوج ورواستاوه. په دغه وخت کې د سردار کهندل خان لښکر هرات ته رسېدلی و، چې د هرات ځخه سعید محمد خان او حسام السلطنه قواو د ښار ځخه دباندې حرکت وکړ. سردار کهندل خان نه غوښتل، چې د ایران له قواو سره مخامخ سي، ځکه یې نو بېرته د کندهار پر لور حرکت وکړ. د سعید محمد خان قواو فراه هم له سردار میرافضل خان ځخه ونیوله. سعید محمد خان په هرات کې د ایران د پاچا په نوم سکه ووهله او د ایران پاچا هغه ته فاخره جامې، دوه زره جوړې عسکري لباسونه، دوه توپونه او دوه زره ټوپکه واستول.(۱۰)

# د هرات په برخه کې د برتانیې او ایران دریځونه

299

سعید محمد خان د خپل موقف د قوي کولو لپاره په آینده کې د دښمنانو د مخنیوي لپاره د ایران د دربار سره مذاکرات پیل کړل او دې مذاکراتو د برتانیې حکومت ته اندېښنه پیدا کړه. د برتانیې حکومت د ایران له دولت سره یو تړون لاسلیک کړ او د ایران دولت عهد وکړ، چې ترڅو پورې بهرنیو پوځونو پر هرات باندې حمله نه وي کړې، هرات ته به پوځیان نه استوي.(۱۱)

د ایران دولت تعهد وکړ، چې د هرات په داخلي چارو کې به د هر راز مداخلې څخه ځان ژغوري او د هرات د خاورې د اشغال او پر هغه باندې د واکدارۍ درلودلو نیت به نه کوي او د هرات سره به هغه راز روابط ساتي لکه د یارمحمد خان په زمانه کې، چې یې درلودل. د ایران دولت تعهد وکړ، چې سعید محمد خان ته به یو لیک استوي او د دغه تړون په موادو به یې خبروي. ایران دا هم ومنله، چې د هغه مامور سره به چې دغه لیک هرات ته رسوي، د برتانیې د دولت یو نماینده هم ملګری وي. د ایران دولت دغه راز ژمنه وکړه، چې نه به په هرات کې د ایران د شاه په نوم د سکې وهلو او خطبې ویلو دعوا کوي او نه به داسې ادعا کوي، چې له هغه څخه په هرات باندې د ایران د دولت د تسلط مفهوم اخیستل کېږي. ایران تعهد وکړ، چې هېڅ وخت به هرات ته دایمي نماینده نه لېږي او هرات به هم ایران ته دایمي نماینده نه استوي.(۱۲)

د ایران صدراعظم میرزا اقا خان نوري د وعدې سره سم سعید محمد خان ته لیک واستاوه. هغه ته یې د زوی خطاب وکړ او ورته وې لیکل، چې ایران هېڅ وخت نه غوښتل، چې هرات د دغه هېواد خاوره وبولي او مطلب یې صرف ستاسې سره مرسته وه. د ایران دولت غوارې، چې هرات د بېګانه ګانو له تېریو څخه مصؤن وي او هېڅ وخت یې دا نیت نه دی کړی، چې هرات دې د ایران خاوره سي.(۱۳)

په دغو شپو ورځو کې سردار مهر دل خان په کندهار کې وفات سو او زيات و کم خلور مياشتې وروسته سردار کهندل خان هم د درې شپېتو کالو په عمر د تل لپاره سترګې پټې کړې. د سردار کهندل خان د ښخولو سره سم، د هغه د کشر ورور رحمدل خان او د سردار کهندل خان د زامنو ترمنځ د کندهار د قدرت د نيولو پر سر جنجال پيل سو. د هغوی ترمنځ دعوه لږ وروسته جګړې ته ورسېده او د ښار په منځ کې سنګر بندي شروع سوه. امير دوست محمد خان د کندهار د داخلي جنګونو د کړاړولو او وينو تويولو د مخنيوي او يا د مخنوي په پلمه، کندهار ته حرکت وکړ. امير دوست محمد خان ډېر ژر د کندهار جګړې کړارې کړې او پخپله يې د کندهار د چارواکي په لاس کې واخيستلې.

د امير دوست محمد خان وراره او زوم سردار سلطان احمد خان، چې مخکې يې هم له امير سره روابط خراب سوی وه، له کندهار څخه ايران ته ولاړ او د ايران د پاچا ناصرالدين شاه قاجار خدمت ته ورغی. د ايران پاچا د خپلو اسلافو د هميشګي پاليسي سره سم، د هغه عزت وکړ او په خپله خاوره کې يې ځای ورکړ.

## ايران يو ځل بيا د هرات له دروازو سره

په دغو شپو کې په هرات کې د سعيد محمد خان لېونتوب او استبداد داسې حالت ته رسېدلی و، چې نور نو د خلکو لپاره په هېڅ توګه د تحمل وړ نه و. د ښار لويانو او مشرانو د شهزاده ملک قاسم زامنو (د حاجي فيروزالدين لمسيانو) شهزاده محمد يوسف او شهزاده محمد رضا ته، چې په دغه وخت کې د ايران په دربار کې اوسېدل. هرات ته د راتللو بلنه ورکړه.شهزاده محمد رضا د هرات د مشرانو د غوښتنې سره سم له مشهد څخه حرکت وکړ او وروسته له هغه چې د هرات مشرانو قران ورسره مهر کړ او د وفادارۍ لوړه يې ورسره وکړه، هغه ښار ته ننوت او د ښار په چارسو کې د هغه په نامه نغاره ووهله سوه. سعيد محمد خان په ارګ کې ناست و، چې د مخالفينو قوه وورسېده او هلته يې په ژوندۍ مړ کړ.

د ایران پاچا په هرات کې د دغو خبرونو د اورېدلو سره سم په خراسان کې خپل والي، حسام السلطنه سلطان مراد میرزا ته هدایت ورکړ، چې هرات اشغال کړي او شهزاده محمد رضا ته ښه سبق ورکړي. په دغه وخت کې ترکمنانو په هرات کې د اړودوړ څخه استفاده وکړه او د ښار په اطرافو کې يې د خلکو مالونه چور کړل. د شهزاده محمد رضا ورور شهزاده یوسف د مشهد څخه د دوو زرو سپرو سره د هرات پر لور حرکت وکړ، ترکمنان يې پسې واخیستل او د خلکو مالونه يې بېرته خپلو څښتنانو ته وسپارل. پخپله هرات ته ننووت او د خپل ورور سره په ګډه يې د چارواکي په لاس کې واخیستلې.

د ایران پينځه وېشت زرو پیاده.او سپرو قواو، چې ډېرش درانه توپونه ورسره وه، شهزاده یوسف او د هغه جنرال عیسٰی خان بردراني په هرات کې محاصره کړل او له هغوی څخه يې وغوښتل، چې خپل ځانونه د ایران قواو ته تسلیم کړي. شهزاده یوسف له څو ورځو مقاومت څخه وروسته ځان د ایران د قواو مشر حسام السلطنه ته تسلیم کړ او هغه تهران ته بندي واستاوه. عیسٰی خان بردراني په ښار کې د سختې قحطي او د هرات په قواو کې د بې اتفاقۍ له کبله مقاومت ته دوام نه سو ورکولای او هرات يې حسام السلطنه ته تسلیم کړ. هغه یوه ورځ وروسته تسلیم سوی عیسٰی خان ته یو سړی ورواستاوه او د هغه ژوند ته يې خاتمه ورکړه.(۱۴)

# انګرېزان د ایران په خاوره کې

پر هرات باندې د ایران د دومره زیاتو قواو د یرغل او د هغه ښار اشغال، د ایرانیانو او انګرېزانو د پخوانیو قراردادونو څخه څرګنده سرغړونه وه. انګرېزانو څو ورځې وروسته په ایران کې خپل ډیپلوماتیک دفترونه وتړل او سفیر يې د هندوستان خواته حرکت وکړ.(۱۵)

د کال ۱۸۵٦ م د ډسامبر پر خلورمه د انګرېزانو قواو د فارس په خلیج کې د خارک ټاپو ونیوله او بو شهر ته نژدې يې د قواو د پیاده کولو تیاری پیل کړ. د ډسامبر ترلسمې پورې يې بو شهر ونیوی او د بندروالي او د پوځي قواو قوماندان يې خپلې توري د انګرېزانو د قواو قوماندان، تورن جنرال ستالکر *Major Gen Stalker* ته تسلیمي کړې. د انګرېزانو قواو دلته د ایرانیانو د لښکرو نهه پنځوس توپونه او ډېر زیات مهمات ترلاسه

کړل. انګرېزانو په سبا د ایران د قواو عالي رتبه صاحب منصبان د جنګ د بندیانو په حیث هند ته واستول او نور عسکر یې خوشې کړل.

د کال ۱۸۵۷ د جنوري پر اوه وېشتمه ډګر جنرال سرجېمز اوټ رام *Genral Sir James Outram Lieutunat* بو شهر ته ورسېدی او د قواو قومانده یې پر غاړه واخیستله. ایرانیانو یوه اته زره کسیزه قوه د بوشهر سره نېژدې د بورز جان په ښار کې اچولې وه، مګر مخکې له هغه چې د انګرېزانو قوه هلته ورسېږي، ایراني عسکر له خپلو سنګرونو او مرکزونو څخه په تېښته تللي وو. هغوی دونه په تلوار تښتېدلي و، چې خپلې خېمې، وسائل او مهمات یې پرې ایښي وه. کله چې د برتانیې قواوې د ایراني عسکرو دغه متروک مرکز ته ورسېدل، نو د نېژدې کلیو خلکو د ایراني عسکرو څخه پاتې سوي شیان چور کړي وه.

د فبروري پر اتمه د انګرېزانو او ایران قواو ترمنځ دِ خوشاب په سیمه کې په یوه بله جګړه کې د ایرانیانو توپخانه او مهمات د انګرېزانو لاسته ورغلل، اوه سوه تنه ایرانیان ووژل سول او د زخمیانو شمېر څکه معلوم نه سو، چې جنرال اوټ رام خپلو عسکرو ته امر وکړ، چې ایرانیان پرېږدي، چې خپل زخمیان تر ځایه ورسوي او نور هغوی تعقیب نه کړي. د ایران عسکرو په دغه جګړه کې ډېرې زیاتې وسلې پر میدان پرېښودلې او ځانونه یې په تاخت خلاص کړل. د خوشاب په جګړه کې د انګرېزانو شپاړس تنه عسکر مړه او ۶۲ تنه زخمیان سول.(۱۶)

برتانوي قواو په څه باندې دوو میاشتو کې د ایران په خاوره کې بشپړ بریالي عملیات وکړل. بو شهر او موهمرایې ونیول، په خوشاب کې یې ایراني قواو ته ماته ورکړه او له اهواز څخه یې د ایران عسکر وشړل. مګر د برتانیې د قواو لپاره یو مشکل دا و، چې که جنګ دوام وکړي، نو د برتانیې د قواو د عملیاتو کړښه به چېرې رسېږي. په دې منځ کې لا د جنرال جې جاکوب *Gen.J.Jacob* په شان صاحب منصبان هم وه، چې ویل یې د برتانیې قواوې دې د موهمرا په ښار کې پاته سي او د قارون د سیند په اوږدو کې ترلاسه کړي سیمې دې وساتي او د خوزستان ولایت باید بیخي له لاسه ورنه کړي.(۱۷)

# د پاریس تړون

303

د برتانیې قواو لا په ایران کې خپل نظامي عملیات پای ته نه وه رسولي، چې د کال ۱۸۵۷ م د مارچ پر څلورمه په پاریس کې د ایران سفیر فرخ خان او د انګرېزانو له لوري لارډ کاولي Lord Coeley په پاریس کې یو تړون لاسلیک کړ. دا تړون سرجېمز اوټ رام ته په موهمرا کې د اپریل پر څلورمه ورسېدی او یوه میاشت وروسته په بغداد کې رسماً لاسلیک او د دواړو خواو ترمنځ تبادله سو. د دې تړون په اساس باید د برتانیې قواوې د ځینو شرایطو سره د ایران له خاورې وتلې وای. په دې شرطونو کې تر ټولو مهم دا و، چې د ایران شاه باید سمدستي خپلو قواو ته امر وکړي، چې د هرات له ښار او د افغانستان له نورو برخو څخه ووزي، د ایران هغه قواوې چې د افغانستان خاورې ته ننوتلې دی، باید چې د دغه تړون د لاسلیک کېدلو څخه درې میاشتې وروسته د افغانستان خاوره تخلیه کړي. د ایران شاه موافقه وکړه، چې د هرات په ښار او د افغانستان د خاورې په هېڅ برخه به دعوه نه کوي او هېڅ وخت به د هرات له مشرانو او یا د افغانستان د نورو برخو له مشرانو څخه دا نه غواړي، چې د ایران د شاه په نوم دې سکه جاري کړي او یا دې د ایران د شاه په نوم خطبه ولولي.

د ایران شاه موافقه وکړه، چې هېڅکله به د افغانستان په داخلي چارو کې مداخله نه کوي. ده ژمنه وکړه، چې د هرات او ټول افغانستان خپلواکي به پېژني او هېڅ وخت به د دغو سیمو له استقلال سره غرض نه کوي.

که چېرې د هرات او د افغانستان د نورو برخو او ایران ترمنځ اختلافات پېدا کېږي، نو د ایران حکومت باید ٓ هغوی د حلولو د پاره د برتانیې څخه مرسته وغواړي او چې ترڅو پورې د برتانیې ټول کوښښونه ناکام سوي نه وي، باید چې وسلې ته لاس وانه چوي.

د برتانيې حکومت به هر وخت د خپل نفوذ څخه په استفادې سره د افغانستان مشران دې ته نه پرېږدي، چې د ايران د پاره مشکلات ايجاد کړي او کله چې د دغه راز مشکلاتو په وخت کې ايران د مرستې د پاره مراجعه ورته کوي، نو بايد چې برتانيه د هغوی د حلولو لپاره ټول وس په کار واچوي.

که چېرې د افغانستان له خوا د ايران پر سرحداتو باندې تيری کيږي او ايران ته د هغوی د تيري د ختمولو لپاره بله هېڅ لاره نه پاتيږي، نو کولای سي، چې يرغلګرو ته د سزا ورکولو لپاره پوځي اقدامات وکړي، مګر دا خبره بايد روښانه وي، چې هر کله د شاه قواوې د دغه راز يوه مطلب لپاره د افغانستان خاورې ته ننوزي، نو بايد چې د مطلب د پوره کولو څخه وروسته بېرته خپل هېواد ته پر شا سي. د ايران قواوې بايد په دې پلمه د تل لپاره د افغانستان په خاوره کې پاته نه سي او د هغه هېواد هېڅ برخه د تل لپاره د ځان ونه بولي.(۱۸)

د پاريس د تړون په اتمه ماده کې راغلی وه، چې د ايران حکومت بايد هغه ټول بنديان خوشې کړي، چې د هغه هېواد پوځيانو په هرات کې د وروستيو عملياتو په وخت کې نيولي دي. په دې بنديانو کې يو تن د شهزاده کامران د خور زوی، شهزاده محمد يوسف و، چې د ۱۸۵۶ م کال په پسرلي کې يې د ايرانيانو د قواو په مقابل کې د هرات څخه ډېره ښه دفاع کړې وه. شهزاده محمد يوسف يې، د دغه تړون د نافذېدلو څخه مخکې په داسې حال کې چې رسی يې په غاړه کې ور اچولې وه، د ايران د شاه حضور ته راووست. د ايران شاه هغه وبښکانځه، هغه يې په اصطلاح ياغي وباله او بيا يې نو عفو کړ، مګر په دې شرط چې د تهران له ښار څخه به نه وزي. شهزاده يوسف چې يو وخت يې د تهران په دربار کې د يوه سياسي پناهنده په حيث ډېر قدر کېدی او د مېلمه په سترګه ورته کتل کېدل، نور نه يوازې د ايران لپاره ګټور نه و، بلکې د ايران صدراعظم فکر کاوه، چې شهزاده محمد يوسف به خپل خوشې کېدل د پارېس د تړون له برکته وبولي او که چېرې هرات ته ستون سي، نو هلته به د ايرانيانو ګټې نه،بلکې د انګرېزانو ګټې ساتي، ځکه يې نو سلطان احمد خان ته، چې د امير دوست محمد خان سخت رقيب او د ايران د حکومت تر مستقيمې حمايې لاندې و، ترجيح ورکړه او هغه يې هرات ته واستاوه.(۱۹)

د ۱۸۵۷ کال د اپریل پر لسمه د پاریس تړون تهران ته ورسېدی او د ایران حکومت نور د شهزاده محمد یوسف وجود نه سو زغملای، نو د خپلې مېلمه پالنې د اصولو سره سم یې هغه د اپریل پر یوولسمه گرفتار کړ او سمدستي یې د سعید محمد خان خپلوانو ته وسپاره. هغوی د ایران د حکومت په اجازه او اشاره د قاجاریانو د قصر مخې ته پریوه غونډۍ باندې هغه په تورو ټوټې ټوټې کړ.(۲۰)

# د هرات د پېښو په باب د ایراني مطبوعاتو نظر

د عین الوقایع د کتاب لیکوال د ایران د هغه وخت د تبلیغاتو تر تاثیر لاندې تللی دی او په هغو جنگونو کې چې په ټولو کې ایراني قواو ډېرې سختې ماتې کړې او له یوه مورچله تر بله پورې په تېښته تللي او وسلې او مهمات یې د انگرېزانو قواو ته پرې ایښي دي، بیا هم د ایران د قواو د فتوحاتو خبرې کوي او د پاریس د قرار داد علت د ایران د صدراعظم میرزا اقا خان نوري خیانت بولي.(۲۱)

دْ ایران مشهور معاصر لیکوال، محمود محمود هم ببله دې، چې تاریخي پېښو ته یو څه د واقعیت او انصاف په سترگه وگوري، د عین الوقایع د لیکوال له قوله وایي، چې انگلیسیانو میرزا آقاخان نوري ته رشوت ورکړ او هغه یې د هرات د نیولو او اشغالولو څخه منصرف کړ. هغه هم مرحوم حسام السلطنه ته حکم وکړ، چې هرات تخلیه کړي او مشهد ته ستون سي، څو انگرېزان د فارس د خلیج په بندرونو کې له جنگ څخه لاس واخلي. مرحوم حسام السلطنه په جواب کې ورته ولیکل، چې دا نه بنایي، چې د ایران دولت له هرات څخه لاس واخلي، ځکه چې موږ ته فوق العاده زیات تاوانونه رسېدلي دي او ډېر زیات قزلباش، چې مخکې یې خپل عقاید پټ کړي وه، اوس رسوا سوي دي او د ایران دولت او ملت ته له هره پلوه تاوان رسیږي.(۲۲)

اوس نو له محمود محمود څخه څوک پوښتنه وکړي، چې په دغه وخت کې نه د ایران پاچا او نه په ټول ایران کې یوه مشر دونه ماغزه او د وطن پرستۍ حس درلود، چې د هرات په شان یوه لوی او مهم ولایت د سرنوشت د ټاکلو په برخه کې پخپله فیصله وکړي او په داسې حال کې

چې د ایران قواو د فارس د خلیج په بندرونو کې انګرېزانو ته دونه زیات تلفات هم اړولي او انګرېزان لا په دغه وخت کې په هند کې د داخلي شورښ او ملي قیام سره مخامخ و، د یوه صدراعظم رشوت اخیستل او خیانت د ټول هېواد ملي مسئله د دښمنانو په ګټه فیصله کوي او په زړه پورې خو دا ده، چې د ایران وطن پرست سلطان خپل صدراعظم ته د دومره لوی ملي خیانت سزا هم ورنه کړه. په داسې حال کې چې د دومره لوی ملي جرم سزا بېله اعدام څخه بل څه کېدلای سوای.؟ او که چېرې د محمود محمود سره د یوې ګړۍ د پاره د هغه دغه تحلیل ومنو او داسې یې فرض کړو، چې د عین الوقایع د لیکوال دا خبره، چې البته بل هېڅ تاریخ نه ده ثبت کړې، سمه او پر ځای ده او د ایران د صدراعظم خیانت د هرات د ولایت ټوله قضیه د هغه هېواد د دښمنانو په ګټه فیصله کړه، نو بیا به د محمد شاه قاجار په وخت کې د هرات د محاصرې سوال څرنګه حلووو؟ په ۱۸۳۸ م کال کې چې د ایران پاچا، محمد شاه قاجار د خپلو ټولو منظمو قواو، توپونو، پیسو او د روس او پولېنډ د جنرالانو، عسکرو او مشاورینو سره تقریباً یو کال د هرات ولایت محاصره کړی و، هلته چا رشوت وخوړ، چې د ایران شاه په تېښ مغزي د هرات له ښار څخه روان سو او په پای کې یې د افغانانو د دې تاریخي او عظیم ولایت د اشغال او الحاق ارمان د خپل پلار او نیکه په شان ګور ته ورسره یووړ.

محمود محمود لا په دې خبرو نه بسیا کیږي او د عین الوقایع د کتاب په حواله بل ځای لیکي" مرحوم حسام السلطنه په هرات کې د شیعه او سني سره په مینه سلوک کاوه. له هغه څخه خلک دونه خوشاله وه، چې د ښار اوسیدونکو د خپلو ماشومانو نومونه، چې عمر، ابوبکر او عثمان و، علي، او حسن او حسین ته تبدیل کړل. هغه د شیعه او سني ټولو قاضیانو، طالبانو او لویانو ته مستمري معاشونه مقرر کړل او په عدالت یې حکومت کاوه.

اول خو دا د افغانستان په تاریخ کې نه ده پېښه سوې، چې د دې هېواد متدین خلک دې د یو حکمران او یا یوه پاچا په خاطر ډلې، ډلې شیعه ګان سوي وي او هغه هم په دونه شور او شوق، چې د خپلو اولادونو نومونو ته دې تغیر ورکړي. دوهمه خبره دا ده، چې مرحوم حسام السلطنه خو په هرات کې ټول ټال څه کم څلور میاشتې حکومت وکړ. دا د حکومت کولو دونه لنډه دوره ده، چې چندانې د چا د ظلم او عدالت

درک نـه پـه کـې معلومیږي. دا چـې خلـک دې پـه دې لنـډه مـوده کـې د مرحـوم حسـام السـلطنه پـر عدالـت دونـه عاشـقان سـوي وي، چـې خپلـو مذهبونـو تـه تغیر ورکـړي، دا خـو لا هلتـه پرېږده. اوس نـو دربـمـه او اصلـي خبره دا ده، چې لوسـتونکي بـه بیخـي بـاور ونـه کـړي، چـې محمـود محمـود د خپـل شـهرت سـره د داسـې یـوه متـن حوالـه پریـوه کتاب بـانـدې ورکـړې ده، چې هغه ته مشابه جملـه پـه ټول کتـاب کـې وجـود نـه لـري. د عـین الوقـایع پـه ټول کتـاب کـې نـه د حسـام السـلطنه د عـام عدالـت خـبرې سـته او نـه د چـا د اولادونو د نومونو تغیرولو تـه اشـاره پـه کـې سـوې ده. دا عبـارت هغـه پخپلـه لـه ځانه جوړ کړی او یـا بـهتر ووایم جعـل کـړی یـې دی.

زه پـه دې عقیـده یم، چـې کـه چـېرې دغـه متـن وجـود درلـودلای، بـاید محمـود محمود د یوه مشـهور لیکـوال او مـؤرخ پـه حیـث لـه هغـه څخـه اسـتفاده نـه وای کـړې، ځکـه چـې هـر ډول ړانـده او بـې مسئوولیته متنونـه او عبارتونـه د اسـتناد کولـو ارزښت نـه لـري، خـو د محمـود محمـود پـه شـان د محققینـو سترګې ملـي او مذهبـي تعصب ړنـدې کـړې دي او د خپلـې ادعـا د اثبـات لپاره هـر راز متنونـه را اخیسـتلای سـي او کـه یـې پیـدا نـه کـړي، نـو بیـا غلطـو ترجمـه کولـو او حتـی جعـل کولـو تـه هـم حـاضر دی. د دې لیکوالانـو ټول مطلـب دا دی، چـې دا ثابتـه کـړي، چـې هـرات او د هغـه شـاوخوا سـیمې د ایـران خـاوره ده او دا خـاوره انګریزانـو پـه زور ورڅخـه بېلـه کـړې ده. اوس نـو د هـرات څخـه د دفـاع پـه لاره کـې چـې د هـرات خلکـو څه جنګونـه کـړي او څه قرباني یې ورکـړې دي، هغـه دوی تـه ارزښت نـه لـري.

# د هرات د مسئلې په باب د محمود محمود نور جعلي استنادونه

محمـود محمـود وروسـته لیکـي" پـه دغـه وخـت کـې د انګلیـس د دولـت ټول مطلـب، چې لـه ایـران سره یـې جنګ پیـل کـړ دا و، چـې ایـران پـر افغانستان باندې د خپـل حـاکمیت لـه حـق څخـه تېر سـي او د هغـه سرنوشـت انګرېزانـو تـه وسپاري او د هغـوی دغـه مقصـد د پـاریس پـه تـړون کـې ترسـره سـو، مـګر پـه دغـه تـاریخ کـې د هنـد د خلکـو ښورښ د دې سـبب سـو، چـې هرات د تل په شان د ایـران پـه لاس کـې پاتـه سـي؟"(۲۳)

بـل ځای لیکـي، چـې د ایـران شـهریار د امیر دوسـت محمـد خـان وراره، سلطان احمـد خـان تـه، چـې پـه سـلطان جـان مشـهور و او د امـیر سـره د دښمنۍ لـه کبلـه د ایـران پـه دربـار کـې اوسـېدی، د چـاروواکـي وسـپارلې. هغـه د ایـران یـو وفـادار خدمتـګار او تـرڅو چـې ژونـدی و د ایران د دولـت د فرمانونو او اوامـرو اطـاعت یـې کـاوه.(۲۴) محمـود محمـود لـه دې جملـو څخـه مخکـې لیکـي چـې د هـرات اوسـېدونکو د دې ټولـو خـبرو سره سره، د ایـران د دولـت خـوا تـه د امیـد سترګـې نیولـې وې او د انګلیس لـه دولـت څخـه پـه بشپړه تـوګه مـأیوس وه، ځکـه چـې دوسـت محمـد خـان یـې د انګرېزانـــو لاس پوڅی بالـــه .(۲۵)

محمـود محمـود د خپـل دې متـن حوالـه د یـوه مشـهور انـګرېز لیکـــوال او سیاسـتمدار، راولنسـن، د" انګلیـس او روس پـه شـرق کـې" پـه نـوم مشـهور کتـاب ورکـوي. محمـود محمـود دا متـن غلـط ترجمـه کـړی دی او یـا یـې د خپلـې خوښې سـره سـم ترجمـه کـړي دي. زه پـه دې بـاور لـرم، چـې محمـود محمـود دونـه بـې سـواده نـه و، چـې تـاریخي متنونـه یـې ترجمـه کـولای نـه سـوای، بلکې دا متن یې په لـوی لاس، د خپـل غـرض لپـاره غلط ترجمـه کـړی دی.

په متن کې راغلـي دي، چـې ایـران پـه دغـه مـوده کـې د هـرات پـه برخـه کـې د پـاریس تـړون پـه بشپړه تـوګه رعـایت کـاوه. ایـران نـه د هـرات څخـه د باج غوښتنـه کولـه، نـه یـې د اطـاعت غوښتنـه ورڅخـه کولـه او نـه یـې د هـرات پـه ښار کـې اداري صلاحیـت او واک درلـود، مـګر افغـــان مشـــر(نـــه د محمـــود محمود پـه قـول د هـرات خلـک) د ختیـځ لـه لـوري پـه دایمـي تـوګه پـه وهـم کې و او د برتانیې څخـه یـې د ملاتړ امیـد نـه سـو کـولای، نـو د خپـل قـدرت د ساتلو لپاره یې تـر ټولـو ښه لاره دا ولیـده، چـې خپـل ځان تـهران تـه تسـلیم کړي. ده د ایران د پاچا پـه نـوم خطبـه ویلـه، د هغـه پـه نـوم یـې سـکه وهلـه او ځان یې رسماً د هغه تابع کړ. کلـه چـې د ایـران پـاچـا دې احضـار کـړ، نـو هلتـه ورغی او د یوه مستقل واکـدار نـه بلکـې د ایـران د پـاچـا د یـوه مـهم او برجسته نوکـر پـه حیـث یـې عـزت وسـو او چینـه یـې ترلاسـه کـړه.

بـهتره بـه دا وي، چـې د محمـود محمـود د غـرض د څرګندولـو د پـاره د کتـاب متن کټ مټ په انګلیسي ژبه رانقـل کـړو. پـه کتـاب کـې راغلـي دي:

*"During all this period Persia in her dealings with herat, kept herself strictly within the limation of the treaty of Paris. She claimed no tribute she exacted no*

*homage; she did not exercise any real or Ostensible authority in the city; but the Afghan chief under perpetual apprehension of hostilities from the eastward, and disappionted of his hopes of material support from England, made a parade of his dependence upon Tehran, as the best means of maintaining his power. He read the khotba, and coind money in the name of the shah, thereby officially proclaming his vassalage; and when he visited Tehran. In obedience to the royal sommos, he received robes of honor and other remarks of the shahs favour, as a distinguished servant of the corwn, rather than as inddpendent prince". (26)*

راولنسن وروسته لیکي"... موږ وروسته له تهران څخه هرات ته د مېجر تیلر major Taylor په مشرۍ یو هیأت واستاوه، چې هغه د هرات نوي حکمران ته مبارکي ووایې او هغه ته اطمینان ورکړي، چې موږ د هغه اخلاقي ملاتړ کوو. سلطان احمد خان د ایران سره کومه خاصه علاقه نه درلوده، بلکې پر موږ باندې یې له دې امله اعتماد نه سو کولای، چې موږ یې د خپل دښمن امیر دوست محمد خان نیږدې متحدین بللو.(۲۷)

دغه د نیږدې متحدین (Close allies) کلمه ده، چې محمود محمود یې د خپل کتاب په ۷۱۸ صفحه کې قصدًا، د انګریز د دست نشانده په نوم ترجمه کوي او بیا د راولنسن له متن سره پخپله اضافه کوي، چې سلطان احمد خان حاضر نه سو، چې د ایران د دربار له تابیعت څخه لاس واخلي او خپل ځان یې تل د ایران د درباریو وفادار نوکر باله.(۲۸)

په داسې حال کې چې وروستی عبارات د راولنسن په ټول کتاب کې د سره وجود نه لري، مګر محمود محمود په ټوله سپین سترګې د خپلو عباراتو حواله د کتاب پر ۸۶ صفحه ورکوي.

که موږ د محمود محمود او د ایران د نورو لیکوالانو دغه راز د غرضه ډکې ترجمې او عبارات رااخلو، نو له موضوع څخه ډېر لیرې کیږو، خو په عمومي صورت دونه ویلای سو، چې د یار محمد خان، کهندل خان او سلطان احمد خان په شمول، هېڅ افغان مشر په هېڅ راز شرایطو کې د ایران له دربار او پاچا سره د زړه له کومې علاقه نه درلوده او یوازې د زمان د شرایطو د تقاضا په اساس به یې د ایران دربار ته د مرستې لاس اوږداوه.

# د روسيې او برتانيې ډيپلوماتيکې هلې ځلې

کله چې په کــال ۱۸۵۸ م کــې د روســيې اســتازی نيکــلای خــانيکوف N,V, Khanikov د يــوه لــوی ډيپلومــاتيک هــيأت سره هــرات تــه ورســېدی او ډېرې زياتې پيسې يــې مصرف کــړې، د سيســتان ســروې يــې وکــړه او لــه دوســت محمــد خــان څخــه يــې وغوښــتل، چــې کــابل تــه د ورتللــو اجــازه ورکــړي، مګر هغه اجــازه ورنــه کــړه. خــانيکوف ســلطان احمــد خــان تــه د پــور ورکولــو وعــده ورکړه او ورته وې ويــل، چــې کلــه ســلطان احمــد خــان تــهران تــه ولاړ ســي، نــو هلتــه بــه د ايــران پــه منظــوري د هــرات او روســيې ترمنــځ يــو تــړون لاســليک کــړي. د دې تــړون هــدف د هــرات او روســيې ترمنځ د نيژدې تجــارتي اړيکــو ټينګول او پــه هــرات کــې د روســيې د دايمــي نمــايندګي پرانيســتل وه. کلــه چې سلطان احمد خان تــهران تــه ورســېدی، نــو هلتــه پــه تــهران کــې د روســيې ســفير کونــټ انيچکــوف Count Anichikov ډېرې جــدي ليدنــې کتنــې ورســره وکــړې. پــه ايــران کــې د انګرېزانــو سفير، راولنســن، هــم پــه دغــه وخــت کــې د سلطان احمد خان ســره خو ځلــه وکتــل او هغــه يــې تشــويق کــړ، چــې د روســيې سره تــړون رد کــړي او د انګرېزانــو سره دوستي وکــړي. ســلطان احمــد خــان د راولنســن د دوســتۍ پېشــنهاد قبــول کــړ او ورتــه وې ويــل، چــې د هــرات چــارې به د برتانيې په مشــوره ســرته رســوي او پــه هــرات کــې د برتانيــې د اســتازي هــر کلی به کــوي.

راولنسن د کــال ۱۸۶۰ م پــه اکتوبــر کــې خپــل يــو اســتازی، ســرليويس پيلــي Sir Lewis Pally د دريــو هفتــو لپاره هــرات تــه واســتاوه. هغــه پــه دغــه مــوده کې دا معلومه کــړه، چــې هراتيــان د ايــران پــه مقابل کــې څه راز احساس لــري او د خــانيکوف ډيپلومــاتيکو کوښښونــو څه تاثير کــړی دی؟. ســرليويس پيلــي تــه د خپــل دغــه سفر پــه نتيجــه کــې دا معلومــه ســوه، چــې د ايــران او هــرات دوستي تــر هغــه وختــه پــورې دوام کــوي، چــې هــرات تــه يــې ګټه رسېږي. دې وايــي ســلطان احمــد خــان د اکثرو ټيــنګو ســني افغانــانو پــه څېر د ايــران لــه شيعه ګانو څخه نفــرت لــري او پــه کرکــه او ســپک نظر ورتــه ګوري. پيلي وايي، چې تــهران تــه د ســلطان احمــد خــان د وروســتي سفر پــه تــرڅ کــې هغــه تــه د ايران سياست ښه معلوم ســو، نــو هغــه د قــوت او دايمــي ملاتــړ لپاره د ايــران پر شاه حساب نــه کــاوه.(۲۹)

# هرات د تل لپاره د کابل سره نښلول

311

امیر دوست محمد خان په کال ۱۸۵۶ م کې په داسې وخت کې د فراه د نیولو د پاره لښکرې واستولې، چې لا سلطان احمد خان په هرات کې ځان ټینګ کړی نه و او ایران هم، چې تازه د فارس په خلیج کې د انګریزانو له حملو څخه خلاص سوی و، دې ته تیار نه و، چې د هغه مرستې ته ورسیږي. په دې توګه فراه تر کال ۱۸۶۲ م پورې بیله کومې حادثې او جګړې د امیر دوست محمد خان په لاس کې پاته سوه. سلطان احمد خان په دغه موده کې څو څو ځله پر دې خبرې باندې اعتراض وکړ، چې فراه د هرات د ولایت د یوې برخې په حیث ولې د کابل د امیر په کنټرول کې ده، خو د هغه اعتراضونو چنداني ځای ونه نیوی. بالاخره سردار سلطان احمد خان د خپلو زامنو سردار شهنواز خان سردار اسکندر خان او سردار عبدالله جان او د پردل خان د زوی سردار میر افضل خان په ملګرتیا د فراه پر لور حرکت وکړ. د فراه حاکم سردار سیف الله خان د ګرشک خواته وتښتیدی او هلته د سردار محمد شریف خان د لښکرو سره یو ځای سو.(۳۰)

په دغه وخت کې د سلطان احمد خان زوی سردار شهنواز خان، چې یو بیباکه، شرابي او مغرور انسان و، په فراه کې هیڅ اصول رعایت نه کړل او د هغه عسکرو حتی د حرم ښځو ته، چې د ده خپلوانې وې بې احترامي وکړې.(۳۱)

امیر دوست محمد خان د سلطان احمد خان له خوا د فراه د فتح کیدلو په وخت کې په جلال آباد کې و. د دې خبر د اوریدلو سره سم یې د دیرشو زرو سپرو او پیاده عسکرو او توپچي قواو سره د هرات پر لور حرکت وکړ. شهنواز خان په فراه کې د دې خبرونو د اوریدلو سره سم، د فراه محاصره پریښوده او هرات ته ولاړ. د ښار دروازې یې وتړلې او قلا بندي پیل سوه.(۳۲)

مخکې له هغه چې د امیر دوست محمد خان او د هغه د زامنو قواوې د هرات شاوخواته ورسیږي، شهنواز خان درې ځله د هغه پر لښکرو باندې دېرې سختې حملې وکړې او ډېر زیات مال او آسونه یې ولجه کړل.(۳۳)

خو کله چې د امير لښكر د هرات شاوخوا ته ورسېدی، نو دونه زور يې وكړ، چې نور نو د شهنواز خان زړه ور توب ګټه نه کوله او هغه مجبور سو، چې د يوه سنګر د نيولو لپاره هر عسكر ته يوه يوه طلا وركړي او په دې توګه د دښمن د هجوم مخه ونيسي. شهنواز خان پنځه سوه طلاوې ورسره اخيستې وې، مګر د طلا په زور يې ايله ۳۵۰ تنه داوطلبان پېدا كړل، چې له هغې حملې څخه ۱۵۰ تنو ځانونه سنګر ته ورسول.(۳۴)

# د هرات فتح

د هرات په شاوخوا كې اوه مياشتې سخت جنګونه روان وه او امير دوست محمد خان د دې ښار د مهمو برخو د څارلو وظيفه خپلو بېلو بېلو زامنو ته سپارلې وه. اوه مياشتې وروسته د سردار سلطان احمد خان مېرمن، چې د امير دوست محمد خان لور وه، وفات سوه او د هغې د ښخولو او فاتحې د مراسمو په منظور درې ورځې جنګونه بند سول. څو ورځې وروسته پخپله سلطان احمد خان هم وفات سو او د هغه د ښخولو او فاتحې د مراسمو په خاطر هم درې ورځې جنګونه بند سول، هرات دوې مياشتې نور هم مقاومت وكړ، مګر محاصره دونه سخته وه، چې د ښار خلک د لوږې سره مخامخ سول او د شپې به په ډلو ډلو له ښار څخه وتل او ځانونه به يې د امير دوست محمد خان لښكر ته رسول او د هغه سره به يې بيعت كاوه.(۳۵)

بالاخره د هرات د فوج د مقاومت توان ختم سو او امير دوست محمد خان، چې سخت ناروغ و او له ژونده يې اميد ختم سوی و، خپلو زامنو او جنرالانو ته وويل، داسې ښكاري چې زما د عمر وروستۍ شپې رارسېدلې دي. غواړم چې د هرات د فتح كېدلو ارمان مې پوره سي، نو په يوه سلا يرغل وكړئ، ګوندې ښار فتح كړئ او زه د دغه ښار فتح كېدل ووينم.(۳٦)

د كابل لښكر د امير د وصيت سره سم په داسې يرغل لاس پورې كړ، چې د هرات په لښكر كې، چې مخكې يې لا روحيات بايللي و، د مقاومت توان پاتې نه سو او ماته په ګډه سوه. سردار شهنواز خان او عبدالله خان ګرفتار سول او د هرات ښار د كابل پوځ ته په لاس ورغی. امير دوست محمد خان وروسته خپل زامن، درباريان او جنرالان را وغوښتل او هغوی



په ۱۸۸۲م کال کي د هرات عسکر



امیر دوست محمد خان

تـه يـې وویـل، چـې زمـا د ژونـد وروستی ارمـان ، چـې د هـرات د ښار فتـح کېدل وه، پوره سـو. نـور مې په زړه کې ارمـان پاتـه نـه دی. تاسـې پـر خـدای سپارم او تاسې تـه مې وروستی وصیـت دا دی، چـې اتفـاق وسـاتئ، نفـاق لـيرې کـړئ او ماتـه پـه دې وروستيو لحظـو کـې حـق راخپـل کـړئ. دوسـت محمد خـان د هـرات لـه فتـح کولـو ځخـه دیـارلس ورځې وروسـته وفـات سـو او د خواجه عبدالله انصاري په مـزار کـې خـاورو تـه وسپارل سـو.(۳۷)

## هرات د ایرانیانو لـه مـاتې ځخـه وروسـته


۱. Kaye ص ۵۱۷

۲. هغـه کتـاب ص ۵۷۹

۳. هغـه کتـاب ص ۵۸۱

۴. هغـه کتـاب ص ۵۸۷

۵. Sykes Afghanistan vol 2 p 62

۶. هغـه کتـاب ص ٦۳

۷. هغـه کتـاب ص ٦۳

۸. عـين الوقـايع ص ۴۸

۹. Sykes p 341

۱۰. عـين الوقـايع ص ۵۳-۵۴

۱۱. Sykes p 65

۱۲. محمـود محمـود ص ٦۴۹-٦۵۰

۱۳. هغـه کتـاب ص ٦۵۳

۱۴. عـين الوقـايع ص ۵٦-٦۲ سـراج التواريـخ ص ۲۲۲-۲۲۳

۱۵. عـين الوقـايع ص ۲٦۳

۱٦. Watson history of Persia p 435-443

۱۷. هغـه کتاب ص ۴۵۵

۱۸. هغـه کتـاب ص ۴۵٦-۴۵۸

۱۹. هغـه کتـاب ص ۴٦۱-۴٦۲

۲۰. هغـه کتـاب ص ۴٦۳-۴٦۴

۲۱. عـين الوقـايع ص ٦۳

۲۲. محمـود محمـود ص ۷۱۷

۲۳. هغه کتاب ص ۷۱٦
۲۴. هغه کتاب ص ۷۱۸
۲۵. هغه کتاب ص ۷۱۰
۲٦. Rawlenson p 94-95
۲۷. هغه کتاب ص ۹۵
۲۸. محمود محمود ص ۷۳۹
۲۹. The Cambridge history of Iran p 396-397
۳۰. سراج التواریخ ص ۲۴۰
۳۱. عین الوقایع ص ٦۸
۳۲. هغه کتاب ص ٦۹
۳۳. پادشاهان متاخر افغانستان جلد اول ص ۲۸
۳۴. عین الوقایع ص ۷۰
۳۵. هغه کتاب ص ۷۳
۳٦. هغه کتاب ص ۷۴
۳۷. پادشاهان متاخر ص ۳۸

# هرات او ستره لوبه د امیر دوست محمد خان له وفات نه وروسته



سردار سلطان احمد خان د بل هر افغان واکدار په څېر، د ایرانیانو د واکداري او تسلط څخه نفرت درلود، مګر شرایط داسې راغلي وه، چې هغه د امیر دوست محمد خان سره د دښمنۍ له کبله خپل ځان د ایران لمنې ته اچولی و. ایرانیانو هم دا وضع غنیمت بللې وه او په دې یې قناعت کړی و، چې د هرات حکمران د ایران د شاه په نامه سکه وهي او خطبه د هغه په نامه وایي.

کله چې په ۱۸۶۳ م کال کې امیر دوست محمد خان د هرات پر لور لښکر کښي وکړه او هغه ښار یې محاصره کړ، نو ایران د خطر احساس وکړ او برتانیې ته یې په انګلینډ کې د خپل سفیر په واسطه او هم په تهران کې د برتانیې د سفیر له لارې شکایت وکړ. طبعي خبره ده، چې د ایران شاه نه غوښتل په هرات کې د سردار سلطان احمد خان پر ځای، چې پخپله خوښه یې ځان ایران ته تسلیم کړی و، د امیر دوست محمد خان په شان یو خپلواکي غوښتونکی شخصیت ووینې. ایران له برتانیې څخه وغوښتل، چې د پاریس د تړون په اساس باید مداخله وکړي، مګر د برتانوي هند ګورنرجنرال سرجان لارنس *Sir Jhon Lawraence* دا وخت هغه پالیسي غوره کړې وه، چې وروسته د مداخلې نه کولو یا *Masterly inactivity* په نوم یاده سوه. برتانیې د ایران د شاه د درخواست په جواب کې صرف خپل استازی د امیر له کمپ څخه ور وغوښت، خو په انګلینډ کې یې د ایران سفیر ته په جواب کې وویل، چې د افغانستان داخلي جنګونه په دومره چټ خرابي نه ارزي، چې ایران علیحده د پاریس تړون ته مراجعه وکړي.(۱)

پر هرات باندې د دوست محمد خان د حملې څخه لږ وروسته، په افغانستان کې پرله پسې داسې پېښې منځته راغلې، چې ښایي ایران یې آینده ته ډېر هیله من کړی وي او ښایي دغه علت و، چې ایرانیانو هم د نن څخه سبا ته د امید سترګې نیولې وې او فکر به یې کاوه، چې ګوندې


دا ځل به د افغانستان د داخلي جنګونو له برکته هرات، د تياري مړي په څېر خولې ته ورسي.

امير دوست محمدخان د ځنکدن په وخت کې د افغانستان د مشرانو، په تېره بيا د خپلو زامنو ترمنځ ، د اتفاق وصيت کړی و. داسې ښکاري، چې د ده وصيتونه هېڅ نه وه اوريدلي او د ده د مرګ او ښخېدلو سره سم د هغه د زامنو ترمنځ، چې زياتره يې د جنګ په فن کې ماهران او په ميدانونو کې ازمييلي مېړونه وه، د نفاق اور بل سو.


# بشپړ اغتشاش

د امير شير علي خان دوو ورونو، سردار محمد امين خان او سردار محمد شريف خان خپله توپخانه او لښکر کندهار ته ورسره واخيستل. محمد اعظم خان او سردار محمد اسلم خان، بيله دې چې امير شير علي خان ته اطلاع ورکړي، کابل ته رهي سول. امير شير علي خان خپل خوارلس کلن زوی، سردار محمد يعقوب خان په هرات کې پرېښود او د کابل په لور چې د ده ځوان زوی سردار محمد علي خان د ډېرو لږو قواو سره په کې اوسېدی روان سو. امير شير علي خان د کابل د چارو د سمبالولو څخه وروسته . و ځل د ترکستان پر لور هم وخوځېدی او د هغې سيمې چارې يې خپل وراره، فتح محمد خان ته ، چې د وزير محمد اکبر خان زوی و، وسپارلې. کابل ته د رسېدلو سره په کندهار کې د خپل ورور محمد امين خان د ښورښ څخه خبر سو او د کندهار د بېرته نيولو او ابلولو لپاره يې له کابل څخه حرکت وکړ. د امير شير علي خان پوځ، چې قومانده يې د هغه د مشر زوی سردار محمد علي خان په لاس کې وه، په قلات کې د محمد امين خان له پوځ سره مخامخ سو. د جنګ په لومړي ورځ، سردار محمد علي خان او سردار محمد امين خان تن په تن جنګ کې ووژل سول. امير شبر علي خان د خپل زوی مرګ دونه غمجن کړ، چې ورځنيو کارونو ته يې شا واړوله او داسې کارونه به يې کول، چې ډېرو خلکو د لېونې ګومان ورباندې کاوه.(۲)


امير شير علي خان به د پوځ او لويانو په مخ کې د سردار محمد علي خان د قواو سپه سالار شيخ مير خان را وباله، هغه او نور عالي رتبه صاحب



په هرات کي د امير دوست محمد خان مقبره



اعلیحضرت امیر محمد افضل خان



اعلیحضرت امیر محمد اعظم خان

منصبانو ته به يې د بې غيرتو او بې ايمانو خطاب وكړ. د پوځ صاحب منصبان به يې وشمېرل. ټول حاضر، يو محمد علي خان غير حاضر دا ولې؟ او بيا به يې نو افسرانو ته په سپكو سپورو ويلو بنا وكړه.(۳)

طبعي خبره ده، چې د سردار محمد علي خان د پوځ له صاحب منصبانو سره په دغه راز وضع كې د سرغم پېدا سو. ځيني وتښتېدل، ځيني د فرصت په انتظار كښېنستل او ځينو سردار محمد اعظم خان ته، چې دا وخت په هندوستان كې و او د امير وراره، د سردار محمد افضل خان زوی، سردار عبدالرحمن خان ته، چې د بخارا د امير په دربار كې اوسېدی، ليكونه واستول او هغوی يې د كابل نيولو ته تشويق كړل. عبدالرحمن خان له بخارا او محمد اعظم خان له هندوستانه حركت وكړ. په تركستان كې د شېر علي خان د وراره سردار فتح محمد خان زياتره صاحب منصبان د سردار عبدالرحمن خان سره يو ځای سول او عبدالرحمن خان بلخ ونيوی. سردار فتح محمد خان كابل ته وتښتېدی او په دغه وخت كې سردار محمد اعظم خان د چترال له لارې بدخشان ته ننوت. سردار عبدالرحمن خان او سردار محمد اعظم خان څه باندې يوه مياشت وروسته كابل ونيوی او سردار محمد اعظم خان يې پر تخت كښېناوه.

# امير محمد افضل خان د كابل پر تخت

امير شېر علي خان په غزني كې تر سخت مقاومت وروسته ماته وكړه. سردار محمد افضل خان چې د امير شير علي خان په بند كې و له زندانه وتښتېدی او ځان يې خپل ورور سردار محمد اعظم خان او خپل زوی سردار عبدالرحمن خان ته ورساوه. هغوی سمدستي د كابل امارت ورتسليم كړ او سكه او خطبه د هغه په نامه جاري سوه. سردار شهنواز خان او سردار سكندر خان، چې د امير شېر علي خان په بنديخانه كې وه، وتښتېدل او ايران ته ولاړل. په دغه وخت كې امير شېر علي خان د قلات په شاوخوا كې د عبدالرحمن خان له قواو سره د جنګ ترتيبات نيول، چې په تركستان كې د امير دوست محمد خان بل زوی سردار فيض محمد خان ياغي سو او د امير محمد افضل خان سپه سالار سردار محمد سرور خان ته

یې دوه ځله سخته ماته ورکړه او د قطغن او بدخشان په شمول د افغانستان زیاتره سیمې یې لاندې کړې.

امیر شېرعلي خان د قلات په جنګ کې ډېره سخته ماته وخوړه او کندهار ته پر شا سو. کندهار هم په دغه وخت کې د عبدالرحمن خان قواو ورڅخه لاندې کړ او شېر علي خان ځان هرات ته ورساوه. هغه د هرات له لارې میمنې ته ولاړ او هلته د سردار فیض محمد خان سره یوځای سو. عبدالرحمن خان د شېر علي خان او فیض محمد خان د قواو سره، چې د شمال له لوري یې کابل تهدیداوه، د مقاومت لپاره ځان کابل ته ورساوه. امیر محمد افضل خان په دغه وخت کې له کابل څخه د هند وایسرا ته خط واستاوه او هغه ته یې ولیکل، چې په قلات کې یې د امیر شیر علي خان قواو ته سخته ماته ورکړې ده او قاطع بري یې ترلاسه کړی دی. وایسرا لارډ لارنس د امیر شېر علي خان سره خوا خوږي ښکاره کړه، مګر افضل خان ته یې ولیکل، چې که هغه قراردادونه، چې امیر دوست محمد خان له انګرېزانو سره لاسلیک کړي دي، محترم وګڼي، نو دې به د کابل د امیر په حیث په رسمیت وپېژني. د وایسرا دې لنډ پارې پالیسۍ امېر شېر علي خان له برتانیې څخه مایوس کړ او هغه مجبور سو، چې د ایران څخه مرسته وغواړي.(۴)

# د سردارانو اړیکې د ایران سره

په دغه وخت کې د ایران پاچا ناصرالدین شاه، په‌مشهد کې د امام رضا زیارت ته تللی و او یعقوب خان له هرات څخه خپل پلار ته ولیکل، چې که اجازه وي، هغه به د ایران د شاه لیدلو ته ورسي. امیر شېر علي خان اجازه ورکړه او ورته وې لیکل، چې له تحفو سره د ناصرالدین شاه حضور ته ورسي. سردار محمد یعقوب خان مشهد ته ولاړ او هلته د ناصرالدین شاه دربار ته ورغی. د ایران شاه له یعقوب خان سره ډېره مهرباني وکړه او د تحفو اخیستلو په بدل کې یې تحفې ورکړې.(۵)

د افغانستان او په تېره بیا هرات په برخه کې د ایران د دولت پالیسي د قاجاریانو د قدرت له پیل نه بیا تر هغې ورځې پورې چنداني تغیر نه و کړی. د ایران دربار هر وخت د کابل د مرکزي حکومت بېل بېل مخالف او یاغي سرداران ساتل او د ضرورت په وخت کې یې استفاده ورڅخه کوله. هر سردار او هر باغي چې د ایران دربار ته پناه وړله هغه یې نازاوه.

او د مرستو وعدې يې ورسره کولې. په دې لړ کې يې يعقوب خان ته هم د ډېرو قيمتي سوغاتونو په بدل کې، چې د خپل پلار په مشوره او امر يې د ايران پاچا ته وړي وې،يوه ناچيزه تحفه ورکړه.(٦)

مګر څرنګه چې د ايران دولت د خپلې همېشګي پاليسۍ سره سم هر باغي سردار ته غېږه خلاصوله، نو په دغه وخت کې يې په ايران کې د امير شير علي خان دښمنانو او په کابل کې د سردار محمد افضل خان له حکومت څخه باغي سردارانو، شهنواز خان او سکندر خان او د هغوی انډيوالانو ته هم ځای ورکړی و. سردار شهنواز خان په دغه وخت کې د هرات ميدان خالي ولېدی او د ايران د حکومت سره له تىلا مشورې پرته يې د هرات پر لور حرکت وکړ. سردار يعقوب خان، ناصرالدين شاه ته يو مکتوب واستاوه او هغه ته يې وليکل، چې شهنواز خان د هرات پر لور حرکت کړی دی او زه ستاسې څخه د رخصت اخيستلو فرصت نه لرم او دا دی سمدستي مې په عاجله توګه د هرات پر لور حرکت وکړ.(٧)

ناصرالدين شاه، چې ښايي په دغه وخت کې يې په هرات کې د يعقوب خان پله درنه ګڼلې وي، سمدستي د شهنواز خان د ګرفتارولو امر صادر کړ او د هغه عسکرو هغه په تربت حيدريه کې ګرفتار کړ او مشهد ته يې واستاوه.(٨)

## د پېښو په ارتباط د ايراني مورخينو جعلي ليکنې

ايراني ليکوال محمود محمود د خپل مشهور کتاب يو مجعول متن د همدغې پېښې په حواله ترتيب کړی او بيا نو د انګرېز مؤرخ او سياستمدار راولنسن د کتاب حواله ورکوي، چې نه دهغه د کتاب هغه برخه په دغې پېښې پورې اړه لري او نه مخمود محمود هغه متن کټ مټ رانقل کړی دی، بلکې د خپلې خوښې سره يې ناروا لاس په کې وهلی دی. محمود محمود ليکي" د محمد يعقوب خان سره د ايران د پاچا قول او دوستي د امير شېر علي خان په غمګين وجود کې نوې ساه پو کړه او د افغانستان د امارت د لاسته راوړلو لپاره د هغه جديت او تلاښ زيات سو. په دغه وخت کې د انګليسانو دولت له دې کبله خواشينی دی، چې ولې د ايران او انګليس ترمنځ د ۱۸۵۷ م کال په معاهده کې داسې ماده يا فصل وجود نه لري، چې د هغه په اساس په دغه تاريخ کې د افغانستان په چارو کې د ايران د مداخلې مخه ونيسي. د دې خواشينۍ څخه د انګرېزانو مطلب دا

دی، چې ولې په هغه وخت کې دا خبره نه وه پېښ بیني سوې، چې که پخپله د افغانستان امیر او یا افغان ملت وغواړي، چې د ایران د دولت اطاعت وکړي او د ایران د قلمرو یوه برخه سي، په معاهده کې داسې شرط نسته، چې د انګلیس دولت د هغه شرط په اساس د ایران سره د افغانستان د یو ځای کېدلو مخه ونیسي.(۹)

محمود محمود د خپل کتاب د دغه متن حواله د راولنسن د کتاب *England and Russia in the east* باندې ورکوي. د دې لپاره چې د محمود محمود په شان مشهورو ایراني لیکوالو جعل کاریو او له غرضه ډکو لیکنو ته متوجه سو. یو ځل به د کتاب متن کټ مټ رانقل کړو:

*Wheather it was prudent, as a precaution against the possible approach of Russia to Heart, to burden ourselves with a liability at a any moment to attack Persia in the event of her marching to the Eastward may well be douted. Still more open to objection would seem to have been a barren stipulation in the paris treaty against the shah's interference with the governament of Heart, which, being unaccompanied by any safeguard against the voluntary dependence of the Afghan governor upon Parsia, turned out in practice to be wholly inoperative, and in fact led to nothing but our stultification. Sultan Ahmad Khan, a nephew of the Amir Dost Mohamed, who was a refugee at Tehran at the time of the conclusion of the treaty of Paris, and was realy the most eligble candidate for the vacant chiefship, was sent by the shah to assume the reins of the governament on the withdrawa of Persian garrison from Heart. (10)*

ترجمه: " پر هرات باندې د روسیې د احتمالي پرمختګ د مخنیوي په منظور موږ پر ځان باندې دا فرض کړې وه، چې که چېرې ایران د ختیځ پر لور حرکت وکړ، موږ به حمله ورباندې کوو. دا چې د دې پالیسي په غوره کولو کې له احتیاط څخه کار اخیستل سوي او عاقلانه طرح سوې وه کنه، په دې کې شک موجود دی، خو تر دې لا زیات اعتراض پر دې خبرې موجود دی. چې د پاریس په تړون کې ولې داسې مادې ته ځای نه و ورکړه سوې، چې که افغان ګورنر پخپله خوښه د ایران تابعیت قبولاوه، بیا هم په هرات کې د ایران د مداخلې مخه ونیسي. په دې توګه دا تړون

غیر عملي و او په حقیقت کې زموږ د سپکاوي سبب سو. سلطان احمد خان، چې د امیر دوست محمد خان وراره و، د پاریس د تړون د لاسلیک کېدلو په وخت کې په تهران کې پناه اخیستې وه او د هرات د حکومت د اشغالولو لپاره تر ټولو ښه کاندید و. شاه له هرات څخه د ایران د پوځیانو د وتلو څخه وروسته هغه هرات ته واستاوه. چې د چارو واکي په خپل لاس کې ونیسي"

که د راولنسن د کتاب متن موږ د برتانیې د دولت نظر وبولو. نو د محمود محمود د کتاب د متن په خلاف ګورو، چې دا خبرې او متن د امیر شېر علي خان او یعقوب خان سره هېڅ ارتباط نه لري، بلکې هغه په مشخصه توګه د هرات د ګورنر، سلطان احمد خان او د ایران سره د هغه د روابطو په ارتباط لیکل سوي دي. دا متن د پاریس د معاهدې په ارتباط لیکل سوی دی او دا وخت چې سردار یعقوب خان د شهنواز خان په مقابل کې هرات ته حرکت کوي له هغې معاهدې څخه یوولس کاله تېر سوي او ټولو شرایطو تغیر کړی دی او د راولنسن په کتاب کې د امیر کلمه نه ده راغلې، بلکې په مشخص ډول یې افغان ګورنر لیکلی دی. ایراني محقق په لوی لاس او په منتهي بې شرمي په یوه کلاسیک او چاپي متن کې د امیر افغانستان او لا د هغه تر څنګ د ملت افغان کلمه علاوه کوي. محمود محمود په ټوله سپین سترګې پر دغه متن باندې حواله ورکوي او وایي، چې راولنسن په دي خپه دی، چې د پاریس په تړون کې داسې ماده نه سته. چې د هغه په اساس دې د انګلیس دولت د ایران سره د افغانستان د الحاق مانع سي. په داسې حال کې چې راولنسن د کتاب په دغه برخه کې، چې موږ یې انګرېزي متن او پښتو ترجمه را نقل کړه. نه د افغانستان او نه له ایران سره د هغه د الحاق په باب یوه کلمه راغلې ده. د افغانستان په ټول تاریخ کې هېڅ امیر په هېڅ ډول شرایطو کې نه دي غوښتې. چې د افغانستان یوه لوېشت خاوره دې د ایران سره وتړله سي. حتیٰ د سلطان احمد خان او کهندل خان په شان سردارانو. چې د عمر تر پایه پورې ایران ته وفادار پاتې سول د ایران سره د افغانستان د خاورې د تړلو خبره په ژوند کې یو ځل پر خوله نه ده راوړې.

# د محمد افضل خان وفات او د شیر علي خان عروج

322

بېرته به خپلو خبرو ته راوګرځو. په دغه وخت کې چې سردار محمد یعقوب خان هرات ته حرکت وکړ، سردار عبدالرحمن خان د شمال له لورې د امیر شېر علي خان او سردار فیض محمد خان د مشترکو قواو د تهدید سره مخامخ و. هغه خپل اکا محمد اعظم خان ته، چې په کندهار کې یې مرکز نیولی و، احوال واستاوه، چې پلار مې سخت ناروغ دی او باید چې په ډېر تلوار خپل ځان کابل ته ورسوم. محمد اعظم خان خپل زوی سردار محمد عزیز خان ته د کندهار حکومت وسپاره او پخپله یې د کابل پر لور حرکت وکړ.

کابل ته د سردار محمد اعظم خان د رسېدلو سره امیر محمد افضل خان وفات سو او محمد اعظم خان یې پر ځای باندې د کابل امیر وټاکل سو. سردار عبدالرحمن خان د شمال پر لور حرکت وکړ. په لاره کې یې د سختې یخنۍ او جنګونو د لاسه قواو ته سخت تلفات ورسېدل. شېر علي خان په میمنه کې خپل ځان ټینګ کړ هغه ولایت یې خپل یوه حکمران ته وسپاره او پخپله یې د هرات پر لور حرکت وکړ. امیر شېر علي خان خپل زوی محمد یعقوب خان ته احوال واستاوه، چې د هرات څخه د کندهار پر لور حرکت وکړي. یعقوب خان د خپل پلار له امر سره سم کندهار ته حرکت وکړ او هغه ښار یې له لږ مقاومت څخه وروسته ونیوی او د کندهار حکمران سردار محمد عزیز خان یې بندي کړ. امیر شیر علي خان د کندهار د فتح د خبر د اورېدلو سره سم خپل زوی سردار محمد ابراهیم په هرات کې مقرر کړ او پخپله یې د کندهار پر لور حرکت وکړ.

امیر محمد اعظم خان خپل وراره عبدالرحمن خان د مرستې لپاره د شمالي سیمو څخه کابل ته راوباله. عبدالرحمن خان د خپل اکا د امر سره سم نیمه قوه د سردار اسماعیل خان تر مشرۍ لاندې، چې تازه امیر محمد اعظم خان د کندهار له حکومت څخه هزاره جات ته تبدیل کړی و او په دغه وجه له هغه څخه په زړه کې ډېر خپه و، کابل ته واستاوه او پخپله یې د نیمايي قوې سره وروسته حرکت ورپسې وکړ. محمد اعظم خان په کابل کې صبر نه سو کولای او د امیر شیر علي خان سره د مقابلې لپاره د غزني

پر لـور روان سو. اسماعیل خان په دغه وخت کې له موقع څخه استفاده وکړه، کابل یې ونیوی او په هغه ښار کې یې د امیر شېر علي خان امارت اعلان کړ. امیر محمد اعظم خان او د هغه زوی سردار محمد سرور خان په غزني کې د امیر شیر علي خان د قواو په مقابل کې سخته ماته وخوړه او بامیان ته په تېښته ولاړل. په بامیان کې د سردار عبدالرحمن خان له قواو سره یو ځای سول او بېرته یې د غزني پر لور حرکت وکړ. په غزني کې یې د امیر شیر علي خان د قواو د لاسه وروستی او تر ټولو سخته ماته وخوړه، اکا او وراره د خپلو طرفدارانو سره یو ځای ایران ته وخوځېدل.

# سرداران په ایران کې

ایران د خپلې معمولي پالیسی سره سم، چې هر وخت یې یاغي سردارانو ته پناه ورکوله، د سردار عبدالرحمن خان او امیر محمد اعظم خان دونه قدر وکړ، چې هغوی یې انتظار نه درلود. د خراسان حکمران حشمت الدوله سل زرین کمره فراشان او د حکمران حشمت الدوله او شهزاده جلال الدوله مخصوصي ګاډی یې د شېړو عربي آسونو او مرصع زینونو سره ورولېږلې. د ښار په دروازه کې یې زر تنه عسکر د هغوی د استقبال لپاره درولي وه او په موزیک او نظامي سلام یې استقبال وکړ. د خراسان حکمران هغوی ته پرله پسې شاهانه مېلمستیاوې ترتیب کړې.(۱۲)

حشمت الدوله، عبدالرحمن خان او امیر محمد اعظم خان ته له تقریباً یوې میاشتې شاهانه مېلمستیاو کولو څخه وروسته یوه ورځ عبدالرحمن خان ته وویل، چې تهران ته ولاړ سي او هلته د ناصرالدین شاه قاجار سره وګوري، مګر عبدالرحمن خان په ډېره هوښیاری او ډېر نزاکت، تهران ته د تللو په برخه کې د هغه بلنه رد کړه او د خپل کاکا امیر محمد اعظم خان څخه د رخصت تر اخیستلو وروسته د بخارا پر لور رهي سو.(۱۳)

هوښیار عبدالرحمن خان ښایي په مشهد کې د افغانستان د یاغي او ناراضي سردارانو ټولی لیدلې وې، چې ټول د خپلو شخصي ګټو او قدرت تر لاسه کولو لپاره له سهاره تر ماښامه په دسیسو لګیاوه او د ایران حکومت د کابل د سلطنت هر مدعي ته د هغه د مقام او قدرت په اندازه د مرستو وعده ورکوله او د کابل د حکومت د کمزوري کولو او بې ثباته کولو لپاره یې دسیسې ورسره جوړولې.

عبدالرحمن خان ډېرې لويې نقشې درلودلې او د تهران حکومت د دې پښتنو شپږو خودغرضو لاس پوڅو سره د هغه ګوزاره نه کېده. هغه د بخارا پر لور حرکت وکړ او اکا يې امير محمد اعظم خان په مشهد کې پاتې سو او لږ وخت وروسته هلته وفات سو. په دې توګه د امير شېر علي خان د قدرت خطرناک رقيبان يو په بل پسې له منځه ولاړل او هغه ته په کابل کې د حکومت کولو او له خپلې خوښې سره سم د اصلاحاتو راوستلو او داخلي او خارجي پاليسۍ د جوړولو لپاره نسبتاً مساعده فضا منځته راغله او لاره ورته هواره او ميدان پاک سو.

# امير شېر علي خان دوهم ځل د کابل پر تخت

امير شير علي خان په کال ۱۸٦۸ م کې بېرته کابل ونيوی او انګرېزانو هم د هغه په رسميت پېژندلو سره سم، هند ته د ورتللو او ويسرا لارډ مايوسره د ليدلو بلنه ورکړه. امير شير علي خان په کال ۱۸٦۹ م کې خپل مشر زوی سردار محمد يعقوب خان په کابل کې پرېښود او پخپله د شهزاده عبدالله جان، چې تازه اوه کلن سوی و او نورو عالي رتبه مقاماتو سره د امبالې پر لور حرکت وکړ. لارډ مايو ***Lord Mayo*** د کال ۱۸٦۹ م په مارچ کې په امباله کې د امير شېر علي خان سره وکتل. امير شېر علي خان د انګرېزانو له خواتاوده هرکلي ډېر خوشاله کړ او د خبرو په وخت کې يې لارډ مايو ته دوه پيشنهادونه وکړل. يو دا چې د افغانستان پر لور د روسانو پرله پسې پرمختګونو هغه ډېر پيشانه کړی و او د انګرېزانو څخه يې وغوښتل چې د خارجي يرغل په مقابل کې د ده حمايه وکړي او دوهم دا چې د انګرېزانو حکومت بايد په افغانستان کې د ده او د ده د اخلافو پرته هېڅ څوک په رسميت ونه پېژني، مګر لارډ مايو صرف دونه اجازه درلوده، چې امير ته ووايي، چې انګرېزان به د هر هغه چا اقدام ته، چې ستاسې حکومت ته صدمه رسوي او په افغانستان کې داخلي جنګ پيل کوي. ډېر په کرکه وګوري او ستاسې د حکومت د تقويه کولو لپاره به هېڅ ډول مرسته دريغ نه کړي. انګرېزانو په دغه ترڅ کې امير شير علي خان ته شپږ لکه روپۍ، ٦۵۰۰ توپکه او يو څه توپونه د تحفې په توګه ورکړل. مګر هغه

ته يې دا تضمين ورنه کړ، چې د خارجي حملې په صورت کې به يې ملاتړ کوي.(۱۴)

# شېر علي خان د ګاونډيانو په منځ کې

د کال ۱۸٦۹ م په اوړي کې د ايران د حکومت يو استازی هرات ته ورسېدی. د هغه ظاهري ماموريت دا و، چې امير شير علي خان ته د امارت مبارکي وايي، مګر اصلي هدف يې دا و، چې د امبالې د کنفرانس نتيجه ځانته معلومه کړي او دغه راز په دې خان پوه کړي، چې امير شېر علي خان د ايران په برخه کې په تېره بيا د سيستان په مسئله کې څه نظر لري. امير شير علي خان د ايران له استازي سره ډېره سړه وضع وکړه او په پای کې يې د مشهد د ګورنر لپاره يو دوستانه مګر رسمي ليک ورکړ.(۱۵)

په همدغه کال د بخارا د امير مظفر زوی مير عبدالملک خپل پلار ته ياغي سو. امير مظفر د امير محمد اعظم خان د زوی سردار محمد اسحٰق خان په ملګرتيا د ډېرې لويې قوې سره د هغه د ځپلو لپاره د آمو د سيند پر لور حرکت وکړ. عبدالملک د خپل پلار د ارادې په خلاف د روسانو په مقابل کې جهاد اعلان کړی و، خرنګه چې د پلار د قواو سره يې مقاومت نه سو کولای، نو د آمو د سيند پر غاړه تخته پل ته ولاړ. امير شېر علي خان خپلو قواو ته هدايت ورکړ، چې دغه شهزاده په ډېر عزت کابل ته راولي. کله چې هغه کابل ته ورسېدی، نو امير په دربار کې د هغه هر کلی وکړو، خو هغه په کابل کې يو چا ته ويلي وه، چې که زه خبرواى، چې امير شير علي خان د انګرېزانو سره دوستانه روابط لري، نو افغانستان ته به نه وای راغلی.

شير علي خان غوښتل، چې د دغې وضع څخه ګټه واخلي او په پېښور کې يې د انګرېزانو کميشنر ته وليکل، چې خرنګه چې بخارا د افغانستان مهاجرين د دغه هېواد پر خاوره باندې حملو کولو ته تشويق کړي دي او افغانستان ته يې تاوان رسولی دی او خرنګه چې دا خبره يقيني ده، چې روسان د چار جوی او کيرکی د سيمو پر لور پرمختګ کوي، نو ښه به دا وي، چې دی دغه ځايونه اشغال کړي. د برتانيې حکومت په جواب کې ورته وليکل، چې موږ دا په بشپړه توګه د امير حق بولو، چې د خارجي يرغلګرو په مقابل کې له خپلې خاورې څخه دفاع وکړي، خو د امير له خوا

د نورو پر خاوره باندې د تېري منظوري نه سو ورکولای. انګرېزانو امير شېر علي خان ته دغه راز وليکل، چې د بخارا امير د روسيې متحد دی او موږ له روسيې سره دوستانه روابط لرو. شهزاده عبدالملک د شېر علي خان ځخه په ټينګه وغوښتل، چې پر بخارا باندې حمله وکړي، مګر امير د هغه غوښتنه رد کړه او هغه د نوامبر په مياشت کې بېرته د آمو له سيند نه پورې ووت.(۱٦)

د امير شېر علي خان او انګرېزانو ترمنځ د دې مکاتبې ځخه په ځرګنده ښکاري، چې برتانيې د نولسمې پېړۍ له لومړيو کلونو ځخه مرکزي آسيا د آمو تر سينده پورې د روسيې د قلمرو او د نفوذ سيمه منلې وه او روسانو د آمو له سيند نه جنوب خوا ته خاوره د انګرېزانو حق بللی و. دغه علت دی، چې کله انګرېزانو د ۱۸۵٦ م کال په پای کې او د ۱۸۵۷ م کال په سر کې د ايرانيانو ځخه د خارک ټاپو لاندې کړه او په بندر عباس کې يې قواوې پياده کړې او د ايرانيانو پر خاوره يې يرغونه ودرول روسانو د خپل متحد، ايران ځخه هيڅ دفاع ونه کړه. انګرېزانو او روسانو دا جوړه سره کړې وه، چې روسان به د آمو له سيند نه د راپورې وتلو خيال نه کوي او انګرېزان به په مرکزي آسيا کې د هغوی د امپراتورۍ د پراخېدلو او پوځي عملياتو سره غرض نه کوي.

# مرکزي آسيا د سترې لوبې د مهم ستېج په حيث

که په هرات کې ستره لوبه د لويو استعماري طاقتونو ترمنځ د جګړې او مقابلې په شکل روانه وه، په مرکزي آسيا کې ستره لوبه د آسيا د دوو لويو استعماري طاقتونو، برتانيې او روسيې، ترمنځ د روغې جوړې محصول وه. لوی استعماري طاقتونه دې تفاهم ته رسېدلې وه، چې روسيه به په هند او برتانيه به په مرکزي آسيا کې د روسيې له کړنو سره غرض نه کوي.

په ۱۸٦۴ م کال کې د روسيې صدراعظم شهزاده ګورچاکوف خپل مشهور ياداشت خپور کړ او په هغه کې يې په مرکزي آسيا کې د روسيې د امپراتورۍ د پراخېدلو ضرورتونه او مجبوريتونه بيان کړل. روسانو د

گورچاکوف د یاداشت په اساس، چې په شرق کې یې د روسانو د پرمختگونو او حملو ټول اهداف په څرگنده توگه بیان کړي وه، په ۱۸۶۵ م کال کې تاشکند ونیوی او څه موده وروسته یې د مرکزي آسیا تر ټولو لوی تاریخي او تجارتي مرکز سمر قند اشغال کړ.(۱۷)

برتانیې په مرکزي آسیا کې د روسیې د قلمرو د پراخېدلو څخه چندانې اندېښنه نه درلوده، بلکې د دې پرمختگونو او پرله پسې فتوحاتو تاوان مرکزي آسیا ته رسېدې او په نهایت کې یې افغانستان او ایران تهدیدول. د برتانوي هند وایسرا سرجان لارنس په دې عقیده و، چې روسان په هېڅ توگه له مرکزي آسیا څخه پر هند باندې حمله نه سي کولای. هغه په دې عقیده و، چې که روسان پر هند باندې حمله کوي، نو باید چې په افغانستان کې تېر سي او که چېرې دا کار وکړي، نو قواوې به یې په افغانستان کې پر اسلام مینو قبایلو د مقاومت سره مخامخ کیږي او هغه څه به ورته پېښ سي، لکه په ۱۸۴۲ م کال کې چې د برتانیې پوځونو ته ورپېښ سول. لارنس دا خبره په کلکه ردوله، چې روسان به افغانان په دې قانع کړي، چې هغوی ته په خپله خاوره کې لاره ورکړي، چې پر هند باندې حمله وکړي. هغه په دې عقیده و، چې که چیرې روسان پر افغانستان باندې رادمخه کیږي او د هند د نیولو نیت کوي، نو انگرېزان کولای سي، چې د بالتیک په بحیره کې د هغوی پر سمندري قواو او بندرونو باندې حملې وکړي او هغوی بېرته په شاتللو او د نیولو ځکو پرېښودلو ته مجبور کړي.(۱۸)

تزار الکیزانډر، مشهور روسي جنرال کونستانیتن کوفمان، چې د قفقاز په سیمه کې یې ډېر زیات جنگونه کړي وه، د ترکستان گورنر جنرال مقرر کړ او هغه په ډېره لږه موده کې د مرکزي آسیا د تجارت او صنعت لوی مرکزونه یو په بل پسې اشغال کړل. جنرال کوفمان په لومړي سر کې د بخارا له امیر سره د سولې تړون او پر یوه بل باندې د تیري نه کولو موافقه لاسلیک کړه، مگر څرنگه چې د زورور اوبه مخ پر لوړه ځي، ډېر ژر یې د بخارا امیر ته پلمه جوړه کړه او په ۱۸۶۹ م کال کې یې له یوه لنډ جنگ څخه وروسته، چې چندانې جنگ ورته ویل کېدلای نه سي، بخارا ونیوله او امیر یې د جنرال کوفمان تابعیت قبول کړ.(۱۹)

روسیې د افغانستان په شمال کې په مرکزي آسیا کې، فتوحاتو ته مخه کړې وه او معلومه نه وه، چې سرحد به یې کوم ځای ته رسیږي. امیر شیر

علي خان د شمالي ګاونډي څخه تهدید احساساوه او کله چې یې له انګلیسانو څخه د روسانو د احتمالي یرغل په مقابل کې د مرستې غوښتنه وکړه، انګریزان لا تر لاره د روسانو د یرغل په صورت کې د مرستې وعدې ته هم تیار نه وه. د ایران لاسونه تازه د هرات او شاوخوا سیمو څخه لنډ سوي وه او دا معلومه نه وه، چې بیا به کله د هرات د نیولو لپاره لښکر کښي کوي او امیر شیر علي خان په دغه وخت کې په شاوخوا کې یو دوست هیواد نه درلود او شاوخوا یې ټوله د پخوا په شان دښمنانو احاطه کړې وه.

# امیر شیر علي خان او یعقوب خان

امیر شیر علي خان د افغانستان دتمدن دوستو او ترقي غوښتونکو امیرانو په کتار کې راځي، مګر هغه یو احساساتي سړی و او د سردار محمد علي خان د وژل کېدلو له پېښې څخه وروسته یې دا ثابته کړه، چې پر خپلو احساساتو باندې غلبه نه سي کولای او که د سردار یعقوب خان مرسته ورسره نه وای نباید د تل لپاره یې د کابل تخت له لاسه وتلی وای. د هغه یوه بله لویه کمزوري دا وه، چې د شهزاده عبدالله جان مور دونه نفوذ باندې درلود، چې د ده د عقل سترګې یې ړندې کړې وې. هغه بېله دې چې د هیواد حساس جغرافیایي او تاریخي شرایط او کورني اختلافات دې په نظر کې ونیسي، خپل اوه کلن زوی شهزاده عبدالله جان اغلباً د هغه د مور د ډېر فشار په وجه، خپل ولیعهد وټاکه او په دې توګه یې خپل مشر او لایق زوی سردار یعقوب خان، چې د ده سره یې د کابل په نیولو کې تر هر چا زیاته مرسته کړې وه او په هر صورت د پاچاهی لایق و، خوا بدی کړ او ځانته یې په کور کې اوربل کړ. یعقوب خان بیا هم یو څه صبر وکړ او کله چې امیر شیر علي خان خپل کشر زوی رسماً خپل ولیعهد وټاکه، یعقوب خان برالا بغاوت ته ملا وتړله او د هرات پر لور روان سو.

په دې موضوع کې ټول تاریخونه په دې عقیده دي، چې سردار یعقوب خان له خپل پلار څخه د عبدالله جان د ولیعهد کېدلو پر سرخپه او یاغي سو. یوازې ایراني مؤرخ او لیکوال. محمود محمود په دې موضوع کې یو دلچسپ نظر لري. چې په یادولو ارزي. محمود محمود لیکي".. او سردار محمد یعقوب خان. چې د خراسان د مسافرت په وخت کې د ایران



امیر شیرعلیخان



امیر محمد یعقوب خان

پاچا نازولی و، په دې عقیده و، چې افغانستان باید د ایران د دولت اطاعت وکړي او د هغه د همدغه نظر په اساس د پلار او زوی ترمنځ روابط خراب سول او سردار محمد یعقوب خان د پلار سره مرور سو او هرات ته ولاړ. هغه په مخصوص رشادت او شجاعت سره د ایران د دولت تر اطاعت او امرو لاندې د هرات والي سو او چې د کابل څخه یې د هغه د ځیلو لپاره هرخومره قوه او لښکر ور واستول، ټول یې مغلوب کړل او کابل ته بېرته پر شا سول او محمد یعقوب خان په هرات کې په تام استقلال حکومت کاوه.(۲۰)

که دا د محمود محمود نظر وای، یا د ده بېخبري وای او یا کوم چا غلط معلومات ورکړي وای، نو څه خبره نه وه، مګر دلچسپه خبره دا ده، چې هغه د خپل ټول شهرت سره، بیا هم په ټوله سپین سترګي، د خپل دغه متن حواله د عین الوقایع پر کتاب ورکوي. په داسې حال کې چې په هغه کتاب کې، چې پخپله د ده په ژبه لیکل سوی دی او د نه پوهېدلو او یا غلط پوهېدلو لپاره هیڅ پلمه نه سي جوړېدلای، د ایران سره د افغانستان د روابطو او د هغو پر سر د پلار او زوی ترمنځ د اختلاف پېدا کېدلو مسئله مطرح نه ده. په هغه کتاب کې، چې محمود محمود یې حواله ورکړې ده، صرف دونه لیکل سوي دي، چې په ۱۲۸٦ هجري کې چې ۱۸٦۹ میلادي کیږي، سردار محمد یعقوب خان مرور سو او د خپل پلار امیر شېر علي خان بې اجازې له سردار شاه پسند خان سردار محمد هاشم خان او بهادر خان سره د هرات خوا ته متوجه سو او هرات ته د رسېدلو سره یې د غوریان په سیمه کې ځان خلکو ته وښود او خلک یې پر ځان راټول کړل.(۲۱)

محمد یعقوب خان له کابل څخه د حرکت کولو وروسته لومړی ځان کندهار ته ورساوه. د کندهار ښار یې کلابند کړ. ډېر ژر یې محاصره، ځکه بېرته خوشې کړه، چې د دغه ښار فتح کول یې په وس پوره نه وه. د ګرشک پر لور روان سو د ګرشک حاکم ښار ته د ننوتلو اجازه ورنه کړه او په ګولیو یې جواب ورکړ. سردار محمد یعقوب خان انار درې ته ولاړ او د فراه حاکم، سردار میرافضل خان هغه ته په فراه کې د پاته کېدلو بلنه ورکړه او ورته وې ویل چې په پسرلي کې به کابل ته ورسره ولاړ سي او د پلار څخه به عفو ورته وغواړي. سردار محمد یعقوب خان د هغه خبره ومنله، خو سپه سالار فرامرز خان، چې د محمد یعقوب خان د ګرفتارولو

وظيفه ورکړه سوې وه او دا وخت د ګرشک حدودو ته رسيدلي و، د سردار مير افضل خان پر خبرو غوږ ونه نيوی او د محمد يعقوب خان پر ګرفتارولو يې ټينګار وکړ. سردار مير افضل خان سمدستي سردار محمد يعقوب خان ته، چې دا وخت يې په واشير کې کمپ وهلی و، خبر ورکړ. هغه د خبر د اخيستلو سره سم لومړی د سيستان او له سيستان څخه بېرته د غوريان پر لور حرکت وکړ او د غوريان قلعه يې ونيوله.

## سردار محمد يعقوب خان په هرات کې

د هرات والي سردار فتح محمد خان، چې پخپله د سردار محمد يعقوب خان د توصيې په اساس د هرات والي سوی، خپل زوی سردار محمد عزيز خان ته د يوه لوی پياده پوځ او مجهزې توپخانې سره د غوريان د قلا پر لور واستاوه. د سردار محمد عزيز خان پوځ د هغو احسانونو او نيکيو په خاطر، چې د يعقوب خان څخه يې ډيرې ليدلي وې، هغه ته سلامي سو او سردار محمد عزيز خان هرات ته وتښتېدی. يعقوب خان د هغه ټول پوځ او توپخانه ورسره واخيستله او د هرات ښار يې محاصره کړ. دمخه تر هغه چې د سپه سالار فرامرز خان قوه او يا د امير شېر علي خان تازه دمه قواوې د هرات د محاصرې د ماتولو او سردار يعقوب خان د نيولو لپاره هغې سيمې ته ورسيږي د هرات خلکنو، چې سردار يعقوب خان د خپل حکومت په وخت کې ډير ښه سلوک ورسره کړی و، هغه ته بلنه ورکړه او د ښار دروازې يې ورته خلاصې کړې. يعقوب خان د هرات ښار فتح کړ او سردار فتح محمد خان له هغه سره په جنګ کې په ګولۍ ولګېدی او څو ساعته وروسته وفات سو. د هغه زوی سردار محمد عزيز خان هم ډير سخت زخمي سو او نهه ورځې وروسته په حق ورسېدی. سردار محمد يعقوب خان په هرات کې د خپل پلار په خُلاف بيرغ پورته کړ او په استقلال يې حکومت پيل کړ.

سپه سالار فرامرز خان د هرات پر لور حرکت ته دوام ورکړ. سردار محمد يعقوب خان د هغه په مقابل کې له هرات څخه حرکت وکړ او د دواړو خواو ترمنځ د ادرسکن په سيمه کې جنګ وسو. د جنګ په لومړۍ ورځ د کابل قواو خپل دوه لوی افسران، سردار خان او جنرال فتح علي شاه خان له لاسه ورکړل او په هغه شپه سردار يعقوب خان سپه سالار فرامرز

خان تـه یـو لیـک واسـتاوه او ورتـه وې لیکـل، چـې مـا تراوسـه پـورې پـه هـرات کې خطبه د خپل پـلار پـه نامـه ویلـې ده او اوس هـم د هغـه د اطـاعت منلـو تـه تیـار یم. زه د پـلار څخـه درې غوښتنـې لـرم، یـا مـې دې عفـو کـړي او خپـل حضور تـه مـې دې وبـولي. یـا دې راتـه ووایـي، چـې لـه وطنـه ووزه او یـا کـه د سیدانو، عالمـانو او قـرآن شریف پـه شـفاعت عفـو سـوم، نـو د هـرات حکومـت دې راوسپاري. سپه‌سـالار فرامـرز خـان او سـردار محمـد اسـلم خـان د یعقـوب خان پـه جـواب کـې ورتـه ولیکـل، چـې کـه رښتیـا هـم د خپـل پـلار د اطـاعت خیال لرې، نو خپـل ورور، سـردار محمـد ایـوب خـان، پـه هـرات کـې پرېږده او پخپله کابل تــه روان سـه. یعقـوب خـان لـه د فرارمـرز خـان د لیـک جـواب نـه و ورکړی، چـې سـردار اسـلم خـان د دوو قـاتلانو پـه وسـیله، د فرامـرز خـان ژونـد ته خاتمه ورکړه. د سـردار اسـلم خـان دسیسـه رسـوا سـوه. امیر شـېر علـي خـان هغـه ګرفتـار کـړ او لـږه مـوده وروسـته د کـابل پـه محبس کـې خپـل سـکه ورور سردار محمد حسـن خـان د بـل ورور سـردار محمـد حسین خـان سره یـو ځای وواژه.(۲۲)

امیر شـېر علـي خـان، چـې غوښتـل یـې د هـرات پـر لـور حرکـت وکـړي، خپـل عـزم ځکـه فسخ کـړ، چـې پخپلـه یعقـوب خـان خپـل ورور محمـد ایـوب خان په هرات کـې پرېښود او د پـلار څخـه د عفـو غوښتلـو لپاره کـابل تـه روان سو. امیر شـېر علـي خـان خپـل زوی عفـو کـړ هغـه پـه کـابل کـې دوې میاشتـې تېرې کـړې او بېرتـه یـې د هـرات د حکمـران پـه حیـث د هغـه ولایـت پـر لـور حرکت وکـړ.

دا چې د امیر شـېر علـي خـان او سـردار یعقـوب خـان پـه پخـلا کېدلـو کـې بـه د هنـد د ویسرا لارډ مـایو*Lord Mayo* لیـک ځومـره تاثـیر درلـودلی وي سړی څه نه سـي ویـلای. خـو لارډ مـایو د امیر شـېر علـي خـان څخـه پـه ټینګه غوښتې وه، چـې د خپـل زوی سـره روغـه جـوړه وکـړي.(۲۳)

د سـردار یعقـوب خـان او امـیر شـېر علـي خـان روغـې جـوړې ډېر دوام ونـه کړ او څه کم یـو کـال وروسـته، چـې سـردار یعقـوب خـان پـه کـال ۱۸۷۳ م کـې په خپله خـوښه د ډېرو زیـاتو تحفـو سـره کـابـل تـه ولاړ، پـلار یـې پـه عـام دربـار کې وربانـدې په قار سو. هغـه یـې پـه بغـاوت او خیـانت تـورن کـړ او هغـه تـه یـې اختیار ورکـړ، چـې یـا هـرات تـه ولاړ سـي او هلتـه د امیر د لښکـر انتظـار وباسـي او یـا پـه کـابل کـې بندیخانـه قبولـه کـړي. سـردار یعقـوب خـان پـه کـابل کـې

بنديخانه ومنله او امير شېر علي خان په لوی لاس ځان له يوه لايق او يوه محبوب زوی څخه محروم کړ.(۲۴)

امير شېر علي خان په ډېر حساس وخت کې ډېرې احساساتي فيصلې وکړې. البته هغه پخپله يو احساساتي سړی و او په دې کې شک نه سته، چې د سردار محمد يعقوب خان په حق کې دغه راز غير منصفانه فيصله يې د دربار او د حرم د دسيسو محصول وه.

# سردار محمد ايوب خان

امير شېر علي خان د محمد يعقوب خان له بندي کولو څخه وروسته، په هرات کې د هغه د سکه ورور سردار محمد ايوب خان په فکر کې سو. شېر علي خان خپل استازي هرات ته واستول او محمد ايوب خان ته يې احوال ورکړ، چې زه له تا څخه مرور نه يم او له محمد يعقوب خان څخه، چې د خپل عمل سزا يې ولېده، خوا بدی سوی يم. که ستا څخه کومه خطا سوي ده، نو هغه دې هم د محمد يعقوب خان په تحريک کړې ده او اصلي مقصر هغه دی. شېر علي خان خپل زوی ته وليکل، چې ته د هرات حاکم يې او زما استازی دين محمد خان په غوريان کې مقرر کړه. البته امير شېر علي خان د محمد ايوب خان د احتمالي مقاومت د ماتولو په منظور خپل نور مهم جنرالان او د کورنۍ مشران له ښې زياتې قوې سره د هرات پر لور واستول. محمد ايوب خان د خپل پلار پر پيغام غوږ ونه نيوی او د دين محمد خان، چې په غوريان کې حاکم و، د برطرفه کولو حکم يې صادر کړ او خپلو عسکرو ته يې امر وکړ، چې هرات ته يې ځنځير او زولانه حاضر کړي. دين محمد خان د سردار محمد ايوب خان د قواو سره په جګړه او مقاومت کې ووژل سو او د کورنۍ غړي يې د ايوب خان ورلېږلو قواو ګرفتار کړل. سردار محمد ايوب خان د امير شېر علي خان د لښکرو سره د پل مالان په سيمه کې په جګړه لاس پورې کړ، مګر تر ډېر لږ مقاومت وروسته يې قواو ماته وکړه او هغه د خپلو ملګرو سردارانو سره يو ځای ايران ته وتښتېدی.

ناصرالدين شاه قاجار، د افغانستان په برخه کې د خپلو اسلافو د هميشګې پاليسۍ په خبر، د محمد ايوب خان ډېر قدر وکړ، هغه ته يې اويا زره روپۍ او اوه سوه خرواره غله ورکړه او هغه ته يې وويل، چې د ايران

هېواد د شهزاده خپل کور دی او چې ترخو پورې د ایران په خاوره کې هستیږي زه به د خپل زوی په سترګه ورته ګورم.(۲۵)

دا وخت د هرات په سیمه کې د ایران د دسیسو او تحریکاتو خطر نه معلومېدی او په افغانستان کې د نسبي ثبات له امله ایران په هرات کې د مستقیمې مداخلې جرأت نه سو کولای، مګر د افغانستان په شمال کې، د مرکزي آسیا په سیمه کې، چې د سترې لوبې یو مهم ستیج و، روسیې په داسې پرله پسې فتوحاتو لاس پورې کړی و، چې د افغانستان د حکومت سره یې د خاورې د تمامیت غم پیدا کاوه.

# په مرکزي آسیا کې د سترې لوبې دوام

روسیې تر ۱۸۷۳ م کال پورې د مرکزي آسیا تقریباً ټول مرکزونه، لکه خوقند، سمرقند، تاشکند، بخارا او په پای کې خیوا لاندې کړی وه او د هغوی د فتوحاتو پرله پسې خبرونو طبعاً امیر شېر علي خان وارخطا کاوه او له برتانیې څخه یې د مرستو غوښتنه کوله. البته برتانیې مخکې له هغه چې د افغانستان حکومت ته له دې درکه اندېښنه پیدا سي، له روسیې سره په کال ۱۸٦۹ م کې یو قرار داد لاسلیک کړی او ځان یې پر هند باندې د روسیې د پرمختګ له خطر څخه بېغمه کړی و.

د برتانوي هند حکومت په کال ۱۸٦۹ م کې خپل یو استازی، ډګلاس فورسیت *Douglas Forsyth* سنټ پترز بورګ ته واستاوه او هلته یې د روسیې د حکومت له مقاماتو سره تر مذاکراتو وروسته یوه درې فقره ای موافقتنامه لاسلیک کړه. په موافقه کې راغلي وه، چې هغه مځکې چې همدا اوس عملاً د شېرعلي خان په لاس کې دي باید چې د افغانستان حدود وګڼل سي. دوهم دا چې امیر به هم له دغو حدودو څخه تېری نه کوی، نه به د خپلو سرحداتو هاخواته نفوذ کوي او نه به مداخله کوي او د برتانیې حکومت به له خپل ټول وس څخه کار اخلي، چې امیر په دغه سیمه کې له تېري څخه منع کړي او درېیم دا چې د روسیې حکومت به خپل ټول وس کوي، چې د بخارا امیر پر افغانستان باندې د یرغل کولو څخه راوګرځوي.(۲٦)

امیر شېر علي خان په مرکزي آسیا کې د روسانو د پرله پسې پرمختګونو د عواقبو له وېرې د برتانوي هند حکومت ته مراجعه وکړه او له هغوی

څخه يې د روسانو د احتمالي يرغل په صورت کې د مرستې غوښتنه وکړه. د برتانوي هند حکومت امير ته اطمينان ورکاوه، ځکه چې روسانو او برتانويانو د وخته لا دا خبره سره منلې وه، چې افغانستان د روسيې د امپراتورۍ د نفوذ له ساحې څخه د باندې دی.

خو د ۱۸۷۰ م کال څخه وروسته په ترکستان کې د روسيې د ګورنر جنرال کافمن او امير شېر علي خان ترمنځ د ليکونو تبادله کيدله.پر اميرشيرعلي خان باندې د برتانوي هند اعتماد سست کړ. که څه هم چې امير شېر علي خان د جنرال کوفمن ليکونه کټ مټ انګريزانو ته استول او هغوی يې له محتوياتو څخه په بشپړه توګه خبر ول، مګر برتانوي هند دا ليکونه د افغانستان په چارو کې، چې د روسانو د نفوذ له ساحې څخه بهر هېوادو، مداخله بلله.

دا وخت په هند کې د برتانيې د حکومت وايسرا لارډ ليټن و. هغه يو ماجرا غوښتونکی انسان و او هند ته د تګ نه مخکې يې د افغانستان په باب فيصله کړې وه. د هغه فيصله دا وه چې د هند امپراتوري به د اشوکا او اکبر د زمانو حدودو ته رسوي، د دې معنی دا وه، چې د برتانوي هند قلمرو به د هندوکش ترغرونو پورې وي او د آمو تر سيند پورې به يې پوستې ولاړې وې.(۲۷)

انګريزانو غوښتل، چې په هرات کې دايمي نماينده ولري او دغه راز په کابل کې او د افغانستان په شمال کې استازي ولري. امير شېر علي خان د هغوی دا پېشنهاد نه سو منلای، د انګريزانو دغه روحيه په ۱۸۷۷ م کال کې په پېښور کې د برتانوي هند د حکومت د استازي سرليويس پيلي *Sir Lewis Pelly* او د امير شېر علي خان د استازي، صدراعظم نور محمد شاه ترمنځ د خبرو د ناکامۍ علت و.

انګريزانو ته بالاخره داسې رپورټونه ورسېدل، چې امير شېر علي خان په افغانستان کې او په سرحدي قبايلو کې د انګريزانو پر ضد د جهاد لپاره تبليغ کوي او د هغوی پر ضد جنګ ته تياری کوي.(۲۸)

د انګريزانو او امير شېر علي خان ترمنځ روابط ډېرې حساسې مرحلې ته رسېدلي وه او په يوه نري تار پيوند وه، مګر امير د خپل پلار امير دوست محمد خان په شان ساړه ماغزه نه درلوده، چې په دغه راز حساسو وختونو کې يوه معقوله او غير احساساتي فيصله وکړي. هغه په ډېرحساس وخت کې له روسانو سره، چې په لومړي سر کې يې دې پخپله، په مرکزي آسيا

کې لـه پرمختګونـو څخـه اندېښمـن و، تماسـونه ټينګ کړل، لـه هغـوی سره يې دوستانه ليکونه جـاري وسـاتل، ځانتـه يـې د انګرېزانـو بدبينـي زياتـه کـړه او پـه داسې وخت کې خپلې اشتباه تـه متوجـه سـو، چـې هـرڅه يـې لـه لاسـه ورکـړي وه او د عمر وروسـتی شپې يـې رارسـېدلې وې.

# روسان او امير شېرعلي خان

روسانو بالاخره پـه ۱۸۷۸ م کـال کـې پـه داسـې وخـت کـې، چـې انګرېزانـو پـه افغانسـتان کـې د مسـتقيمې مداخلـې لپـاره پلانونـه جـوړول او د دې پلانونـو د عملي کولـو لپـاره د پلمـې پـه لـټه کـې وه، افغانسـتان تـه د جـنرال سـتوليتوف پـه مشرۍ يـو هيـأت واسـتاوه. امـير د دې هيـأت ډېر تـود هرکلـی وکـړ او روسـانو د امـېر سره د ډېرو زيـاتو نظامي او مـالي مرسـتو وعـده وکـړه. امير شـېر علـي خـان لـه جـنرال سـتوليتوف سره يـو تـړون هـم لاسـليک کـړ او پـه هغـه کـې روسانو وعده وکـړه، چـې کـه چېرې کـوم خـارجي هـېواد پـر افغانسـتان بـاندې يرغل وکړ، نو روسان بـه يـې دفـاع کـوي او لـه امير سره لازمـې پـوځي مرسـتې کوي. امير تعهد وکړ، چـې پـر هـېڅ خـارجي دولـت بـه حملـه نـه کـوي او دغـه راز به د هېڅ خارجي هـېواد سره د روسـانو لـه سـلا مشـورې او اطـلاع نـه پرتـه تمـاس نـه ټينګـوي. امـير شـېر علـي خـان دغـه راز تعهد وکـړ، چـې هـره مهمـه خبره چـې لـرې د جـنرال کـافمن سره بـه يـې مطـرح کـوي او هغـه بـه د روس د دولت پـه اجـازه د ده غوښتنـې پـوره کـوي.(۲۹)

دا هيـأت د جـولای د مياشـتې پـه وروسـتيو شـپو ورځـو کـې کـابل تـه ورسېدی، په داسـې حـال کـې چـې انګرېزانـو او روسـانو د جـون او جـولای پـه مياشتو کې د برلـين پـه کنګـره کـې خپـل تقريباً ټول اختلافـات سره حـل کـړي وه او نـور پـه افغانسـتان کـې د روسـانو د مداخلـې او لـه انګرېزانـو سـره د دښمنۍ سـوال مطـرح نـه و. جـنرال کـافمن، جـنرال سـتوليتوف، پـه ډېره عجلـه له کابل نـه وروغـوښت او لـه دغـې نـېټې څخـه د روسـانو لـه مرسـتې نـه د امير شېر علي خان اميـد ورځ پـه ورځ قطـع کـېدی. امير شـېر علـي خـان پـه لومـړي سر کې له روسانو څخـه د مرسـتو غوښتنـه کولـه، هغـوی تـه يـې پـر خپلـه خـاوره بـاندې د انګرېزانـو د لښکر کښـۍ اطـلاع ورکـړه، مګـر جـنرال کـافمن، د دې پـر ځـای چـې لـه امـير سـره د مرسـتو وعـده وکـړي او د هغـه او جـنرال سـتوليتوف د تـړون پـه اسـاس سـلوک وکـړي، امـير شـېر علـي خـان تـه نصيحـت

وکړ، چې له انګرېزانو سره به ترته دوستي وکړي او هغوی جنګ ته ونه هڅوي.(۳۰)

امير شېر علي خان بالاخره، خپل زوی سردار محمد يعقوب خان له زندانه راوايست، هغه يې په کابل کې د سلطنت کفيل مقرر کړ او پخپله يې مزار شريف ته حرکت وکړ او اميد يې دا و، چې له هغه ځايه به پترز بورګ ته ځي او په يوه جهاني کنګره کې به د انګرېزانو پر ضد خپل عرايض وړاندې کوي، مګر جنرال ګافمن حتی د روسيې خاورې ته د داخلېدلو اجازه ورنه کړه او ورته وې ويل، چې په خپل هېواد کې پاته کېدل يې په خير دي. امير شېر علي خان له مزار شريف نه جنرال کافمن او بالاخره د روسيې امپراتور ته ليکونه واستول او هغوی ته يې وويل چې انګرېزانو څکه د ده پر هېواد باندې حمله کړې ده، چې ده له روسانو سره دوستي غوره کړې وه.(۳۱) البته روسانو د پخوا په شان امير شېر علي خان ته مايوسونکي جوابونه ورکړل. امير ايله دغه وخت متوجه سو، چې روسانو تېر ايستلی دی او په مزار شريف کې يې د روسانو هيأت ته وويل، چې که يې چېرې په لومړي سر کې د روسانو دا مشوره نه وای منلې، چې ويل يې د انګرېزانو سفير ته اجازه مه ورکوه، چې کابل ته درسي او که يې چېرې په لومړي سر کې له انګرېزانو سره د دوستۍ او سولې لاره اخيستې وای، د ده پر هېواد به دغه حالت نه وای راغلی.(۳۲)

امير شير علي خان بالاخره د ۱۸۷۹ م کال د فبرورې په اتمه په مزار شريف کې په مات زړه له دنيا څخه سترګې پټې کړې او د کابل د حکومت قدرت رسماً د هغه زوی محمد يعقوب خان ته ورسېدي.

# امير محمد يعقوب خان د قدرت پر کرسۍ

د هند ويسرا په کابل کې د يعقوب خان د حکومت له پيل کېدلو سره هغه ته وليکل، چې بايد د برتانيې يو دايمي هيأت په کابل کې ومني. يعقوب خان دا خبره له هغو کسانو سره، چې د امير شېر علي خان سره د مزار شريف په سفر کې ملګري وه، مطرح کړه او هغوی ټولو ورته وويل، چې په برتانيه اعتماد ونه کړي او د روسيې سره دوستي وکړي.(۳۳)

البته يعقوب خان د هغوی مشوره ونه منله او د انګرېزانو دا پيشنهاد يې منظور کړ، چې ويل يې د هغوی له قواو سره دې د ګندمک په سيمه کې

وګوري. مخکې له هغه چې یعقوب خان ګندمک ته ولاړ سي، هغو قبایلو ته یې چې د انګریزانو سره په جګړه لګیا وه، یوه اعلامیه خپره کړه. هغوی ته یې ولیکل، چې د کافرانو څخه ونه وېرېږئ او دې به د هغوی پر ضد د غازیانو یوه لویه قوه تنظیم کړي. البته دغه اعلامیه د انګرېزانو لاسته ورغله، مګر د انګرېزانو له خوا ټاکل سوي استازي، سرلویس کیوناری *Louis Cavagnari* په هغې کې ری ونه واهه او د یعقوب خان سره یې د ګندمک تړون لاسلیک کړ.(۳۴)

کیوناری تر هر چا ښه پوهېدی، چې افغانستان ته تلل او په کابل کې وظیفه اشغالول ځومره خطرناک کار دی، مګر هغه خپل ځان او ملګري دې خطر ته ورکړل او د افغانستان د امیر په دربار کې یې د برتانیې نمایندګي ومنله.(۳۵)

د ګندمک په معاهده کې څلور مواد تر ټولو مهم وه او هغه دا ، چې د افغانستان حکومت به د برتانیې د سلا او مشورې څخه پرته د هېڅ خارجي هېواد سره ارتباط نه ټینګوي. په کابل او د ضرورت په وخت کې به د افغانستان په نورو سیمو کې د برتانیې دایمي استازی مني. برتانیه به د خیبر د درې او د کرم ، پښین او سیوی کنټرول اخلي او امیر ته به له کاله شپېته زره پونډه ورکوي.

په دغو شپو ورځو کې سردار محمد ایوب خان، چې دا وخت په مشهد کې اوسېده، د پلار له مرګ او په کابل کې د امیر محمد یعقوب خان له پاچا کېدلو څخه خبر سو او سمدستي یې د هرات پر لور حرکت وکړ. د هرات پوځیانو د ایوب خان ډېر تود هرکلی وکړ او د ښار د چارواکي یې په لاس کې واخیستلې.(۳٦)

# کیوناری او د کابل قیام

په کابل کې د برتانیې سفیر، کیوناری، د کال ۱۸۷۹ م د جولای پر څلېروېشتمه ښار ته ننووت. د اګست د میاشتې پر دروېشتمه هغه ولیکل، چې په عمومي صورت وضع ارامه ده، مګر په رپوټ کې یې ولیکل، چې له هرات څخه شپږ ټولې عسکر، د اګست د میاشتې په سر کې کابل ته رسیدلي او د ښورښ خیال لري. که څه هم چې انګرېزانو ته دا معلومه وه، چې دا شپږ ټولې عسکر د ایوب خان له پوځ څخه کابل ته رسیدلي دي او

دا خبره ډېره مشهوره وه، چې ايوب خان د برتانيې څخه ډېر سخت نفرت لري او دغو عسکرو کابل ته د رسېدلو سره په وازه خوله د برتانيې صاحب منصبانو ته ښکنځل کول.(۳۷) مګر د برتانيې سفير بيا هم د سپټامبر پر دوهمه د برتانوي هند وايسرا ته وليکل، چې هرڅه پر خپل حال دي او خير خيريت دی.(۳۸)

خو د سپټامبر پر دريمه نېټه، چې نه يعقوب خان، نه کيوناري او نه د برتانيې حکومت فکر کاوه، چې له دونه وړې خبرې څخه به دومره لويه مسئله جوړېږي، د دغو شپږو ټوليو له جملې څخه دريو ټوليو د خپلو دريو مياشتو باقياتو غوښتنه وکړه. هغوی ته وويل سول، چې د يوې مياشتې باقي پاته تنخوا به يې ورکړه سي، مګر هغوی ونه منله او د انګرېزانو د سفير د کور پر خوا روان سول.(۳۹)

يوه منبع وايي، چې سپه سالار داوُد شاه خان د وليعهد عبدالله جان د مور په تحريک، عسکرو ته د ناموس ښکنځل وکړل او هغوی يې په لوی لاس ولمسول. عسکرو داوُد شاه خان ښه ووهاوه او ايله په تېښته يې ځان ورڅخه خلاص کړ او خلک د کيوناري د کور پر لور روان سول. د کيوناري د کور ساتونکو دروازې وتړلې او پر خلکو يې، چې دا وخت يې شمېر زيات و کم لسو زرو تنو ته رسېدی،ډزې وکړې. دې ډزو خلک نور هم په قار کړل او لږ ګړی وروسته يې پر سفارت باندې وسله واله حمله وکړه. بالاخره کيوناري خپل کور ته اور واچاوه او د ټول هيأت سره يو ځای وسوځېدی.(۴۰)

امير محمد يعقوب خان د انګرېزانو جنرال، فريد ريک رابرټسن ته ليک واستاوه او هغه ته يې وليکل، چې د کيوناري د قتل او پر سفارت باندې د حملې کولو مقصرين به ونيسي او د انګرېزانو مقاماتو ته به يې وسپاري، مګر جنرال رابرټسن د اکتوبر د مياشتې پر دوولسمه د خپلو ډېرو زياتو قواو سره کابل ته ننوت او يعقوب خان يې خپل کمپ ته وباله. امير محمد يعقوب خان د انګرېزانو د انتظار په خلاف، صرف له خپلو څو تنو ملګرو سره د جنرال رابرټسن کمپ ته ورغی د امارت په منلو کې يې د انګرېزانو پېشنيهادونه رد کړل او د خپل مقام څخه يې استعفٰی وکړه.(۴۱)

انګرېزان له ډېر لوی مشکل سره مخامخ سول. هغوی ته د انګليس او افغان په لومړي جنګ کې دا ثابته سوې وه، چې په دې هېواد کې د تل د پاره پاتېدل غير ممکن کار دی او بايد چې بېرته دا خاوره تخليه کړي،



سرلويي کيوناري مشهور په کمناري له خپلو
يو شمير انګريز پلويو ملګرو سره



د کابل بالاحصار

مګر خبره دا وه، چې دوی باید د دې هېواد قدرت چاته خوښې کړي.؟ يعقوب خان استعفیٰ کړې وه او سمدستي داسې څوک نه و، چې دوی د وتلو په صورت کې هغه ته د کابل چارې وسپاري. انګرېزان په ډېره جګه غاړه کابل ته ننوتل. د بالاحصار يوه برخه يې ورانه کړه، پر بالاحصار يې بېرغ ووهه، خپلې قواوې يې د شېر پور په مستحکمه قلا کې، چې امير شېر علي خان جوړه کړې وه، ځای پر ځای کړې. څه باندې پنځوس تنه يې، چې د دوی په قول د کيوناري په قتل او د کابل په قيام کې يې لاس درلود، اعدام کړل.(۴۲)

مګر خبره په دې ساده‌ګۍ پای ته نه رسېده. د کابل سخت ژمی په مخ کې و، د ښار له اطرافو څخه د قبايلو د راتلو او عمومي جهاد اوازې او رپوټونه رارسېدل او داسې ښکارېده، چې د کابل په ښار کې د څه کم ځلوېښتو کالو مخکې حوادث يو ځل بيا تکرارېږي او د انګرېزانو پوځ به يو ځل بيا د افغانانو د ملي پاڅون د قهر او غضب په اور کې سوځي.

کابل ته د انګرېزانو د راتګ څخه يوه مياشت وروسته د ښار شاوخوا او د ښار دننه سيمې له مجاهدينو ډکې وې او د ډسامبر تر نيمايي پورې د غازي محمد جان خان وردګ او د خلکو له خوا د کابل د ښار د انتخاب سوي والي او سپه سالار ملا مشک عالم تر رهبرۍ لاندې زيات وکم سل زره مجاهدين راټول سوي وه.(۴۳)

دا ځل له انګرېزانو سره هم د افغان او انګليس د لومړي جنګ تجربه ملګرې وه، هم يې وسلې تر پخوا عصري وې او هم يې د شېر پور په شان ټينګه قلا، چې تقريباً پر ټول ښار باندې سپره وه، په لاس کې وه. پر دې قلا باندې چې افغانانو هرڅونه حملې وکړې، د انګرېزانو د توپچي قواو د سختې مقابلې سره مخامخ سوې او افغانان به تر سختو تلفاتو ورکولو وروسته بېرته پر شاتللو ته مجبور سول. په دې ترڅ کې د کابل سخت ژمی، چې د افغانانو په ګټه او د بېګانه قواو په تاوان، پای ته ورسېدی او د انګرېزانو دپاره د اکمالاتو لارې بېرته خلاصېدلې. د بلې خوا د ژمي د تېرېدلو سره د افغان مجاهدينو، چې زياتره کروندګر وه، د کار او غريبۍ وخت راورسېدی او په کابل کې د مجاهدينو دقواو زور مخ په کمېدلو سو، مګر دا حقيقت انګرېزانو او بل هر چا ته معلوم و، چې ملي پاڅون چې يو ځل پيل سي، چې ترڅو پورې هدف ته نه وي رسېدلی، ختمېدل نه لري. په کابل کې جنرال رابرټسن ته تقويتي قواوې راورسېدلې او د هغه زړه

پوره سو، مګر د افغانستان آینده مبهمه ښکارېده. سوال دا و، چې څوک به پر افغانستان باندې حکومت کوي؟ او که حکومت کوي، نو پر یوه متحد افغانستان او که پر ټوټه سوي افغانستان به حکومت چلوي؟. د دې مشکل سوال، جواب د افغانستان په شمال کې د سردار عبدالرحمن خان له ظهور سره پېدا سو.(۴۴)

# امیر عبدالرحمن خان

په کابل کې د انګرېزانو د سیاسي چارو د دفتر رئیس یا د هغوی سفیر لیپیل ګریفین *Lepal Greffin* سردار عبدالرحمن خان ته، چې دا وخت په کندوز کې په فعالیت لګیا و، خپل یو استازی واستاوه. سردار عبدالرحمن خان د انګرېزانو د ایلچي له پېغام څخه پوه سو، چې هغوی غواړي له ده سره جدي تماس ونیسي. هغه پوهېدی، چې انګرېزان د افغانستان څخه د وتلو لاره لټوي او غواړي، چې دغه هېواد یو چاته وسپاري. عبدالرحمن خان پدې پوهېدی، چې انګرېزان په دغو شرایطو کې د ده وجود ته اړ دی او دې باید چې په دې برخه کې له تلوار څخه کار وانه خلي او ددې دریځ څخه پر ځای او معقوله استفاده وکړي.(۴۵)

دا وخت په برتانیه کې په حکومت کې هم تغیر راغلی و. قدرت ښاغلي ګلېډ ستون *Mr Gladstone* ته رسېدلی و او هغه غوښتل، چې ډېر ژر له افغانستان څخه ووزي. عبدالرحمن خان ښایي په دې پوهېدی، چې په دغه راز شرایطو کې له انګرېزانو سره ښې چنې وهلای سي.(۴٦)

سردار عبدالرحمن خان او سر لیپیل ګریفین د څو لیکونو له تبادله کولو څخه وروسته بالاخره د جولای د میاشتې پر ۵ روښتمه د کابل د شمال په شپاړس کیلو مترۍ کې سره وکتل. په دغه لیدنه کې تقریبا ټول شیان فیصله سول. انګرېزانو سردار عبدالرحمن خان د افغانستان د امیر په حیث ومانه. سردار عبدالرحمن خان دا ومنله، چې د خارجي قوتونو سره به د انګرېزانو د سلا مشورې نه پرته تماس نه ټینګوي او انګرېزان به د هر هغه قدرت په مقابل کې، چې د امیر پر قلمرو باندې تېری کوي امیر ته مرسته ورکوي او دفاع به ورڅخه کوي. دغه راز انګرېزانو دا ومنله، چې دوی نه غواړي د افغانستان په خاوره کې د انګرېزانو دایمي نمایندَه مقرر سي، بلکې دا به بهتره وي، چې په کابل کې د انګرېزانو یو مسلمان سفیر



امیر عبدالرحمن خان



جنرال رابرتس مشهور په راپت

موجود وي. په دې توګه د افغانستان په تاریخ کې یو بل غیر عادلانه جنګ په غیر عادلانه سوله پای ته ورسېدی او د پښتنو هغه خاورې، چې انګرېزانو د ګندمک په معاهده کې له افغانستان څخه په زور بېلې کړې وې له هغوی سره پاته سوې.

په کابل کې قدرت ته د امیر عبدالرحمن خان د رسېدلو څخه سمدستي وروسته د برتانیې قواو ته خبر ورسېدی، چې د برتانیې قواو د کندهار سره نیږدې د میوند په سیمه کې د افغانانو سره په جنګ کې ډېره سخته ماته خوړلې ده. د کابل څخه د جنرال رابرټسن د سمدستي او عاجل حرکت کولو پر علت دغه رېړونکی رپوټ و.(۴۷)

د برتانیې ډېر عالي رتبه پوځي صاحب منصبان په دې عقیده دي، چې د میوند جنګ او په هغه کې ماته د برتانیې پوځي حیثیت ته سخته صدمه ورسوله او دا ماته یې په داسې حساس وخت کې وخوړه، چې یوه افغان سردار ته د افغانستان د چارو د سپارلو او د هغه هېواد څخه د برتانیې د پوځیانو د وتلو سوال طرح و. دوی وایې که چېرې انګرېزانو په میوند کې دغه ماته نه وای خوړلې نو ښایي چې د امیر عبدالرحمن خان سره په مذاکراتو کې به د هغوی لاس بر وای او هغه به د برتانیې شرایط منلای، مګر دې ماتې داسې وضع منځته راوستله، چې برتانیه د امیر د شرایطو منلو ته مجبوره سوه.(۴۸)

# ایوب خان

ایوب خان له ډېره وخته له انګرېزانو سره په کلکه دښمني مشهور و او هغه عسکر چې په کابل کې یې لومړی شورش وکړ او په بالاحصار کې یې د انګرېزانو سفیر، کیوناري ووژه زیاتره هغه هراتي پوځیان و، چې د ایوب خان په قواو کې یې خدمت کاوه.

انګرېزانو ښایي په دغه اساس د کابل یوه مخور خان آقای جمشیدي ته، چې امیر شېر علي خان د امین الدوله لقب ورکړی و، وظیفه ورکړې وه، چې په هرات کې د ایوب خان په مقابل کې شورش راوپاروي او هغه د هرات په ښار کې له یو سخت داخلي مشکل سره مخامخ کړي. مخکې له هغه چې خان آقای جمشیدي هرات ته ورسېږي، ایوب خان په خبر سو او

له ټولو ملګرو سره يې ګرفتار کړ او په هرات کې يې په نېزو سوري سوري کړ.(۴۹)

ايوب خان که مخکې د انګرېزانو سره د جنګ خيال درلود او يا يې نه درلود، د وروستي پېښې سره نور هم په غضب سو او د انګرېزانو په مقابل کې يې تبليغ او عمل ته زور ورکړ. د ۱۸۷۹ م کال د نوامبر په مياشت کې په تهران کې د برتانيې سفير ته يو ټلګرام ورسېدى او په هغه کې ويل سوي وه، چې ايوب خان د انګرېزانو پر ضد د جهاد د اعلانولو فيصله کړې ده او کندهار ته روانيږي. لږه موده وروسته د اپريل په مياشت کې د کندهار څخه د جنرال ستيوارټ فرقې د کابل پر لور حرکت وکړ او د کندهار په ښار کې د انګرېزانو قوه ډېره کمزورې سوه. دې خبرې د ايوب خان او د هغه د سلاکارانو دا فيصله نوره هم ټينګه کړه، چې د کندهار پر لور حرکت کوي.(۵۰)

د هرات څخه د ايوب خان د حرکت په وخت کې سردار شېر علي خان، چې په کندهار کې د انګرېزانو له خوا منل سوی والي و، د خپلو قواو سره په ګرشک کې پروت و او له انګرېزانو څخه يې د مرستې غوښتنه وکړه.(۵۱)

ايوب خان له ډېرو زياتو قواو سره د کندهار پر لور حرکت وکړ او تر هر څه مخکې يې د سردار شېر علي خان پر قواو باندې حمله.وکړه. جنرال پرايمروز Genral Primeros چې په کندهار کې يې د Sir D Stewart د باقي پاتې پوځونو قومانده پر غاړه درلوده، جنرال بروز Gen Burrows ته وظيفه ورکړه، چې د ايوب خان د حرکاتو څارنه وکړي او که چېرې لازمه سي، جګړه ورسره وکړي. د سردار شېر علي خان قواوې سمدستي ايوب خان ته واوښتلې او د جنرال بروز قواوې د جولای پر اوه ويشتمه د ميوند په دښت کې د ايوب خان له قواو سره مخامخ سوې. د برتانيې توپچي او پياده قواو ډېره ښه جګړه وکړه، مګر د ايوب خان د قواو په مقابل کې يې مقاومت نه سو کولای او بالاخره يې ماته وکړه. سردار شېر علي خان کندهار ته وتښتېدی، جنرال بروز عقب نشيني وکړه او ډېر زيات افسران، پوځيان او پوځي وسايل يې له لاسه ورکړل.

بريد جنرال جورج بروز ته امر سوی و، چې د ايوب خان له قواو سره يوازې هغه وخت جګړه وکړي، چې دې په دې يقين ولري، چې دومره

قوت ورسره سته، چې له هغه سره مقاومت او جګړه وکړي، مګر جنرال بروز، چې په خپلو وسلو، خپلو روزل سویو عسکرو او خپلو جنګي تاکتیکونو ډېر مغرور و او داسې فکر یې کاوه، چې د برتانیې قواوې ډېرو زورورو او زیاتو قواو ته ماته ورکولای سي او د افغانانو ایله جاري پوځونه او نیمګړې وسلې به کله د انګرېزانو د توپونو زور ولري، د ایوب خان له قواو سره جنګ پیل کړ. جنرال بروز هغه وخت خپلې اشتباه ته متوجه سو، چې نور یې ګټه نه درلوده، دې هغه وخت په خپله غلطۍ وپوهېدی، چې د برتانیې قواو په آسیا کې د میدان په جنګ کې ، د خپل تاریخ تر ټولو لویه ماته خوړلې وه.(۵۲)

برتانیې د افغانستان د جنګ په میدانونو کې زیاتره د خپل غرور له لاسه ماته خوړله. هغوی فکر کاوه، چې افغانان جنګي خلک دي، مګر نه ښې عصري وسلې ورسره دي او نه په عصري جنګي تاکتیکونو پوهیږي، نو دوی به د برتانیې له قواو سره څرنګه سیالي وکړای سي؟. په داسې حال کې چې ایوب خان یولایق قوماندان و، هغه د جنرال بروز په شان، جنګ په حربي پوهنځي او د تمریناتو په میدانونو کې نه و زده کړې. هغه له وړوکوالي په جنګونو کې پخپله عملاً برخه اخیستې وه او د میوند په جنګ کې یې د خپلو تجربو څخه ښه پر ځای استفاده وکړه. ایوب خان خپل مړي ښخ کړل او د دښمن مړي یې په دښت کې کارغانو ته پرېښودل.(۵۳)

ایوب خان د میوند څخه سمدستي د کندهار پر لور حرکت وکړ او د اګست د میاشتې پر اوومه یې ځان د کندهار شاوخوا ته ورساوه. د انګرېزانو قواو د ښاردروازې وتړلې او د ښار څخه بې ډېر زیات ښتانه په زور وایستل او کورونه او ځایونه یې خپلو عسکرو ته خالي کړل.(۵۴)

ایوب خان د اګست د میاشتې پر اتمه پر ښار باندې د توپچي قواو حمله پیل کړه او د انګرېزانو قواو د اګست پر شپاړسمه یو ځل بیا د ده خوجه په سیمه کې د ایوب خان پر مورچو باندې د دې دپاره حمله وکړه، چې د هغه قواوې لږ تر لږه د ښار له نیژدې شاوخوا څخه لیرې کړي. په دې حمله کې د انګرېزانو د قوي له اتو سوو تنو څخه ۱۰۶ تنه ووژل سول او ۱۰۷ تنه یې زخمیان سول. په وژل سویو کسانو کې د انګرېزانو قواو قوماندان تورن جنرال بروک هم شامل و او د انګرېزانو دغه قوه په ډېر مات زړه بېرته د کندهار قلا بند ښار ته ننوته.(۵۵)

جنرال رابرټسن د ميوند په جنګ کې د انګرېزانو د قواو د بشپړې او سختې ماتې د خبر د اورېدلو سره د خپلو لسو زرو پوځيانو او درندې توپخانې سره له کابله حرکت وکړ او د دېرشو ورځو لاره يې په شلو ورځو کې ووهله. د جنرال رابرټسن قواوې د اګسټ د مياشتې په وروستۍ ورځ کندهار ته ورسېدې. البته ايوب خان د انګرېزانو د دومره لويې قوې د رارسېدلو د خبر د اورېدلو سره سم د کندهار د ښار محاصره مخکې لا خوشې کړې او خپلې قواوې يې د ارغنداب سيمې ته پر شا کړې وې. جنرال رابرټسن د کندهار د ښار سره نيژدې صرف يوه شپه تېره کړه او د سپټامبر په لومړۍ نېټه يې د ايوب خان پر قواو باندې حمله پيل کړه. تر غرمې پورې د ايوب خان د پوځ ټولې توپچي قواوې د انګرېزانو لاسته ورغلې وې او تر ماښامه پورې ايوب خان بشپړه ماته خوړلې وه او د پير پايمال په سيمه کې جنګ پای ته رسېدلی و. ايوب خان له خپلو ورسره ملګرو سره ځان هرات ته ورساوه. د هغه د پوځ يوه برخه زمينداور ته ولاړه او په دې توګه د کندهار جنګ پای ته ورسېدی. د ايوب خان منظمو قواو او د غازيانو لښکرو د ارغنداب په جنګ کې داسې مقاومت وکړ، چې حتی انګرېزي ليکوالان هم د هغوی د مېړانې او زړه ورتوب درناوی کوي او وايي، چې د جنرال رابرټسن د عصري وسلو او جنګ ليدلو پوځونو سره يې په ډېره مېړانه مقاومت وکړ.(۵۶)

# سردار محمد ايوب خان او امير عبدالرحمن خان

سردار محمد ايوب خان په کندهار کې د شا تګ وروسته په هرات کې سمدستي د خپلو پوځونو په ترتيبولو او تنظيمولو لګيا سو. سردار ايوب خان په هرات کې د يوه لوی پوځي ښورښ او د کابلي او هراتي پلټنو ترمنځ د جنګ د کړارولو څخه وروسته د کندهار د نيولو په نيت روان سو. امير عبدالرحمن خان له کابل څخه د ايوب خان د قواو سره د جنګ دپاره د غلام حيدر خان توخي په مشرۍ يو پوځ واستاوه. د امير

عبدالرحمن خان قواو د ګرشک سره نیژدې د کاریز په سیمه کې د ایوب خان د قواو په مقابل کې ماته وکړه. البته د امیر عبدالرحمن خان دا خبره، چې وايي په لومړي سر کې د ده قواو بشپړ بری تر لاسه کړ او تقریباً د جنګ په پای کې سردار ایوب خان د خپلو اتیا ملګرو سره د هغه پر پوځ باندې یوه زوروره حمله وکړه او د ده په پوځ ماته ګډه سوه، یو څه د تأمل وړ ده.(۵٦)

امیر عبدالرحمن خان پخپله لیکي، چې یوازې د سردار ایوب خان د قواو شمېر دوولسو زرو تنو ته رسېدی او پوځ یې په ښو وسلو سمبال و.(۵۷) نو په دې حساب باید د دواړو خواو د قواو شمېر لږ تر لږه شل زره تنه وو او جنګ هم د توپونو او توپکو و او د ایوب خان بشپړه پوځ، چې باید سخت تلفات یې لیدلی وې، خیانت کړي او له دښمن سره یو ځای سوي و، د دې خبرې امکان لږ دی، چې صرف اتیا تنه دې یوازې په مېړانه او سر تېرۍ د جنګ ټول میدان ته تغیر ورکړي او ماته دې په فتح بدله کړي.

انګرېزان د ۱۸۸۱ م کال د اپریل پر اتلسمه د خپل والي سردار شېر علي خان سره یو ځای له کندهاره وتلي او د کوږک تر غره اوښتي وو. په کندهار کې داسې قوت پاته نه و چې د ایوب خان د پوځونو مخه دې ونیسي، او هغه د جولای د میاشتې په پای کې په ډېره آسانۍ او تقریباً بېله مقاومته هغه ښار فتح کړ.

امیر عبدالرحمن خان، چې د کندهار ښار په مخ کې د پزې حیثیت ورته درلود او د افغانستان د قلا دروازه یې باله، پر دغه ښار باندې د سردار ایوب خان تسلط نه سو زغملای او د اګست په میاشت کې یې پخپله د کندهار پر لور حرکت وکړ. امیر عبدالرحمن خان په دې پوهېدی، چې سردار ایوب خان خپله زیاته قوه کندهار ته ورسره بیولې او هرات یې بې دفاع پرې اینبی دی، نو سردار اسحق خان ته یې، چې په دغه وخت کې په افغاني ترکستان کې د ده حاکم و، امر وکړ، چې د میمنې څخه یو پوځ د سردار عبدالقدوس خان په مشرۍ، هرات ته واستوي. پخپله سردار ایوب خان د سپټامبر د میاشتې په دوه وېشتمه د کندهار د ښار څخه د باندې د امیر عبدالرحمن خان د قواو په مقابل کې ماته وکړه او د هرات پر لور یې حرکت وکړ، مګر څرنګه چې هرات، په کندهار کې د ایوب خان له ماتې څخه مخکې د سردار عبدالقدوس خان لاسته ورغلی و، نو ایوب خان مجبور سو، چې ایران ته وتښتي. په دې توګه د افغانستان وحدت، چې د

داخلي جنګونو د لاسه په خطر کې لوېدلی و، یو ځل بیا قایم سو او ټول افغانستان د کابل د حکومت تر مستقیمې اداري لاندې راغی.

سردار محمد ایوب خان، د خپل پلار او زیاترو افغاني مشرانو په څېر، پر وطن مین او د جنګ د میدان تکړه او آزمیېلی سپه سالار و، خو قسمت او زمان د هغه لپاره هېڅ وخت ښه شرایط مساعد نه کړل او هغه ونه سو کړای، چې قدرت ته ورسیږي او خپل پلانونه عملي کړای سي. ایوب خان لا تنکی ځلمی و، چې پلار یې د ده مشر ورور سردار محمد یعقوب خان په زندان دننه کړ. له دغې پېښې څخه وروسته نه ایوب خان په خپل پلار او نه یې پلار په ایوب خان اعتماد کولای سو. هغه مجبور سو، چې ایران ته وتښتي او د پلار تر مرګه او د خپل ورور، سردار یعقوب خان تر پاچا کېدلو پورې په ایران کې پاته سي. د یعقوب خان د پاچا کېدلو سره په کابل کې د انګرېزانو د سفارت د سوځېدلو او ملي قیام د پیل کېدلو خبرې سوې. انګرېزانو داسې انګېرلې وه، چې په دغه پاخون کې ایوب خان لاس درلود او هغه یې په خپلو دښمنو سردارانو کې حساب کړ. ایوب خان د کابل له تخت څخه د خپل ورور د لیرې کېدلو او په کابل کې د انګرېزانو پر ضد د ملي پاخون د پیل کېدلو څخه وروسته د پوځي عملیاتو قومانده واخیستله او په نتیجه کې د میوند حماسه جوړه سوه. ایوب خان بیا هم غوښتل، چې د انګرېزانو سره مستقیم روابط قایم کړي او جنرال رابرټسن ته یې، چې له کابل څخه یې پر ده باندې د حملې او کندهار د ښار د خلاصولو لپاره حرکت کړی و ، یو لیک واستاوه او ورته وې لیکل چې: هغه غواړي د برتانیې د استازي جنرال رابرټسن سره مستقیمې خبرې وکړي، مګر جنرال رابرټس د میوند د ماتې د انتقام د اخیستلو او د برتانیې د لاسه تللې حیثیت د بېرته اعاده کولو د پاره د میوند فاتح سردار محمد ایوب خان سره د بل جنګ په نیت روان سوی و او د جوړې خبرو ته حاضر نه و.(۵۸)

د بلې خوا انګرېزانو په دغه وخت کې فیصله کړې وه، چې د افغانستان د چارو واګې چا ته وسپاري؟ هغوی په دې برخه کې له امیر عبدالرحمن خان سره خبرې کړې او بشپړې موافقې ته ورسره رسېدلي وه او نور یې د ایوب خان په شان یوه غلیم سردار وجود ته ضرورت نه درلود، خو دونه خبره ده، چې په داسې حال کې چې ایوب خان په دې پوهېدی، چې د جنرال رابرټسن د قواو سره یې زور برابر نه دی او دې

مجبور دی، چې د کندهار د ښار څخه خپلې قواوې پر شا کړي، نو بیا لازمه وه، چې د جنګ صحنې ته یې تغیر ورکړی وای او د دې پر ځای چې د ارغنداب د سیند پر غاړه د پیر پایمال په سیمه کې مقاومت وکړي، باید چې دغه قواوې یې د هرات ښار ته ورسره بېولې وای. د هرات د ښار فتح کول هم انګرېزانو ته تقریباً غیر ممکن کار و او هم ښایي روسانو او ایرانیانو خپل قلمرو ته نیژدې د انګرېزانو او افغانانو ترمنځ د دونه لوی جنګ تحمل نه وای کړی او ښایي انګرېزان یې مجبور کړي وای، چې که جنګ کوي، نو د دوی له سیمې څخه دې لیرې ولاړ سي او بیا نو کله چې نصیب داسې پېښه کړې وه، چې په کندهار کې د انګرېزانو او ایوب خان د قواو ترمنځ جنګ وسي او ښایي ایوب خان په دغه جنګ کې د خپلو خلکو پر مذهبي احساساتو باندې ډېر زیات حساب کړی و، نو یې باید د ماتې خوړلو څخه وروسته د کندهار پر لور د دوهم ځل حرکت کولو په وخت کې هرات دونه کمزوری نه وای پرې ایښی، چې سردار عبدالقدوس خان په یوه حمله فتح کړ او دی یو ځل بیا مجبور سو، چې ایران ته پناه یوسي.

امیر عبدالرحمن خان په خپلو خاطراتو کې، چې طبعاً باید ډېر یو طرفه وي، لیکي، چې ایوب خان د جنګ دپاره زما مخې ته راونه وت او د دې پر ځای چې واری د مخه کړي، ماته یې د حملې موقع راکړه او لښکر ته یې خپل بې زړه توب وښود.(امیر د میوند د فاتح په حق کې د بې زړه کلمه استعمالوي) دوهم دا چې پخپله یې په جنګ کې برخه نه اخیستله او لوړ د چهل زینو څخه یې د جنګ ننداره کوله. بل دا چې اوه زره سپاره عسکر یې د غره شاته در ولي وه او هغوی ته یې ویلې وه، چې جنګ ښه په زور کې سي، هغوی ته به د حملې امر ورکړه سي، مګر ایوب خان دونه بېرېدلی و، چې خپل هغه عسکر یې هېر کړي وه او هغوی ته د جنګ له پیل څخه تر پایه پورې د جنګېدلو موقع ورنه کړه سوه، خو نور محققین، د کره اسنادو په اتکا په دې عقیده دي، چې د ایوب خان د لښکر خپلو کابلي او هراتي کندکونو د شا له خوا څخه د ده پر قواو باندې ډزې وکړې. د هغه کندهاري او ایله جاري کندکونو، چې تر دغه وخته پورې یې ډېر ښه جنګ کاوه او په مېړانه جنګېدل بېله ماتې او تیت او پرک کېدلو څخه بله لاره نه درلوده.(۵۹)

موږ نه سو ویلای، چې که چېرې ایوب خان قدرت ته رسېدلی وای، نو په افغانستان کې به پېښو څه رنګ درلودلای، خو دونه ویلای سو، چې که هغه قدرت ته رسېدلی وای ، نو د انګرېزانو سره یې لږ تر لږه د یو څه وخت لپاره د پخلا کېدلو احتمالات ډېر کم وه. ښایي انګرېزانو سره د هغه د کمزوري کولو دپاره ژر له دسیسو څخه لاس نه وای اخیستی او ښایي داخلي جنګونو تر ډېره وخته پورې دوام کړی وای، خو امیر عبدالرحمن خان په عمل کې ثابته کړه، چې د افغانستان د یو موټي کولو او عصري کولو لپاره یې قدرت په لاس کې اخیستی و او چې د مرکزي حکومت او خپلو پروګرامونو څه دښمنان یې مخې ته درېدل هغه یې بېرحمانه وځپل.

امیر عبدالرحمن خان د انګرېزانو سره د تفاهم په اساس قدرت ته رسېدلی و او هغوی د همدغه تفاهم له مخې د هغه د بېرته بې ثباته کولو تلاش نه کاوه. په داسې حال کې چې سردار محمد ایوب خان له هغوی سره د میوند د جنګ څخه وروسته یو ځل د تفاهم د ترلاسه کولو کوښښ وکړ، مګر انګرېزانو له هغه سره د خبرو او مصالحې کولو پېشنهاد رد کړ. په دې صورت کې نو باید هغه د تورې په زور کابل نیولی وای او بیا یې نو له سردار عبدالرحمن خان او نورو کورنیو رقیبانو سره جګړې پیل کړې وای. معلومه نه ده، چې دې جګړې به ترکله دوام کولای.؟

انګرېزانو د امیر عبدالرحمن خان حکومت او داخلي آزادۍ په رسمیت پېژندلې وه او له هغه سره یې مالي او پوځي مرستې کولې او له روسانو سره یې دا تفاهم ترلاسه کړی و، چې انګرېزان به په هند کې خپل عیش کوي، افغانستان به د دواړو امپراتوریو ترمنځ حایله سیمه وي او د مرکزي آسیا مسلمانان به د روسانو منګولو ته سپارل کېږي او چې څه یې زړه غواړي هغه دې کوي.

# د سردار محمد ایوب خان وروستۍ شپې او ورځې

د ۱۸۸۷ م کال په پای کې ایوب خان بیا د افغانستان مختلفو سیمو ته لیکونه ولېږل او خلک یې د امیر عبدالرحمن خان پر ضد پاڅېدلو ته تشویق کړل. د توخو، تره کو او اندړو لویو قبایلو د ملا مشک عالم د زوی، ملا عبدالکریم، تر مشرۍ لاندې ښورښونه پیل کړل او په دغه شپو ورځو کې سردار ایوب خان د هرات په پوځ کې تره کو او اندړو عسکرو او صاحب



د میوند فاتح غازي محمدایوب خان



ناصر الدين شاه قاجار

منصبانو ته لیکونه واستول او هغوی ته یې وعده ورکړې وه، چې ډېر ژر به د تهران څخه هرات ته درسم. یا د ایوب خان د دغو لیکونو او غوښتنو له امله او یا په خپله په هرات کې د ځینو پوځیانو خصوصاً د تره کو او اندړو د پلټنو د نارضایت او شکایتونو په وجه په دغه کار کې یوه پوځي بلوا پیل سوه. په دې پوځي شورش کې د نایب سالار تیمور شاه خان په سطح عالي رتبه پوځي صاحب منصبانو برخه درلوده او په ډېر لږ وخت کې یې توپکونه، توپونه او جنګي مهمات ترلاسه کړل او شورش زور واخیست. دې شورش البته یوه ورځ دوام وکړ او سبا ته ټول یاغیان یا ووژل سول یا ګرفتار سول او یا خپلو وطنونو ته په تېښته ولاړل. نایب سالار تیمور شاه خان هم ګرفتار سو او د هرات شورش وځپل سو. په همدغو شپو ورځو کې سردار ایوب خان هم د ډېرو لږو ملګرو سره د افغانستان خاورې ته ننوت او غوښتل یې چې خپل ځان هرات ته ورسوي. امیر عبدالرحمن ، چې په ایران کې یې د ایوب خان حرکات څارل، خپلو حاکمانو او والیانو ته خبر ورکړی و، چې سرحدونه ټینګ کړي او د ایوب خان راتګ ته منتظر سي. ایوب خان د افغانستان خاورې ته له داخلېدلو سره سم د افغانستان پوځي قواو محاصره کړ او ایله د خپلو څو تنو ملګرو سره یې ځان په تېښته خلاص کړ او ایران ته ولاړ.(٦٠)

په همدغه کال ناصرالدین شاه قاجار د خراسان والي ته امر صادر کړ، چې ایوب خان ګرفتار کړي او په مشهد کې یې د انګرېزانو مامورینو ته تسلیم کړي. د خراسان والي سردار ایوب خان د شاه د فرمان د ورسپارل کېدلو او د هغه ملګرو ته د انعامونو د ورکولو په پلمه وروباله او هلته یې د خپلو تقریباً دوه نیم سوه ملګرو سره ګرفتار کړ. ایوب خان یې د انګرېزانو قونسل ته وسپاره او هغوی له خپلو ټولو ملګرو سره د تهران او بغداد له لارې هندوستان ته واستاوه.(٦١)

# هرات او ستره لوبه د امیر دوست محمد خان له وفات وروسته

1. *England and Russia in the east p 101*
2. عین الوقایع

۳. پادشاهان متأخر افغانستان جلد اول ص ۱۵۵

۴. *Sykes Afghanistan vol 2 p 75*

۵. عین الوقایع ص ۹۴ سایکس ص ۷۵

٦. محمود محمود ص ۸۳۴

۷. عین الوقایع ص ۹۴

۸. هغه کتاب ص ۹۴

۹. محمود محمود ص ۸۳۵-۸۳٦

۱۰. *Rawlenson p 183-184*

۱۱. سراج التواریخ ص ۲۹۸-۲۹۹

۱۲. هغه کتاب ص ۳۱۹

۱۳. هغه کتاب ص ۳۲۰

۱۴. Sykes p 77- 78

۱۵. هغه کتاب ص ۷۹

۱٦. هغه کتاب ص ۷۹-۸۰

۱۷. *Afghanistan tytler p 129-130*

۱۸. *Great game p 314*

۱۹. محمود محمود ص ۸۳۷

۲۰. عین الوقایع ص ۱۰۲

۲۱. سراج التواریخ ص ۳۳۰

۲۲. Sykes p 82

۲۳. سراج التواریخ ص ۳۳۳

۲۴. هغه کتاب ص ۲۳۴

۲۵. *The eastern Question p 286-287*

۲٦. *Afghanistan tytler p 142*

۲۷. هغه کتاب ص ۱۴۱

۲۸. تاریخ سیاسی افغانستان ص ۳۴۴

۲۹. هغه کتاب ص ۳۵۳
۳۰. هغه کتاب ص ۳۴۹
۳۱. سفارت روسیه تزاری ص ۴۰
۳۲. *Sykes p 113*
۳۳. هغه کتاب ص ۱۱۴
۳۴. *Afghanistan Mac Mann p 177*
۳۵. عین الوقایع ص ۱۸۸
۳۶. *Mac Mann p 177*
۳۷. هغه کتاب ص ۱۷۸
۳۸. *Sykes p 115*
۳۹. عین الوقایع ص ۱۲۰-۱۲۱
۴۰. *Sykes p 118*
۴۱. *Mac mann p 184*
۴۲. هغه کتاب ص ۱۸٦
۴۳. *Sykes p 199*
۴۴. *Mac mann p 193*
۴۵. هغه کتاب ص ۱۹۴
۴٦. *Greate game p 398*
۴۷. *Mac mann p 199*
۴۸. عین الوقایع ص ۱۳۳
۴۹. *Sykes p 140*
۵۰. *Mac Mann p 199*
۵۱. *Great game p 399*
۵۲. هغه کتاب ص ۳۹۹
۵۳. *Mac mann p 202*
۵۴. هغه کتاب ص ۲۰۲

۵۵. سفر نامه و خاطرات عبدالرحمن خان ص ۲۳۵

۵۶. هغه کتاب ص ۲۳۵

۵۷. *Great game p 400*

۵۸. *Afghanistan Kakar p 79*

۵۹. عین الوقایع ص ۱۸۰-۱۹۰

۶۰. هغه کتاب ص ۱۹۱-۱۹۲

# وروستۍ خبرې او نتیجه

353

امیر عبدالرحمن خان په کال ۱۸۸۱ م کې په کندهار کې ایوب خان ته له ماتې ورکولو څخه وروسته تر یو څه وخته پورې په خپله کورنۍ کې د قدرت نیولو له مدعیانو څخه بېغمه سو. په کال ۱۸۸۷ م کې په ترکستان کې د ده د اکا زوی سردار محمد اسحٰق خان، چې تقریباً یو مستقل حکمران و، ورته یاغي سو او له هغه سره جګړه د امیر عبدالرحمن خان د قدرت د زمانې یوه له ډېرو مهمو جګړو څخه وه. عبدالرحمن خان سردار محمد اسحٰق خان ته د ماتې ورکولو او روسي ترکستان ته د هغه د تښتېدلو څخه لږ موده وروسته د هزاره ګانو د پرله پسې شورشونو سره مخامخ سو. د هزاره ګانو سره یې په کال ۱۸۹۰، ۱۸۹۱ او ۱۸۹۲ م کې ډېر سخت جنګونه وکړل. په دې جنګونو کې هزاره ګانو او حکومتي قواو ته ډېر سخت ځاني او مالي تلفات ورسېدل، خو بالاخره هزاره ګان هم د افغانستان د نورو اقوامو، شینوارو، ساپیو، اندړو او نورو په څېر ایل سول او د مرکزي حکومت سلطې ته یې غاړه کېښوده. هزاره ګان خو په لومړي سر کې په خپل قدرت دونه مغرور و، چې حکومتي قواو ته یې ولیکل، چې ای افغاني مامورینو! تاسې ولي زموږ سره په خپله مکاتبه کې څلورو ګاوندیو هېوادونو ته اشاره کړې ده، ولې د پنځو ګاونډیانو یادونه نه کوئ؟، ځکه چې زموږ دولت هم باید یاد کړی وای. دا به ستاسې دپاره بهتره وي، چې زموږ څخه لاس واخلئ.(۱)

امیر عبدالرحمن خان د هزاره ګانو د دغو شورشونو د کړارولو دپاره د توري، ژبې او پیسو څخه کار واخیست. د هزاره ګانو مشرانو ته یې، چې د مرکزي حکومت اطاعت ته یې غاړه کېښوده، انعامونه ورکړل او هغوی ته یې د هزاره جات د مختلفو سیمو حکومتونه ور وسپارل، مګر هغوی به بیا په خپلو سیمو کې شورش او د حکومتي قواو او مالونو چورولو ته ملا وتړله

او امير ته ښيله ده چې يوازې د قوي ځخه کار واخلي ښله لاره پاته نه سوه.(۲)

امير عبدالرحمن خان بالاخره د مرکزي حکومت د ټولو دښمنانو په ځپلو او ايلولو بريالي سو او په افغانستان کې يې داسې امنيت قايم کړ، چې نه يې مخکې او نه يې وروسته بيا چندانې ساري ليده سوی دی. د امير عبدالرحمن خان د زمانې د امنيت په باره کې تقريباً ټول مؤرخين په يوه عقيده دي او ټول يې ستاينه کوي. جنرال مک من وايي هغه د خپل هدف د لارې دښمنان په بېرحمۍ سره له منځه يوړل او دا هغه کار دی، چې انګلېنډ پاچاهانو هم وکړ. د ۱۸۸۱ م ځخه تر ۱۹۱۹ م پورې اته دېرش کاله په افغانستان کې د ده د حکومت سستم روان و، ټولې لارې مصؤنې وې او د ټولو طبقاتو خلکو په آرامۍ او سوله کې ژوند کاوه.(۳)


د امير عبدالرحمن خان د پاليسيو په نتيجه کې افغانستان داسې يو موټی سو، چې ښه ډېر وخت چاته د دې هېواد په چارو کې د مداخلې زمينه برابره نه سوه. افغانستان د امير عبدالرحمن خان او د هغه د زوی امير حبيب الله خان د قدرت په زمانه کې د خپلو شرقي، غربي او شمالي ګاونډيانو سره خپل سرحدي اختلافات په تقريباً سوله ايز شکل حل کړل. البته انګرېزانو د شرقي سرحداتو په برخه کې افغانستان د ډېرو زياتو ځمکو او حياتي امتيازاتو ورکولو ته مجبور کړ او روسي قواو په داسې توګه د افغاني قواو ځخه د پنجده سيمه د توپونو په زور لاندې کړه، چې انګرېزي قواو، چې مخکې يې پر دغه سيمه باندې د روسانو د يرغل په صورت کې د امير سره د مالي او پوځي مرستو وعده کړې وه، په غټو سترګو ورته کتل.(۴)

امير حبيب الله خان د خپلې پاچاهۍ په اته لس کلنه دوره کې د خارجي پاليسۍ په برخه کې د خپل پلار مفکوره تعقيب او عملي کړه. د انګرېزانو سره يې نيژدې روابط وساتل او د روسانو سره يې دوستي ونه کړه او د خپل پلار د وصيت سره سم يې نه يو قوي ګاونډي دونه آزار او خپه کړ، چې پر افغانستان باندې د حملې پلمه ورته جوړه سي او نه يې په يوه ګاونډي دونه اعتبار وکړ، چې افغانستان ته د ننوتلو زمينه ورته برابره کړي.(۵)

امير حبيب الله خان د لومړي جهاني جنګ په وخت کې د افغانستان مطلقه بېطرفي وساتله. کله چې جرمني او عثماني ترکيې د امير دربار ته يو



امیر حبیب الله خان



غازي امان الله خان

لوی هيأت د دې دپاره واستاوه، چې هغه په جنګ کې شاملېدلو ته تشويق کړي ، نو امير د هغوی ډېره ښه مېلمه پالنه وکړه، مګر په جنګ کې د شاملېدلو وعده يې ورنه کړه. د هيأت مسلمانو غړو، ترکي کاظم بې او هندي مولوي برکت الله امير ته وويل چې د عثماني ترکيې خليفه او شيخ الاسلام د انګرېزانو پر ضد جهاد اعلان کړی دی، امير په دې اسلامي جنګ کې برخه اخلي کنه؟. هغه ورته وويل، چې افغانستان غواړي خپله اسلامي وجيبه پر ځای کړي، خو په دې شرط چې پوځي او اقتصادي وسايل ولري. امير هيأت ته وويل چې د افغانستان خلک د ځان څخه په دفاع کې ډېر مړني دي، مګر دونه زور نه لري چې د يوه اروپايي قوت سره منظم جنګ وکړي. امير په دې پوهېدی چې که د ترکيې او جرمني سره لاس يو کړي، نو د برتانيې مستمرې به سمدستي له لاسه ورکړي او په شمال کې د روسيې سره د جنګ د پيل کېدلو په صورت کې به يې هېڅوک ملاتړ نه کوي.(٦)

امير په افغانستان کې د ټولو محافظه کارو قواو په مقابل کې، چې غوښتل يې افغانستان د عثماني ترکيې او جرمني سره يو ځای سي او د انګرېزانو سره جنګ اعلان کړي، مقاومت وکړ او د هغه هوښياري او محتاطي پاليسي بالاخره نتيجه ورکړه. د کال ۱۹۱۸ د نوامبر پر دريمه ترکيه او اطريش متحدينو ته تسليم سول او د نوامبر پر يوولسمه د جرمني امپراتور دوهم ويليم استعفیٰ ورکړه او هالينډ ته وتښتېدی او لومړی نړی وال جنګ ختم سو.(۷)

امير حبيب الله خان د لومړي جهاني جنګ د ختمېدلو څخه څه باندې درې مياشتې وروسته د کال ۱۹۱۹ د فبرورۍ پر شلمه د لغمان د کله ګوش په سيمه کې ووژل سو او د هغه د قتلېدلو سره د امير عبدالرحمن خان طرح کړې خارجي پاليسي هم پای ته ورسېده. د امير حبيب الله خان د قتلېدلو څخه يوه ورځ وروسته د هغه دريم زوی اعليحضرت امان الله خان په کابل کې پاچا سو او لږ وروسته يې د افغانستان بشپړ استقلال اعلان کړ.

اعليحضرت امان الله خان د مې پر پنځمه په دريو جبهو کې د انګرېزانو پر پوستو باندې حملې پيل کړې او د افغان او انګليس دريم جنګ پيل سو. البته دې جنګ صرف درې هفتې دوام وکړ. انګرېزانو په دې جنګ کې د عصري ځمکنيو او توپچي قواو څخه کار واخيست، جلال

آباد او کابل یې بمباري کړل او بالاخره د دوارو هېوادونو ترمنځ اوربند او په وروسته کې سوله ټینګه سوه. د اعلیحضرت امان الله خان په زمانه کې که د افغانستان او برتانوي هند ترمنځ روابط خصمانه نه و، نو ډېر دوستانه شکل یې هم نه درلود. په حقیقت کې اعلیحضرت امان الله خان د خپل نیکه امیر عبدالرحمن خان د خارجي پالیسی په خلاف خپل شمالي ګاونډي شوروي اتحاد ته د دوستي لاس اوږد کړ؛ او د ده یوه رسمي استازي محمد اسلم خان د شوروي اتحاد په خاوره کې ترکمنانو ته په وینا کې وویل چې موږ د برتانیې د استبداد پر ضد را ولاړ سوي یو او د شوروي روسیې دوستي ته مو ترجیح ورکړې ده او تاسې هم باید چې د برتانیې تر طلا د روسیې مسو ته ترجیح ورکړئ.(۸)

هغه وخت چې د اعلیحضرت امان الله خان د توندو او بې وختو اجتماعي او سیاسي اصلاحاتو په مقابل کې په ټول افغانستان کې ښورښونه پیل سول او د کابل د چارو واګې حبیب الله کلکاني ته په لاس ورغلې، ایران په غربي سرحداتو کې د مداخلې جرأت ونه کړ.

برتانیې په شرقي سرحداتو کې ښایي مستقیمې مداخلې ته ضرورت نه درلوده او په عوض کې د خپلو سرحداتو په ټینګولو لګیا وه، خو روسیې په شمال کې د مزار شریف په ښار کې ځمکنۍ او هوایي حمله وکړه. د آمو د سیند له غاړې څخه د مزار شریف د ښار تر نیولو پورې یې دوه زره تنه افغانان، چې زیاتره یې ښدفاع ملکیان وه، قتل کړل. په تاشقرغان کې یې د حبیب الله کلکاني قواو ته ماته ورکړه او تقریباً درې زره تنه افغانان یې قتل کړل. په دغه وخت کې شوروي قواو ته، چې رهبري یې د روسې جنرال پریماکوف او افغاني جنرال غلام نبي خان چرخي پر غاړه وه، خبر ورسېدی، چې امیر امان الله خان له افغانستان څخه وتلی دی. ماسکو خپلو عسکرو ته امر وکړ، چې د افغانستان له خاورې څخه ووزي او په دریو ورځو کې یې خپل ټول عسکر له افغانستان څخه وایستل.(۹)

د حبیب الله کلکاني د سقوط او داعلیحضرت محمد نادر شاه په حکم د هغه او د هغه د ملګرو د اعدامېدلو څخه وروسته په افغانستان کې د داخلي ښورښونو او عمومي اغتشاش کمبله ټوله سوه. د محمد نادر شاه او د هغه د زوی اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د قدرت په زمانه کې د افغانستان د خاورې تمامیت ته کوم جدي خطر متوجه نه سو.



اعلیحضرت شهید محمد نادرخان



حبيب الله كلكاني

د ساړه جنګ په زمانه کې چې متحده ایالاتو او غربي نړۍ د کمونیزم د پراخېدلو د مخنیوي په منظور په اروپا او آسیا کې پوځي تړونونه جوړ کړل او پاکستان د دغو تړونونو د یوه غړي په حیث د امریکا څخه په ورځ کې د یو میلیون ډالرو په ارزښت پوځي او اقتصادي مرستې ترلاسه کولې (۱۰)، افغانستان هم د امریکا څخه د نظامي او اقتصادي مرستو غوښتنه وکړه. امریکا د سردار محمد داؤد حکومت ته بلنه ورکړه، چې د C,E,A,T,O یا د جنوب ختیځې آسیا په پوځي موسسه کې ورسره شامل سي. افغانستان د خپلې عنعنوي بېطرفی د ساتلو له امله د امریکا دا غوښتنه ونه منله، مګر وروسته یې د امریکا دا غوښتنه هم قبوله کړه، خو دونه یې ورته وویل چې که په دغه تړون کې د شاملېدلو له امله د شمال له لوری شوروي اتحاد حمله ورباندې کوله، نو امریکا به یې دفاع تضمینوي. امریکا افغانستان ته لږ تر لږه دا تضمین هم ورنه کړ او افغانستان مجبور سو، چې د شوروي اتحاد څخه پوځي مرستې واخلي.(۱۱)

له دغه وخته څخه شوروي اتحاد د افغانستان په پوځي او ملکي ساحو کې ډېر زیات نفوذ وکړ او د خلکو غوږونه د مارکسیستي ادبیاتو سره اشنا سول. د سردار محمد داؤد خان حکومت له لس کاله قدرت څخه وروسته بالاخره د مارچ په میاشت کې استعفیٰ وکړه (یا استعفیٰ ته مجبور کړه سو) او د هماغې میاشتې پر دیارلسمه ډاکټر محمد یوسف خپله کابینه اعلان کړه. د شوروي طرفدارو کمونیستو او چپي عناصرو د نوي حکومت له خوا د اعلان سوي ډیموکراسۍ او اساسي قانون د اعلانېدلو څخه په استفادې سره د ۱۹٦۵ م کال د جنوري پر لومړۍ نېټه د نور محمد تره کي په کور کې د خلق ډیموکراتیک ګوند اساس کېښود. دې ګوند په وازه خوله د شوروي د هر عمل او پالیسۍ څخه دفاع کوله او د دې ګوند څخه بیلې سوي ډلې، پرچم، د افغانستان د مطبوعاتو په تاریخ کې د لومړي ځل دپاره د لینین ډېر لوی عسکونه چاپ کړل. د افغانستان په شان محافظه کاري او مذهبي ټولنه کې د دغه راز چپي افکارو خپرېدلو د افکارو او عقایدو تصادم حتمي کړ او د کابل پوهنتون په انګړ کې د مسلمانو ځوانانو د تنظیم اوچپي ګوندونو ته د منسوبو محصلینو ترمنځ ډېرې خونړۍ نښتې وسوې او په لغمان، هرات او پکتیکا کې په دغه راز نښتو کې څو تنه د ښوونځیو شاګردان ووژل سول.

بالاخره د ۱۹۷۳ م کال د جولاى پر اوه لسمه د ۱۳۵۲ هـ .ش کال د سرطان پر شپږويشتمه سردار محمد داوُد خان، چې لس کاله د خلکو له نظره پټ و، يو ناڅاپه د کابل په راډيو کې جمهوريت اعلان کړ. له دې نېټې څخه وروسته په افغانستان کې د شوروي پوځي او سياسي نفوذ تر بل هر وخت زيات سو. د دې نظامي کودتا رهبري هغو صاحب منصبانو وکړه، چې پينځه کاله وروسته د ثور په خونړۍ کودتا کې هم مهم کسان وه. په دې کودتا کې د داوُد خان داسې وزيرانو برخه درلوده، چې د کمونيستانو په رژيم کې يې هم ډېر مهم وظايف درلودل او د کودتا د نظام دوهم سړی، محمد حسن شرق هم د کمونيستانو په نظام کې له هر آفته خلاص او تقريباً لس کاله په هند کې د افغانستان لوی سفير و او د ډاکټر نجيب الله په وخت کې يو ځل صدراعظم سو.

د سردار محمد داوُد خان رژيم د اسلامي تحريک ډېر طرفدار ځوانان او مبارزين په بنديخانو کې واچول او اکثر يې اعدام کړل. ګلبدين حکمتيار، برهان الدين رباني، احمد شاه مسعود او ځيني نور کسان پاکستان ته واوښتل او د پاکستان په مرسته يې د کندهار ،پنجشير او لغمان په ولايتونو کې په ورانکاريو او د بمونو په چاودلو لاس پورې کړ.

په ۱۹۷۸ م کال کې په افغانستان کې د کمونيستانو د کودتا سره خطونه نور هم ځرګند سول. کمونيست رژيم په ډېرو افراطي اعمالو لاس پورې کړ. په زرهاو بېګناه خلک يې بنديان، شکنجه او اعدام کړل او په ډېر لږ وخت کې هم د رژيم په مقابل کې مقاومت پيل سو او هم پاکستان او ايران ته د مهاجرينو بهيرونه روان سول. دا وخت په پاکستان کې د چارووا ګي د يوه افراطي مذهبي جنرال ضياءالحق پلاس کې وې او د کال په پای کې په ايران کې هم قدرت د افراطي شيعه مذهبو عناصرو لاسته ورغی. زه پخپله د ايران د يوه مستقر او مستحکم شاهي نظام سقوط (په داسې حال کې چې په ايران کې تقريباً هيڅ ډول اقتصادي او مالي مشکلات او عام نارضايت موجود نه و) ډېر غير طبيعي کار بولم او د غرب د يوې پراخې او ژورې دسيسې د يوې برخې په سترګه ورته ګورم.

داسې ښکارېدله او يا د شوروي اتحاد حکومت ته داسې ځرګنده سوه، چې د کابل حکومت د مقاومت په مقابل کې د ځان څخه د دفاع کولو توان نه لري او که چېرې د کابل حکومت د مجاهدينو د مقاومت په مقابل کې دفاع ونه کړای سي او نسکور سي، نو د هغه هيواد په جنوب

کې د يوه تونـدرو اسـلامي نظـام منځتـه راتـګ پـه تولـو هغـو مسـلمانو جمهوريتونو کې د شـوروي نظام پـه خطر کې اچـوي، چې د افغانستان پـه شمالي سرحد کـې پراتـه دي. شـوروي اتحـاد بـالاخره د کـال ۱۹۷۹ م د ډسامبر پر اوه وېشـتمه پـه کـابل کـې مسـتقيماً مداخلـه وکـړه؛ د وخـت جمهورئيس حفيظ الله امين يـې وواژه او ببرک کـارمل تـه يـې د حکومـت رهبري وسپارله. پـه يـوه بېطرفـه او خپلـواک هېواد کـې د شـوروي اتحـاد دا څرګنـده پوځي مداخلـه هـم ټولـې آزادی نـړۍ محکومـه کـړه او هـم يې پـه مقابل کـې مقاومت نـور زور واخيسـت. متحـده ايالاتو او عربـي هېوادونـو پـه تېره بيـا سـعودي عربستان او مصر مجاهدينو تـه پـوځي او اقتصادي مرستې ور شـروع کـړې او دا مرستې ټولـې د پاکستان د حکومـت د لارې مجـاهدينو تـه رسـېدلې.(۱۲)

پاکستان د افغانستان د مقـاومت نظـامي او اقتصـادي ښارګونـه پـه لاس کې ونيـول. مقاومت يې پر اوو ځانګو او هـره ځانګه يې پر لـس هـاو فرعـي ځانګو ووېشـله او چې هـر چـا د وسـلو غوښتنـه کولـه هغـوی بـايد د دغـو اوو تنظيمونو، چې پـه جوړولـو کې يې پاکستان بې انـدازې زياتـه ونـډه درلـوده، د لارې وسـله اخيسـتې واى. ګلبديـن حکمتيـار د پاکسـتان د نظـامي استخباراتو آی آيـس آی تـر ټولـو نـازولی مشر و. هغـه تـه لـه هغـو پيسـو او وسـلو څخه چـې پاکستان تـه رسېدل تـر ټولـو غټه برخـه ورکولـه کېدلـه. د مثال پـه توګه امريکـا پـه کـال ۱۹۸٦ کـې پاکسـتان تـه سـل سـتينګر توغونـدي ورکـړل او د هغـوی زياتره برخـه حکمتيـار واخيستله. (۱۳) حکمتيـار تـه پـه کـال ۱۹۹۲ م کـې د نجيـب الله د رژيم د سقوط څخـه وروسته د شنه نـری د وسـلو ډيپـو لاسته ورغـی او پاکستان تـه د يـوه وفـادار مشر پـه حيث يې ، خلـور سـوه د ډيپو توغوندي په بيره انتقـال کـړل. ويـل کيږي چې پـه کـال ۱۹۹۳ م کې پـه دغـه ډيپـو کې تقريباً پينځـه لـس زره لارۍ وسـلي او مـهمات ذخـيره سـوي وه.(۱۴)

پاکستان د مجـاهدينو د هغـو اوو تنظيمونـو څخـه پرتـه چې پخپلـه يې يـا منځته راوړي او يـا تقويـه کـړي او تشويق کـړي وه، نـور چاتـه د تنظيم جوړولـو او فعـاليت کولـو اجازه نـه ورکولـه. پاکستان د دغـو تنظيمونـو د مشرانو، پـه تېره بيا ګلبديـن حکمتيـار څخـه، د خپلـو پاليسـيو د افغـاني مخـالفينو او منورينـو او قومـي مشرانو او سرکښو قومانداننـو پـه ځپلـو او قتلولـو، د بې اتفـاقيو پـه ايجـادولو او پراخولـو، د افغانستان د جنـګ او جـهاد د هـرې سـيمې او برخـې

په باب د اطلاعاتو راغونډولو او بالاخره د ښارونو او کليو او پلونو په قصدي خرابولو کې تر ورو ستي اندازې پورې کار واخيست. کله چې طالبان د سياست او عمل صحنې ته راووتل او د پاکستان په نظر د جهادي مشرانو وظيفه لږ تر لږه د حاضر وخت او فعلي شرايطو دپاره ختمه سوه، نو ټول مشران او جهادي رهبران يې داسې پر لويه لاره خوشې کړل، تا به ويل چې هېڅ يې نه پېژندل. پاکستان په خپله خاوره کې حتی د خپل نازولي مشر ګلبدين حکمتيار دفترونه وتړل او د هغه ملګري يې په هغه هېواد کې د فعاليت څخه منع کړل.

ايران د افغانستان د غربي ګاونډي په حيث، د افغانستان د مقاومت او جهاد په دوره کې، ځانته بېله لاره او بېلې ستراتيژيکي ګټې درلودلې او ځانته يې د عمل بله لاره ټاکلې وه. ايران د جهاد او مقاومت د لومړيو شپو ورځو څخه امريکا، غربي هېوادونو، عربي هېوادونو او غربي ادارو ته اجازه ورنه کړه، چې په هغه هېواد کې د مجاهدينو د تنظيمونو او مهاجرينو سره مستقيم تماس ټينګ کړي او يا د پاکستان د خاورې په شان پريماني مرستې ور ورسوي. ايران حتی ژورناليستانو ته اجازه نه ورکوله، چې د هغه هېواد په خاوره کې فعاليت وکړي او د مهاجرينو حال احوال ځانته معلوم کړي او يا د ايران په سرحد کې د مجاهدينو د احتمالي عملياتو په باره کې رپوټونه ترتيب او خپاره کړي. ايران زياتره يوازې د هغو شيعه تنظيمونو سره مرستې کولې چې د آيت الله خميني لاره يې تعقيبوله او هغو په تېره بيا سني تنظيمونو ته يې چې په پېښور کې يې مرکزونه او دفترونه درلودل اجازه نه ورکوله ، چې د ايران له لارې مجاهدينو ته وسلې او مهمات ورسوي او په هرات کې د جمعيت اسلامي ګوند يې له دغه درکه د سختو مشکلاتو سره مخامخ کړی و. (۱۵) ايران په کال ۱۹۸۶ م کې په هرات کې د جمعيت اسلامي ګوند له ايران څخه افغانستان ته د مالونو او مهماتو د صادرولو څخه منع کړ او مجاهدين يې د خوراکي موادو او دارو درملو د سخت کمبود سره مخامخ کړل. ځينو مجاهدينو خو به ويل چې ايران اوس په هغه لوبه کې برخه اخيستې ده، چې شوروي روانه کړې ده او ايران په حقيقت کې د شوروي ملاتړ کوي.(۱٦)

ايران په مجاهدينو کې د بې اتفاقيو اچولو او خپل نفوذ د زياتولو د پاره يوه بله پاليسي ته هم لاس واچاوه. ايران د مجاهدينو سني ډولو او

ګوندونو ته د مرستو ورکولو پر ځای د هغو ډلو په تقویه کولو بنا وکړه، چې په پاکستان کې د دېره لویو تنظیمونو څخه بېلې سوې وې. ایران د مولوي محمد نبي د حرکت انقلاب اسلامي څخه بیل سوی مشر مولوی نصرالله منصور سره تماسونه ټینګ کړل او په کال ۱۹۸۷ م کې یې په تهران کې د هغه ډېر تود هرکلی وکړ. د ملي نجات د جبهې څخه بیل سوی مشر مولوي موذن سره یې تماس ټینګ کړ او مرستې یې ورسره کولې او دغه راز یې په هرات کې د جمیعت اسلامي څخه د یوه بېل سوي قوماندان صفي الله افضلي سره، چې د ۱۹۸۷ م کال د جولای په میاشت کې ووژل سو، تماسونه ټینګ کړل او مرستې یې ورسره وکړې.(۱۷)

ایران خپل زیاتره تماسونه په افغانستان کې د شیعه ډلو سره ساتل او کوښښ یې کاوه، چې د افغانستان څخه د شوروي د قواو د وتلو او په افغانستان کې د کمونیستي رژیم د نسکورېدلو په صورت کې په هغه هېواد کې د ښځې د ایښودلو ځای ولري. ایرانیانو نه د شوروي قواو سره مقابله کوله او نه یې غوښتل، چې مجاهدین ډېر ژر او بې وخته بشپړ بری ترلاسه کړي او د دوی د خوښې او ارادې په خلاف میدان متحده ایالاتو ته پاته سي.(۱۸)

.که موږ په افغانستان کې د جهاد کلونو ته یو نظر وکړو، نو ګورو چې د ایران په سرحد کې چندانې لوی جنګونه نه دي سوي او دا تصادفي خبره نه ده، بلکې ایران غوښتل چې د افغانستان د جګړې اور د خپلې لمنې څخه لیرې وساتي او په دې توګه هم روسان له ځان څخه خوشاله کړي او هم په خپله خاوره کې غربیانو، په تېره بیا متحده ایالاتو ته، د مجاهدینو سره د مرستې کولو په پلمه د نفوذ کولو زمینه برابره نه کړي.

په دې کې شک نسته، چې د نولسمې پېړۍ د سترې لوبې د کلونو راهیسې شرایطو بې اندازې تغیر کړی دی، مګر د افغانستان په جیو ستراتیژیک موقعیت او اهیمت کې چندانې تغیر نه دی راغلی او ایران له افغانستان سره خپله پخوانۍ علاقه او دلچسپي نه ده شلولې. لکه څرنګه چې په نولسمه پېړۍ کې ایران د برتانیې او د افغانستان د واکدارانو په مقابل کې د روسې ټینګ انډیوال و او د افغانستان د بې ثباته کولو او د خاورې د لاندې کولو د پاره یې د روسیې سره ګډې نقشې عملي کولې، د شلمې پېړۍ په پای کې یې د افغانستان د خپلواکۍ د جنګونو په وخت کې هم دغه ته ورته لوبه وکړه.

سړي دا نه سي ويلای، چې د ببرک کارمل د صدراعظم سلطان علي کشتمند، چې پخپله يو هزاره و او هزاره ګانو فخر هزاره لقب ورکړی و او د هزاره ګانو د مشرانو د تفاهم نتيجه وه او که د ايران واکدارانو هزاره ګانو ته هدايت ورکړی و، چې د شوروي پر قواو باندې له حملو څخه ځانونه وژغوري او يا ښايي دواړه عوامل د خيل وي، خو دونه ويلای سو، چې د شوروي قواو د مداخلې د ورځې څخه نيولې بيا د افغانستان څخه د هغه هېواد د قواو د وتلو او بالاخره د کابل د کمونيستي رژيم تر سقوط پورې، د هزاره ګانو او د کابل د حکومت ترمنځ مهمه نښته ونه سوه او په هزاره جات کې د روسي الوتکو بمباري چا ونه ليده. دغه راز د ايران په شرقي سرحداتو کې هم له روسي قواو سره چنداني نښتې ونه سوې. ايرانيانو حتی د ملګرو ملتونو په هغو مذاکراتو کې هم برخه وانه خيستله، چې د دياګورکور دوويز Cordovez په رهبري په ژينيو کې کېدلې او پلمه يې دا وه، چې ترڅو پوري د مجاهدينو مشرانو ته په دې خبرو کې برخه نه وي ورکړه سوې، ايران به برخه په کې وانه خلي.(۱۹)

ايران ته دا معلومه وه، چې مجاهدين د يوه نماينده د ټاکلو پر سر نه سره جوړېږي او د دوی دا پلمه تر قيامته کار ورکوي. ايران غوښتل په دې توګه هم مجاهدين له ځان څخه خوشاله کړي هم له روسانو سره مخامخ نه سي او هم په افغانستان کې جګړه تر هغه وخته پورې اوږده کړي، چې د خپلو ګټو څخه د دفاع د پاره يې يوه مهمه قوه منځته راوړې او تقويه کړې نه وي.

په ۱۹۸۱ م او ۱۹۸۲ م کلونو کې، چې مجاهدينو د افغانستان هره سيمه شوروي قواو ته سره تبې کړې وه او جنګ ورځ په ورځ زور اخيستې، د پنجشېر قوماندان احمد شاه مسعود له جهاد او د افغانستان د استقلال له تحريک سره يوه تاريخي ناځواني وکړه. احمد شاه مسعود په کال ۱۹۸۲ م کې د شوروي قواو سره يو ترون لاسليک کړ او ژمنه يې وکړه، چې په جنوبي سالنګ کې به، چې تقريباً ټول واک يې د ده د قواو په لاس کې و، پر شوروي پوځي کتارونو باندې حمله نه کوي. (۲۰) احمد شاه له شوروي قواو سره دا ومنله چې په دغه سيمه کې به د مجاهدينو د نورو ډلو قوتونه هم پر هغوی باندې د حملو څخه منع کوي. هغه دغه قرار داد په ښه

توګه رعايت کړ او نور يې پر شوروي کاروانونو او د افغانستان پر حکومتي کتارونو باندې حملې ونه کړي.(٢١)

د جهاد سره د احمد شاه مسعود ناځواني د يوه عادي قوماندان خيانت نه و، بلکې د يوه داسې مهم نظامي طاقت خيانت و، چې د هغه دوه وېشت سوه کسيزې قوې چاريکار، جبل السراج او د سالنګ په جنوبي سيمه کې د شوروي د هغو کاروانونو لاره بنده کړې وه، چې د حيرتان له بندر څخه يې کابل ته وسلې او مهمات رسول (٢٢) داسې رپوټونه هم خپاره سول، چې احمد شاه مسعود او شوروي قواو دا سره منلې ده، چې د هغو مالونو پينځمه برخه به د احمد شاه مسعود قواو ته ورکوي، چې د سالنګ له تونل څخه تېرېږي او کابل ته وړل کيږي.(٢٣)

وروسته د اسماعيليه فرقې پير او مرشد سيد منصور نادري هم له حکومت سره جوړه وکړه او د بغلان او شاوخوا سيمو د ساتلو او د لارې د کنټرولولو ضمانت يې وکړ. سيد منصور نادري ديارلس زره قوه د حکومت په خدمت وګومارله او حکومت هغه ته جنرالي ورکړه. سيد منصور په سيمه کې د مجاهدينو د ټولو ډلو سره تماسونه ټينګول، هغوی ته يې وسلې، پيسې او مهمات ورکول او د شوروي او کابل د حکومت پر کاروانونو باندې له حملو څخه يې راګرځول.(٢٤)

په دې توګه نو د جنګ او مقاومت په ميدان کې تقريباً يوازې پښتانه پاته سول او پښتني ښارونو، سيمو او کليو په تېره بيا کندهار، لوګر، کنړ، پکتيا او غزني تر ټولو زيات مالي، ځاني او فرهنګي تلفات وليدل. په کال ١٩٨٢ م کې د پښتنو لوی مشر خان عبدالغفار خان ماته په يوه مرکه کې، چې د افغان مجاهد د جريدې لپاره مې ورسره کوله، وويل چې بچو دا د سترو طاقتونو جنګ دی او پښتانه په کې تباه سول. موږ په هغه وخت کې د پښتنو د مشر دا خبره ځکه جدي ونه ګڼله، چې موږ ويل دا جنګ د شوروي يرغلګرو په مقابل کې د ټولو افغانانو جنګ دی او يوازې په پښتنو اړه نه لري، خو وروستيو پېښو ثابته کړه، چې د پښتنو د مشر دا خبره بېځايه نه وه.

ايران د افغانستان د مقاومت او داخلي جنګ په جريان کې، ځان په ټولو پټو او ښکاره تماسونو خبراوه او ځان يې پر وخت اقدام ته تيار ساته. د ١٩٩١ م کال په پای کې چې د نجيب الله د رژيم پښې سستې سوې وې او د اوزبکو لوی قوماندان عبدالرشيد دوستم غوښتل، چې د کابل د

حکومت له سقوط څخه مخکې خپله د نفوذ او اقتدار سیمه پراخه کړې، نو احمد شاه مسعود د هغه سره سخت مقاومت وکړ. وروسته احمد شاه مسعود او دوستم ځینو موافقو ته سره ورسېدل او په دې وخت کې د پاکستان پوځي استخباراتو هم میدان ته ودانګل او د دوستم سره یې پټ تماسونه ټینګ کړل. مسعود په دغه وخت کې هغه پرچمي تاجک صاحب منصبان، چې د نجیب الله سره مخالف وه او د رژیم سقوط یې په سترګو لېدی، د ځان ملګري کړل. ایران په دغه وخت کې د مسعود او په کابل کې د فارسي ژبو پرچمیانو او په شمال کې د غیر پښتنو مجاهدینو او مسعود ترمنځ د اتحاد په راوستلو کې ډېرې سختې هلې ځلې وکړې او مطلب یې دا و، چې په سني مجاهدینو او په تیره بیا پښتنو مجاهدینو کې د پاکستان او سعودي عربستان د نفوذ په مقابل کې ځانته یوه قوه جوړه کړي.(۲۵)

ایران د افغانستان د مقاومت او داخلي جنګ په جریان کې هر وخت د ځان په غم کې و او د خپلو ستراتیژیکو ګټو د ترلاسه کولو د پاره د هر چا سره او هرې قوې سره دسیسې کولو ته تیار و. د افغانستان څخه د شوروي پوځونو د وتلو څخه وروسته د ایران مشرانو په افغانستان کې د جګړې د نظامي حل سره ځکه مخالفت کاوه، چې دوی پوهېدل چې که چېرې په افغانستان کې مسئله د جنګ د لارې حل سي، نو په نتیجه کې به ګټه سني ډلې وکړي او دوی ته به څوک شی ورنه کړي. د ایران مشرانو په افغانستان کې پر شیعه ډلو باندې فشار واچاوه، چې د نجیب الله سره په ایتلاف کې شریک سي. نجیب الله د کال ۱۹۹۰ م د نوامبر په میاشت کې د ژینیو څخه مشهد ته ولاړ او هلته یې د شیعه مجاهدینو د ځینو مشرانو سره وکتل.(۲٦)

ایران د افغانستان د ملي مقاومت او داخلي جنګ په جریان کې د هیڅ راز دسیسې څخه مخ ونه ګرځاوه، مګر کله چې طالبانو د کال ۱۹۹۵ م د سپټامبر په میاشت کې د هرات ښار ونیوی، د دوی امیدونه له خاورو سره برابر سول او چې د افغانستان په برخه کې خصوصاً د هرات په باب یې څه خواږه خوبونه لیدلي وه، ټول دروغ وختل. د ایران د حکومت اعصاب خصوصاً هغه وخت خراب سول، چې طالبانو د کال ۱۹۹۸ م د اګسټ په میاشت کې د افغانستان تقریباً ټوله شمالي سیمه لاندې کړه او د مزار شریف د ښار د نیولو په وخت کې لس تنه ایرانیان، چې د ایران حکومت ډیپلوماټان بلل، قتل سول. ایران خپله څلور سوه زره قوه د

افغانستان غربي سرحداتو ته د پوځي مانورو لپاره واستول او د خپلو ټولو عصري وسلو تمرينات يې وکړل. طالبانو د ايران د دغې لويې حملې څخه د پيښېدونکي احتمالي خطر د مخنيوي لپاره صرف پينځه وېشت زره عسکر واستول. طالبانو د ايران په اخطارونو کې ری ونه واهه او د دغو نظامي مانورو په جريان کې يې د ايران د لاس پوځو شيعه تنظيمونو وروستی لوی مرکز د باميان ولايت هم ورڅخه لاندې کړ او د هزاره ګانو د يوه لوی مشر اکبري په شمول په لس هاو قوماندانان، د خپلو جنګيالو سره د طالبانو ملګري سول.

يو وخت ښايي پښتانه پر ټول افغانستان مسلط سي، مګر د دې مانا به دا نه وي، چې د افغانستان په برخه کې به د ايران د سياستمدارانو، منورينو او واکدارانو نظر تغير وخوري. ايرانيانو د افغانستان په باره کې نه د خوبونو د ليدلو او نه د دسيسو کولو څخه لاس اخيستی دی او نه به يې په نيږدې آينده کې واخلي. د دې خبرې علت دا نه دی، چې ايران په افغانستان کې د شيعه اقليت او هزاره ګانو د سرنوشت سره علاقه لري او د هغوی د حقوقو د خوندي کولو دپاره به د افغانستان پر حکومتونو باندې فشار اچوي، بلکې علت يې دا دی، چې ايران اوس هم د افغانستان په خاوره دعوه لري او د افغانستان د غربي سيمو، په تېره بيا هرات د بېرته لاندې کولو خيال يې له سره نه دی ايستلی. ايرانيانو ديوان کامل جامي څه باندې دېرش کاله مخکې له سره چاپ کړ او د ايران يو مشهور ليکوال هاشم رضي، چې اوس هم د هرات ښار د ايران خاوره بولي، د هغه کتاب په مقدمه کې ليکي، چې هرات د ايران له ډېرو لويو، آبادو او د ښې آب و هوا درلودونکو ښارونو له جملې څخه دی.(۲۷)

بل ايراني ليکوال محمود محمود د خپل مشهور کتاب په دويم جلد کې ليکي، چې انګرېزانو په دغه وخت کې د ايران دولت له يوه څرګند حق څخه، چې هغه پر هرات او قندهار باندې د حاکميت حق و، محروم کړ. (۲۸) بل ځای ليکي: په دغه وخت کې له ايران سره د انګليس د جنګ د پيل کېدلو اساسي هدف دا و، چې ايران پر افغانستان باندې د خپل حاکميت د حق څخه صرف نظر وکړي.(۲۹) مهدي فرخ، چې د افغانستان سياسي تاريخ يې ليکلی دی، دونه يې افغانانو ته بېځايه اعصاب خراب دي، چې د بد رد ويلو په وخت کې يې د قلم عفت هم نه دی رعايت کړی او بالاخره يې افغانانو ته دومره نيت بد دی، چې هغوی د

انګرېزانو په مقابل کې د خپل ناموس څخه دفاع کوي، دی دا د افغانانو وحشت او تعصب بولي.(۳۰) او یا ښايي د مهدي فرخ په قاموس کې د ناموس څخه دفاع او پر ناموس باندې سربندل د وحشت او تعصب مانا ولري.

ما د ډاکټر محمود افشار یزدي افغان نامه نه ده لوستې او کله چې مې پر هغه باندې د محمد ابراهیم عطايي نقد ولوست او ومې لیدل، چې ښاغلي یزدي احمد شاه، شاه محمود او شاه اشرف هوتک ټول ایرانیان بولي او افغانستان ته د شرقي ایران په سترګه ګوري(۳۱) ما ویل دا د یوه لیوني اپلاتې دي او په اندېښنه نه ارزي، خو وروسته متوجه سوم، چې دا د یوه لیوني اپلاتې نه، بلکې د ایران د ډېرو زیاتو سیاستمدارانو ، د قدرت د خاوندانو او په اصطلاح منورینو مشترک نظر دی او د دې خبرو څخه، که د ټول ایران د ملت نه وي، نو د هغه هېواد د یوې پراخې کتلې د طرز تفکر په باب اټکل کېدلای سي.

څه موده مخکې مې د کریم خان زند په باره کې یو کتاب لاسته راغی، چې د ډاکټر پرویز رجوی په نوم یوه تحصیلکرده سړي لیکلی دی او له بده مرغه هغه هم د ډاکټر محمود افشار یزدي اپلاتې تکرار کړې دي. هغه وروسته له دې چې له ایران څخه د ګران افغانستان (افغانستان عزیز) په جلا کېدلو تأسف ښکاره کوي، وروسته پر ایران باندې د محمود هوتک او شاه اشرف د حملې په باب وايي، چې غوارم ووایم، چې افغانانو پر ایران حمله نه ده کړې. هغه ایرانیان وه او په ایران کې یې ښورښ وکړ او هغه هم د داسې یوه حکومت پر ضد، چې فارسي ژبه یې نه ویله.(۳۲) د همدغې صفحې په حاشیه کې راغلي دي، چې صفویانو په خپلو منځونو او دربار کې ترکي ژبه ویله.

سړی چې په کتابونو او مجلو کې دغه راز خبرې ویني او لولي، نو فکر کوي، چې ښايي دا به په ایران کې د یوه کتله لیکوالانو نظریات وي، مګر کله چې دغه ته ورته او یا تر دغه جدي خبرې د اسلامي دولت د یوه جمهور رئیس حجت الاسلام هاشمي رفسنجاني له خولې اوري، نو پر دې خبرې یې یقین راځي، چې دا د یوه سلسله لېونیانو اپلاتې نه دي، بلکې د ایران د سیاستمدارانو او واکدارانو عام نظر دی، چې په هغه هېواد کې یې د رژیمونو د تغیر او زمان له تېرېدلو سره چنداني تغیر نه دی کړی او بیا نو سړي ته د ایران د دولتونو د نیتونو په باب حتماً اندېښنه ورپېدا کېږي.

د ایران یو بل تحصیلکرده لیکوال په خپل یوه کتاب کې د ایران د پخواني جمهور رئیس هاشمي رفسنجاني د کتاب په حواله لیکي" د افغانستان په نوم کوم مستقل هېواد په تاریخ کې سابقه نه لري. افغانان په لوړي سر کې صحرایي او بیاباني خلک وه او له هغې ورځې چې د هغوی په منطقه کې ښار او حکومت منځته راغلی دی، هغوی معمولاً د ایران تر تسلط لاندې وه او که چېرې د کومو خاصو عواملو له مخې یو څه وخت له ایران څخه بېلېدل، نو بېرته به د قوي طبیعي عواملو او معنوي علایقو په اساس ډېر ژر تسلېمېدل او د مرکزي حکومت اطاعت به یې مانه.(۳۳)

سړی نه پوهیږي، چې هاشمي رفسنجاني کومو زمانو ته اشاره کوي. په کومو زمانو کې افغانان د ایران څخه بېل سوي او بیا یې بېرته د هغوی اطاعت ته غاړه ایښې وه. په دې باره کې د کتاب په متن کې ډېر زیات بحث سوی دی او دلته به یې تکرار صرف د اضافه پاڼو د تورولو مانا ولري، خو دونه باید ووایو چې د افغانستان د وجود په باب د یوه ګاونډي هېواد د جمهور رئیس نظر، چې د هغه هېواد د نظامي او ملکي قواو د یوې لویې کتلې د عقیدې او نیت ښکارندوی دی، که په اندېښنه نه ارزي، نو په خبرداري خو ضرور ارزي.

یو بل ایراني لیکوال ایرج افشار یزدي، چې د تاج التواریخ نوم یې اړولی او هغه یې د سفرنامه امیر عبدالرحمن خان په نوم چاپ کړی دی، د کتاب په یوه حاشیه کې د هزاره جات د معرفي کولو په باب لیکي، چې هزاره جات په افغانستان کې د کابل او غزني څخه تر هرات او قندهار څخه تر بلخ پورې پروت دی.

سړي ته سوال پیدا کیږي، چې د لیکوال مقصد کومې سیمې دي. دا خو ټول افغانستان هزاره جات سو، نو افغانستان څه سو؟ مګر کله چې هغې نقشې ته وګورو، چې ایرانیانو چاپ کړې او امریکایي لیکوال بروس ریچارډسن په خپل کتاب کې نقل کړې ده.(۳۵) نو سړی پوهیږي، چې د هزاره جات په باب د یوه ایراني لیکوال ایرج افشار د نظر او د ایران د حکومت له خوا د خپرې کړې نقشې ترمنځ ډېر مهم ورته والی موجود دی او د دې تشابه څخه د یوې ژورې دسیسې بوی راځي.

د احمد شاه بابا په لاس د افغانستان د تاسیسېدلو څخه تر نن ورځې پورې څه باندې دوې نیمې پېړۍ تېرې سوي دي. په دې اوږده موده کې، امپراتورۍ منځته راغلې، امپراتورۍ ړنګې سوې، لویې نقشې وړې

سوې، وړې نقشې لوبې سوې او په نړۍ کې زيات و کم دوه سوه هېوادونه منځته راغلل. خو د افغانستان د غربي سيمو او ولاياتو په برخه کې، چې پښتنو د سر او مال په بيه دفاع ورڅخه کړې ده د ايرانيانو نظر تغير نه دى کړى. ترڅو چې ايران موجود وي، افغانان د هغوى د ناروا طمع او دسيسو څخه نه سي بېغمه کېدلاى. ايرانيان هر وخت لازم فرصت ته ګوري او په تاريخ کې يې دا ښودلې ده، چې په لازم وخت کې يې هر وخت ګوزار کړى دى او د افغانانو کمال به په دې کې وي، چې دا فرصت هغوى ته په لاس ورنه کړي.

د روانې لسيزې په سر کې د شوروي اتحاد د ړنګېدلو سره د مرکزي آسيا هېوادونو يو په بل پسې استقلال اعلان کړ. دې نويو مسلمانو هېوادونو ته، چې له تېلو څخه نيولې، تر مينرالونو او صنعتي، زراعتي محصولاتو پورې له هره درکه غني دي، د غربيانو او د سيمې د هېوادونو د طمع سترګې ور واوښتلې. د هند له سمندر سره د مرکزي آسيا د مالونو او بازارونو د وصلولو په لاره کې افغانستان بيا پر ستراتيژيکه څلور لارې باندې پروت دى ستره لوبه بيا پيل سوې ده او قسمت يې عمده برخه بيا افغانانو ته نصيب کړې ده.

# وروستی خبرې او نتیجــه


۱. سـفر نامـه امـیر عبدالرحمـن خـان ص ۲۹۰
۲. هغـه کتــاب ص ۲۹۱-۲۹۲
۳. Afghanistan mac munn p 239
۴. سفر نامــه ص ۲٦۴-۲٦۵
۵. هغـه کتــاب ص ۵٦۳-۵٦۵
٦. Adamec p 33-34
۷. Encyclopedia Baritanica (Germany)
۸. خــاطر ات آ قــابکف ص ۲۰۴-۲۰۵
۹. Dupree p 510
۱۰. هغـه کتــاب ص ۵۱۰-۵۱۱
۱۱. **Oliver roy Islam and Resistance p 121**
۱۲. **Amnesty International p 23**
۱۳. هغـه کتــاب ص ۲۸
۱۴. **Islam and Resistance p 213**
۱۵. **Roy from holy war p 100**
۱٦. هغـه کتـاب ص ۹۹
۱۷. **Roy Islam and Resistance p 212-213**
۱۸. سـرې لښکـرې پـه افغانسـتان کـې ص ۲٦٦
۱۹. **Bruce Richardson p 23**
۲۰. Rubin p 159
۲۱. هغـه کتـاب ص ۱۵۹-۱٦۰
۲۲. هغـه کتــاب ص ۲٦۰
۲۳. Rasul Bakhsh p 153
۲۴. دیـوان کـامل جــامي ص ۹
۲۵. محمـود محمــــود ص ۳۹۱
۲٦. هغـه کتــاب ص ۷۱٦
۲۷. تـاریخ سیاسـی افغانســتان ص ۱۸۱
۲۸. نقدبـر افغـان نامــه ص ۱۲
۲۹. کـریم خــان زنـد و زمــان او ص ۱۸
۳۰. اشـوراده و هــرات ص ۸۷
۳۱. سـفرنامه امـیر عبدالرحمـن خــان ص ۲۸۷
۳۲. **Bruce Richardson p 156**

# لومړی ضمیمه

370

## د برتانیې د استازي او د ایران د صدراعظم حاجي ابراهیم ترمنځ تړون

د دوو هېوادونو ترمنځ دغه تړون به نسل پسله نسله نافذ وي او دواړه حکومتونه باید ترهغه وخته پورې چې جهان باقي وي، هغه رعایت کړي او د دغه تړون د موادو سره سم عمل وکړي.

*لومړی ماده* : ترڅو چې لمر د نړۍ پر مخ ځلیږي او ټولې نړۍ ته نور ورکوي، د دواړو هېوادونو ترمنځ اتحاد به باقي وي او د دښمنۍ مخ به تور وي او د دواړو هېوادونو ترمنځ به د متقابلې دوستۍ او یوه بل ته د مرستو رسولو عمل روان وي او د نفرت او دښمنۍ ټول عوامل به له منځه وړل سوي وي.

*دویمه ماده*: که د افغانستان پاچا کوم وخت پر هندوستان باندې، چې د انګلستان د پاچا قلمرو دی، د حملې نیت وکړ، نو د ایران پاچا به یو قوي پوځ، چې ټول وسایل او مهمات به ورسره وي، تیار وي او د افغانستان پر قلمرو او خاوره باندې به حمله کوي او د افغانستان د کمزوري کولو او له پښو غورځولو دپاره به خپل ټول وس تماموي.

*دریمه ماده*: که چېرې د افغانستان پاچا د ایران له پاچا سره چې رتبه او مقام یې د سلیمان او د بد به یې د جمشید په شان لوړه ده او د خدای داسې سیوری دي، چې پر ځمکه باندې انسانان ترهغې لاندې هستیږي او آرام کوي، د دوستۍ او سولې اقدام وکړي او د ایران او افغانستان ترمنځ سوله ټینګه سي، نو په هغه صورت کې باید د ایران او افغانستان ترمنځ دا خبره روښانه وي، چې د افغانستان د پاچا لښکرې به د

انګلستان د پاچا په قلمرو له خپلو دعوو څخه تېرېږي او د هر راز حملو له نقشو څخه به لاس اخلي.

*څلورمه ماده:* که د افغانستان پاچا او یا د فرانسې کوم شخصیت د ایران د پایدار او تل ژوندي پاچا پر قلمرو باندې حمله کوي او له هغه سره دښمني پیل کوي، نو د انګلستان د پاچا حکومت به، چې دربار یې د عرش په شانې لوړ دی او مخکې اشاره ورته سوې ده په دغه راز شرایطو کې هغومره توپونه او جنګي وسایل ایران ته لېږي، چې امکان یې موجود وي، له دې وسلو سره به لازم مواد او ذخایر، افراد، مفتشین او اکمالات د ایران یوه بندر ته رسول کېږي او د ایران د پاچا مامورینو ته به سپارل کېږي.

*پنځمه ماده:* که چېرې داسې پېښه سي، چې د فرانسې پوځ د کوم خاین په تحریک او لمسه د ایران په سواحلو کې په هغو ټاپوګانو کې ځای پر ځای سي، چې د ایران په قلمرو پورې اړه لري، نو بیا باید دواړه هېوادونه (انګلستان او ایران) په ګډه حمله وربانديې وکړي او تېرې کونکي پوځ تباه کړي او د هغوی خیانت ته خاتمه ورکړي. که چېرې داسې پېښه سي او د ایران فاتح پوځونه پر حرکت راسي، نو بیا باید د برتانیې پاچا، چې د آسمانونو په شان قوي دی، د ایران پوځیانو ته مواد او د حمل او نقل وسایط برابر کړي او تر خپله وسه او ممکنه حده پورې مرسته ورسره وکړي او که چېرې د فرانسې کوم لوی شخصیت داسې آرزو وکړي، چې غواړي د ایران په سواحلو کې په کوم ټاپو کې هستوګنه غوره کړي، نو د ایران پاچا باید د هغوی دا غوښتنه ونه مني او باید چې دوی ته د ایران په ټاپو ګانو کې د اوسېدلو اجازه ورنه کړه سي.

ترڅو چې زمان او جهان باقي دی، د دغه تړون مواد نافذ دي او دا تړون به اعتبار له لاسه نه ورکوي.

حاجي ابراهیم خان کپتان جان مالکم

P.N,Kirpal The East India Company and Persia p63-64

372

# دویمه ضمیمه

***د هغه تړون متن، چې د ایران پاچا محمد شاه قاجار، د کندهار مشر کهندل خان او د کندهار د نورو سردارانو سره لاسلیک کړی دی دا تړون محمد شاه قاجار په خپل لاس لیکلی.***

موږ د خدای په رضا پر دې خبرې موافقه لرو، چې موږ به داسې سلوک کوو، چې د ټولې نړۍ به کست راکیږي.

۱. د کندهار سرداران باید د شاه مخالفت ونه کړي او باید چې د هیچا سره اړیکې ټینګې نه کړي او په وفادارۍ او ایماندارۍ سره خدمت وکړي. دوی باید د ایران د دوستانو دوستان او د دښمنانو دښمنان وي. دوی باید د ایران له دښمنانو سره روابط ونه ساتي، دوی باید بې ایماني او غداري ونه کړي او که یې چیرې وکړي، نو دا تړون منسوخ دی.

۲. موږ (شاه) د کندهار او هرات ولایتونه او شاوخوا سیمې، له شکیوان او له هغه څخه د ایران پر لور له نورې خاورې څخه پرته، سردارانو ته ورکړې او ترڅو چې سردارانو د ایران له حکومت سره مخالفت او دښمني نه وي کړي، دغه خاورې باید د دوی او د دوی د وارثانو په لاس کې وي او که چیرې دوی د ایران له حکومت سره دښمني راواخیستله، نو اول باید د کندهار سردارانو ته خبر ورکړه سي، که چیرې د کندهار سردارانو خپله غلطي اصلاح

کړه، نو ښه خبره ده او که يې اصلاح نه کړه، نو بيا به د ايران د حکومت د فيصلې سره سم لازم سلوک ورسره کيږي.

۳. د کندهار سرداران بايد د ايران د شاه له سلا او خوښې څخه پرته پر نورو سيمو باندې حمله ونه کړي او که چيرې د کندهار او يا هرات اتباع د دوی امر ونه مني او د دوی په مقابل کې بغاوت وکړي، نو بيا دوی هغوی ته د سزا ورکولو او د هغوی د ځپلو اجازه لري.

۴. د کندهار سرداران بايد د خپل رعيت، په تيره بيا شيعه ګانو سره عادلانه او منصفانه سلوک وکړي د هغوی ساتنه وکړي او د سني او شيعه توپير بايد ونه کړي. هغوی ټول بايد ريښتوني مسلمانان او د پيغمبر امتيان وګڼي. هغوی ته بايد بې موجبه د سر او مال تاوان ونه رسوي.

۵. که چيرې د کومې خوا څخه کوم دښمن پر سردارانو باندې حمله کوي او هغوی پخپله د خپل دښمن د دفع کولو توان ونه لري، نو شاه دا مسئووليت لري، چې سردارانو ته پوځيان، توپخانه او پيسې ولېږي او د مرستې په لاره کې خپل وس ورڅخه ونه درېغوي.

٦. هر سردار او لوی خان او مشر بايد شاه ته يرغمل ورکړي او په دې توګه د دواړو خواو ترمنځ اعتماد وساتي.

۷. که چيرې د ايران د حکومت او يا روسيې تجارتي استازی او يا معتمد او مسئول نمايندګه په هرات او يا کندهار کې اوسيږي، نو سرداران بايد د هغه عزت او قدر وکړي او په تجارتي چارو کې مرسته ورسره وکړي. که چيرې د دغو تاجرانو شته منې غلا کيږي، نو سرداران بايد هغه بېرته ورته پيدا کړي.

۸. سرداران بايد د ايران او روسيې د تاجرانو او اتباعو په کار غرض ونه کړي او هغوی ونه کړوي او له هغوی څخه تر ټاکلې سوې اندازې زيات ماليات ونه غواړي.

۹. د کندهار سرداران بايد په کال کې يو ځل د ايران حکومت ته سوغات (پېشکش) واستوي او په دې توګه هغه ته خپل اطاعت او تسليمي وښيي او د ايران حکومت بايد له سردارانو څخه بله خدمت او اطاعت څخه بل څه ونه غواړي.

۱۰. په کندهار او هرات پورې مربوط قبایل باید سردارانو ته وسپارل سي او هېڅوک باید د هغوی په کارونو کې مداخله ونه کړي که چېرې د ایران پاچا د ضرورت په وخت کې له دوی څخه د خدمت غوښتنه کوي، نو دوی باید لږ شمېر عسکر د مرستې لپاره ور واستوي. د ایران حکومت به د هغوی لګښتونه پر غاړه اخلي او دغه عسکر به د خدمت د بشپړېدلو څخه وروسته بېرته د کندهار سردارانو ته لېږل کیږي.

زه د روسیې د حکومت د مختار وزیر په حیث تضمین کوم، چې نه د ایران شاه او نه به د کندهار سرداران د دغه تړون د موادو څخه سرغړونه کوي.

زه حاجي مېرزا آقاسي، چې د اعلیحضرت د حکومت د ثبات دعا کوم د دې خبرې ضمانت کوم، چې که چېرې د شاه حکومت د دغه تړون څخه سرغړونه وکړه، نو زه به د خدای په حضور کې مسؤل او ګناه کار یم او د پخوانیو او آینده نسلونو د غضب سزاوار به یم. *Corresp p 195-196*



پردل خان



شیر دل خان



سردار کهندل خان

# دریمه ضمیمه

*د هرات په برخه کې د کندهار د سردار کهندل خان او د ایران د پاچا، محمد شاه قاجار ترمنځ د تړون متن*
*دا تړون په تهران کې د روسیې د سفیر په تضمین لاسلیک شوی دی.*

د ایران په دربار کې د روسیې د حکومت وزیر مختار د اعلیحضرت محمد شاه او د کندهار د سردارانو ترمنځ د لاندې تړون د موادو عملي کېدل تضمینوي.

۱. شاه به د هرات ولایت د کندهار حکمران ته د هغه د هغو خدمتونو په بدل کې د انعام په توګه سپاري، چې پر تخت باندې د هغه د کښېنستلو راهیسې یې ورته کړي دي.

۲. هغه اتباع او خاوره چې اوس د کندهار د سردارانو په لاس کې دي باید چې د کندهار د سردارانو وګټل سي او هېڅوک د هغوی په سر او مال غرض ونه کړي.

۳. د ایران حکومت باید په هېڅ توګه افغان قبایل، که لوی که واړه دي، په خپلو رعایاو کې شامل نه کړي او نه باید دوی داسې خدمت ته وګوماري، چې د دوی د ژوند او کاروبار سره اړه ونه لري او چې د افغاني ولایتونو څه کاروبار او چارې دي د ایران حکومت یې باید د کندهار واکدارانو ته وسپاري.

۴. شهزاده کامران او د هغه وزیر، یار محمد خان، ته باید په ایران کې په هېڅ ډول چارو او سلا مشورو کې برخه ورنه کړه سي.

۵. که چېرې شجاع الملک (شاه شجاع م) برتانیې او یا د کابل امیر پر کندهار باندې حمله کوله د ایران شاه باید د کندهار له سردارانو سره مرسته وکړي.

۶. که چېرې د کهندل خان زامن یا ورونه د شاه په کمپ کې د یوې کومکي قوې سره حاضریږي، نو د دوی او د دوی د قواو

مال او سر باید په امان وي او له دوی څخه هېڅ یو باید د یرغمل په توګه ونه ساتل سي.

۷. د کندهار سرداران به دوولس زره آسونه او دوولس توپونه د هرات قوې ته استوي. د هغوی خرڅ خوراک به له هرات څخه حواله وي او د ضرورت په وخت کې به د شاه خدمت ته حاضر وي.

۸. په کندهار کې د دغه تړون د لاسلیک کېدلو سره سم به د سردار کهندل خان زوی محمد عمر خان د شاه حضور ته د جرګې او مشورې دپاره راځي.

۹. کله چې دغه شهزاده د ایران په دربار کې حاضر سي او د ایران حکومت د کندهار سردارانو ته د آسونو او توپونو لازم خرڅ واستاوه، نو بیا به سردار مهر دل خان د زرو آسونو سره د شاه په کمپ کې حاضرېږي. سردار مهر دل خان به د شاه په کمپ کې د ایران او د کندهار د سردارانو ترمنځ د متقابل اعتماد د قوي کولو په منظور حاضر وي او د ایران حکومت به د کندهار له سردارانو څخه له پوځي مشورې پرته بل د هېڅ شي غوښتنه نه کوي.

که چېرې محمد شاه د دغو شرایطو څخه کوم یو عملي نه کړ او یا یې په یوه توګه د دغو موادو څخه سرغړونه وکړه، زه د روسیې د حکومت مختار وزیر په حیث پخپله دا مسئوولیت لرم، چې په هره لازمه وسیله کېدلای سي، د ایران شاه دې ته مجبور کړم، چې د دغه تړون مواد په بشپړه توګه رعایت کړي.

دغه یاداشت د یوه پېشنهاد سوي تړون چوکاټ دی. لاسلیک *Corresp p 119-120*

## د مهر دل خان او کهندل خان لخوا د ایران پاچا محمد شاه قاجار ته لیک

ستاسو د ناچیزو خیر خواهانو عریضه!

د اعلیحضرت په حضور کې چې د فارس د غاور او عظیم دولت لمر دی او د پخوانیو پاچاهانو مهر په میراث ورته رسېدلی او په قبضه کې یې لري. زموږ روحونه دې ستا قربان سي. موږ دې ستا د پښو خاورې سو، دا د فرمانبردارو نوکرانو دستور او عنعنه او د محتاجانو وظیفه ده، چې دوی خپلې غوښتنې او ارمانونه د اعلیحضرت د غوښتنو او خواهشاتو تابع وګرځوي. د دغې روحیې او احساساتو په اساس موږ ستاسې حضور ته دغه عریضه وړاندې کوو. موږ د ډېرو پخوا زمانو راهیسې خپله وفاداري څرګنده کړې ده او موږ دغه وفاداري د خپل مقام او حیثیت سره برابره ګڼو او لکه څرنګه چې د شاهي دربار وزیران هم په دې خبرې ښه پوه دي، موږ د وفادارو خیر خواهانو دا عنعنه ټینګه ساتلې ده، لکه څرنګه چې د اعلیحضرت همایوني په شفقت کې څه کمی نه دی راغلی، نو موږ ستاسو د انعاماتو او خلعتونو څخه د انکار جرأت نه سو کولای. په دغه اساس به زموږ له خوا درلېږل سوی سپین روبي محمد حسن خان زموږ په نمایندګي تاسې د ملک او هرات د حالاتو څخه خبر کړي، دې په ټولو چارو کې زموږ استازی دی، ستاسو دا وفادار خادم به د الله په توکل او د اعلیحضرت په مهربانۍ ټول شاهي فرمانونه پر ځای کوي او د خپل فهم او توان سره سم به ټولې چارې په مخ بیایي. د الله په توکل به دې د دربار په خدمت کې تر ټولو ګړندی وي او په دې توګه به ځان ته د عزت مقام وګټي.

زموږ عرض دا دی، چې اعلیحضرت دی محمد حسن خان په خپلو هغو نمک خورو کې حساب کړي، چې شخصي غرض نه لري. د شاهي

درباردې نیک خواه ته چې هر ډول امر وسي هغه به یې په ډېره ایمانداری عملي کړي.(*)

(*) Correspondents p 63

# پنځمه ضمیمه

## د شهزاده ګورچاکوف یاداشت

*د روسیې د صدراعظم شهزاده ګورچاکوف د ۱۸۶۴ م کال د نومبر د ۲۱ نېټې یادښت:*

د روسیې ورځپاڼو د هغو پوځي عملیاتو په باره کې، چې زموږ پوځیان یې په مرکزي آسیا کې کوي، خپرونې کړي او هغه یې ډېر بریالي بللې دي. دغو خپرونو او رپوټونو باید په خارجي هېوادونو کې خپل اثر ښندلی وای او له دې څخه هېڅ چاره نه وه. د دې خبرې یو علت دا دی، چې دا عملیات په داسې سیمو کې سوي دي، چې دوی ته چندانې معلومې نه دي.

زموږ ستر واکمن ماته هدایت کړی دی، چې په لنډو مګر څرګندو او دقیقو کلماتو ورته ووایم، چې په مرکزي آسیا کې زموږ دریځ څه دی؟ د نړۍ په دغه برخه کې زموږ څه ګټې دي؟ او موږ څه اهداف تعقیبوو. په مرکزي آسیا کې د روسیې دریځ داسې دی، لکه متمدن دولتونه چې د داسې نیم وحشي او ایله ګرده قبایلو سره مخامخ سي، چې هېڅ ډول ټاکلی اجتماعي نظام نه لري. په دغسې شرایطو کې دا حتمي ده، چې متمدن دولتونه د خپلو سرحداتو او تجارتي ګټو د ساتلو په منظور، خپلو هغو ګاونډیانو ته زور وښيي، چې د هغوی د سرکښي او کوچې غریزو درلودلو له امله ژوند نه سي ورسره کېدلای. لومړی موږ مجبور یو،چې حملې وربانديې وکړو او ویې ځپو موږ مجبور یو، چې په خپل ګاونډ کې

دغه راز خلک دي ته مجبور کړو، چې مور ته تسلیم سي. کله چې دوی مو تسلیم کړل او دوی نور له سر زور یه ولوېدل، نو بیا په دغه وخت کې دوی د نورو لیرې قبایلو د حملو د خطر سره مخامخ کیږي، بیا نو متمدن دولت مجبور دي، چې دغه قبایل چې تازه تسلیم سوي دي، د هغو نورو لیرې لوېدلو قبایلو د حملو په مقابل کې وساتي او هغوی پسې واخلي. په دغو سیمو کې پرله پسې پوځي عملیات ډېر ګران پریوزي او دغه راز دښمنان، د خپلو اجتماعي نظامونو په مرسته، زمور د حملو او تعقیب څخه ځانونه خلاصولای سي، نو که مور یو ځل داړه مارانو ته سزا ورکړو او بیا بېرته خپلو سیمو ته راسو، نو دوی بیا بیا سرکښي کوي. څوک چې عقب نشیني کوي، دوی یې کمزوري بولي، ځکه چې د آسیا خلک یوازې هغه وخت له قوې څخه بېرېږي، چې په سترګو یې ویني. دوی ته خپل عقل دغه حکم کوي او تجربو هم دغه راز ورته ثابته کړې ده او د دې خبرې علت دا دی، چې دوی اصلاً د مدنیت مزه نه ده څکلې، ځکه نو باید پر دوی باندې پرله پسې لښکر کښي وسي او هر وخت زور ورته وښودل سي.

د دې دپاره چې دغه دایمي بې نظمي له منځه یوسو، نو مور په دغو سیمو کې په خپلو غلیمو خلکو کې قوي مرکزونه جوړ کړل او په دې توګه مو داسې شرایط منځته راوړل، چې دغه خلک په خوښه یا په زور تسلیمېدلو ته غاړه کښېږدي، مګر د دوی څخه هاخواته نور قبایل پراته دي، چې مور ته یې ډېر ژر عین خطر متوجه کړی دی او مور مجبور سوي یو، چې وې ځپو. په دغه وخت کې نو متمدن دولت د یوه لوی مشکل سره مخامخ کیږي. یا باید په دغه سیمه کې له پوځي عملیاتو څخه لاس واخلي او پر له پسې بې نظمي ومني، چې البته نه به یې مال خوندي وي او نه به هېڅ وخت د دغو قبایلو د لاسه د امنیت مزه وڅکي او یا به نو د دغو وحشي هېوادونو منځ ته ورځي او هلته چې هرڅومره مخته ځي په هغه اندازه به یې مالي او ځاني تلفات زیاتیږي. په دې توګه نو هر متمدن هېواد چې راواخلې د وحشي هېوادونو سره یې دغه حال وي. متحده ایالات د امریکا په لویه وچه کې، فرانسه په الجزایر کې ، هالینډ په خپلو مستعمراتو کې او برتانیه په هند کې د دغه راز مشکل سره مخامخ ده. دا ټول هېوادونه، د ګټو په خاطر نه، بلکې د ضرورت په اساس د دغه راز مشکلاتو سره مخامخ دي او لوی سوال دا دی، چې سړی خپل عملیات چېرته ودروي.؟

د روسیې د امپراتورۍ پوځونو د دغه ضرورت له مخې دې ته مجبور دي، چې د سیر دریا او دایزیک قول د خلیج ترمنځ ځان ټینګ کړي او دلته یې قلاوې جوړې کړې دي او کرار کرار د دغو سیمو زړه ته ورننوتلي دي، مګر په سرحد کې یې کراري نه ده تامین کړې. د دې بې ثباتۍ یو علت دا دی، چې دغه دوې سیمې ډېرې سره لیرې دي او هغه داړه مار قبایل چې د دغو دوو سیمو ترمنځ پراته دي، هر وخت کوښښ کوي، چې زموږ هغه کوښښونه شنډ کړي، چې موږ یې د استحکام د راوستلو او د حمل او نقل د مصؤن کولو دپاره کوو. د دې بل علت دا دی، چې زموږ په جنوبي سرحداتو کې د پرتو هېوادونو په سیاسي وضع کې پرله پسې تغیرات راځي. ترکمنستان او خوقند کله سره یو ځای او کله سره بېل وي، مګر ټول عمر یا په خپلو کې او یا د بخارا سره په جګړه لګیا دي او د دې احتمال له منځه وړي، چې د دوی سره ثابت روابط وسائل سي او یا په منظمه توګه کاروبار ورسره وسي.

اوس نو زموږ حکومت، د دغو حقایقو په نظر کې نیولو او دغو مشکلاتو سره سره یا باید اجازه ورکړي، چې په خپل ګاونډ کې یې دغه راز انارشي او ګډوډي روانه وي، چې دا کار پرمختګ او مصؤنیت فلجوي او موږ به مجبور یو، چې هر وخت په دغه سیمه کې لښکر کښي وکړو او هغه به ډېرې ګرانې راته پرېوزي. یا به د دغو سیمو زړه ته ورننوزو او دا سیمې به ټولې په خپله امپراتورۍ پورې تړو،دغه کار انګرېزانو په هند کې کړی دی او ټولې هغه سیمې یې لاندې کړي دي، چې د خپلو ګاونډیانو ژوند یې ناکراره کړی و. زموږ د ستر واکمن د پالیسي سره په دغه دواړو کې یو هم تطابق نه سي کولای. هغه غواړي، چې هغه هېوادونه او سیمې تر خپل بېرغ لاندې راولي، چې زموږ هېواد ته یو څه په نېژدې حدودو کې قرار لري. ستر واکمن غواړي، چې په دغو ځایونو کې خپل قدرت او سلطه ټینګه کړي، د هغو خلکو ژوند تامین کړي او د هغوی اجتماعي مؤسسو، تجارت او ښېګڼې ته توجه وکړي.

زموږ وظیفه دا ده، چې داسې یو سیستم منځته راوړو، چې دغه درې واړه اهداف ترلاسه کړای سو. په دې توګه نو موږ د دغو اصولو په اساس حرکت کوو.

۱. دا یوه ضروري او حیاتي خبره ده، چې موږ باید په خپله خاوره کې دوه مستحکم پوځي خطونه ولرو. یو باید د چین

ځخه د ایزیک قول تر خلیج پورې او بل باید د آرل له بحیرې ځخه د سیر دریا تر وروستیو برخو پورې، دا دواړه خطونه باید د پوځي مورچو په ځنځیر سره وتړل سي او هر پوځي مرکز باید له یوه بل ځخه دفاع وکړای سې او کوچي قبایلو ته د تیري کولو لپاره ځای پرې نه ږدي.

۲. ضروري خبره دا ده، چې دغه راز قلاګانې باید په سمسورو سیمو کې جوړې سي، نه یوازې د دغو قلاګانو دپاره د موادو د لاسته راوړلو په منظور، بلکې په منظمه توګه د نورو سیمو د لاندې کولو په منظور، چې د اشغال سوي هېواد ثبات او سمسورتیا تضمینوي او ګاونډي قبایل متمدن ژوند ته راجلبوي.

۳. د دې دپاره چې ځانونه مو د قبایلو د هر وخت ځېلو او په هغوی باندې د انتقامي حملو ځخه خلاص کړی وي، نو موږ د دغه راز سرحدي کربنې ایستلو او مستحکمولو ته مجبور سولو، ځکه چې دغه راز عملیات بنایي زموږ د امپراتورۍ حدود بې اندازې زیات پراخ کړي.

د دغه هدف په نظر کې نیولو سره دا لازمه وه، چې د داسې سیستم اساس کېښودل سي، چې هم چټک عملیات په کې تضمین سي او هم په داسې جغرافیایي او سیاسي ارقامو تکیه وي، چې چنداني تغیر نه خوري او هر وخت په همدغه خپل حال پاته وي.

دغه حقیقت موږ ته ډېر په سادګۍ سره روښان سو او هغه دا چې هغه کوچي قبایل چې په هیڅ توګه نه ایل کېږي او په هېڅ توګه تر کنټرول لاندې نه راځي، هغه تر ټولو خراب او خطرناک ګاونډي دي په داسې حال کې چې دهقان او تاجر خلک، چې په خپله خاوره کې یې د اوسېدلو سره عادت نیولی وي او عالي او پرمخ تللی اجتماعي نظام ولري، زموږ سره ډېر ښه دوستانه روابط ټینګولای سي او چې زموږ زړه غواړي هغومره ګټه ورځخه اخیستلای سو.

په دې توګه نو باید موږ کوچي قبایل په خپله خاوره کې تر کنټرول لاندې راولو، په خپله امپراتورۍ کې یې شامل کړو او د دهقانو او تاجرو خلکو سره سرحد ولرو.

دغه درې اصول په مرکزي آسیا کې زموږ د خاضرو پوځي عملیاتو ځرګند، طبیعي او منطقي بیان دی. پر دې برسېره زموږ زوړ سرحد، چې د

سیردریا څخه د پیروفسکي تر قلا پورې غځېدلی و او بلې خوا ته د ایزي قول تر خلیج پورې رسېدی، ځکه بې خونده وچې د صحرا په څنډه کې تېر سوی و. د سرحد شرقي او غربي برخې ډېرې سره لیرې وې زموږ پوځیانو ته ښه اکمالات نه رسېدل او د سرحد هاخواته داسې قبایل پراته وه، چې موږ له هغوی سره ثابت او دوامدار اړیکې نه سوای ساتلای.

که څه هم چې موږ نه غواړو، چې خپل قلمرو پراخ کړو، مګر دغه وروستیو شرایطو زموږ د امپراتور حکومت دې ته مجبور کړ، چې د ایزي قول د خلیج او سیر دریا ترمنځ یو مستحکم سرحد جوړ کړو او د چیمکنټ ښار ګوتې، چې تازه زموږ د قواو لاسته ورغلی دی، ټینګ کړو. د دغه خط په جوړولو سره موږ دوه هدفه ترلاسه کوو. لومړی دا چې د دغه خط په دننه کې موږ ته شنې او آبادې ځمکې لاسته راغلي دي، ښه شنه ځنګلونه لري، ډک رودونه په کې بهیږي او د قیر غیز قبایل، چې د وخته یې زموږ واکداری ته غاړه ایښې ده، په دغو سیمو کې هستوګنه لري او په دې توګه نو موږ کولای سو، چې په آرامه خپلې ترلاسه کړې ځمکې وساتو او خپلو عسکري قواو ته مواد ورسوو او بیا نو د خوقند د دهقان او تاجرو خلکو سره ګاونډي کېږو. زموږ سرحد تر یوه باوري او مستحکم اجتماعي نظام پورې رسېږي، خپله سیمه ښه اداره کولای سو او هروخت د سرحد تغیرولو ته مجبور نه یو.

کله چې موږ دغو جغرافیایي سرحدونو ته ورسېږو، نو بیا منافع او عقل دواړه حکم کوي، چې ځای پر ځای ودرېږو. له یوې خوا، که چېرې موږ خپله سلطه پراخوو، نو به د کوچي او بې ثباتو قبایلو سره مخامخ نه یو، بلکې د متمدنو قبایلو سره به ګاونډي یو او دې ته به مجبور نه یو، چې خپل قلمرو نور هم پسې پراخ کړو او له یوه مشکل څخه بل ته ودانګو، له یوې خاورې څخه وروسته بله خاوره اشغال کړو او درک یې معلوم نه دی، چې دا به ترڅومره وخت پورې دوام کوي. له بلې خوا کله چې موږ په خپل ګاونډ کې دغه راز خلک ولرو، نو سره له هغه چې دوی به ډېر متمدن نه وي، ډېر انکشاف به یې نه وي کړی، خو موږ هیله لرو، چې د هغوی سره منظم روابط به د دواړو خواو په ګټه وي او یوه ورځ به د دغو روابطو په برکت دغه اوسنی دایمي بې نظمي، چې د دوی د پرمختګ مخه یې نیولې ده، له منځه ولاړه سي.

دا په مرکزي اسیا کې زموږ د ستر واکمن د پالیسۍ اساسات دي او هغه په خپله شاهي کابینه کې مطرح کړي دي.

په دې باب چندانې بحث کولو ته ځای نه پاتېږي، چې ووایو، روسیه باید خپل سرحدات محدود کړي او په لیرې ولایاتو کې ځان له داسې مشکلاتو سره مخامخ نه کړي، چې ښایي زموږ د خپل داخلي انکشاف مخه ونیسي.

دغه پروګرام چې ما همدا اوس بیان کړ، د دغې پالیسۍ سره بشپړ موافق دی.

په آسیا کې، په دې وروستیو کلونو کې، د متمدنو ګاونډیانو سره زموږ د سلوک له امله خلک ډېر خوښ دي. هیڅ شی تمدن ته دونه انکشاف نه ورکوي، لکه تجارتي روابط، تجارتي روابط په هر هېواد کې ثبات او کراري ته ضرورت لري، مګر په آسیا کې د ثبات موجودیت د هغو خلکو په عاداتو او سلوک کې د انقلاب مانا لري. د آسیا خلک باید تر هر څه دمخه په دې پوه سي، چې د کاروانونو د لوټلو څخه په خپلو خاورو کې هغوی ته د تېرېدلو د حق ورکول ډېره ګټه لري، مګر په دغو ابتدایي اصولو باندې د خلکو قانع کول، پوه نظم او حکومت ته ضرورت لري. زموږ لومړۍ وظیفه دا ده، چې خپل سرحدات داسې ځای ته ورسوو، چې دغه شرایط برابر کړو بیا نو زموږ دویمه وظیفه دا ده ، چې د وسلو او د مخالفینو د ځپلو په زور دغو خلکو ته خپل قوت وښیو، مګر د وسلو او زور څخه په اعتدال او انصاف کار واخلو، د دوی خپلواکي ته احترام وکړو او دوی ته وښیو، چې روسیه د دوی دښمنه نه ده، د فتوحاتو خیال نه لري او سوله ایز او تجارتي روابط دوی ته تر بې نظمیو، لوټماریو، انتقام اخیستلو او پرله پسې او دایمي جنګونو ډېره ګټه لري. د روسیې کابینه د دغو اهدافو په عملي کولو سره نه یوازې د خپلې امپراتورۍ ګټې په نظر کې لري، بلکې موږ په دې عقیده یو، چې دغه عملیات د تمدن او بشریت په ګټه دي. دا زموږ حق دی، چې خلک زموږ دغې پالیسۍ او د هغې اساساتو ته د قدر په سترګه وګوري.(*)

(*) British India and Afghanistan (Bilgrami) p 315-320

# د هغو مأخذونو نومونه چې د کتاب په ليکلو کې استفاده ورڅخه سوې ده


١. بيهقي، ابو الفضل محمد بن حسين كاتب، تاريخ بيهقي، بامقدمه و تعليقات سعيد نفيسى چاپ تهران ١٣١٩

٢. اصطخرى، ابو اسحق ابراهيم. مسالک و ممالک، به اهتمام ايرج افشار چاپ سوم تهران ١٣٦٨

٣. حافظ ابرو- زبدت التواريخ- مقدمه و تعليقات از سيد كمال حاج سيد جوادي، تهران ١٣٧٢

٤. جوينى، عطا ملک علاؤ الدين. تاريخ جهانكشاى جوينى، تهران ١٣٦٧

٥. جوزجانى، قاضي منهاج سراج. طبقات ناصرى، تصحيح و تعليق عبدالحى حبيبى، كابل ١٣٤٢

٦. امير عنصر المعالى، كيكاووس. قابوسنامه، به اهتمام و تصحيح غلام حسين يوسفى تهران ١٣٧٣

٧. مستوفي، حمدالله. تاريخ گزيده، به اهتمام ډاكټر عبدالحسين نوايي، تهران ١٣٦٢

٨. فلور، ډاكټر ويليم. بر افتادن صفويان و بر آمدن محمود افغان، ترجمه ډاكټر ابوالقاسم سرى، تهران ١٣٦٥

٩. لكهارټ، لارنس. انقراض سلسله صفويه و ايام استيلاى افاغنه در ايران، ترجمه مصطفى قلى عماد، تهران ١٣٦٨

١٠. تاج بخش، ډاكټر احمد. تاريخ صفويه تهران ١٣٧٣

١١. هروى، سيف بن محمد بن يعقوب. تاريخنامه هرات، كلكته، ١٩٤٣

١٢. خټک، افضل خان، تاريخ مرصع، مقابله، تصحيح او نوټونه د دوست محمد كامل مومند، پېښور ١٩٧٤

١٣. هروى، محمد يوسف رياضى. عين الوقايع، به كوشش محمد آصف فكرت هروى، تهران ١٣٦٩

١٤. صفوى، ميرزا محمد خليل مرعشى. مجمع التواريخ، به تصحيح و اهتمام اقبال اشتيانى تهران ١٣٦٢

۱۵. مروی محمد کـاظم. عـالم آرای نـادری، بـه تصحیـح ډاکـتر محمـد امـین ریـاحی. تـهران ۱۳۶۳
۱۶. عطایي محمد ابراهیم. نقـد بـر افغـان نامـه، انجمـن فرهنـګی خوشـال، پـېښور، ۱۳۷۲
۱۷. زمانی ډاکـتر ابوالفتـح وثـوق. آشـوراده و هـرات، تـهران ۱۳۶۳
۱۸. سیستانی، ایرج افشار. سفرنامه و خاطرات امیر عبدالرحمن خان، تهران ۱۳۶۹
۱۹. هروی محمد خاوند شاه مشهور به میر خواند. روضة الصفاء، چاپ کلکته ۱۸۷۴
۲۰. کاتب، فیـض محمـد. سـراج التواریـخ،کـابل ۱۳۶۳ هـ ق
۲۱. حسینی، غیاث الدین بن همام مشهور به خواند میر. حبیب السیر، تهران ۱۳۶۲
۲۲. استرآبادی، میرزا مهدیخان. تاریخ جهانکشای نادری، با مقدمه عبدالعلی ادیب برومند، نسخه خطـی مصـور متعلـق بـه ۱۱۷۱هـ ق تـهران ۱۳۷۰
۲۳. روشن ضمیر، ډاکـتر مـهدی. تـاریخ سیاسـی و نظـامی دودمـان غـوری، انتشـارات دانشـګاه ملـی ایـران ۱۹۷۷
۲۴. آقا بکف. خاطرات آقـا بکـف، ترجمـه حسـین ابـو ترابیـان، تـهران ۱۳۷۵
۲۵. کروزینسکی، یاد اژتادیوز. تاریخ سیاح مسیحی، ترجمه عبدالرزاق دنبلی، مقدمه، تحشیه و تعلیـق محقـق فقیر محمـد خیر خـواه، کـابل ۱۳۶۲
۲۶. خافی میرزا یعقوب علی. پادشاهان متاخر افغانستان، مطبعه عمومی کابل ۱۳۳۴
۲۷. کهزاد احمد علی. بالاحصار کابل و پیش آمدهای تاریخی. کابل ۱۳۴۰
۲۸. غبار میر غـلام محمـد. افغانسـتان در مسیر تـاریخ کـابل ۱۹۶۷
۲۹. محمد حیات خـان. حیـات افغـانی، پښتـو ترجمـه د فرهـاد ظریفـی، عبداللطیـف طـالبی، کـابل ۱۳۷۰
۳۰. محمود محمود تـاریخ روابـط سیاسـی ایـران و انګلیـس در قـرن نـوزده، تـهران ۱۳۵۳
۳۱. ګلستانه ابوالحسن بـن محمـد امـین. مجمـل التواریـخ، بسـعی و اهتمـام مـدرس رضـوی، تـهران ۱۳۴۴
۳۲. امیر محمود بن خواند میر. ایران در روزګار شاه اسماعیل و شاه طهماسب صفوی. به کوشش غلام رضا طباطبایی، چاپ اول تهران ۱۳۷۰
۳۳. اعتماد السلطنه، محمـد حسـن خـان. مطلـع الشمس تـهران ۱۳۶۲
۳۴. سلطان محمد خان ابن موسی خان درانی. تاریخ سلطانی، بمبئ ۱۸۸۱
۴۵. قاضی عطاء الله خـان. د پښتنـو تـاریخ، لومړی جلـد، کـابل ۱۳۵۶

# BIBLIOGRAPHY

386


Atichison, C.U, Engagements and sanads, a collection of treaties Calcutta: Central PB, 1933

Babur, Zahirud–din- Mohammad, translated by Beveridge, Annette s, Babur Nama (memoirs of Babur) Lahore: Snage meel, 1987.

Bilgrami, Asghar H,Afghanistan and British India. New Delhi: sterling, 1972.

Boswrth, C, E the Ghaznavids: their empire in Afghanistan and Eastern India 994- 1040. New Delhi: Munshiram, 1992.

Campbell,G the Afghan frontier. London: Edwards, 1879.

Campbell, G, the eastern question: London Strahan, vol. 2. 1880.

Caroe, Olaf, the Pathans. Karachi: Oxford UP, 1985.

Dupree, Louis, Afghanistan. New Jersey: Princeton, 1980.

Elliot, H.M, the history of India: as told by its own historians. Vol. 3. Delhi: LPP, 1990.

Elphinstone, Monstuart, kingdom of Caubul. Vol 2. New York: Oxford UP, 1972.

Encyclopaedia, Britannica, Chicago/ London/ Toronto/ Geneva/ Sydney/ Tokyo, Helen Hemingway Benton, publisher, 1973-1974.

Erskine, William, A history of India under Baber. New York: Oxford UP, 1974.

Farishta, Mohammed Kasim, translated by Briggs, John. History of the rise of the Mahomedan power in India. vol.1. Delhi: LPP, 1990.

Ferrier. J.P history of the Afghans. London: Murry, 1858. Fraser. James B Persia London: Oliver, Frazer. james B.persia, London: oliver, 1833

Frazer. Robert W. British India New York: Freeport, 1896.

Fredericks, pierce G, the sepoy and the Cossack. New York: world, 1971.

Hamilton, Anguys, Afghanistan. New York: Charles scribner's sons, 1906.

Hopkirk, Peter, the great game: the struggle for empire in central Asia New York: Kodansha, 1992.

Kay, Jhon William, history of the war in Afghanistan. Vol .1. London: Richard, 1851.

Kaye, Gohn Williams, History of the Warin Afghanistan. Vol.2. London. Richard, 1851.

Lal, Mohan, life of the Amir Dost Mohammed Khan of Kabul. Vol. 1. New York: Oxford UP, 1978.

Lockhart, L, Nadir Shah. London: Luzac, 1938.

Lucas, Jhon , Afghanistan. New York: N.Y. 1995.

Major, V.K Bhasin, soviet Intervention in Afghanistan. New Delhi: chand & co. 1990

Malleson, Colonel G.B Heart. London: W:H Allen, 1880.

Malleson, G.B histoty of Afghanistan. London: Macmillan, 1981.

Munn, mac, Afghanistan. Quetta: Nisa, 1978.

Peter, Avery, the combridge history of Iran. Vol 7. London: Combridge UP, 1980.

Prawin , Michael, the Mongol empire "it's rise and Legacy" New York: free p, 1967.

Priestley. Henry, Afghanistan and it's Inhabitants. Lahore: Sang Meel, 1981.

Rais, Rasul Bakhsh, War without Winners. New York: Oxford UP, 1997.

Rawlinson. George. A Memoir of Major-General/Sir Henry Creswicke Rawlingson. London: Langmans. 1898.

Rawlinson. Henry. England and Russia in the East. London: Praeger, 1856.

Raverty. H.G. Ghaznin. Lahore: Sang Meel,1995.

Raverty. H. G. Notes on Afghanistan and Baluchistan. Vol. 2. Lahore: Rina Art Press, 1982.

Richardson, Bruce G, Afghanistan. Oregon: Maverick Publication, 1996.

Roy, Oliver, Islam and Resistance in Afghanistan. London: Cambridge Universty Press, 1986.

Roy, Oliver, Afghanistan. New Jersey: Darwin Press Inc, 1995.

Rubin, Barnett R, The Fragmentation of Afghanistan. Michigan: Brook Crafters, 1995.

Sarkar, Sir Jadunath, Fall of the Mugual Empire. Orient Longman: Limited New Deli, reprinted 1973.

Singh, Ganda, Ahmed Shah Durrani. Lahore: Tariq, 1981.

Sirhindi, Rahiya Bin Ahmed Bin Abdullah, translated by Beverdge, H, the Tarikh- I-Mubarakshahi. Delhi: LPP, 1990.

Sykes, Percy, A History of Afghanistan. London: Macmillan, 1981.

Sykes, Percy, A History of Persia. London: Macmillan, 1930.

Tate, G.P, the Kingdom of Afghanistan. Delhi: DK, 1973.

Tripathi, G.P, Indo- Afghan Relation. New Delhi: Kumar B, 1973.

Tytler, W.K Fraser, Afghanistan. New York: Oxford UP, 1992.

Watson, Robert Grant, A History of Persia. London: Smith, 1866.

# Herat, Pashtàn'a aw stara lóba

*Abdul Bari Jahani*

